د لوړو زده کړو وزارت
التقوی پوهنتون
د څېړنې او علمي مجلو معاونیت
د علمي څېړنو آمریت

# التقوی ملي علمي - څېړنيز ژورنال

د التقوی پوهنتون علمي-څېړنيزه شپږ میاشتنۍ خپرونه

## په دې ګڼه کې لولئ!

- د اسلامي امارت پر وړاندې د لويو قدرتونو بهرنۍ سیاست
- د حنفي فقهې له مخې د تعزير بالمال څېړنه
- د کورني اقتصاد په پیاوړتیا کې د مقاومتي اقتصاد رول
- د دولتونو ترمنځ د دوستانه اړیکو په پراختیا کې د کلتوري ډیپلوماسۍ رول
- د حنفي فقهې او وضعي قوانینو له نظره د تبعي جزاګانو پرتلیزه څېړنه
- د اسلامي فقهې او افغانستان د ۱۳۵۵ ل کال مدني قانون له نظره د نکاح...
- او داسې نور

د تاسیس کال: ۱۴۰۱ ل
ننګرهار-افغانستان
شپږ میاشتنۍ خپرونه - د ۱۴۰۳ ل کال لومړۍ ګڼه، پرله‌پسې پنځمه ګڼه

التقوی ملي علمي- څېړنيز ژورنال
د التقوی پوهنتون علمي-څېړنيزه شپږ میاشتنۍ خپرونه
د ۱۴۰۳ ل کال لومړۍ ګڼه
پرله‌پسې پنځمه ګڼه

Ministry of Higher Education
Al-Taqwa University
Research and Academic Journals Division
Research Department

# National Scientific - Research Journal

## In this issue:

- The Foreign Policy of Great Powers Towards the Islamic Emirate
- An Analytical Study of Financial Ta'zīr (Punishment by Wealth) in Hanafi Jurisprudence
- The Role of a Resistance Economy in Strengthening the Domestic Economy
- The Role of Cultural Diplomacy in the Promotion of Friendly Relations among States
- A Comparative Study of Secondary Punishments in Light of Hanafi Jurisprudence ...
- The Financial Rights and Privileges of Women in the Marriage Contract under ...
- and etc.

Year of Establishment: 2022
Nangarhar - Afghanistan
Biannual Publication | Volume 03 | Issue 01 | S. No. 05 | 2024

بسم الله الرحمن الرحيم

د لوړو زده‌کړو وزارت

التقوی پوهنتون

د څېړنې او علمي مجلو معاونیت

د علمي څېړنو امریت

# التقوی ملي علمي ـ څېړنيز ژورنال

## التقوی پوهنتون علمي او څېړنیزه شپږ میاشتنۍ خپرونه

د ۱۴۰۳ ل کال لومړی ګڼه، پرله‌پسې (۵) ګڼه

# التقوی ملي علمي - څېړنيز ژونال

التقوی پوهنتون علمي او څېړنيزه شپږ میاشتنۍ خپرونه



**د امتیاز خاوند**

التقوی پوهنتون

**مسؤل مدير**

پوهنوال منګل شېرزاد

**د تصحيح مدير**

حبيب‌الله لوراند

**د توزيع مدير**

شکرالله شينواری

**تحرير هيئت**

- دکتور عبدالوهاب حسام
- دکتور حمدالله کاکړ
- دکتور هلمند بختانی
- دکتور اظهارالحق عزيز
- پوهاند فرمان الله هيله مند
- پوهنوال منګل شېرزاد

**کتنپلاوی**

- پوهنوال معروف شاه شينواری
- پوهنوال محمد ايمل حقمل
- عرفان الله ستانکزی



**د چاپ تيراژ: ۵۰۰ ټوکه**

**چاپ ځای: زکريا ګرافيکس، جلال آباد**

**کلنی ګډون:**

- **ننګرهار : ۳۰۰ افغانۍ**
- **ولايات: ۶۰۰ افغانۍ**
- **بهرني هېوادونه: ۱۰۰ امريکايي ډالر**

**د يوې ګڼې بيه: ۱۲۰ افغانۍ**

**استادانو لپاره : ۸۰ افغانۍ**

**محصلينو لپاره: ۵۰ افغانۍ**

**همکارو ادارو لپاره: ۱۰۰ افغانۍ**



**اړيکو شمېرې: 077323368/0783287788**

**ايميل ادرس: magazine@altaqwa.edu.af**

**پته: عربانو ګولايي، دويمه ناحيه، جلال اباد ښار، ننګرهار- افغانستان.**

# لیکلړ


| مخگڼه | سرلیکونه |
|---|---|
| ۱ | **سریزه** |
| ۲ | **د اسلامي امارت پر وړاندې د لویو قدرتونو بهرنۍ سیاست**<br>احمد نشاط کلیوال او څېړنوال عبدالصبور مبارز |
| ۳۳ | **د حنفي فقهې له مخې د تعزیر بالمال څېړنه**<br>عزت‌الله عزیز او جمیل‌الرحمن راشد |
| ۵۳ | **د کورني اقتصاد په پیاوړتیا کې د مقاومتي اقتصاد رول**<br>عبدالجبار وحدت |
| ۷٦ | **د دولتونو ترمنځ د دوستانه اړیکو په پراختیا کې د کلتوري ډیپلوماسۍ رول**<br>اکرام‌الله همکار |
| ۹٦ | **د حنفي فقهې او وضعي قوانینو له نظره د تبعي جزاگانو پرتلیزه څېړنه**<br>طارق‌الله ملکزی او شیراجان صدیقي |
| ۱۱۵ | **د اسلامي فقهې او افغانستان د ۱۳۵۵ ل کال مدني قانون له نظره د نکاح...**<br>حبیب‌الرحمن سربلند |
| ۱۳٦ | **د کورني اقتصاد په مدیریت کې د ښځو رول**<br>ولي‌الله حنیفي او ماهرالله ماهر |
| ۱٦۷ | **ویژگی ها و آثار جرایم سازمان یافته در اسناد ملی و بین المللی**<br>قیس الله‌قدیري |
| ۱۹۵ | **د پښتنو عُرفي پرېکړې او د اسلامي شریعت سره یې پرتلیزه څېړنه**<br>نصیر احمد یوسفزی |

| | |
|---|---|
| **د ښځو مادي حقوق او په کورني اقتصاد يې اغېزې**<br>پوهنيار ننگالی مصؤن او زاهدالله سيدي | ۲۳۹ |
| **د اسلام له نظره شخصيت جوړونه او مرحلې يې**<br>محمد عمران دولتزی | ۲۶۳ |
| **د جرايمو په ارتکاب کې د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي اغېزې (په لغمان...**<br>جواد نيازی | ۲۸۷ |
| **Abstracts** | ۳۰۹ |

# سریزه

الحمدالله رب العالمین والعاقبة اللمتقین والصلاة والسلام علی سید الانبیاء والمرسلین الذی بعث بالحق فارقا بین الحق والباطل وعلی اله وصحبه والتابعین وعلی کل من جاهد في سبیله الی یوم الدین. التقوی پوهنتون یو ملي بشپړ اکاډمیک اعتبار لرونکی پوهنتون دی، چې په ۱۴۰۳/۰۱/۰۹ ل نېټه یې د لوړو زده کړو محترم وزارت څخه دغه لوړ اکاډمیک امتیاز کسب او په دې ترتیب یې د ټول هیواد په کچه د پنځو معتبرو پوهنتونونو په قطار کې ځای ونیو، التقوی پوهنتون دوه علمي ـ څېړنیز ژورنالونه (التقوی ملي علمي ـ څېړنیز ژورنال او التقوی نړیوال علمي ـ څېړنیز ژورنال) او یو څېړنیز او درې روزنیز مرکزونه لري.

التقوی پوهنتون غواړي، چې په راتلوونکو پنځو کلونو کې د سیاست، نړیوالو اړیکو، دیپلوماسی، ستراتېژیکو مطالعاتو، طبابت، اقتصاد، سوداگرۍ، مدیریت، ټکنالوژۍ، حقوقو او قانون په برخو کې د لېسانس او فوق لېسانس په کچه داسې خدمات تامین کړي، چې عملاً د دې ټولنې او مملکت علمي ـ څېړنیزه اړتیا پوره کړي.

التقوی پوهنتون په دې وروستیو کې د ستراتېژیک عمق په توگه د علمي څېړنو ودې ته ځانگړې پاملرنه کړې، چې په دې جریان کې د دې تحصیلي بنسټ د علمي کادر غړو له لورې لس گوونه علمي ـ څېړنیزې مقالې په معتبرو ملي او بین المللي ژورنالونو کې نشر شوي او دا لړۍ په عادي او منظم ډول روانه ده.

التقوی پوهنتون د هېواد د یو معتبر تحصیلي بنسټ په توگه ویاړي، چې (التقوی ملي علمي ـ څېړنیز ژورنال) پنځمه گڼه د ۱۲ علمي ـ څېړنیزو مقالو په لرلو سره چاپ ته سپاري، هیله لرو، چې په دې ژورنال کې چاپ شوې مقالې مطالعه کړئ او د هېواد د علمي، څېړنېزو، حقوقي، تقنیني، سیاسي، تجارتي او اقتصادي چارو د پرمختگ او بهبود لپاره ترې گټه واخلئ.

درنښت

پوهنیار خوشحال جواد

التقوی پوهنتون رئیس

**احمدنشاط کلیوال او څېړنوال عبدالصبور مبارز**
سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، التقوی پوهنتون

# د اسلامي امارت پر وړاندې د لویو قدرتونو بهرنۍ سیاست

**لنډیز**

د دې څېړنې له لارې په افغانستان کې د سترو قدرتونو د ګټو ترڅنګ د اسلامي امارت په اړه د متحده ایالاتو، چین او روسیې بهرني سیاستونه روښانه شوي دي. افغانستان چې تل د سترو قدرتونو د سیالیو ډګر پاتې شوی او له همدې امله زیان لیدلی، نو د دغو سیالیو د مخنیوي لپاره اړینه ده چې اسلامي امارت په اوسنیو شرایطو کې د افغانستان په اړه د دغو سترو قدرتونو بهرنۍ سیاست وپېژني. د څېړنې اهمیت دا دی، چې اسلامي امارت او د امریکا، روسیې او چین ترمنځ اړیکې او د اسلامي امارت پر وړاندې ددې قدرتونو بهرنۍ سیاست په روښانه کېدو سره، د افغانستان اسلامي امارت کولای شي، چې د دوي پر وړاندې خپل بهرنۍ سیاست داسې تنظیم کړي، چې د یوې خوا څخه د افغانستان ملي ګټې تأمین شي او له بلې خوا څخه د امریکا، روسیې او چین ترمنځ په اړیکو کې تعادل وساتي. دې مقاله کې د څېړنې له تشریحي-تحلیلي مېتود او کتابتوني ډول څخه ګټه اخیستل شوې ده. د څېړنې موندنې ښايي چې متحده ایالات هڅه کوي، چې د افغانستان له لارې په سیمه کې خپل سیال دولتونه لکه روسیه، چین او ایران کنټرول کړي او د دغو موخو د ترلاسه کولو لپاره په اسلامي امارت باندې د بشري حقوقو د نقض څخه د فشار د وسیلې په توګه ګټه اخلي. روسیه او چین بیا هڅه کوي چې له افغانستان سره ښې اړیکې ولري او په دغه هېواد کې سیاسي او امنیت ثبات رامنځته کړي تر څو له یوې خوا د افغانستان طبیعي سرچینو کې پانګونه وکړي او له بلې خوا له دې هېواد څخه دوی ته د ترهګرۍ ګواښ رامنځته نشي. د څېړنې بنسټیزه موخه دا ده چې د اسلامي امارت په اړه متحده ایالات، روسیه او چین بهرنۍ سیاست روښانه شي.

**کلیدي کلمې:** اسلامي امارت، په افغانستان کې د لویو قدرتونو موخې، د لویو قدرتونو سیاستونه، لوي قدرتونه

## سریزه

افغانستان د خپل جیوپولیټیک او جیوستراتیژیک موقعیت پر اساس د سیمې او نړۍ قدرتونو د پاملرنې په مرکز بدل شوی دی، د سیمې او نړۍ قدرتونه د خپلو ستراتیژیکو او اقتصادي موخو ترلاسه کولو لپاره افغانستان ته اړتیا لري.

د نړۍ ستر ځواکونه په ځانګړې توګه د امریکا متحده ایالات، روسیه او چین په افغانستان او سیمه کې خپلې ځانګړې موخې لري، چې تر ډېره دا موخې د افغانستان جغرافیوي موقعیت څخه په ګټنې سره ترلاسه کېدای شي. د امریکا متحده ایالاتو بهرني سیاستونه د درې مکتبونو (جکسونیسم، ویلسونیسم او همیلتونیسم) تر اغېز لاندې دي او تر نن ورځ پورې د امریکا ولسمشران پخپلو بهرنیو تګلارو کې د همدې مکتبونو څخه پیروي کوي. د امریکا متحده ایالات د اسلامي امارت سره د خپل بهرني سیاست په تطبیق کې د همدغو سیاسي مکتبونو څخه استفاده کوي. کله چې اسلامي امارت په ۱۴۰۰ هـ. ل کال کې بیاځلي واکمن شو، نو له هماغه وخت راهیسې تر اوسه پورې د اسلامي امارت په اړه د امریکا متحده ایالاتو په بهرني سیاست کې بنسټیز بدلون نه دی راغلی، البته په تعامل او ښکېلتیا برخه کې یې بهرنی سیاست د نرمېدو حالت ته روان دی. امریکا متحده ایالات هڅه کوي چې له اسلامي امارت سره داسې تعامل وکړي، چې نه دومره جدي اوسي چې اسلامي امارت په تمامه معنی له لاسه ورکړي او نه هم د دوی د غوښتنو منلو مخکې یې په رسمیت وپېژني او اړیکې ورسره عادي کړي.

روسیه له یوې پېړۍ راهیسې هم د روسیې د امپراطورۍ پرمهال او هم د شوروي اتحاد پرمهال د افغانستان مستقیم ګاونډی و، نن دغه هېواد له افغانستان سره نېغ په

نېغه گاونډيتوب نه لري، بلکې د مرکزي آسيا له لارې له افغانستان سره وصل دی. افغانستان او روسيه دواړه د اړيکو او تعامل په برخه کې د لوړو او ژورو مخينه لري، روسيه لومړنی هېواد و چې د افغانستان خپلواکي يې په رسميت وپېژندله او وروسته بيا د خپلو گټو د خونديتوب لپاره يې پر افغانستان مستقيم يرغل وکړ. پر افغانستان د امريکامتحده ايالاتو له يرغل وروسته روسيې لومړی له امريکامتحده ايالاتو سره اتحاد وکړ او په افغانستان کې يې د امريکايانو د عملياتو لپاره خپل هوايي حريم برابر کړ او بيا يې په افغانستان کې د امريکا متحده ايالاتو پر جگړې نيوکې وکړې او په افغانستان کې يې د دغه هېواد له شتون سره د مخالفت دريځ خپل کړ. روسيې په افغانستان کې د امريکامتحده ايالاتو د حضور په وروستيو کلونو کې له طالبانو سره اړيکې دومره ټينگې کړې، چې تېر افغان حکومت او امريکامتحده ايالاتو د طالبانو په ملاتړ تورن کړل. کله چې په ۲۰۲۱ ز. کال په افغانستان کې اسلامي امارت واک ته ورسېد، مسکو يې په اړه ځانگړې تگلاره غوره کړه، که څه هم په غير رسمي مواردو کې په مسکو کې په يوه يا دوو غونډو کې د اسلامي امارت څو تنه مخالفين ليدل شوي، خو د اسلامي امارت پر وړاندې د روسيې رسمي دريځ په يوه ټاکلې تگلاره کې روان دی، چې په دې ليکنه کې پرې بحث شوی دی.

چين بل ستر ځواک دی، چې په خپلې بهرنۍ پالسيۍ کې يې افغانستان ته ځانگړې اهميت ورکړی، که څه هم د افغانستان او چين تر منځ تاريخي غير رسمي اړيکې اوږد تاريخ لري، خو د دوو گاونډيو په توگه د دواړو هېوادونو سياسي او عصري اړيکې د شلمې پېړۍ په نيمايي کې په رسمي توگه پيل شوې دي. په افغانستان کې له بدلونونو سره سره د دواړو هېوادونو ترمنځ عادي او له کړکېچ څخه پاکې سياسي اړيکې بېلابېلو پړاوونو ته داخلې شوې، په ۱۹۷۹ م کال کې پر افغانستان د پخواني شوروي اتحاد له يرغل وروسته له مجاهدينو سره د چين د غير مستقيم ملاتړ له امله د کابل او بيجينگ ترمنځ رسمي اړيکې سړې شوې. په ۱۹۹۲ م کال په کابل کې د

کمونیستي حکومت له ړنګېدو او د مجاهدینو له خوا د حکومت په رامنځ ته کېدو او په افغانستان کې د کورنیو او تنظیمي جګړو له پیل سره د افغانستان او چین اړیکې تقریباً ترینګلې شوې. په ۱۹۹۶ م کال کې په کابل کې د تحریک طالبان راڅرګندېدل او د اسلامي امارت واک ته راتلل، د دواړو هېوادونو تر منځ د اړیکو په بشپړه توګه د پرې کېدو ترځنګ په افغانستان کې د اسلامي ډلو او د چین د شینجیانګ ولایت کې د فعالیتونو د پراخېدو له امله چین له افغانستان څخه وېره پیدا کړه. په ۲۰۰۱ م کال کې پر افغانستان د امریکا له یرغل، د امریکا بشپړ پوځي ملاتړ او په افغانستان کې د جمهوري نظام له جوړېدو وروسته، چین له کابل سره خپلې سیاسي اړیکې بیا له سره پیل کړې. د شلو کلونو په موده کې د افغانستان او چین اړیکې ګرمې او دوستانه وې، خو په افغانستان کې د امریکا د حضور له امله سختې اغېزمنې شوې.

له افغانستان څخه د امریکا په وتلو او د جمهوري نظام په ړنګېدو سره، چې اسلامي امارت یو ځل بیا پر افغانستان حاکمیت ترلاسه کړ، نو د تېرې دورې برعکس چین یو له هغو لومړنیو هېوادونو څخه و چې نه یوازې دا چې اسلامي امارت یې د ګواښ په توګه نه ګاڼه، بلکې په کابل کې یې د خپل سفارت په ساتلو اقدام وکړ، له اسلامي امارت سره یې اړیکې ټینګې کړې او خپل د بهرنیو چارو وزیر یې کابل ته واستاوه، تر څو له اسلامي امارت سره د امکان تر حده اړیکې ټینګې کړي، همدارنګه یې له کابل سره د لا زیاتې همغږۍ او نږدېوالي په موخه په چین کې د افغانستان سفارت د اسلامي امارت استازو ته وسپاره.

### د موضوع مساله

په افغانستان کې د اسلامي امارت په بیا واکمنیدو سره، د حکومت او خلکو لپاره په ګڼو (سیاسي، اقتصادي، ټولنیزو او نورو...) برخو کې ستونزې د تیرو لسیزو ناخوالو او جګړو څخه را پاتې. په سیاسي برخه کې یوه ستره ستونزه د افغانستان په بهرني

سیاست کې د لویو ځواکونو (قدرتونو) سره د اړیکو ټینګولو او دوی ترمنځ په اړیکو د توازن مساله ده. د افغانستان معاصر تاریخ په اوږدو کې تل حکومتونه د لویو قدرتونو سره د اړیکو ټینګولو په برخه کې او د دوی ترمنځ په اړیکو کې د توازن ساتلو په برخه کې د ګڼو ستونزو سره مخ شوي. د افغانستان اسلامي امارت په اړه د لویو قدرتونو د بهرني سیاست په اړه کومه ځانګړې لیکنه هم نه ده شوې ترڅود افغانستان په اړه د دوی موخې او سیاستونه روښانه کړي، البته د لویو قدرتونو او افغانستان په اړیکو باندې بحثونه او لیکنې شوې، مګر په تحلیلي توګه د افغانستان اسلامي امارت په اړه د لویو قدرتونو بهرنۍ سیاست ترعنوان لاندې کومه لیکنه نه ده شوې، نو په همدې اساس لازمه مو وبلله، چې د افغانستان اسلامي امارت په وړاندې د لویو قدرتونو بهرنۍ سیاست په تحلیلي- تشریحي بڼه وڅېړو او د افغانستان په اړه د دوی موخې او سیاستونه روښانه شي.

## د څېړنې اهمیت

نن ورځ په نړیوال نظام کې همدا درې ستر قدرتونه مهم دي، ځکه چې د مشاهداتو پر اساس دوی په نړیوال سیاست کې تر نورو قدرتونو ډېر سیاسي قدرت لري او دې سترو قدرتونو سره د اسلامي امارت تعامل او یا هم د اسلامي امارت په اړه د دې قدرتونو د بهرني سیاست مطالعه په خپل ذات کې اهمیت لري. د دې لپاره، چې اسلامي امارت د دغو قدرتونو په اړه خپل بهرنی سیاست تنظیم کړي، نو لومړی باید د اسلامي امارت په اړه د دغو سترو قدرتونو بهرنی سیاست وپېژني، نو همدې اړتیا ته په کتو مو د اسلامي امارت په اړه د دغو دریو سترو قدرتونو بهرنی سیاست څېړلی دی.

## د موضوع د اختیار سببونه

د اسلامي امارت پر وړاندې د لویو قدرتونو بهرنی سیاست موضوع مې د لاندې دلایلو په اساس د خپلې څېړنې لپاره غوره کړه.

۱. د اسلامي امارت پر وړاندې د لويو قدرتونو (امريکا، روسيه او چين) بهرنی سياست په اړه تر اوسه داسې کومه څېړنيزه مقاله نه ده ليکل شوې، نو په همدې اساس ما دا موضوع غوره کړه.
۲. د دې څېړنې څخه په پالیسۍ جوړونه کې هم ګټه اخيستل کيږي، نو د موضوع اهميت ته په کتو سره مې دا موضوع وټاکله.
۳. د سياسي علومو او نړيوالو اړيکو استادانو، محصلانو او د دې برخې د علاقمندانو د علمي ظرفيت لوړونې لپاره هم ګټوره واقع کيږي، نو په همدې اساس مې دا موضوع د څېړنې لپاره غوره کړه.

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې موخه په افغانستان کې د سترو قدرتونو د ګټو روښانه کول او د اسلامي امارت پر وړاندې د امريکا متحده ايالاتو، چين او روسيې د بهرنيو سياستونو څېړل دي.

## د څېړنې پوښتنه

د څېړنې پوښتنه دا ده چې د اسلامي امارت پر وړاندې امريکا متحده ايالات، چين او روسيه څه ډول بهرنی سياست لري؟

## د څېړنې فرضيه

د څېړنې فرضيه دا ده چې د اسلامي امارت په اړه د چين او روسيې بهرنی سياست په تعامل، حسن نيت او همکارۍ ولاړ دی او د امريکا متحده ايالاتو بهرنی سياست په تقابل او نقد ولاړ دی.

## تېرو ليکنو ته منطقي کتنه

د اسلامي امارت پر وړاندې د لويو قدرتونو بهرنی سياست تر عنوان لاندې کومه مستقله ليکنه او څېړنه نه ده ترسره شوې، په څېنو کتابونو، مقالو او راپورونو کې د

اسلامي امارت پر وړاندې د ځينو هېوادونواو لويو قدرتونو په بهرنيو سياستونو باندې په محدود ډول بحثونه شوي. د بيلګې په توګه د بهاره سازمند (سياست خارجی قدرتهای بزرګ) په نوم کتاب کې يوازې د لويو قدرتونو د بهرنی سياست په عمومي موضوعاتو باندې بحث شوی؛ بله ليکنه د ګرايم سمت او ابراهيم بهيځ ( The World Has No Choice but to Work with the Taliban) ده، چې نړۍ له لورې د اسلامي امارت سره د تعامل پر موضوع باندې شوې؛ همدارنګه د کانګرس د تحقيقاتو د ادارې لخوا د (Afghanistan: Background and U. S. Policy) ترعنوان لاندې يو راپور نشر شوی، چې د افغانستان په اړه د امريکا متحده ايالاتو په بهرنۍ پاليسۍ باندې بحث کړې؛ د احمد بلال خليل له لورې (چين او افغانستان) تر عنوان لاندې هم د افغانستان او چين په اړيکو باندې د ۱۹۵۵ م کال څخه تر ۲۰۱۵ م کال پورې بحث شوې؛ همدارنګه د طلوع نيوز په يو راپور کې (آغاز فعاليت دوباره سرقونسلګری روسيه در شهر مزار شريف) د روسيې او اسلامي امارت په اړيکو او په مزار شريف کې د دې هېواد د قونسلګرۍ د بيا فعاليت باندې په محدوده توګه بحث شوې.

ددې ليکنو تر څنګ په ځينو نور مقالو او راپورونو کې هم د اسلامي امارت او لويو قدرتونو (امريکا، روسيه او چين) د اړيکو په اړه بحثونه شوي، خو دا ليکنې عمومې او محدودې دي. د پورتنې ليکنو او برعکس په دې مقاله کې د اسلامي امارت پر وړاندې د لويو قدرتونو بهرنی سياست په تحليلي- تشريحي مېتود او په هر اړخيزه او تفصيلي شکل سره څېړل شوی ده.

## د څېړنې مېتود

په دې څېړنه کې له تحليلي- تشريحي ميتود څخه ګټه اخيستل شوې ده.

## لومړی مبحث: عمومیات

په نړیواله کچه نن ورځ د سیاسي، اقتصادي، نظامي، تکنالوژیکي او نورو فکتورونو پر اساس بېلا بېل ستر قدرتونه (Super Powers) شتون لري او همدا فکتورنه د دولتونو قدرت (سیاسي قدرت) تشکیلوي. د دولتونو سیاسي، اقتصادي، نظامي او په نورو برخو کې ځواکمنتیا موږ ته په ګوته کوي، چې کوم هېواد تر نورو ډېر قدرت لري. د سیاست عملي واقعیتونو (Reality of the Grounds) ته په کتو سره د نړۍ په ډېری برخو کې نن ورځ درې ستر قدرتونه (امریکا، روسیه او چین) یو د بل سره په سیالۍ باندې بوخت دي. په نړیوال نظام کې همدا درې ستر قدرتونه د مشاهداتو پر اساس تر نورو په سیاسي، اقتصادي، نظامي او نورو برخو کې پیاوړي دي او په نړیوال سیاست کې تر نورو ډېر سیاسي قدرت لري. پر همدې اساس مو د اسلامي امارت پر وړاندې د لویو قدرتونو بهرني سیاست تر عنوان لاندې همدا درې ستر قدرتونه (امریکا، روسیه او چین) شامل کړل، چې ترتیب سره لومړی د اسلامي امارت په اړه د امریکا متحده ایالاتو په بهرنۍ سیاست، بیا د اسلامي امارت په وړاندې د روسیي او په پای کې د اسلامي امارت په وړاندې د چین په بهرنۍ سیاست باندې بحث کوو.

## دویم مبحث: د اسلامي امارت په اړه د امریکا متحده ایالاتو بهرنۍ سیاست

د نړۍ او سیمې هېوادونو په اړه د امریکا متحده ایالاتو بهرنۍ سیاست د بېلابېلو جمهور رئیسانو په دوره کې توپیر لري، خو له لومړۍ نړیوالې جګړې مخکې د بهرني سیاست ځینو پوهانو د امریکا متحده ایالاتو د بهرني سیاست په اړه ځینې تیوریانۍ وړاندې کړې، چې وروسته بیا هغه په ځانګړو مکتبونو بدلې شوې. لنډه دا چې د امریکا متحده ایالاتو د بهرني سیاست جوړونې په برخه کې درې مهم مکتبونه موجود دي او د امریکا متحده ایالاتو بهرنۍ سیاست د همدغو مکتبونو څخه په اغېز ترتیب شوی دی، دا مکتبونه په لاندې ډول دي:

**لومړی مطلب: همیلتونیسم (Hamiltonism)**

دا مکتب وايي، چې د امریکا متحده ایالاتو بهرنۍ سیاست د ملي ګټو پرځای پر امریکایي ارزښتونو ولاړ دی، خو دا ارزښتونه په نورو هېوادونو پرته له جنګه او مداخلې په داسې ډول منل غواړي، چې امریکا متحده ایالات لومړی خپل ځان د هغو ارزښتونو نمونه یا الګو کړي او بیا یې په اختیاري ډول په نورو هېوادونو ومني. لنډه دا چې دا مکتب منافع محور نه، بلکې ارزښت محور دی او په نورو هېوادونو کې د مداخلې او جنګ خلاف دی (٦: ٢٤ – ٢٥).

**دویم مطلب: جکسونیسم (Jacsonism)**

دا مکتب پر واقعیاتو ولاړ دی او په نړیوال سیاست کې د قدرت پر استعمال باور لري، دا مکتب د همیلتونیسم برخلاف په بهرني سیاست کې امنیت محور او د امریکا متحده ایالاتو د ملي ګټو پر لاسته راوړلو ولاړ دی (٢٤: ٦- ٢٥).

**درېیم مطلب- ویلسونیسم (Wilsonism)**

د دې مکتب پر بنسټ امریکا متحده ایالات د خپل بهرني سیاست له لارې غواړي، چې امریکایي ارزښتونه په نړۍ کې د مداخلې او جنګ له لارې په خلکو ومني.

د دې مکتب په نظر امریکا متحده ایالات په خپل بهرني سیاست کې د ژر تېرېدونکو ملي ګټو پرځای دایمي امریکایي ارزښتونو ته لومړیتوب ورکوي او بهرنی سیاست په دې ډول تنظیموي، چې نړۍ امریکایي کړي او امریکایي ارزښتونه په نړۍ ومني او په دې لاره کې که اړتیا شي، نو له زور او قدرت څخه هم ګټه اخلي.

د دې مکتب پر بنسټ امریکا متحده ایالات ځینې وخت د امریکایي ارزښتونو د عملي کولو لپاره په نړۍکې جنګ او مداخله کوي، خو که دا جنګ او مداخله د امریکا متحده ایالاتو د ملي ګټو خلاف هم وي باید ترسره شي، یعنې د ملي ګټو او ارزښتونو د ټکر پر مهال باید ارزښتونو ته اهمیت ورکړل شي (٢٤: ٦- ٢٥).

دا درې واړه مکتبونه د لومړۍ نړيوالې جګړې څخه مخکې په امریکا متحده ایالاتو کې رامنځته شوي دي، خو له دویمې نړیوالې جګړې وروسته او حتی تر نن ورځ پورې د امریکا متحده ایالاتو جمهور رئیسان د دې مکتبونو تر اغېز لاندې دي. کله چې اسلامي امارت په ۱۴۰۰ هـ. ل کال کې بیاځلې واکمن شو، نو له هماغه وخت راهیسې تر اوسه پورې د اسلامي امارت په اړه د امریکا متحده ایالاتو په بهرني سیاست کې بنسټیز بدلون نه دی راغلی، البته په تعامل او ښکېلتیا برخه کې یې بهرنی سیاست د نرمېدو حالت ته روان دی. امریکا متحده ایالات هڅه کوي، چې له اسلامي امارت سره داسې تعامل وکړي، چې نه دومره جدي اوسي، چې اسلامي امارت په تمامه معنی له لاسه ورکړي او نه هم د دوی د غوښتنو منلو مخکې یې په رسمیت وپېژني او اړیکې ورسره عادي کړي.

امریکا متحده ایالات د اسلامي امارت په اړه په خپل بهرني سیاست کې لاندې مشخصې موخې تعقیبوي:

**لومړی جز: بشري مرستې**

امریکا متحده ایالاتو د بهرني سیاست یو موخه دا ده، چې د اسلامي امارت سره د بشري مرستو له لارې ښکېل پاتې شي او دغه بشري مرستې د څو لارو څخه اماده کوي، یو، د نړیوالو ادارو، لکه خوړو نړیوال سازمان، د روغتیا نړیوال سازمان او نور. دویم، ملګرو ملتونو له لارې (د ۲۰۲۳ز کال لپاره ملګرو ملتونو ۴.۶ میلیارده ډالر په افغانستان کې د بشري بحران سره د مبارزې لپاره ځانګړي کړي و)، درېیم، نړیوال ډونران، چې په هغې کې ځینې اروپایي، امریکایي او اسیایي هېوادونه شامل دي او څلورم خپله د امریکا متحده ایالات له لورې بشري مرستې دي، چې د سیګار د راپور پر بنسټ د اسلامي امارت د بیا واکمنۍ څخه تر ۲۰۲۳ز کال تر پای پورې امریکا متحده ایالاتو له افغانستان سره ۲.۱ میلیارده ډالره مرسته کړې ده، نو د امریکا متحده ایالاتو د بهرني سیاست بله موخه دا ده، چې د افغانستان خلکو سره بشري

مرستې وکړي او دغه هېواد په بحران کې پرې نږدي او بل دا، چې له دې لارې له اسلامي امارت سره هم ښکېل پاتې شي (۴:۶).

## دويم جز: د نشه يي توکو د قاچاق مخنيوی

د اسلامي امارت په اړه د امريکا متحده ايالاتو د بهرني سياست بله موخه د نشه يي توکو د توليد او د قاچاق مخنيوی دی. دا چې اسلامي امارت اميرالمومنين د يو فرمان په صادرولو سره د نشه يي توکو کر او قاچاق منعه اعلان کړی او ورسره په ټوله هېواد کې د اپيومو او نورو نشه يي توکو کر کم شوی، نو امريکا متحده ايالات دا د اسلامي امارت يوه لاسته راوړنه ګڼي او غواړي دې ته ورته نورو برخو کې هم اسلامي امارت اصلاحاتو ته اقدام وکړي، تر څو د دواړو هېوادونو ترمنځ رسمي اړيکې رامنځته شي.

## درېيم جز: له افغانستان څخه د امريکايي همکارانو راويستل

د امريکا متحده ايالاتو د بهرني سياست بله موخه دا ده، چې له افغانستان څخه خپل هغه همکاران راوباسي، چې په شل کلن ماموريت کې يې له دوی سره کار او همکاري کړې ده.

## څلورم جز: پر اسلامي امارت د خپلو غوښتنو منلو لپاره د فشار او بنديزونو راوړل

د اسلامي امارت له بيا واکمنۍ وروسته امريکامتحده ايالاتو د افغانستان د مرکزي بانک شتمني کنګل کړه او لا تر اوسه يې ازاده کړې نه ده، همدارنګه د اسلامي امارت د مشرانو په سفرونو يې بنديزونه لګولي دي، لا تر اوسه يې په رسميت نه دی پېژندلی، په ملګرو ملتونو کې څوکۍ نه ده ورکړې، د دې ډول فشارونو له لارې امريکا متحده ايالات غواړي، چې پر اسلامي امارت خپلې ځينې غوښتنې چې ډېری يې په امنيتي برخو کې دي ومني (۴:۶)

## درېيم مبحث: د افغانستان اسلامي امارت په اړه د روسيې بهرنۍ سياست

که څه هم روسيه يو له هغو هېوادونو څخه ده، چې په افغانستان کې د اسلامي امارت له راتګ وروسته يې په کابل کې خپل سفارت خلاص پرېښود او له اسلامي امارت سره يې ډيفکټو اړيکې ټينګې کړې، خو کتل کېږي، چې دغه هېواد له اسلامي امارت سره په تدريجي ډول خپل تعامل او اړيکي زياتې کړې دي. په لومړي قدم کې د ۱۴۰۱ هـ. ل کال په لومړيو کې روسيې موافقه وکړه، چې د اسلامي امارت ديپلومات په مسکو کې د افغانستان په سفارت کې د شارژدافير په توګه ومني. (٦:٥)

په بل قدم کې روسيې د ۱۴۰۲ هـ. ل کال په لومړيو کې په مزارشريف ښار کې خپله قونسلګري بيا پرانيستله، په همدې لړ کې د روان کال (۱۴۰۳) په لومړيو کې د روسيې تاس خبري اژانس راپور ورکړ چې: «د ترهګرو سازمانونو له ليست څخه د طالبانو د غورځنګ (چې اوس مهال په روسيه کې منع شوی دی) د ايستلو موضوع تر څېړنې لاندې ده. » د بهرنيو چارو وزارت وايي د تروريستي سازمان په توګه د طالبانو د دريځ د لغوه کېدو په اړه دا موضوع د بهرنيو چارو وزارت عدليې وزارت او نورو متخصصو بنسټونو له خوا څېړل کېږي. "وروستۍ پرېکړه به د هېواد لوړپوړي سياسي مشرتابه وکړي" (٦: ۴). ددې چارې څخه وروسته د تور نوملړ څخه د اسلامي امارت ويستل د روسيې پارلمان هم تائيد کړل (۱:۱) او د روسيې ولسمشر لخوا هم تائيد شو. د اسلامي امارت وياند، ذبيح الله مجاهد و ويل: « د روسيې وروستي اقدامات او دا چې اسلامي امارت سره د اړيکو پر وړاندې يې خنډونه ليرې کړل، دا ډېر مهم ګام دی او موږ يې ستايو » (۴: ۴).

د روسيې د بهرنيو چارو وزير د دغه عمل د تاييد او دفاع لپاره په دې وروستيو کې وويل، طالبان هغه څوک دي، چې په افغانستان کې اصلي واک لري. د چين د خلکو جمهوريت په څېر موږ هيڅکله خپل سفارت هلته نه دی تړلی، قزاقستان په دې وروستيو کې پرېکړه کړې، چې اسلامی امارت د ترهګرو ډلو له ليست څخه لرې

کړي، موږ هم ورته کار کوو. موږ په مرکزي اسیا کې د خپلو متحدینو په څېر افغانستان ته ارزښت ورکوو (٦: ٦).

سربیره پردې، روسیې د روان کال (۲۰۲۴) کال په می میاشت کې «د اسلامي نړۍ ناسته» په دوو مهمو غونډو او د سن پیترزبورگ د کلنۍ اقتصادي غونډه کې چې د دې کال د جون په ۵ څخه تر ۸ پورې جوړه شوې وه اسلامي امارت ته بلنه ورکړې وه.

تر دې ټولو مهم هغه څرگندونې دي چې د روسیې ولسمشر ولادیمیر پوتین ازبکستان ته د خپل وروستي سفر پر مهال کړې وې. پوتین په تاشکند کې په یوه خبري کنفرانس کې د یوې پوښتنې په ځواب کې وویل: «زه اوس په دې اړه تبصره نه کوم ځکه چې له طالبانو او افغانستان سره اړیکې په دوامداره توگه د اجنډا په سر کې دي. په افغانستان کې ستونزې شته، د انکار وړ نه دي، ټولو ته څرگنده ده، خو پوښتنه دا ده چې له اوسني حکومت سره څنگه اړیکي ټینگې کړو؟ او دا یوه بله موضوع ده، خو د تعامل او اړیکو نوعیت اړین دی. دا هغه خلک دي چې هېواد کنټرولوي، خاوره کنټرولوي. دوی نن د افغانستان حاکمان دي. حقیقت باید په پام کې ونیول شي او د هغه پر بنسټ اړیکې جوړې شي. موږ د خپلو شریکانو سره په اړیکه کې یو، د مرکزي اسیا په سیمه کې موږ د خپلو شریکانو او ملگرو نظرونه په پام کې نیسو او په گډه د دې دریځ په اړه پرېکړه کوو» (٦: ١٣).

له پورتنیو ټولو څرگندونو داسې ښکاري چې روسیې په تدریجي ډول له اسلامي امارت سره خپل تعامل او اړیکې پراخې او رسمي کړي، خو آیا د روسیې له خوا دغه نږدېوالی د اسلامي امارت د رسمیت پېژندلو لامل کېدای شي؟ په ځواب کې ویلای شو چې روسیه به خامخا په راتلونکې کې اسلامي امارت په رسمیت وپېژني، پرته له رسنیزو موضوعاتو لکه د یو ټول شموله حکومت رامنځته کول یا د ښځو د کار او زده کړې حق په گډون د بشري حقونو درناوی، خو اصلي موضوع داده چې

روسیه نه غواړي په یوازې ځان اسلامی امارت په رسمیت پیژني چې تل د روسیې د لوړ پوړو چارواکو په څرګندونو کې راغلي، چې دغه هېواد به یوازې په دې برخه کې پرېکړه ونه کړي، بلکې له نورو هېوادونو سره په همغږۍ به عمل وکړي. له دې سره چې روسیه له اسلامي امارت سره په نږدې کیدو کې کومې موخې تعقیبوي؟ په اسلامي امارت یې اغېزې څه دي؟ او سیمه ییزې او نړیوالې پایلې یې څه دي؟ داسې پوښتنې دي چې باید ځواب شي.

## لومړی مطلب: له اسلامي امارت سره په نږدې کېدو کې د روسیې موخې

افغانستان او روسیه هغه دوه هېوادونه دي، چې سیاستونه یې یو پر بل اغېزې لري، په تېره بیا روسیه د افغانستان له بدلونونو ډېره اغېزمنېږی. روسیه هم په مستقیم او هم په غیر مستقیم ډول له افغانستان څخه اغېزمنېږي. د افغانستان سیاسي او امنیتي تحولات او له غربي قدرتونو سره د دغه هېواد اتحاد لکه په شل کلن جمهوریت کې، چې دغه هېواد د امریکا متحده ایالاتو متحد و په مستقیم ډول پر روسیه اغېزه لري. همدارنګه د مرکزي اسیا سره د افغانستان اړیکې او پر دغه سیمه د افغانستان امنیتي اغېزې هم پر روسیه غیر مستقیم اغېز لري. پخوا په افغانستان کې د روسیې اهداف په دغه هېواد کې د تحولاتو تابع وو اوس، چې اسلامي امارت بیا په افغانستان کې واکمن دی، روسانو له هماغه اوایلو څخه د مثبت تعامل تګلاره خپله کړې او له دې لارې ځانګړي اهداف تعقیبوي، چې دغه اهداف په دریو امنیتي، سیاسي او اقتصادي محورونو کې څېړل کېدای شي.

### لومړی جز: امنیتي موخې

د اسلامي امارت لخوا د تروریزم پر وړاندې مبارزه د روسیې لپاره ښه خبر و. د تروریزم پر وړاندې د اسلامي امارت بریا او په افغانستان کې د ځینو ډلو ځپلو روسان نور هم هڅولي، چې له اسلامي امارت سره خپلې اړیکې او تعامل زیات کړي.

بله مسئله، چې په افغانستان کې د روسیې لپاره د ژورې اندیښنې لامل ګرځي په افغانستان کې د لویدیځوالو په ځانګړې توګه د امریکا د متحده ایالاتو حضور دی. په افغانستان کې د امریکامتحده ایالاتو د حضور په اړه یوه قوي فرضیه دا وه چې په افغانستان کې د خپل شتون له لارې دغه هېواد غواړي مرکزي اسیا ته، چې د روسیې «انګړ» شمېرل کیږي نفوذ وکړي، د همدې فرضیې پر بنسټ امریکامتحده ایالات له ترهګرۍ سره د مبارزې په پلمه افغانستان په خپله یوه پوځي او سیاسي اډه بدل کړی و او له هغې علاوه په مرکزي اسیا کې د روسیې د ګټو پر ضد دسیسې جوړوي. ویل کیږي کله چې روسیه په دې پوه شوه چې امریکامتحده ایالات په افغانستان کې له خپل شتون څخه د دغه هېواد په وړاندې کوم ناوړه نیت لري، نو له اسلامي امارت سره یې اړیکې پیل کړې. ځکه روسیه پوهیده چې یوازینی ځواک چې په افغانستان کې د امریکا شتون نه شي زغملی اسلامي امارت دی. وروسته له دې چې اسلامي امارت له افغانستانه د امریکا په شړلو بریالی شو، روسیې ورسره خپلې اړیکې پراخې کړې، ځکه د مسکو په اند دا اسلامی امارت دی چې تر کومه بقا ولری تر هغه وخته به په افغانستان کې د امریکا حضور ته اجازه ورنه کړي (٦: ١٣).

بله مسئله داده چې د روسانو ارزونه ده، چې اسلامي امارت په افغانستان کې یوازینی ځواک دی، چې په ټول افغانستان کې د مرکزي او واحدې حکومتدارۍ د عملي کولو وړتیا لري. دا مسئله دومره ارزښتناکه ده، چې روسي چارواکو په وار وار پرې اعتراف کړی دی، لکه څنګه چې د روسیې د بهرنیو چارو وزیر او خپله د پوتین په وروستیو څرګندونو کې په ښکاره توګه لیدل شوي. د مسکو له نظره، اسلامي امارت په ټول افغانستان کې د متحدې حکومتولۍ په عملي کولو سره د تروریستي او ورانکارو ډلو د شتون مخه نیولې او له خپلې خوا یې د مرکزي اسیا او روسیې ذهنونه آرام کړي دي، له همدې امله روسیې له اسلامي امارت سره خپل تعامل پراخ کړی او اړیکې یې د پیاوړتیا پر لور روانې دي.

## دویم جز: سیاسي موخې

هغه سیاسي موخې چې روسیه یې اسلامي امارت ته له نږدې کېدو تعقیبوي یو اړخیز او څو اړخیز محورونه لري. په یو اړخیز محور کې په افغانستان کې د امریکامتحده ایالاتو د حضور له پای ته رسېدو وروسته روسیې له دې فرصته ګټه پورته کړه او غواړي له اسلامي امارت سره د اړیکو په جوړولو په افغانستان کې خپل نفوذ زیات کړي. هغه څه چې په تېرو شل کلونو کې د روسیې لپاره ممکن نه وو، ځکه امریکا او د هغه په ملاتړ حکومت هیڅکله له افغانستان سره د روسیې د سیاسي روغې جوړې لپاره زړه ښه نه کړ. په دویم محور کې روسیه غواړي، چې د سیمه ییزې اجماع او اتحاد په جوړولو سره اسلامي امارت په ختیځ بلاک کې وساتي، لکه څنګه چې د لاوروف او پوتین په وروستیو څرګندونو کې روښانه شوې، اسلامي امارت ته د نږدې کېدو په لړ کې د روسیې یو هدف د افغانستان په اړه د روسیې له سیمه ییزو ملګرو سره د همغږۍ رامنځته کول دي. که له افغانستان څخه د امریکا له وتلو مخکې او وروسته د افغانستان نړیوال وضعیت وڅېړو، نو څرګندېږي، چې افغانستان د امریکا د حضور پر مهال په لوېدیځ بلاک کې و، خو د امریکا له وتلو او په افغانستان کې د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو وروسته افغانستان تر اوسه د هیڅ یو بلاک په طرف کې په مستقیمه توګه نه دی دریدلی. روسیه د دې فرصت څخه په استفادې هڅه کوي، چې دا ډول تشه ډکه کړي. روسان په دې خبره پوهېږي چې که افغانستان یوازې پرېږدي، ښایي لوېدیځ هېوادونه بیا افغانستان ته د نږدې کېدو هڅې وکړي، چې په دې صورت کې به د تېرو شلو کلونو حالت تکرار شي. له همدې امله روسیې له افغانستان سره د نږدې کېدو په برخه کې لومړني ګامونه پورته کړي او نور هېوادونه په ځانګړې توګه د مرکزي اسیا هېوادونه هم هڅوي، چې په دې لاره کې ورسره یوځای شي. البته په دې دریځ کې د چین په ګډون د مرکزي اسیا او ایران هېوادونه هم له روسیې سره موافق دي او په ګډه د یوه سیمه ییز ایتلاف د جوړولو لپاره کار کوي، چې افغانستان په خپل یو محور کې وساتي (٦: ١٣).

## درېيم جز: اقتصادي موخې

بله موخه چې روسيه يې د اسلامي امارت سره د نږدې کېدو له لارې تعقيبوي اقتصادي مسايل دي، که څه هم روسيې په تېر کې له افغانستان سره اقتصادي اړيکې درلودې، خو په دغه هېواد کې د امريکا حضور او له امريکا سره د افغان حکومت اتحاد په افغانستان کې د روسيې د پراخ اقتصادي حضور لپاره لازمه زمينه برابره نه کړه. په افغانستان کې د امريکا له وتلو او د هغه د متحد حکومت له ړنګېدو سره روسيې په افغانستان کې د پراخ اقتصادي حضور لپاره ډېر ښه فرصت وموند. افغانستان له اقتصادي پلوه د روسيې لپاره له څو اړخونو ارزښت لري. لومړی، روسيه کولی شي د هغه زيربنايي پروژو په بيارغونه کې برخه واخلي، چې روسانو پخوا په افغانستان کې جوړې کړې وې. دويم روسيه کولی شي چې په افغانستان کې د کانونو د استخراج په برخه کې پانګونه وکړي. درېيم دا چې د روسيې توليداتو ته د افغانستان بازار پرانيستل شي او دغه هېواد کولای شي له افغانستان سره خپل صادرات او واردات زيات کړي (٦: ١٣).

## څلورم مبحث: د افغانستان اسلامي امارت پر وړاندې د چين بهرنۍ سياست

چينايي ديپلوماتان، څېړونکي، سياسي تحليل ګران او لوړ پوړي چارواکي په دې اند دي، چې د دوی ګاونډي هېوادونه د افغانستان په شمول هغه وخت د چين په ګټه تمامېدای شی، چې په دې هېوادونو کې امنيتي او اقتصادي ثبات وي او دا ثبات هغه وخت رامنځته کېدلی شي، چې لومړی دا هېوادونه اقتصادي ثبات ترلاسه کړي او د دې لارې بيا دوی کولاي شي، چې امنيتي او دوامداره ثبات ته ورسيږي. چينايان په دې آند دي، چې يو ناپلوی او با ثباته افغانستان د چين د ګټو سره سر خوري، که چين په رښتيا هم داسې افغانستان غواړي، نو دغه چاره د افغانستان د ملي ګټو سره هم يو موافق نظر دی او دا د دواړو ګاونډيو هېوادونو لپاره يو ښه خبر دی، ترڅو د دوی ګټې سره يو شان دي (١٨١: ٣).

دلته په هغو مواردو باندې بحث کوو، چې په افغانستان کې د چین امنیتي، اقتصادي او سیاسي ګټې او په ټوله کې په دې برخو کې د افغانستان په اړه د چین په بهرني سیاست باندې بحث کوو.

**لومړی مطلب: په افغانستان کې د چین امنیتي ګټې او اندیښنې**

امنتیي پیښې، قومي اندیښنې او ناارامي د څو لسیزو راهیسې د چین سینګیانګ سیمه تهدیدوي. د ایغور مسلمانان چې په دغه سیمه کې اوسېږي د بیجنګ تر کنټرول او حاکمیت لاندې نه غواړي، چې ژوند وکړي او د ممکنه لارو څخه غواړې چې د چین حکومت ته ستونزې جوړې کړې، چې د ۲۰۰۹ م کال څخه راپه دیخوا په دې سیمه کې وخت ناوخت د تاوتریخوالي راپورنه راځي، چې همدې کال (۲۰۰۹) کې د تاوتریخوالو په پایله کې تقریبا (۲۰۰) تنه ووژل شول (۸: ۱۰).

د بیلتون پالو خوځښتونو ترڅنګ په سینګیانګ ایالت کې د ختیځ ترکستان اسلامي خوځښت یو بل ګواښ دی، چې د چین ګټې تهدیدوي. چین فکر کوي، چې دا ډله په مرکزي آسیا، افغانستان او پاکستان کې خوندي ځایونه لري او د دې لارې د چین امنیت په ځانګړې توګه د سینګیانګ خود مختارې سیمي ته ګواښ پیښوي (۹۲-۷۰: ۱۰).

د مخدره توکو تولید او قاچاق بل ګواښ دی، چې د چین امنیت ته ستونزې پیښوي او د دې لارې تونډلاري خوځښتونه، چې د چین ګټې تهدیدوي، په مالي توګه ځان تمویلوي. په تېرو کلونو کې افغانستان کې د مخدره توګه د تولید او د پاکستان، مرکزي آسیا او جنوب ختیځې آسیا له لارې یې چین ته قاچاق هغه څه وو، چې د چین د سینګیانګ ایالت امنیت او ثبات یې د ګواښ سره مخ کړی وو. په (۲۰۱۴) م کال کې افغانستان (۴۸۵۰) مټریک ټنه مخدره توکې تولید کړی وو او د دې له امله یې د نړۍ او په ځانګړې توګه د ګاونډویو هېوادونو امنیت او ثبات د ګواښ سره مخ کړی و (۱۴: ۳۱ – ۱۱۳).

د چين په سينګيانګ ايالت کې دا ګواښونه د دې لامل شو، چې چين د افغانستان په اړه په خپل بهرني سياست کې فعاله رول ولوبوي. چين د افغانستان په اړه په خپل فعاله بهرني سياست کې د سياسي برخې سربېره د (۲۰۰۹) م کال څخه وروسته په اقتصادي برخه کې په افغانستان کې خپلو کړنو ته چټکتيا ورکړه او د اقتصادي پروژو ترڅنګ يې خپلې اقتصادي مرستې هم د افغانستان سره زياتې کړې، ځکه چينايان فکر کوي، چې سياسي او امنيتي ثبات د اقتصادي ثبات سره مستقيمه اړيکه لري. د دوی په اند، چې په افغانستان کې د اقتصادي ثبات د رامنځته کېدو سره به دغه هېواد دايمي سولې او ثبات ته هم ورسېږي(۸: ۲۸).

په افغانستان کې د اسلامي امارت په بيا ځلي واکمنېدو سره چين د هغو هېوادونو له جملې څخه وو، چې خپل سفارت يې په کابل کې خلاص پرېښود او د اسلامي امارت سره يې نږدې اړيکې ټينګې کړې. د اسلامي امارت لخوا د مخدره توکو پر وړاندې جدي مبارزه او همدارنګه د افغانستان له خاورې څخه هيڅ کوم هېواد ته د ګواښ نه پېښېدل هغه څه دي، چې چين يې هرکلي کوي او خپلو امنيتي اندېښنو لپاره يې د افغانستان سره د نږدې څخه کار کوي او د اقتصادي پروژو په تطبيق سره (چې وروسته به پرې بحث وشي) غواړي، چې په افغانستان کې خپلو امنيتي موخو ته ورسېږي.

**لومړی جز: په افغانستان کې د چين سياسي ګټې**

چين هم د نورو ځېر ځواک هېوادونو په څېر په نړيواله او سيمه ييزه کچه خپلې سياسي موخې لري او تر ډېره د دې موخو د تعقيب لپاره د اقتصادي لارو چارو څخه ګټه اخلي. افغانستان چين ته د يو ګاونډي او د يو مهم ستراتېژيک هېواد په توګه خورا ارزښت لري. ځينې افغانان په دې آند دي، چې چين يوازينی ګاونډی هېواد دی، چې د افغانستان په کورنيو چارو کې يې مداخله نه ده کړې؛ مګر ځينې نور افغانان د سړې جګړې پرمهال چين په افغانستان کې د شعلې جاويد څخه په ملاتړ تورنوي. ځينې نور بيا د شوروي

اتحاد د يرغل پرمهال د چين مرستې د افغانانو سره د يو شمېر اسلامي هېوادونو څخه هم مخکې وګانه. په ټوليزه توګه چين په افغانستان کې يو ښه نوم لري، چې دليل يې د چين له لورې د افغانستان په چارو کې نه مداخله او ناپلويتوب دی. چين په افغانستان کې د خپل نرم ځواک (Soft Power) د زياتولو لپاره د اقتصادي مرستو، ودانيو جوړولو، روزنې او تحصيلي بورسونو د ورکړې څخه استفاده کوي (۳: ۷۱ – ۷۲).

چين په خپل ټول تاريخ کې تر اوسه پورې د دوو ښکېلو اړخو ترمنځ د سولې په برخه کې د منځګړي په توګه رول نه دی لوبولی، مګر يوازينی هېواد افغانستان و، چې چين د افغان سولې په برخه کې د (۲۰۱۲) م کال کې خپلې هڅې پيل کړې او د افغان سولې په اړه يې سيمه ييزو هېوادونو د همغږي لپاره ځو اړخيزه ديپلوماسي په لاره واچوله. د دې ترځنګ يې په (۲۰۱۴) م کال کې د افغان سولې په اړه له ښکيلو لورو سره هم ليدنې وکړې.

چين په افغانستان کې د امريکايي ځواکونو په اړه انديښنه درلوده، که څه هم چين په ښکاره توګه په افغانستان کې د امريکايي ځواکونو په شتون باندې نيوکې نه کوي، مګر په ځينې مواردو کې يې خپلې انديښنې څرګندولې. په (۲۰۰۹) م کال کې چينايي ديپلوماتانو په چين کې د افغانستان سفارت لومړي سکرتر نبي ته د چين پر پوله په ځانګړې توګه د سينګيانک سيمې ترځنګ د امريکايي پوځيانو پرشتون انديښنې څرګندې کړې. د دې ترځنګ چينايان په افغانستان کې د امريکايي پوځيانو د نظامي هډو په اړه هم انديښمن ول. په (۲۰۱۳) م کال کې په پاکستان کې پخواني چينايي سفير زهو کانګ وويل، امريکايان بايد په افغانستان خپل نظامي شتون پای ته ورسوي او په راتلونکي کې نظامي هډې ونه وساتي، ځکه دوی فکر کاوه، چې د (۲۰۰۱) م کال راهيسې حالات نور هم خراب شوي (۳: ۷۵).

د چين بله انديښنه په افغانستان کې د هند د نفوذ په اړه وه، د چين دا انديښنه د دوو لاملونو له کبله وه، لومړی د خپل ستراتېژيک ملګري پاکستان لپاره او دويم دا چې

هند په اقتصادي، سوداګرۍ او انرژۍ برخو کې د چين رقيب دی او دغه رقابت افغانستان او منځنۍ آسيا ته هم رسېدلی. په (۲۰۰۹) م کال کې چينايانو په چين کې مېشتو کاناډايي ديپلوماتانو ته په افغانستان کې د هند د نفوذ په اړه خپلې او د پاکستان اندېښنې بيان کړې، دوی ويل چې هند په افغانستان کې د خپلو قونسلګريو له لارې د پاکستان قبايلي سيمې ناارامه کوي، همدارنګه چين د افغانستان لومړي سکرتر نبي ته هم ويلي وو، چې د چين او پاکستان د تودو اړيکو له کبله چين په افغانستان کې د هند له نفوذه اندېښنه لري (۳: ۷۵ – ۷۶).

په افغانستان کې د اسلامي امارت په بياځلې واکمنېدو سربېره ګورو، چې امريکايي ځواکونه له افغانستان څخه ووتل او په افغانستان کې يې خپل سفارت هم وتاړه، يعنې دافغانستان سره يې خپلې اړيکې په مستقيم ډول محدودې کړې.

د دې ترڅنګ هند هم د اسلامي امارت سره تر اوسه اړيکې محدودې ساتلي، د افغانان پر وړاندې يې حتا خپل کونسلي خدمات هم د امکان ترحده محدود کړي او يوازې کابل ته د خپل سفارت محدود د ټيټې کچې کارمندان لېږلي. د هند او امريکا سره د افغانستان اوسنيو اړيکو ته په کتو سره ويلی شو، چې د چين اندېښنې تقريبا له منځه تللې او دا د دې سبب شوې، چې چين په سياسي برخه کې د افغانستان څخه خپل ملاتړ پراخ کړي، ښه بېلګه يې د چين لخوا په رسمي توګه د افغانستان د سفير منل وو او د سياسي برخې سربېره يې د افغانستان سره د دې هېواد د اقتصادي اړيکو پراختيا هم بله بېلګه کېدای شي، چې په افغانستان کې د نورو قدرتونو د حضور په اړه د چين اندېښنې تقريبا له منځه تللې.

### دويم جز: په افغانستان کې د چين اقتصادي ګټې

افغانستان يو داسې جغرافيوي موقعيت لري، چې د سيمې د هېوادونو د سوداګرۍ او انرژۍ د ترانزيت ښه وړتياوې لري. د دې ترڅنګ د امريکايي څمکپوهانو د څېړنې په پايله کې دا جوته شوې، چې افغانستان تقريبا (۱) تريليون ډالرو په ارزښت طبيعي

منابع لري. امريکايان په دې نظر دي، چې افغانستان تقريبا (۱، ٦) مليارده بيرله تېل او (۱٦) تريليونه مکعب متر غاز لري. دغه منابع د چين په څېر يو هېواد ته، چې د نړۍ تر ټولو زيات د انرژۍ واردونکی هېواد دی، خورا ارزښت لري، دلته په لنډ ډول په افغانستان کې په هغو اقتصادي برخو او ګټو باندې بحث کوو، چې د چين پاملرنه يې ځانته جذب کړې.

**لومړۍ فقره: مېس عينک**

د مېس عينکو کان له کابل څخه تقريبا (۲۵) ميله لرې په لوګر ولايت کې موقعيت لري، چې تقريبا (۲۴۰) ميليونه ټنه د مېسو کاني لري او تقريبا له (۱۰۰) ميلیارډ ډالرو څخه زيات ارزښت لري. دا کان د نړۍ د مېسو دويم ستر کان ګڼل کېږي. د دې کان ترلاسه کولو پسې چين د ۲۰۰۳ م کال څخه مخکې خپلې هڅې شروع کړې وې، چې بلاخره يې په ۲۰۰۷ م کال کې دوو چينايي کمپنيو ( Jiangxi Copper Company limited and Metallurgical Construction Company) تر ټولو لوړه بولي ورکړه. د ۲۰۰۷ م کال د ډيسمبر د مياشتې څخه تر د ۲۰۰۸ م کال د مې مياشتې پورې د افغان حکومت او دوو چينايي کمپنيو ترمنځ مذاکرات وشول او په پای کې يې ورسره قرارداد وکړ. په افغانستان او لوګر ولايت کې نا امنۍ او په مېس عينکو کان کې د لرغوني ښار او اثار راوتل د دې دوه ستر لاملونه وو، چې په دې کان کې د استخراج چارې ودرېدې. د اسلامي امارت په بيا واکمندو سره چين ژمنه کړې، چې د مېس عينکو کان د کيندنې (استخراج) چارې به ډېر ژر پيل کړي او هغه زېربنايي پروژې به هم پيل کړي، چې ددې پروژې لپاره ضروري دي (۱۵:٦).

**دويمه فقره: د آمو حوزه**

د مېسو عينکو د قرارداد تر لاسه کولو څخه وروسته چين د آمو حوزې د تېلو قرارداد هم ترلاسه کړ، چې دا پخپله په افغانستان کې د چين ليوالتيا او د اقتصادي ګټو دويمه نښه ده. د يوې څېړنې له مخې د آمو حوزه تقريبا د (۸۰-۹۰) ميليون بيرله تېل لري. دا

قرارداد د چین د پترولو ملي شرکت (China National Petroleum Corporation) د ۲۰۱۱ م کال د ډیسمبر په میاشت کې ترلاسه کړ. د دې قرارداد له مخې دغه کمپنۍ به د (۲۵) کلونو په جریان کې په دغه حوزه کې د درېیو څاه ګانو د کیندنې او د تېلو د استخراج چارې به ترسره کوي (۳: ۱٦۷).

**درېیمه فقره: سوداګري**

په تېرو شلو کلونو کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي اړیکو پراختیا د دوو عواملو له امله رامنځته شوې وه. لومړی د چین چټکه اقتصادي وده او په ارزانه بیه د مصرفي توکو عرضه او د نړیوالې ټولنې لخوا چې د متحده ایالاتو په واسطه یې رهبري کېده د افغانستان د بیارغونې لپاره د ملیاردونو ډالرو پیسو لګول د لوړې اقتصادي ودې له امله، افغانستان په یو مصرفي مارکیټ بدل شو، همدا لامل و چې په ۲۰۰۲ م کال کې افغانستان ته د چین د صادراتو کچه چې ۱۹. ۹ میلیونه ډالره وه، چې په تدریج سره تر ۲۰۱۰ کال پورې ۱۷۵ ملیون ډالرو ته لوړه شوه او تر ۲۰۱۸ کال پورې ٦٦۸ ملیون ډالرو ته لوړه شوه. په دې توګه افغانستان ته د چین د صادراتو کچه د جمهوري نظام تر وروستي کال یعنې تر ۲۰۲۱ کال پورې ۴۷۴ ملیون ډالرو ته رسېدلې وه. په ورته وخت کې د جمهوري ریاست په دوره کې چین ته د افغانستان د صادراتو اندازه په ۲۰۰۸ کال کې له ۱. ۹۴ میلیونو ډالرو څخه په ۲۰۱۹ کال کې ۳۱ ملیون ډالرو ته رسیدله چې د پام وړ زیاتوالی ښیي.

د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو وروسته له اسلامي امارت سره د ښو اړیکو لپاره د چین هڅې، د اسلامي امارت اقتصاد محوره بهرنۍ تګلاره، په افغانستان کې اقتصادي پانګونې ته د چین ځانګړې پاملرنه، د اسانتیاوو برابرول او د دغه هېواد د ادارې په چوکاټ کې له افغانستان سره د ښو اړیکو د لرلو هڅې، د دواړو هېوادونو ترمنځ اقتصادي اړیکې مخ پر ودې دي، چې له همدې امله افغانستان ته د چین صادرات په ۲۰۲۲ کال کې ۵۵۰. ۱۳ میلیونه ډالرو ته ورسېدل او په مقابل کې افغانستان چین

ته هم ۴۰. ۰۲ میلیونه ډالره صادرات کړي دي. دغه شمېرې ښيي چې د اسلامي امارت په راتګ سره نه یوازې دا چې د دواړو هېوادونو تر منځ د دوه اړخیز تجارت په حجم کې کموالی نه دی راغلی، بلکې د پام وړ زیاتوالی یې کړی دی. همدارنګه د افغانستان او چین ترمنځ د سوداګرۍ د شته ارقامو له مخې د ۲۰۲۳ م کال نومبر د ۲۰۲۲ م کال د نومبر په پرتله، افغانستان ته د چین صادرات ۹۵ سلنه، یعنی له ۶۰. ۳ میلیون ډالرو څخه ۱۱۸ میلیون ډالرو ته چې ۱۵. ۱ سلنه کېږي وده کړې ده او چین ته د افغانستان صادرات له ۱۵. ۱ څخه تر ۱۶. ۱ میلیون ډالرو پورې ښيي. دې وضعیت ته په کتو داسې وړاندوینه کېږي، چې چین به له پاکستان وروسته د افغانستان دویم سوداګریز شریک شي، ځکه چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د دوه اړخیزې سوداګرۍ د اندازې د زیاتوالي اوسنۍ تمایل د نورو ګاونډیانو په پرتله د زیاتوالي ښکارندویي کوي، چې دا به د دواړو هېوادونو ترمنځ اقتصاد لا چټک کړي (۱۷: ٦).

**پایله**

افغانستان د خپل جغرافیوي موقعیت له کبله د سیمې او نړۍ د سترو ځواکونو لپاره خورا اهمیت لري. افغانستان د مرکزي او جنوبي آسیا په منځ کې د اقتصادي وصل د مرکز په توګه نه یوازې دا، چې د دې دوو سیمو لپاره ارزښت لري، بلکې د سیمې او نړۍ ستر ځواکونه هم تل هڅه کوي، چې افغانستان سره نږدې اړیکې ولري. د دې ځواکونو تر ټولو مهم هدف دا دی، چې د افغانستان له لارې جنوبي، مرکزي او لوېدیځې آسیا سیمو ته په اسانۍ سره لاس رسی ولري. د امریکا متحده ایالات، روسیه او چین هغه ستر ځواکونه دي، چې نن ورځ نړیوال سیاست کې یو له بل سره په مختلفو سیمو او برخو کې په رقابت باندې بوخت دي. افغانستان هم د دې ستر هېوادونو د رقابت څخه مستثنی نه دی، دوی هر یو دلته خپلې موخې لري او د دې موخو د ترلاسه کولو لپاره یې بهرني سیاستونه تنظیم کړي.

په افغانستان اسلامي امارت په بیا واکمنېدو سره د امریکا متحده ایالات په خپل بهرنۍ سیاست کې افغانستان لپاره داسې یوه تګلاره ټاکلې چې په اړه یې د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو مبصرین بېلابېل نظریات لري. د دې برخې یوه ډله پوهان په دې آند دي، چې د اسلامي امارت په بیا واکمنېدو سره په افغانستان کې امنیت تامین، د اسلامي امارت له لورې د ټول سیاسي قدرت ترلاسه کول او د دې هېواد له لورې نورو هېوادونو ته د امنیتي ګواښ نشتون هغه لاملونه دي، چې د امریکا متحده ایالات له لورې به اسلامي امارت به په رسمیت وپېژندل شي. بله ډله پوهان بیا په دې آند دي، چې د امریکا متحده ایالات په خپله بهرنۍ پالیسۍ کې افغانستان ته کوم ځانګړی لومړیتوب نه ورکوي او اسلامي امارت د یو مشروع حکومت په توګه نه پېژني، ځینې نور بیا په دې آند دي، چې د امریکا متحده ایالات ته افغانستان خورا اهمیت لري، نو له دې کبله د اسلامي امارت بیا واکمنېدو سره هم یې له افغانستان سره خپلې بشري مرستې نه دي درولي او د تروریزم سره د مبارزې په صورت کې به اسلامي امارت په رسمیت وپېژني.

روسیه د اسلامي امارت په بیا واکمنېدو سره د هغو هېوادونو له جملې څخه وه، چې خپل سفارت یې ونه تاړه او د افغانستان حکومت سره اوسمهال نږدې اړیکې لري. روسیه په سیاسي برخه کې د لویدیځ د نفوذ څخه اندېښنه لري، نو په همدې اساس د افغانستان اسلامي امارت سره ښې اړیکې پالي. په امنیتي برخه کې هم روسیه اندېښمنه ده، چې افغانستان د سیمې د تند لارو ډلو په مرکز بدل نشي او د مرکزي آسیا له لارې د روسیې امنیت ته ګواښ پېښ نه کړي.

د همدې اندېښنو له امله روسیه د افغانستان اسلامي امارت سره له نږدې څخه کار کوي او د دې لیوالتیا لري، چې د افغانستان د کانونو په برخه کې پانګه اچونه وکړي او د سیاسي او اقتصادي اړخه افغانستان ثبات ته ورسېږي.

چين د افغانستان د ګاونډي او د سيمې او نړۍ د ستر ځواک په توګه د افغانستان بې ثباتي ځانه لپاره تر هر بل هېواد ستر ګواښ ګڼي. د چين خومتخاره سيمه (سينګيانګ) چې په ورستيو کلونو کې د نا امنۍ له وجې دې هېواد لپاره يو ستونزه جوړه کړې، چين په دې آند دی، چې دا سيمه د افغانستان سره ګډه پوله لري او که د افغانستان امنيت خرابيږي، نو حتما به يې اغېزې په چين باندې هم وي. چينايان په دې نظر دي، چې که افغانستان اقتصادي ثبات ته ورسيږي، نو امنيتي ثبات ورسره هم تامينيږي نو د همدې موخې لپاره چين تر بل هر وخته د افغانستان اسلامي امارت سره په اقتصادي برخه کې خپلې اړيکې پراخې کړې، چې له يوې خوا څخه د افغانستان د کانونو په استخراج په برخه کې د پانګې اچونې سره اقتصادي ګټه ترلاسه کوي او له بلې خوا په افغانستان کې د اقتصادي ثبات په رامنځته کيدو سره دا هېواد امنيتي ثبات هم رسيږي، چې دا چين تر ټولو ستره موخه ده.

**مناقشه**

افغانستان د خپل جغرافيوي موقعيت له امله د سيمې او نړۍ د سترو ځواکونو لپاره حياتي اهميت لري. دا موقعيت افغانستان د مرکزي، جنوبي او لويديځې آسيا د وصل نقطې په توګه بدل کړی، چې دا ځانګړنه د نړيوالو قدرتونو پام ورته اړولی. امريکا، روسيه او چين درې ستر نړيوال قدرتونه دي، چې په نړيوال سياست کې د رقابت په حالت کې دي. افغانستان هم د دوی د ستراتېژيکو سياليو يوه برخه ګرځېدلې، او دا هېواد د هر يوه لپاره ځانګړې موخې لري.

**۱. د امريکا دريځ:** د اسلامي امارت په بيا واکمنېدو سره، امريکا له افغانستان سره خپل سياست ته بيا کتنه کړې. نظرونه متفاوت دي، يوه ډله پوهان وايي، که اسلامي امارت امنيت تامين کړي، ټول قدرت په لاس کې وساتي او نورو ته ګواښ نه وي، امريکا به يې رسميت وپېژني. بله ډله باور لري چې افغانستان ته د امريکا پاملرنه کمه شوې او امارت به مشروع ونه ګڼي. ځينې بيا ګوري چې د امريکا ستراتيژيک اهميت لا هم پر ځای

دی، څکه بشري مرستې نه دي درول شوې او رسميت به د ترهګرۍ پر ضد همکارۍ پورې مشروط وي.

**۲. د روسيې دريځ:** روسيه يو له هغو هېوادونو ده، چې د اسلامي امارت له بيا راتګ سره سفارت نه دی تړلی. روسيه غواړي افغانستان د لوېديځ له نفوذ لرې وساتي او د سيمې د امنيتي ګواښونو مخنيوی وکړي، په ځانګړي ډول د تندلارو ډلو د نفوذ له امله. همداراز روسيه غواړي د کانونو له لارې اقتصادي ګټه تر لاسه کړي.

**۳. د چين دريځ:** چين افغانستان ته د خپل امنيت لپاره يو مهم عامل بولي، څکه چې د چين سينګيانګ سيمه له افغانستان سره ګډه پوله لري. د چين اصلي تمرکز په اقتصادي پانګونه او د افغانستان د ثبات له لارې خپل امنيتي ثبات تامينول دي. د کانونو د استخراج په برخه کې پانګونه د چين لپاره يوه ستراتېژيکه پروژه ده.

درې واړه هېوادونه – امريکا، روسيه او چين، له بېلابېلو زاويو افغانستان ته ګوري، خو ټولو ته دا څرګنده ده چې افغانستان يو مهم ستراتېژيک هېواد دی، او د هغوی بهرني سياستونه د افغانستان پر حالاتو اغېز لري.

**پايله اخيستنه**

د څېړنې په پای کې مو وموندل، چې متحده ايالات غواړي په افغانستان کې د ترهګرۍ او نشه يي توکو د قاچاق د مخنيوي په برخه کې له اسلامي امارت سره همکاري ولري او په دې برخه کې دواړه لوري موافق هم دي، خو په سيمه کې د متحده ايالاتو ځينې نورې امنيتي موخې، لکه د افغانستان له لارې د چين، روسيې او ايران کنټرول، اسلامي امارت ته د منلو نه دي او همدا لامل دی، چې د دواړو دولتونو ترمنځ يې اړيکې ترينګلې کړي دي او د دغې موخې د ترلاسه کولو لپاره متحده ايالات هڅه کوي، چې پر اسلامي امارت د فشار د وسيلې په توګه د مختلفو وسايلو څخه ګټه واخلي.

روسیه او چین غواړي په افغانستان کې د متحده ایالاتو له وتلو وروسته امنیت او سیاسي ثبات رامنځته شي، تر څو له یوې خوا له افغانستان څخه دوی ته کوم ګواښ رامنځته نشي او له بلې خوا په افغانستان کې په بېلابېلو برخو کې د پانګونې له لارې له دې هېواد سره خپلې اقتصادي اړیکې پیاوړې کړي. چین غواړي چې اسلامي امارت د چین واحدې پالیسي (One China Policy) ته ژمن پاتې شي او د ایغور مسلمانانو سره همکارۍ ونلري او هغوی ته په افغانستان کې پټنځای برابر نه کړي او روسیه بیا غواړي چې اسلامي امارت د ترهګرۍ په مخنیوي کې فعال رول ولوبوي تر څو دغه ډله مرکزي اسیا او روسیې ته مخه نه کړي.

**وړاندیزونه**

۱. د افغانستان اسلامي امارت دې لیکلې بهرنۍ پالېسي تدوین کړي.

۲. د افغانستان اسلامي امارت دې د لویو قدرتونو ترمنځ متوازن بهرنی سیاست خپل کړي، تر څو بیا ځلې د لویو قدرتونو د سیالۍ ډګر نشي.

۳. د افغانستان اسلامي امارت ته وړاندیز کېږي چې د روسیې او چین سره د ګډو څېړنو په موخه دې ګډ څېړنیز مرکزونه رامنځته شي.

۴. د افغانستان اسلامي امارت دې د امریکا متحده ایالاتو سره د ډیپلوماتیکو اړیکو د رامنځته کېدو په موخه له دغه هېواد سره د تقابل پرځای له تعامل څخه کار واخلي.

**ماخذونه**


۱ – اریانا نیوز «پوتین له تور نوملړ څخه د اسلامي امارت د لرې کولو قانون لاسلیک کړ»، د نشر تاریخ ۱۴۰۳/۱۱/۰۹. لنک: https: //www. ariananews. af/ps/%D9%BE%D9%88%D8%AA%DB%8C%D9%86-%D9%84%D9%87-%D8%AA%D9%88%D8%B1-%D9%86%D9%88%D9%85%D9%84%DA%93-%DA%85%D8%AE%D9%87-%D8%AF-

%D8%A7%D8%B3%D9%84%D8%A7%D9%85%D9%8A-%D8%A7%D9%85%D8%A7%D8%B1%D8%AA-%D8%AF/.

۲- خبرگزاری صدای افغان (آوا). مشاور وزیر خارجه: «موضع اخیر روسیه یک تحول مهم در درک سیاسی این کشور از امارت اسلامی است»، سایت خبرگزاری آوا، تاریخ نشر ۱۴۰۳/۳/۹ قابل دسترسی: https: //www. avapress. com/fa/report.

۳- خلیل، احمد بلال. (۱۳۹۶هـ ش). افغانستان او چین، کابل: د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز.

۴- طلوع نیوز «اسلامي امارت له تور نومله د نوم د ایستلو په تړاو د روسيې پرېکړه وستایله»، د نشر تاریخ ۱۳۴۰۳/۱۰/۲۱. لنک: https: //tolonews. com/pa/afghanistan-192090

۵- د افغانستان د اسلامي امارت او چین اقتصادي اړیکو ته کتنه، د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز، کابل، ۲۰۲۴/۰۲/۱۳ م، https: //csrskabul. com/?p=8261

٦- سازمند، بهاره. (۱۳۹۰هـ ش). سیاست خارجی قدرتهای بزرگ، تهران: مؤسسه فرهنگی مطالعات و تحقیقات بین المللی ابرار معاصر.

۷- محمد فرشاد داریوش. «آغاز فعالیت دوباره سرقونسل‌گری روسیه در شهر مزار شریف»، سایت طلوع نیوز، تاریخ نشر ۱۴۰۲/۱/۱۵، قابل دسترسی: https: //tolonews. com/fa/afghanistan-182821

8- Andersen, L. E., & Jiang, Y. "CHINA'S ENGAGEMENT IN PAKISTAN, AFGHANISTAN AND XINJIANG", Danish Institute for International Studies, 2018, P. 28, Access link: http: //www. jstor. com/stable/resrep21436. 9

9- Congressional Research Service. "Afghanistan: Background and U. S. Policy", CRS Report, December 4, 2023, Access link: https: //crsreports. congress. gov/product/pdf/R/R45122

10- Graeme Smith and Ibraheem Bahiss. "The World Has No Choice but to Work with the Taliban", Foreign Affairs, August 11, 2023, Access link: https: //www. foreignaffairs. com/afghanistan/world-has-no-choice-work-taliban

11- Kley, D. v. "China's foreign policy in Afghanistan", Lowy Institute for International Policy., 2014, P. 3, Access link: http: //www. jstor. com/stable/resrep10138

-12- Potter, P. B. "Terrorism in China: Growing Threats with Global Implications", Strategic Studies Quarterly, 7 (4) , 2013, P. 70-92. Access link: https: //www. jstor. org/stable/10. 2307/26270778

13- Scott Worden. "Two Years of the Taliban's 'Gender Apartheid' in Afghanistan", United States Institute of Peace, September 14, 2023, Access link: https: //www. usip. org/publications/2023/09/two-years-talibans-gender-apartheid-afghanistan

14- Swanström, N. "Narcotics and China: An Old Security Threat from New Sources", China and Eurasia Forum Quarterly, 4 (1) , 2006, P. 113-131, Access link: https: //scholar. google. com/scholar?hl=en&as_

[1]عزت‌الله عزيز [2] جميل‌الرحمن راشد
۱ حقوقو څانګه، حقوقو او سياسي علومو پوهنځی، التقوی پوهنتون
۲ حقوقو څانګه، حقوقو او سياسي علومو پوهنځی، التقوی پوهنتون

# د حنفي فقهې له مخې د تعزير بالمال څېړنه

**لنډيز**

تعزير هغې جزا ته ويل کېږي کومه، چې د قاضي په واک کې وي او د وخت حاکم او قاضي په خوښه د عدالت تر چتر لاندې زياتېدای، کمېدای او معاف کېدای شي. تعزير بيا زيات شکلونه لري لکه بدني تعزير، مالي تعزير او اخلاقي تعزير، خو زموږ د څېړنې موضوع مالي تعزير دی يعنې هغه جزا، چې د مجرم او متخلف شخصه په کې مال اخيستل کېږي د وخت قاضي او حاکم د شخص جرم او تخلف ته په کتلو سره کله بدني جزا ټاکي او کله هم مالي، نو ما هم د مالي تعزير په اړه د حنفي فقهې نظر او د نورو فقهاوو له نظرياتو څخه په دې ځای کې يادونه کړې او دا مو معلومه کړې، چې د کوم امام له نظره تعزير بالمال جواز لري او د کومو امامانو او فقهاوو له نظره د مالي تعزير جواز نشته په ځانګړې ډول د حنفي فقهې له نظره.

که په لنډ ډول سره يادونه وکړو؛ نو امام ابوحنيفه نعمان بن ثابت رح، چې د څلورو امامانو په ډله کې مخکښ، د لوړ بصيرت او پوهې خاوند دی، د تعزير بالمال د عدم جواز په اړه خپله رايه څرګندوي او وايي، چې تعزير په مال سره د وخت د حاکم او قاضي له خوا نه شي ټاکل کېدای (يعنې روا ندی) ځکه، چې د دې لپاره په قرانکريم او نبوي احاديثو کې کوم ښکاره او واضح دلايل نشته او هم دې اصل ته په پام، چې په ټولو کړنو کې به عدالت په نظر کې نيول کېږي، خو د دې جزا په ټاکلو کې د بې عدالتۍ ويره شته، نو ښه دا ده چې مالي جزا ونه ټاکل شي. امام مالک، امام احمد بن حنبل او امام شافعي هم په مال سره د تعزير په جواز قايل نه دي، خو په حنفي مذهب کې د امام ابو يوسف رح بيا د جواز رايه څرګندوي، چې د دې رايې د

خاوندانو دليل يو حديث مبارک دی، چې وروسته به ذکر شي او د دې ترڅنګ دا، چې ځینې وخت جرم دومره شدید حالت ته نه وي داخل شوی، چې شخص پرې محبس ته داخل شي؛ بلکې د جرم حالت خفیف وي، نو یوازې مالي جزا بسنه کوي، د مثال په ډول، یو شخص د ترافیکي اصولو د نه مراعتولو په صورت کې د ترافیکي اشارې څخه تېرېږي نو په دې ځای کې د پام وړ شخص که چېرته د قضيې د څېړنې په موخه څارنوالۍ ته معرفي کېږي او په هغې باندې ټول هغه اصول او کړنلارې، چې د جزایي محاکمو لپاره وضع شوي سرته رسېږي، نو هم وخت زيات نيسي او هم په محاکمو کې ګڼه ګونه ډېرېږي، نو پر همدې اساس ترافيکي جريمې ټاکل شوي، څو موضوع ځای پر ځای حل او فصل کړي، چې هم شخص بې مجازاتو پاتې نه شي او هم عدالت تطبيق شي. د دې مقالې بنسټيزه موخه د تعزير بالمال پېژندنه ده او په اړه يې د حنفي فقهې له نظره د جواز او عدم جواز حکم بيانول دي. په دې علمي مقاله کې د څېړنې د مختلفو ميتودونو له جملې څخه کتابتونې ميتود څخه استفاده شوې ده او د موضوع د ښه روښانتيا لپاره د معتبرو اسلامي، فقهي او قانوني سرچينو څخه ګټه اخستل شوې.

د مالي تعزير په اړه نظريات مختلف دي د حنفي مذهب مطابق جواز نه لري، خو د امام ابو يوسف رح او ځينو نور فقهاو د رايو مطابق بيا قاضي دا واک لري، خو د دې نظرونو د تحليل او تجزيې وروسته داسې معلومېږي، چې که چېرته قاضي مالي تعزير وټاکي، نو د اصلاح وروسته به يې بېرته شخص ته سپاري.

**کليدي کلمې:** تعزير، تعزير بالمال، تأديب، جريمه، مالي جزا

## سريزه

الحمد لله رب العلمين والصلاة والسلام على رسوله محمد واله وصحبه اجمعين اما بعد:

انسانانو د ژوند او عامه نظم ساتنې په موخه په اسلامي شريعت کې ټولې موثرې، ګټورې او اصولي تګلارې وړاندې شوي، تر څو عامه نظم ګډوډ نه شي او انسانان په مطمين ډول ژوند وکړي.

هغه اشخاص، چې په ټولنه کې خلل رامنځته کوي او د نورو وګړو حقوق تر پښو لاندې کوي، نو د همدې اشخاصو پر وړاندې ټولنيز غبرګونونه تطبيق کېږي، تر څو اصلاح شي او ټولنه هم د دې ډول عواقبو څخه پند واخلي او په ورته اعمالو لاس پورې نه کړي.

د اسلام په مبارک دين کې د ځينو غيرې شرعي اعمالو لپاره جزاګانې ټاکل شوي او د تطبيق غوښتنه کوي، نه يې پر وړاندې شفاعت مني او نه هم د وخت حاکم او قاضي ته په هغې کې د زياتوالي يا کموالي واک ورکوي، خو بالمقابل د ځينو جرمونو لپاره د جزاګانو د ټاکلو په اړه سکوت اختيار شوی او د ټاکلو واک يې شرعي حاکم او قاضي ته ورکړی، چې حاکم هم د وخت او شرايطو په درک سره د ترسره شوي جرم پروړاندې کله امنيتي تدابير، کله بدني زجر، کله مالي جزا او کله هم په نورو شکلونو سره جزا تعين او تطبيق کوي.

په دې مقاله کې هم پورتني وضاحت ته په کتو پر هغو جزاګانو باندې، چې مالي وي او د ټاکلو واک يې قاضي ته ورکړل شوی وي بحث کوو، چې موږ همدغه موضوع «د حنفي فقهې له نظره تعزير بالمال څېړنه» تر عنوان لاندې را اخيستې او د حنفي فقهې ترڅنګ به د ځينو نورو امامانو او علماو نظرونه هم ذکر کړو.

## د څېړنې مساله

تعزیر بالمال یو له مهمو موضوعاتوڅخه دی، ځکه مخکې له څېړنې څخه فکر دا و، چې ګوندې په مال سره تعزیر به د اسلامي شریعت او په ځانګړې توګه د حنفي فقهې له مخې جواز ولري او ان دا، چې په اسلامي هېوادونو کې په مال سره تعزیر ورکول کېږي، نو د دې څېړنې په نتیجه کې، چې له معتبرو سرچینو څخه په کې استفاده شوې معلومه شوه، چې یو شخص په مال سره تعزیر کېدای نه شي او باید مال یې د هغه له خوښې پرته وانه خیستل شي.

## د څېړنې اهمیت او د اختیار سببونه

تعزیر بالمال د اسلامي فقهې یوه مهمه موضوع ده، د قاضې، حاکم او مدافع وکیلانو لپاره خورا اهمیت لري او دا هغه جزا ده، چې د وخت حاکم او قاضي په خوښه د عدالت تر چتر لاندې د ټولنې د نظم او اصلاح لپاره زیاتېدای، کمېدای او معاف کېدای شي.

د څېړنې په تر سره کېدو سره تعزیر بالمال روښانه شوی، همدارنګه د تعزیر بالمال جواز او عدم جواز له حیثه هم موضوع مهمه ده، دا چې د هېواد په قضایي سیستم کې د حنفي فقهې څخه ګټه اخیستل کېږي، نو د دې څېړنې په ترسره کېدو سره به قاضیانو ته د تعزیر بالمال په اړه د حنفي فقهې دریځ روښانه شي، څرنګه چې تعزیر بالمال یوه له مهمو موضوعاتو څخه ده، نو د دې مقالې په لیکلو سره به د حقوقو او شرعیاتو ځانګې لا غنی شی، د یادو دواړو ځانګو استادانو او محصلینو، چې په دې برخه کې کومې پوښتنې درلودې هغه په ډېره ښه بڼه روښانه شوې. چون دا یوه پالیسي جوړونکې څېړنه ده، نو د ژوند په ډېری برخو کې به اصلاحات او تغیرات رامنځ ته کړي، نو د پورته اهمیت او ګټو د لاسته راوړلو پر بناء یاده څېړنه ترسره شوې.

## د څېړنې موخې

دا چې زموږ ټولنه اسلامي ده او ټولې پریکړې هم باید د اسلامي شریعت د احکامو او اصولو مطابق ترسره شي، نو نوموړې موضوع د لاندې موخو د لاسته راوړلو په پار ترسره شوې:

۱. د تعزیر بالمال پېژندنه او وضاحت بیانول.
۲. د امام ابوحنیفه (رح) د مسلک اړوند د یادې موضوع د حکم بیانول.
۳. د تعزیر بالمال د جواز او عدم جواز په اړه د بېلابېلو نظرونو روښانه کول.
۴. دا معلومول، چې د کومو فقهاوو او علماو د رایې او اجتهاد مطابق تعزیر بالمال جواز لري.

## د څېړنې مواد او کړنلاره

په دې څېړنه کې له کتابتونې او تشریحي مېتود څخه ګټه اخیستل شوې او د موضوع د ښه روښانتیا لپاره د معتبرو اسلامي، فقهي او قانوني سرچینو څخه استفاده شوې.

## تېرو لیکنو ته کتنه

د دې موضوع (د حنفي فقهې له مخې د تعزیر بالمال څېړنه) په اړه په پښتو ژبه کې کومه مستقله رساله او مقاله وجود نه لري او نه هم د نورو ژبو په اثارو کې په یو ځای د دغې موضوع په اړه جامع معلومات شتون لري؛ بلکې په تیت او پراګنده ډول په مختلفو کتابونو کې هغه هم په ډېر لږ وضاحت سره موجود دي د بېلګې په ډول، د هندي علماوو له خوا په (الفتاوی هندیه) کې د تعزیر بالمال په اړه فتوی ورکړل شوې، د ابن العابدین الحنفي تصنیف (رد المحتار علی الدر المختار) کې او همدارنګه د محمد بن علي بن محمد الشوکاني په تصنیف (الفتح القدیر) کې هم ذکر شوي او هغه سرچینې، چې د مقالې په متن کې به یې مفردات په تفصیل سره وړاندې شي، د ذکر شوې موضوع په اړه په کې یو څه بحث شوی، خو دغه لیکنه له نورو څخه ځکه متفاوته ده، چې د تعزیر بالمال په اړه په کې جامع، موثق او هر

اړخيز تفصيل بيان شوی، نو په همدې بنياد هڅه وشوه، چې د يادې موضوع په اړه يوه تفصيلي او ځانگړې مقاله وجود ولري.

## د څېړنې پوښتنې

۱. تعزير بالمال څه ته وايي؟

۲. تعزير بالمال د کوم مذهب پر اساس جواز لري؟

۳. کوم دلايل دي، چې ځينې مذاهب تعزير بالمال ته جواز نه ورکوي؟

## لومړی مبحث: تعزير پېژندنه

دا چې د تعزير کلمه ډېر اړخونه لري، نو د ښه وضاحت په موخه يې په جلا جلا مطالبو کې تر بحث لاندې نيسو.

### لومړی مطلب: د تعزير د کلمې لغوي او اصطلاحي پېژندنه

تعزير د کلمې لغوي معنی په جلا او اصطلاحي معنی يې په جلا توگه ذکر کوو.

#### لومړی جز: د تعزير لغوي پېژندنه

د تعزير کلمې د لغوي څېړنې په اړه به د قران کريم له دې ايت مبارک څخه يادونه وکړو، چې (و اٰمَنْتُمْ بِرُسُلِیْ و عَزَّرْتُمُوْهُمْ...) (سورة المائدة، ايت شمېره: ۱۲).

**ژباړه:** او تاسو به زما په رسولانو ايمان راوړئ او د هغې امداد به کوئ. (۶۰۶: ۱۶)

په پورتني مبارک ايت کې د «عزرتموهم» کلمه د امداد او مرستې معنی ورکوي، چې د امداد او نصرت معنی يې په لسان العرب کې ابن منظور هم ذکر کړې ده (۵۶۱: ۲).

همدارنگه تعزير په فرهنگ عميد کې د ملامت کولو، جزا او ادب ورکولو په معنا راغلی (۶۹۷: ۱۰).

ابن منظور په خپل کتاب لسان العرب کې ليکي، چې تعزير د منع کولو، حمايت کولو او نصرت کولو په معناوو سره راغئ (۵۶۱: ۲).

زموږ د تعزير بالمال په موضوع کې همدا د (منع) معنا جوړه راځي؛ ځکه چې تعزير به د منع په معنی شي او پر مجرم د تعزيري جزا په تطبيق سره به مجرم دوباره له ورته عمل منع شي او خلک به هم د تنبه په ډول له داسې عمل لاس واخلي کوم، چې په بدل کې يې تعزير شته.

**دويم جز: د تعزيز اصطلاحي پېژندنه**

د تعزير د اصطلاحي معنا په اړه د الفقه على مذاهب الاربعة ليکوال داسې وايي: «التعزير فهو التاديب بما يراه الحاكم زجراً لمن يفعل فعلاً محرما عن العقوبه الى هذا الفعل» (۳۱۷: ۱).

يعنې تعزير هغه تاديب دی، چې حاکم يې د داسې شخص د زجر لپاره وټاکي، چې يو ناروا عمل يې تر سره کړی وي، تر څو د دغه عمل څخه دوباره ډډه وشي.

په پورتني تعريف کې د تعزير تاديبي اړخ ته زيات پام شوی، نو ځکه خو بايد قاضي د تعزيري جزا په ټاکلو کې د مرتکب لپاره داسې جزا وټاکي په کومه، چې هغه اصلاح کېدای شي، يعنې د مرتکب حالات جمعه ورسره د وخت او ځای حالات په نظر کې ونيول شي.

د پورتنيو دواړو تعريفونو زياته برخه سره يو شان ده، نو تعزير به په لاندې ډول سره تعريف کړو:

تعزير په اسلامي شريعت کې د هغه ناټاکلې جزا څخه عبارت دی، چې د جرمونو د مخنيوي په موخه يې شرايطو ته په کتو د ټاکلو واک له حاکم قاضي سره وي، خو د وخت حاکم او قاضي به يې په ټاکلو کې عدالت له پامه نه غورځوي.

**دويم مطلب: د تعزير ډولونه**

پورتني وضاحت ته په کتو سره تعزير هغه جزا ده، چې د ټاکلو واک يې د وخت حاکم او قاضي ته ورکړل شوی وي، نو لکه څرنګه چې پوهېږو قاضي به شرايط او د جرم شدت او خفت ته نظر کوي.

**په ټوله کې تعزير په لاندې درې ډولونو وېشلی شو:**

١. په ګناهونو تعزير
٢. د عمومي مصلحت لپاره په مخالفاتو باندې تعزير
٣. د مکروهاتو په اجرا او د مستحباتو څخه په امتناع تعزير (٢٨٦: ١١).

دې حالاتو ته په کتو سره قاضي مجبور دی، چې ډول ډول جزاګانې وټاکي، نو همدې توپير د تعزير اقسام هم مختلف کړي، کله به تعزير بدني وي، کله مالي او کله هم په نورو شکلونو لکه، زباني، تأديبي، اجتماعي او ترهيبي کېدلی شي.

موږ په دې مقاله کې د تعزير د نورو اقسامو له وضاحت څخه تېرېږو او مستقيماً خپلې اصلي موضوع يعنې تعزير بالمال ته داخلېږو.

**دويم مبحث: د تعزير بالمال پېژندنه او احکام يې**

د تعزير بالمال يا مالی جزا په اړه د ښه وضاحت په موخه دغه موضوع په بيلابيلو برخو وېشو.

**لومړی مطلب: د تعزير بالمال پېژندنه**

تعزير بالمال، چې په پښتو ژبه کې ورته کارېدونکې اصطلاح مالي جزا ده فقهاوو د دې موضوع په اړه بېلابېل تعريفونه کوي او د جواز د حکم په اړه يې هم يو نظر نه دي، په الفقه الاسلامي و ادلته کې، چې د دکتور وهبه الزحيلي صاحب تصنيف دی د تعزير بالمال په اړه په کې تعريف وړاندې کړی، چې مفهوم يې په دې ډول دی (تعزير

بالمال هغه مالي جزا ده، چې د قاضي يا حاکم لخوا د يو مجرم پر وړاندې ټاکل کېږي او د دې هدف د عامه ګټو خوندي کول او دجرم مخنيوی دی) (۵۴۸: ۱۷).

د پورتنيو تعريفونو په نظر کې نيولو سره تعزير بالمال په لاندې ډول تعريفېدای شي:
تعزير بالمال د هغې ناټاکلې مالي جزا څخه عبارت دی، چې په يو داسې شخص عملي کېږي کوم چې له شرعي او قانوني اصولو سره متناقض عمل تر سره کړی وي، د بېلګې په ډول د غير شرعي لارې د پيدا شويو پيسو ضبط او يا د يو عمل له وجې د يو شخص د کور سوزول.

**دويم مطلب: د تعزير بالمال تاريخي شاليد**

د دې لپاره، چې د تعريز بالمال د تاريخي شاليد په اړه ښه وپوهېږو، نو دغه تاريخي شاليد په دوو برخو کې يعنې د اسلام له مبارک دين څخه مخکې او له هغې وروسته د مالي تعزير حال بيانوو.

**لومړی جز: د اسلام مبارک دين څخه وړاندې د تعزير بالمال تاريخي شاليد**

د اسلام مبارک دين څخه مخکې د انسانيت پر وړاندې د عدالت خلاف جزاګانې په نړۍ حاکمې وې که به د ټيټې طبقې وګړو يو جرم ترسره کړ، نو پر وړاندې به يې سخت او شديد مجازات تطبيق کېدل، خو که به چېرته مجرم له بډايه او شتمنې کورنۍ څخه وو، نو هغه به يا بښل کېده او يا به خفيف مجازات ورکول کېده او د دې مجازاتو لپاره کوم اساس او اصل هم موجود نه وو، که به د وخت حاکم هر څه حکم کاوه، هماغه به عملي کېده (۴۶: ۱۱).

**دويم جز: د اسلام مبارک دين څخه وروسته د تعزير بالمال تاريخي شاليد**

د اسلام مبارک دين په راتګ سره په نړۍ کې د انسانانو لپاره د ژوند عالي قوانين وړاندې شول، که څېر شو، نو د اسلام مبارک دين د عادلانه احکامو په شان قوانين به په هيڅ ټولنه کې پيدا نه شي، د هر شخص حقوق پېژني او هر شخص ته يې د

حق په ورکولو سره خپل عدالت ښکاره کړی، که عادي وګړي دي که مجنی علیه دی او که مجرم، نو خپلو خاصو حقوقو څخه برخمن دي نه څوک په غریب ظلم کولای شي او نه دا اجازه شته چې د شتمن شتمني دې له خطر سره مخ شي، نه واکمن د عدالت خلاف کوم عمل تر سره کولای شي او نه هم رعیت یو پر بل ظلم ته پرېښودل کېږي، چې له هغې جملې څخه د (جرایمو او جزا ګانو د قانونیت پرنسیپ) دی چې اوس مهال په محاکمو کې پلی کېږي (۴۶: ۱۱).

## درېیم مبحث: د مالي جزا او تعزیر بالمال ترمنځ توپیر

تعزیر بالمال خو موږ مخکې وپېژانده، هغه جزا ده کومه، چې قاضي په کې د زیادت او کموالي واک لري، خو موږ مالي جزا له تعزیر بالمال څخه ځکه بیلوو، چې ټولې مالي جزاګانې تعزیربالمال نه دي، لکه د مثال په ډول دیت یوه مالي جزا ده، خو تعزیر بالمال نه دی، ځکه چې د دیت اندازه په اسلامي شریعت کې ټاکل شوې، نو ویلی شو چې ټول مالي تعزیرات مالي جزاګانې دي، خو ټولې مالي جزاګانې تعزیربالمال نه دی.

د دې لپاره، چې پوهه شو آیا داسلام په مبارک دین کې مالي تعزیر جواز لري کنه او دلایل یې څه دي، نو د مقالې تر پایه به د فقهاوو نظریات او د هغوی دلایل د جواز او عدم جواز په اړه بیان کړو.

## څلورم مبحث: د تعزیر بالمال مشروعیت

فقهاء د مالي تعزیر په اړه بېلابېل نظرونه لري ځینې یې روا او ځینې یې ناروا ګڼي دلته د ځینو اقوالو څخه یادونه کوو:

په فتح القدیرکې داسې راغلي: (و عند ابي یوسف یجوز التعزیر لسطان بأخذالمال وعندهما و باقي الأئمة الثلاثة لایجوز) (۱۱۳: ۱۳).

يعنې د امام ابو يوسف (رح) په اند د پاچا لپاره جايز دي، چې په مال سره څوک تعزير کړي، خو د ابوحنيفه، امام محمد او نورو دريو امامانو (امام شافعی، امام مالک او احمد ابن حنبل) په اند جواز نه لري امام ابوحنيفه نعمان بن ثابت (رح) وايې د مال په اخيستلو سره تعزير منع او غير روا دی، مگر امام ابو يوسف رح چې د امام ابوحنيفه رح خاص شاگرد وو جواز ورکوي (۲۸۶: ۱۱).

په امداد الاحکام کې دا عبارت، چې (التعزير بالمال کان فی ابتداء الاسلام ثم نسخ) يعنې تعزير بالمال د اسلام په لومړيو وختونو کې موجود وو، خو بيا وروسته منسوخ شو.

په فتاوی شامي کې دا عبارت (و أفاد فی البزازية ان معنی التعزير بأخذ المال علی القول به امساک شيء من ماله عنه مدة لينزجر ثم يعيده الحاکم اليه، لا ان ياخذه الحاکم لنفسه او لبيت المال کما يتوهمه الظلمة اذ لايجوز لأحد من المسلمين أخذ مال أحد بغير سبب شرعي) (۶۱: ۱۳).

يعنې فتاوی شامي ليکي، چې له بزازيه څخه داسې افاده کېږي، چې د تعزير بالمال معنی داده، چې د څه مال ورڅخه حصارول، د دې لپاره، چې زجر ورکړل شي او بيا به يې بېرته ورته حاکم سپاري، داسې نه، چې حاکم يې د ځان لپاره واخلي او يايې د بيت المال لپاره، نو له دې امله، چې په چا ظلم ونه شي او جايز نه ده، چې د هيڅ مسلمان څخه دې بغير د شرعي سبب څخه مال واخيستل شي.

په الفقه الاسلامي و ادلته کې د ابن العابدين قول رانقل شوی دی، (قال ابن العابدين: و أری أن ياخذ الحاکم مال الجاني، فيمسکه عنده، فان أيس من توبته ييوازيه الی ما يری من المصلحة) (۲۰۱: ۱۷).

يعنې د ابن العابدين د راى مطابق حاکم د جاني مال اخيستلى شي، خو تر هغې به يې له ځان سره ساتي، څو اصلاح شي او د مصلحت په کتلو سره به يې بېرته ورته سپاري.

په سپيڅلي نبوي سيرت کې، چې د الرحيق المختوم پښتو ژباړه ده، د بدر د غزا په اړه راځي، چې (د هجرت په دويم کال د بدر په غزا کې د اسلامي عسکرو له خوا ځينې اسيران ونيول شول. د حضرت محمد (ص) له خوا د حضرت ابوبکر صديق (رض) سره مشوره وشوه، د هغې رايه دا وه چې فديه دې ترې واخيستل شي؛ ځکه په دې سره به زموږ اقتصادي حالت هم ښه شي او که چيرته دوى کې چاته په راتلونکي کې د الله تعالی جل جلاله له خوا د هدايت غوښتنه وي، نو هدايت به ومومي، بيا د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم له خوا د عمر فاروق (رض) سره مشوره وشوه، د هغه رايه دا وه، چې ما ته فلانی اوهغه ته فلانی او فلانی (عباس) چې د حمزه (رض) ورور دی ورکړه چې مرۍ يې ور پرې کړي.

خو رسول الله (صلی الله عليه وسلم) له خوا د ابوبکر صديق (رض) رايه غوره شوه، څه بنديانو ته داسې جزا وټاکل شوه، چې لسو کسانو ته به ليک لوست زده کوئ، نو بيا به تاسو ازادېږئ، ځينو ته څلور زره، درې زره او دوه زره درهمه د هغوی آزادولو په خاطر وټاکل شول (۳۲۸: ۱۵-۳۲۹).

له دې واقعې څخه زموږ هدف د يوې مالي جزا د ثبوت پيدا کول وو، خو اصلاً دا مالي جزا فديه وه او فديه تعزير بالمال نه دی، خو هغې وخت کې د مالي جزا يو ډول وو، ديت چې مالي جزا ده او کفاره ځينې وخت مالي جزا ده، خو دغه جزاګانې مالي جزاګانې دي، خو تعزير بالمال نه دی؛ ځکه ديت، فديه او کفاره داسې جزاګانې دي چې د اسلام مبارک دين يې حد ټاکلی، حاکم او قاضي په کې د کموالي او زياتوالي حق نه لري.

دا چې ولې امام ابوحنيفه (رح) او نور ائمه ثلاثة په مال سره تعزير ته جواز نه ورکوي، نو دوی استدلال کوي، چې يو خو کوم ښکاره نص نه دی موجود او بل دا، چې د دې ويره موجود ده، څو د مال په اخيستلو کې به قاضي عدالت ونه کړي او کيدای شي ظلم وشي.

خو امام ابو يوسف (رح) د خپل رايې د تايد لپاره دا حديث شريف چې عبارت دی له، (و عن عمر رض ان رسول الله ص قال: من وجدتموه غل فی سبيل الله فاحرقو متاعه قال صالح فدخلت علی مسلمة و معه سالم بن عبدالله فوجد رجلا قد غل فحدث سالم بهذا الحديث فامر به فاحرق متاعه فوجد فی متاع مصحف فقال سالم بع هذا و تصدق بثمنه) (۲۷۰: ۴).

**ژباړه:** يعنې د عمر (رض) څخه روايت دی، چې رسول الله (صلی الله عليه وسلم) وفرمايل، هر چا چې د الله ج په لاره کې غلا وکړه (په غنيمت کې) نو د هغه کور وسوزوئ، نو صالح وايي، چې زه مسلمه ته راغلم چې له هغه سره سالم بن عبدالله هم وو، نو يو سړی همداسې و، چې د الله ج په لاره کې يې غلا کړې وه، نو سالم دا حديث ذکر کړ او امر يې وکړ، چې د هغې کور وسوزوئ، نو د هغې کور مو وسوزاوه، خو هلته يو قرانکريم پيدا شو، سالم وويل، چې هغه خرڅ کړئ او پيسې يې خيرات کړئ.

پورته حديث مبارک امام ابو يوسف (رح) خپلې رايې لپاره دليل ګڼي، خو بالمقابل د عدم جواز د رايې خاوندان بيا وايي، چې دغه حديث غريب دی، چې همدا خبره د جامع الترمذي شريف په لومړي جلد ۲۷۰ او ۲۷۱ صفحو په حاشيو کې واضحه شوې.

امام محمد الشيباني رحمه الله د تعزير بالمال مساله په صراحت سره رد کړې ده او وايي، چې د تعزيراتو مشروع بڼه بدني، اخلاقي، يا ټولنيزه جزا ده، نه مالي جريمه.

"التعزير لا يكون بأخذ المال؛ لأن الأصل أن الأموال مصونة محترمة، فلا يجوز إتلافها بالتعزير."

**ژباړه:** تعزير د مال په اخيستلو نه کېږي ځکه، چې د شريعت اصل دا دی چې مالونه محفوظ او محترم دي، نو د تعزير په وسيله يې له منځه وړل جايز نه دي.

امام محمد الشيباني رحمه الله په دې اړه خپل دلايل راوړي او وايي د شريعت اصل دا دی، چې مال مقدس دی اسلام د انسان مال، وينه او عزت محفوظ ګڼي رسول الله ﷺ فرمايلي) : إن دماءكم وأموالكم وأعراضكم عليكم حرام" (بخاري او مسلم).

**ژباړه:** ستاسې وينې، مالونه، او عزتونه يو پر بل حرام دي.

همدارنګه زياتوي، چې د تعزير هدف اصلاح ده، نه د مال اخيستل، تعزير بايد بدني وي، لکه سپک وهل، اخلاقي لکه نصيحت يا ټولنيز لکه مقاطعه، خو مالي جزا يې اصل کې نه ده.

د مجرم د مال اخيستل د عقوبت (حدودو) برخه نه ده، بلکې د خلکو د مالونو ضايع کېدو ته لاره هواروي. بل دا چې امام محمد (رح)استدلال کوي، چې صحابه کرامو او تابعينو د تعزيراتو لپاره مالي جريمه نه ده لګولې که مالي جزا جايزه وای، نو بايد صحابه کرامو به دا عمل کړی وای، خو دا نشته. (۲۷۵: ۵)

امام کاساني (رح) په بدائع الصنائع کې د دې موضوع په هکله بحث کړی او وايي، چې تعزير بايد د بدن يا وينا له لارې وي، نه د مال له لارې د دې نظر دلايل دا دي، چې شرعي حدود او تعزيرات توقيفي دي يعني د نصوصو تابع دي او په قرآن او حديث کې د مالي تعزير روښانه دليل نشته.

رسول الله ﷺ او صحابه کرامو د تعزير بالمال عملي مثال نه دی ښودلی د تعزير لپاره مشهورې طريقې وهل، بندي کول، يا توبيقول دي. همداشان مال د يو انسان

مشروع ملکیت دی او هغه اخیستل بغیر د شرعي دلیل څخه ظلم دی د دې د قاعدې پر اساس تعزیر باید د مالي جزا په شکل نه وي (۲۳۸: ٦).

په الفتاوی الهندیه کې دا عبارت راغلی دی، (لیس في التعزیر اتلاف مال عندنا).
**ژباړه:** زموږ د حنفي فقهې له مخې تعزیر د مال له منځه وړل نشته (۱٦۷: ۱٦).

ابن عابدین په رد المحتار کې د تعزیر بالمال جواز ورکوي هغه په دې اړه یادونه کوي، چې قاضي کولی شي په ځینو حالتونو کې د جرم د مخنیوي او مجرم ته د پند ورکولو لپاره د مال تعزیر مقرر کړي دا جواز په دې شرط ورکول کیږي، چې د تعزیر هدف یوازې د شخص تربیه او د جرم مخنیوی وي نه دا، چې شخص ته زیان ورسوي یا د هغه پر مال باندې ظلم وکړي.

ابن عابدین همدارنګه څرګندوي، چې د تعزیر بالمال باید د شریعت له اصولو سره سم وي او باید د فرد د وس او ظرفیت په پام کې نیولو سره تطبیق شي، ترڅو دا د ظلم او تعدي سبب نه شي (۷: ۴۴۵).

ابن نجیم الحنفي رحمه الله په خپل کتاب البحر الرائق شرح کنز الدقائق کې د تعزیر بالمال یعني د مالي جریمې یا جزا په اړه بحث کړی دی، ابن نجیم د البحر الرائق په پنځم جلد کې د تعزیر بالمال مساله څېړلې ده، هغه د حنفي مذهب د مشهور موقف له مخې وايي، چې په مالي تعزیر کې اختلاف دی، خو د اصل له مخې دا جایز نه دی. د حنفي مذهب اصل دا دی، چې تعزیر باید بدني یا لفظي وي، نه مالي او په دې حدیث استدلال کوي، (إن دماءکم وأموالکم وأعراضکم علیکم حرام) (۷۸: ۸).

**ژباړه:** یعني د مسلمان مال حرام دی، نو د مال ضبطول د اصولو خلاف دی (۷۸: ۸).

په «الاختيار التعليل المختار» کې امام عبدالله بن محمود الموصلی د تعزير بالمال په اړه ليکلي، چې د حنفي مذهب له مخې مالي تعزير جايز نه دی او تعزير بايد په بدني جزاگانو، لکه وهلو يا بندي کولو سره ترسره شي، نه په مالي جريمو (۴۰۶: ۹).

که څه هم حنفي فقهاء د تعزير بالمال مخالفت کوي، ځينې معاصر فقيهان څو استثناوې يادوي:

لومړی دا، چې که دولت د نظم د ساتلو لپاره قانوني جريمه وضع کړي لکه ترافيکي جريمه نو دا د عامه مصلحت له مخې کېدای شي، خو دا د تعزير نه، بلکې د سياساتو برخه ده. دويم دا که څوک حرام مال، لکه رشوت، سود، غلا ولري، نو دولت يې ضبطولی شي، خو دا د تعزير په حکم کې نه، بلکې د نا حقه مال د اخيستلو په حکم سره ده.

**پايله**

د مختلفو سرچينو څخه په استفادې سره د تعزير، تعزير بالمال او د تعزير بالمال د مشروعيت په اړه معلومات وړاندې شول، تعزير هغه عقوبت او جزا ده، چې د قاضي له خوا د اسلامي شريعت د اصولو مطابق ټاکل کېږي او تعزير بالمال هغه مالي جزا، چې د قاضي له خوا د متخلف او يا مجرم په مال کې ټاکل کېږي، د امام ابوحنيفه (رح)، امام الشافعي، امام مالک او امام احمد ابن حنبل رحمهم الله له نظره مالي تعزير جواز نه لري، چې حوالې يې پورته ذکر شوې.

خو امام ابو يوسف (رح) له نظره په مال سره تعزير جواز لري، خو د ده مبارک د قول تفسير په فتاوی بزازيه کې داسې شوی، چې په مال سره تعزير که جواز لري، نو بېرته به له يوې مودې وروسته شخص ته ورکول کېږي، يعنې دايم لپاره يې اخيستل جواز نه لري، چې يا يې قاضي واخلي او يا يې بيت المال ته ورکړي، خو که بېرته يې شخص ته نه حواله کوي، نو صدقه به يې کړي. همدارنگه ځينی معاصرو فقهاوو

استثنا ذکر کړې ده او هغه دا چې که دولت د نظم د ساتلو لپاره قانوني جریمه وضع کړي، لکه ترافیکي جریمه نو دا د عامه مصلحت له مخې کېدای شي.

**مناقشه**

دا چې امامان اربعه او ځینې نور فقهاء د تعزیر بالمال په اړه بېلابېل نظرونه لري او هریو د خپلې رایې لپاره دلایل لري، چې موږ ور څخه پورته یادونه وکړه، نو په دې لیکنه کې هغه پوښتنې ځواب شوې، چې کومې د مالي تعزیر د حکم په اړه زموږ او ستاسې په ذهنونو کې موجودې وې، یعنې مخکې فکر کېده، چې قاضي د تعزیراتو په برخه کې خودمختاره دی که هر ډول جزا ټاکي کولی یې شي، خو اوس موږ ولوستل، چې د مالي تعزیر په اړه نظرونه بېلابېل دي د حنفي مذهب مطابق جواز نه لري، خو د امام ابو یوسف (رح) او ځینو نور فقهاو د رایو مطابق بیا قاضي دا واک لري، خو د دې نظرونو د تحلیل او تجزیې وروسته داسې معلومېږي، چې که چېرته قاضي مالي تعزیر وټاکي، نو د اصلاح وروسته به یې بېرته شخص ته سپاري.

**پایله اخیستنه**

د پورته مطالبو له دقیقې څېړنې وروسته لاندې پایلې اخیستلای شو:

۱. په عمومي شکل د حنفي مذهب مطابق تعزیر بالمال جواز نه لري.
۲. د نورو جمهورو فقهاوو د رایې مطابق هم تعزیر بالمال جواز نه لري.
۳. د امام ابو یوسف رحمه الله د رایې مطابق تعزیر بالمال جواز لري.
۴. که یو شخص په مال سره تعزیر شو، نو یو وخت به یې مال ورته بېرته سپارل کېږي.
۵. که قاضي غوره وګڼله نو مال به یې صدقه کېږي.
۶. مالي جزا او تعزیر بالمال یو له بل سره توپیر لري.

**وړاندیزونه**

۱. رسمي او حاکمو مراجعو ته پکار دي، چې د تعزیراتو په ټاکلو کې د اسلامي شریعت اصولو ته باید بشپړ پام وکړي هسې نه چې داسې جزا وټاکل شي کومه چې د اسلامي اساساتو سره په ټکر کې وي.

۲. په محاکمو کې د شفافیت او حساب ورکونې سیستم دې فعال شي، څو قاضیان خپل سرې تعزیري جزاګانې ونه ټاکي، همدارنګه دې د مالي تعزیراتو په بدیلونو زیاته تکیه وکړي، ځکه دغه موضوع اختلافي ده په دې سره به له اختلافاتو هم ځان ساتل شوي وي.

۳. څرنګه، چې تعزیر بالمال یوه مهمه موضوع ده، نو پکار ده چې د ښه روښانه کولو لپاره یې د حقوقو او شریعاتو څانګو پوهانو او استادانو لخوا نورې مقالې ولیکل شي، څېړنې دې ترسره شي او همدا شان د تعزیراتو په اړه عامه پوهاوی دې زیات شي.

**اخځلیکونه**


القرانکریم.

۱. الجزیري، عبدالرحمن. (۱۴۰۶ هـ ق). الفقه علی مذاهب الاربعة، جلد (۵) بیروت: لبنان احیاء التراث.

۲. ابن منظور، محمد بن مکرم. (۱۴۰۸ ق). لسان العرب، جلد (۴) بیروت: لبنان، دار التراث العربی.

۳. ابن العابدین محمد امین بن عمرالشهیر بابن العابدین. (۲۰۱۷ م). فتاوی شامي، پاکستان: لاهور ضیاء القرآن پبلی کیشنز.

۴. ابی عیسی محمد بن عیسی الترمذي. (۲۰۱۵ م). جامع الترمذي جلد (۱)، پاکستان: پشاور المکتبة الحقانیة.

٥: الشيباني، محمد بن حسن. (١۴٢٠ه ق). المبسوط، جلد (١٠)، لبنان: بیروت دارلمعرفه.

٦. الکاساني، علاء الدین ابوبکر بن مسعود. (١٩٨٢ز). بدایع الصنایع في ترتیب الشرایع، جلد (٧)، لبنان: دارالکتاب العربي.

٧. ابن عابدین الحنفي، شهاب الدین احمد بن محمد. (١٩٨٠ز). ردالمحتار على الدر المحتار، جلد (۴)، لبنان: دارلکتب العلمیه.

٨. ابن نجم المصرى زین الدین بن ابراهیم بن محمد. (١۴١٣ه ق). الحر الرایق، جلد (۵)، لبنان: دار الکتب العلمیه.

٩. الموصلي، عبدالله بن محمود. (١۴٢٣ه ق). الاختیار التعلیل المختار، جلد (٢)، لبنان: دار الکتب العلمیه.

١٠: عمید، حسن. (١٣٧۵ ه ش). فرهنگ فارسی عمید، جلد (١) ایران: ناشر امیر کبیر.

١١. درانی، پوهندوي احمد گل واثق. (١٣٩۵ هـ ش). د اسلام جزايي حقوق، جلال آباد: مومند خپرندويه ټولنه.

١٢. درانی، پوهنوال احمد گل واثق. (١٣٩٦ هـ ش). جزا اختصاصي حقوق، جلال آباد: يار خپرندويه ټولنه.

١٣. شوکانی، محمد بن علی بن محمد. (١۴١۴ هـ ق). فتح القدير، جلد (۵)، سوريه:، دار ابن کثیر.

١۴. عثماني ظفر احمد، گمتهلوی عبدالکریم، (کال نشته). امدادالاحکام، جلد (۴)، پاکستان: مکتبه دارالعلوم کراچی.

١۵. مبارکفوری صفی الرحمن، الرحیق المختوم. (١۴١۵ هـ ق).، ژباړن: سلطان محمد صلاح (هـ ش١٣٦٨). سپیڅلی نبوي سیرت، پاکستان: القلم کمپوز ځانگه.

١٦. مجمع الخادم الحرمين الشريفين. (١٣٢٣ه ش). مشهور په تفسير كابلي، جلد (١) مدينه منوره.

١٧. هند علما او (شيخ نظام الدين الركتى البلخي). (١٣١٠ه). الفتاوى الهنديه، جلد (٢)، مصر: المطبعه الكبرى الاميريه.

١٨. وهبة الزحيلي. (١٤١٨ هـ ق). الفقه الاسلامي وادلته، جلد (٦)، سوريه: دارالفكر.

**عبدالجبار وحدت**[۱،۲]

[۱] د افغانستان د ملي بودجې لوی رئیس، د مالیې وزارت، کابل، افغانستان

[۲] د علمي چارو پخوانی مرستیال او استاد، زم زم پوهنتون، پکتیا، افغانستان

# د کورني اقتصاد په پیاوړتیا کې د مقاومتي اقتصاد رول

## لنډیز

د کورني اقتصاد رغول یو مهم بحث او جدي اړتیا ده، په تولیدي برخه کې خود کفایي د مقاومتي اقتصاد د رامنځته کېدو اساسي فلسفه ده، کورنی اقتصاد، چې د کوچنیو تشبثاتو څخه رانیولې ان لوی کاروبارونه په کې دخیل دي د دولت او خصوصي سکتور دواړو ونډه په کې مهمه ده، هغه په دې مانا، چې دولت باید په ځینو برخو کې تقابلي او حمایوي سیاستونه وکاروي او په عوضي تولیدي جنس باندې لوړه مالیاتي تعرفه وضع کړي، تر څو د داخلي تولید او کورني اقتصاد څخه بشپړ ملاتړ وشي، همدارنګه د خصوصي سکتور رول دا دی، چې خصوصي سکتور باید یوازې وارداتي سکتور و نه اوسي، بلکې تولیدي سکتور و اوسي خپل تمرکز په داخلي تولید زیات کړي، د کورني اقتصاد وده د هېواد له اقتصادي ودې سره مستقیمه اړیکه لري، که چېرې په افغانستان کې فردي اقتصاد ښه شي، ملي اقتصاد ورسره هم غوړېږي، د اقتصادي ثبات لپاره باید له کورني اقتصاد څخه کار پیل شي، څو په لویه کې د اقتصادي ودې شاهدان و اوسو. د مقاومتي اقتصاد بحث د اقتصاد په ډګر کې نوی، جالب او مهم بحث دی، د یادې موضوع اهمیت په ځانګړي ډول د هغو هېوادونو لپاره، چې وارداتي اقتصاد لري او یا له سختو اقتصادي بندیزونو سره مخ وي، یا یې کورنی اقتصاد په مناسب وضعیت کې نه وي ډېر زیات دی، ډېری اقتصاد پوهان مقاومتي اقتصاد ته د Resistive Economy کلمه هم کاروي، د بل هېواد د اقتصادي بندیزونو پر وړاندې مقاومت کول او د زیانونو مخنیوی یا کمول مقاومتي اقتصاد بولي. مقاومتي اقتصاد یوه مهمه ستراتېژي ده، چې د داخلي

(انساني، ټولنیزو او مادي) سرچینو څخه په بېلا بېلو (عادي، تحریم او بحران) شرایطو کې د علمي او نوښتګرو لارو چارو څخه کار واخیستل شي او د اسلامي او اخلاقي ارزښتونو په چوکاټ کې د وګړو د هوساینې په موخه وکارول شي، د نړیوال اقتصاد سره د مناسب تعامل پر اساس پر مخ ولاړ شي او معقوله اقتصادي ډیپلوماسي وکارول شي، چې اساسي تمرکز یې د هېواد په اقتصادي وده او ثبات دی، د دې څېړنې اهمیت او موخه دا ده، چې د افغانستان د حکومت په کچه د فردي او ملي اقتصاد د ودې په موخه د مقاومتي اقتصاد لپاره مناسبې پالیسۍ او ستراتېژۍ جوړې شي، تر څو له یوې خوا کورنی او ملي اقتصاد پیاوړی کړو، سړي سر عاید اوGDP کې د پام وړ تغییر رامنځته کړو او له بلې خوا معافیتي او دفاعي اقتصادي بدیلونه ولرو، تر ټولو لویه څېړنیزه ستونزه د مقاومتي اقتصاد د رول اړوند د معلوماتو تشه او په دې برخه کې د مشخصو پالیسیو نه شتون دی، دا یوه کیفي څېړنه ده او تر ډېره کتابتوني بڼه لري، په ځینو مواردو کې د پالیسۍ جوړونکو او ستراتېژیستانو نظریات هم را اخیستل شوي دي او د افغانستان له جغرافیې او ځمکنیو واقعیتونو سره تطبیق شوي او یو بڼه ترکیب رامنځته شوی دی، موږ هر کال په میلیاردونه ډالر واردات لرو، نو د مقاومتي اقتصاد د تطبیق په پایله کې به دا لویه وارداتي اتکاء په مراتبو راکمه شي. د مقاومتي اقتصاد د تطبیق لپاره دولت او خصوصي سکټور دواړه باید جدي هڅې وکړي، تر ټولو مهم کار دا دی، چې دولت باید مناسب قانوني چوکاټ جوړ کړي، مناسبې ستراتېژۍ جوړې کړي، په دې برخه کې عامه پوهاوی وکړي او عام هېوادوال وطني احساس او پر ځان بسیاینې انګېزه باید له ځان سره ولري، د یادې څېړنې مشخصه موخه دا ده، چې د مقاومتي اقتصاد مفکورې د تطبیق په اساس کورنی اقتصاد پیاوړی کړو، د ډېرو هېوادونو مثبتې تجربې موږ دې ته هڅوي، چې په افغانستان کې هم د مقاومتي اقتصاد موډل موثر او د پام وړ اقتصادي اغېزې ولرلی شي.

**کلیدي کلمې:** اقتصادي وده، د خطرونو مدیریت، ستراتیژي، کورنی اقتصاد، ملي اقتصاد

**سریزه**

الحمد لله رَبِّ العَالَمِينَ وَالصَّلَوةُ وَالسَّلاَمُ عَلَى سَيِّدِ المُرْسَلِينَ وَعَلَى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِينَ.

مقاومتي اقتصاد هغه اقتصاد ته ویل کېږي، چې د موثرو مدیریتي اقداماتو پر مټ د شدیدو اقتصادي بندیزونو په حالت کې د هېواد اقتصادي پرمختګ شونی کړي او د اقتصادي بندیزونو څخه د رامنځته کېدونکو مالي خطرونو کچه راکمه کړي، د مقابل هېواد مالي فشارونه کم کړي او د هېواد کې د ظرفیتونو څخه د غوره ګټې اخیستنې زمینه برابره کړي، مقاومتي اقتصاد، چې د اقتصاد په برخه کې یو نوی او جالب بحث دی، په ځانګړي ډول په افغانستان کې خورا نوی او کارېدونکی بحث دی، ځکه افغانستان داسې هېواد دی، چې تقریبا لویه تکیه یې په وارداتو باندې ده، همدارنګه نړیوال بانکي، مالي او هر اړخیز تحریمونه نور هغه موارد دي، چې د مقاومتي اقتصاد موضوع ته لا زیات اهمیت ورکوي، داخلي تولید ډېر کم او استعمال یې هم کم دی، د بهرنیو سترو تولیدي فابریکو سره یې رقابت هم سخت دی، چې دې چارې کورنی اقتصاد سخت زیانمن کړی او د کورني اقتصاد ضعف مستقیما په ملي اقتصاد او اقتصادي وده باندې اغېز کړی دی، افغانستان د پرېمانه طبیعي منابعو لرونکی هېواد دی، کرنه، صنعت، معادن او پرېمانه اوبه یې ټول هغه ارزښتمن موارد دي، چې درست مدیریت یې کورنی اقتصاد او د مقاومتي اقتصاد انګېزه پیاوړې کولی شي، د افغانستان د اقتصادي ودې او ثبات لپاره کورنی او فردي اقتصاد اړین دي، د کورني اقتصاد د لا ښې غوړېدا لپاره اوس هم مهم فرصتونه په واک کې لرو، چې دولتي شرکتونه بیا فعالول، پرېمانه طبیعي زیرمې مدیریت کول (چې ارزښت یې ۳۰ تریلیونه ډالره اټکل شوی دی)، د اوبو مدیریت، زراعت مېکانیزه کول چې ان (۸۵ ٪ سلنه

ځوانه کاري قوه په کې بوخت ده)، د داخلي تولیداتو بشپړ ملاتړ، اقتصادي حمایوي سیاستونه، منظم مالي او پولي پالیسۍ کارول، کاسا زر، ټاپي او قوشتپې شانته ستړې پروژې پلی کول ټول هغه موضوعات او ابزار دي، چې د کورني اقتصاد او په لویه کې په اقتصادي وده کې موثر تمامېدلی شي، د مقاومتي اقتصاد مفهوم دا دی، چې د تحریم او شدیدې اقتصادي دښمنۍ په شرایطو کې د اقتصادي ودې او غوړېدا لپاره کار کول (کامراني راد، ۱۳۹۳).

همدارنګه مقاومتي اقتصاد یعنې هغه شرایط، چې په هغه کې هېواد علمي، سازماني، تخصصي، تولیدي او پر ځان د باور توانمندي درجې ته ورسېږي (افقه، ۱۳۹۴).

ایران هېواد یې ښه بېلګه ده، ایران د شدیدو اقتصادي تحریمونو په حالت کې د مقاومتي اقتصاد موډل وکارول او له یادو بندیزونو تقریبا بریالی راووتل، داخلي تولیداتو ته یې مخه کړله، تجارتي او صادراتي پالیسۍ یې تغییر کړله او د خپل ولس کورنی اقتصاد یې د شدیدو تحریمونو څخه خوندي وساتل او اوس د رونق په لور ګامونه ږدي.

که په افغانستان کې ورته اقتصادي موډل وکارول شي پایله به یې ډېره موثره وي او د نه شتون په صورت کې به وارداتي اتکا دوام مومي.

د مقاومتي اقتصاد موضوع بل مهموالی په دې کې دی، چې د دولت ملي بودیجه باید د کورني اقتصاد د ودې لپاره تخصیص شي او له همدې ادرسه بیرته تمویل شي، دا بهتره خبره ده، مګر په سخت ترینو شرایطو کې باید د ملي بودیجې د تمویل بحث د مقاومتي اقتصاد له ادرسه تر سره شي، تر ډېره حده باید ټوله تکیه په داخلي پوټانشیل وشي، مقاومتي اقتصاد کلمه باید دلته دومره عامه شي، چې د هر معمولي داخلي کارېدونکي تولید د استعمال انګېزه په موږ کې پیدا کړي، دلته باید د داخلي تولیداتو پېرل داسې ویاړ وګڼل شي، لکه نن چې د مشهورو برانډ کمپنیو تولیدات

پېرودل ویاړ ګڼل کېږي په ټوله کې ویلی شو، چې مقاومتي، دفاعي او یا ترمیمي اقتصاد د تحریمونو لاندې هېوادونو لپاره دومره مهم دی، لکه اکسیجن، یا په بدن کې زړه، له دې ادرسه د داخلي تولید او کورني اقتصاد تقویه ممکنېدای شي.

## د څېړنې اهمیت

دا څېړنه په خپل ذات کې اقتصادي، سیاسي او ټولنیز اهمیت لري، اقتصادي اهمیت یې دا دی، چې د هېواد د خودکفایۍ، اقتصادي پیاوړتیا او کورني اقتصاد د فرهنګ په ترویج متمرکزه ده، سیاسي اهمیت یې دا دی، چې د اقتصادي خود کفایۍ پرمټ سیاسي استقلالیت تضمینولی شو او ټولنیز اهمیت یې دا دی، چې په ټولنه کې ټولنیزه هوساینه رامنځته کېږي او د ژوند کچه لوړېږي، بنا د څېړنې اهمیت په دې کې دی، چې د کورني اقتصاد د پیاوړتیا لپاره کار وکړو او له همدې لارې اقتصادي ودې او ثبات ته لار ومومو.

همدارنګه د اقتصادي تحریمونو پر وړاندې مقاوم شو، یاده څېړنه مو د داخلي ظرفیتونو څخه سمې استفادې ته هڅوي، د اقتصاد په ډګر کې خورا نوې پایلې په لاس راکوي او د مقاومتي اقتصاد موډل د تطبیق په نشتون کې وارداتي انفلاسیون، وارداتي اتکا او مصرفي اقتصاد دوام مومي، چې دا په لویه کې ډېر زیات مالي ننګونې له ځان سره لرلی شي.

## د څېړنې ستونزه

تر ټولو جدي مشکل، چې د یوې څېړنې اړوند په افغانستان کې وجود لري، د څېړنې د فرصتونو اومعلوماتو کموالی او نشتوالی دی، همدارنګه د مجهزو، علمي او تخصصي کتابونو کموالی زما لپاره د وخت محدود والی او له یادې اصطلاح سره حتی د علمي مرکزونو نا اشنایي وه.

همدارنگه د مقاومتي اقتصاد له اصطلاح سره ان د مرکزي ادارو په کچه نا بلدتیا یوه بله لویه څېړنیزه ستونزه وه، همدارنگه په افغانستان کې مصرفي اقتصاد، د تولیدي اقتصاد نه شتون، د صادراتو کموالی، سنتي تولیدي لارې چارې د افغانستان د اقتصادي کمزورتیا اساسي لاملونه دي، چې له نړیوالو تجاربو په استفادې یې مقاومتي اقتصاد د حل لاره ده.

## د څېړنې موخې

د دې څېړنې تر سره کول له ځان سره ډېرې موخې لري، زموږ مشخصه موخه دا ده، چې د کورني اقتصاد د پیاوړتیا لپاره په مناسبو او معقولو ستراتېژیو کار وکړو او دا چاره د مقاومتي اقتصاد له ادرسه تر سره شي، د مقاومتي اقتصاد لپاره باید ستراتېژۍ او پالېسۍ تدوین شي، پالېسي جوړونکو ته خام مواد برابر شي، داخلي اقتصاد پیاوړی شي، له ظرفیتونو څخه درسته استفاده وشي او د مقاومتي اقتصاد اصطلاح هېواد شموله شي.

## د څېړنې پوښتنې

لاندې پوښتنو دې څېړنې ته موږ اړ کړو او د څېړنې په اوږدو کې به ځواب شي:

۱. په افغانستان کې د مقاومتي اقتصاد لپاره اړتیا څه ده؟

۲. څنگه د افغانستان کورنی اقتصاد مقاومتي اقتصاد له ادرسه پیاوړی کولی شو؟

۳. په افغانستان کې د مقاومتي اقتصاد د تطبیق اساسي ستراتېژۍ کومې دي؟

## د څېړنې میتود

په نوموړې څېړنه کې د څېړنې له کیفي میتود څخه گټه پورته شوې، ځینې وخت د څېړنې مختلط میتود ته هم اړتیا محسوس شوې ده، د معتبرو داخلي او بهرنیو سرچینو، د انټرنیټي سایټونو او علمي مقالو څخه هم معلومات راغونډ شوي دي، هڅه مې کړې، چې د لومړي لاس معلومات راټول کړم که چېرې د لومړي لاس معلومات په کافي اندازه نه وو، نو بیا مې د دویم لاس له معلوماتو څخه گټه اخیستې،

چې د نړیوالو سازمانونو، احصایې ملي ادارې، صنعت او سوداګرۍ او اقتصاد وزارت له فصلنامو او راپورونو څخه استفاده لازمې بلل شوې، د موضوع له پیدایښت څخه ان تر تطبیق پورې جامع بحث شوی دی او مناسبې ستراتیژۍ وړاندې شوي دي.

**پخوانیو لیکنو ته منطقي کتنه**

د مقاومتي اقتصاد مفکوره په تېرو شاوخوا دوه لسیزو کې د نړیوالو اقتصادي فشارونو، بندیزونو او اقتصادي بحرانونو په غبرګون کې د پام وړ وبلل شوه. دا مفکوره د ایران له اقتصادي تجربې څخه سرچینه اخلي، چې اوس د ګڼو پرمختیایي هېوادونو د اقتصادي پالیسۍ یوه مهمه برخه ګرځېدلې ده (Taghavi & Zarei, 2017).

(احمدي ۲۰۱۹) په خپله څېړنه کې مقاومتي اقتصاد د ملي اقتصاد د دوامدارې ودې لپاره یو مهم بنسټ بولي او استدلال کوي، چې دا مفکوره د کورنیو تولیداتو پر ودې، د سرچینو پر غوره کارونې او د بهرنیو اغېزو پر وړاندې پر ټینګ مقاومت باندې ولاړه ده، د هغه په وینا مقاومتي اقتصاد کولای شي وارداتي اتکا راکمه او د کورني تولید ظرفیت په مراتبو لوړ کړي.

د ایران اقتصادي پالیسۍ ته په کتو سره ښایي، چې مقاومتي اقتصاد نه یوازې د بندیزونو پر وړاندې یو دفاعي میکانیزم دی، بلکې د ملي اقتصاد د نوښت، کارآفرینۍ او خودکفایۍ لپاره یو فعال اقتصادي لید وړاندې کوي. دا هم زیاتوي چې د مقاومتي اقتصاد پلي کېدل د دولتي ملاتړ، بازار جوړونې او شفافو قوانینو شتون ته اړتیا لري (Sadeghi & Moradi, 2020).

په افغانستان کې که څه هم د مقاومتي اقتصاد مفکوره تراوسه سیستماتیکه نه ده پلې شوې، په دې څېړنه کې استدلال کوي، چې د افغانستان اقتصاد، چې له وارداتو پورې تړلی او له بهرنیو مرستو متاثره دی د مقاومتي اقتصاد د اصولو له تطبیق څخه ګټه اخیستلای شي. نوموړی ټینګار کوي، چې د کورنیو تولیداتو وده د زراعتي

سکتور پیاوړتیا او د SME ګانو ملاتړ کولای شي د اقتصادي ځان بساینې بنسټونه کیږدي (رحماني، ۲۰۲۱).

یوه تحلیلي څېړنه دا نتیجه څرګندوي، چې مقاومتي اقتصاد د ملي نوښتونو، بازار موندنې او داخلي پانګونې له لارې کولای شي د اقتصادي ودې لپاره دوامدارې لارې چارې برابرې کړي. هغوی وړاندیز کوي، چې د مقاومتي اقتصاد د پلي کېدو لپاره باید فرهنګي، اقتصادي او سیاسي بنسټونه هم مهار شي (Faraji & Alizadeh 2018).

په ټولیز ډول ټېرو څېړنو ته کتنه ښیي، چې مقاومتي اقتصاد یوازې یوه عکس العملي مفکوره نه ده، بلکې کولای شي د هېوادونو لپاره د اقتصادي ثبات او پراختیا یوه ابتکاري، پایدار او داخلي سرچینه محوره تګلاره وي.

**افغانستان کې د مقاومتي اقتصاد اړوند فرصتونه او ننګونې**

په افغانستان کې مقاومتي اقتصاد لا تر اوسه رسمي چوکاټ نه لري، خو د هېواد اقتصادي انحصار، بې‌کاره بشري سرچینې او وارداتي وابستګي دا اړتیا جوتوي، چې دغه ستراتېژي مطالعه او پلي شي، وړاندیز کوي چې زراعتي تولید، لاسي صنایعو او کورنیو کوچنیو صنعتونو ته پانګونه کولی شي د اقتصادي ځان بسیاینې بنسټ کیږدي (رحماني، ۲۰۲۱).

**د ایران د مقاومتي اقتصاد تجربه**

ایران د مقاومتي اقتصاد د مفکورې د سیستماتیک تطبیق له pioneer تجربو څخه ګڼل کیږي، چې له نړیوالو بندیزونو وروسته یې دې مفکورې ته د ملي پالیسۍ کچې ته ارتقا ورکړه.

د ایران د تجربې پر بنسټ استدلال کوي، چې د کورنیو تولیداتو ملاتړ، د نفتو پر ځای د نورو صادراتي سکتورونو پراختیا او د داخلي کارآفرینیو هڅونه د اقتصادي ثبات لپاره مهم عوامل وو (Sadeghi & Moradi, 2020).

**د چین د ځانبسایني اقتصادي ماډل (مقاومتي اقتصاد)**

که څه هم چین د مقاومتي اقتصاد اصطلاح نه کاروي، خو د هغې پالیسۍ ډېر اصول پلي کړي دي.

د "Dual Circulation Strategy" له مخې چین هڅه کوي، چې کورنی تولید او مصرف خپل د اقتصادي ودې محور وګرځوي.

(Liu & Zhang 2021) استدلال کوي، چې د کورنیو بازارونو پراخېدل، د ستراتېژیکو صنعتونو پرخپله تولید او د تکنالوژۍ د وارداتو پر ځای ملي نوښتونو ته تمرکز د چین اقتصاد له نړیوالو شوکونو خوندي کړی دی.

(Taghavi & Zarei) په 2017 کال کې څېړنه کې یادونه کوي، چې فرهنګي بنسټونه او د مصرف بنې بدلون (له بهرني مصرف څخه کورني ته) د دې ستراتېژۍ د بریا لپاره اساسي رول درلود.

**وینزویلا هېواد کې د مقاومتي اقتصاد تطبیق**

وینزویلا هڅه وکړه، چې د سختو بندیزونو پر مهال د داخلي تولید له لارې اقتصادي فشارونه کم کړي، خو (Rodríguez 2020) څرګندوي، چې د نهادي فساد، کمزورې ادارې او د تولید لپاره د زیرمو نشتوالي له امله دغه هڅې تر ډېره ناکامې شوې، دا تجربه ښيي، چې مقاومتي اقتصاد یوازې د شعار نه، بلکې د شفافو، با ثباته او علمي پالیسیو غوښتنه کوي.

**لومړی مبحث: د کورني اقتصاد په وده کې د مقاومتي اقتصاد ونډه**

که څه هم په لنډیز کې دا بحث شوی دی، په لنډ ډول باید یادونه وکړو، چې مقاومتي اقتصاد هغه څه دی، چې د تحریم او د شدیدې اقتصادي دښمنۍ په شرایطو کې د اقتصادي ودې او غوړېدا باعث شي یا د اقتصادي تحریمونو د مالي خطرونو کمول په شکل د اشکالو یا په کورنیو ټولو تولیدي، بشري او طبیعي

ظرفیتونو باندې درست کار کول او اغېزناک مدیریت یې مقاومتي اقتصاد دی (خامنه‌ای، سید علی ۱۳۹۲).

یاد بحث په ۲۰۱۰ کال کې په ایران کې مطرح شو، چې موخه یې د ملي اقتصاد بیا را ژوندي کول او راجوړول دي، همدارنگه د اقتصادي شدیدو تحریمونو سره په هسکه غاړه جدي مبارزه کول دي، موږ باید په خپل هېواد کې واقعي مقاومتي اقتصاد رامنځته کړو (مقام معظم رهبری، ۱۳۹۲).

په مقاومتي اقتصاد کې د هېواد اقتصادي پالیسۍ او ستراتېژۍ جوړوونکو یا ستراتېژیستانو ته په کار دا ده، چې داسې معقوله پلان جوړونه وکړي، چې د اقتصادي ټیکاو اړخ یې ډېر غالب وي او د SWOT او PESTLE داسې تحلیل وکړي، چې ټول موجود تهدیدونه له فرصتونو څخه په استفادې په فرصتونو بدل کړي، یا یې حداقل د گواښ سلنه او فشار راکم کړي، دلته د وارداتو بحث محوري نقطه ده، چې په مقاومتي اقتصاد کې باید ځینې مهم اقتصادي سیاستونه پلی شي په ځانکړي ډول حمایوي سیاست او د وارداتو عوضي سیاست، ترڅو په وارداتو اتکا او د مقابل هېواد سره وابستگي کمه شي.

د کورني تولید ملاتړ، د کورني اقتصاد وده او په ټوله کې د ملي اقتصاد او اقتصادي ثبات رامنځته کول هغه مهمه او اساسي موخه ده د کومې لپاره، چې هڅه کېږي په مقاومتي اقتصاد کې پیل له فردي اقتصاد څخه کېږي د لگښتونو مدیریت، سپما او تشبث مهم بحثونه دي.

د کورني اقتصاد د تقویې لپاره د ستراتېژیو جوړول د مقاومتي اقتصاد مهمه برخه ده، په وارداتو د اتکا کمول یې بله مهمه برخه ده او له دې لارې د ملي اقتصاد رغول ممکن او د هدف لوړه څوکه ده (Sadeghi & Moradi, 2020).

ځينې وخت چې دوه هېوادونه يو له بل سره ستونزه پيدا کړي، نو د تحريمونو کوښښ کوي، چې مقابل هېواد د يادو سوداګريزو بنديزونو پر وړاندې غبرګون ښيي، د غبرګون يادې ستراتېژي ته مقاومتي اقتصاد ويلی شو.

ډېری وختي پرمختللي او صادراتي هېوادونه د اقتصادي بنديزونو پر وړاندې له مقاومتي اقتصاد ګړنلارې څخه کار اخلي.

بنديزونه ځينې وخت په وارداتو او ځينې وخت په صادراتو لګول کېږي، ځينې وخت موږ له ګاونډيو هېوادونو سره د معمولي کړکېچ پر مهال له صادراتي او وارداتي بنديزونو سره مخ کېږو، صادراتي بنديزونه په هر حال د وارداتي بنديزونو په حال کې ځکه له ستونزو سره مخ کېږو، چې تکيه مو په وارداتو ډېره وي دلته د مقاومتي اقتصاد تګلارې ته جدي اړتيا محسوسېږي.

## دويم مبحث: د کورني اقتصاد د ودې په موخه د مقاومتي اقتصاد اړتيا

د کورني اقتصاد د ودې په موخه مقاومتي اقتصاد ته د بېلا بېلو عواملو په اساس اړتيا محسوسېږي په ځانګړي ډول د اقتصادي بنديزونو په حال کې دلته د مقاومتي اقتصاد لپاره اړتيا د دوه عواملو په اساس محسوسېږي:

### الف: بهرنی چاپيريال او ننګونې

د پانګوال ناروا اقتصادي سيستم حاکميت، نړيوال بنديزونه، د ګاونډيو غير عادلانه اقتصادي سياستونه او تصميمونه هغه څه دي، چې د اقتصادي مقاومت د ستراتېژي ايجاب کوي.

### ب: داخلي چاپيريال او ننګونې

عامه (مطلق دولتي) اقتصاد د خصوصي سکتور محدوديت، د جيني ضريب لوړوالی، سياسي اقتصاد بې ثباتي، اقتصادي نوسانات ټول هغه څه

دي، چې په ځینې هېوادونو کې د مقاومتي اقتصاد اړتیا او اهمیت زیاتوي (Kinnvall & Nesbitt-Larking, 2013).

د مقاومتي اقتصاد محوري نقطه اقتصادي ثبات او پر ځان بسیاینه ده، کوښښ دا کېږي، چې داخلي ظرفیتونه سم وکارول شي، طبیعي منابع اغېزناک مدیریت شي، تولیدي اقلام مشخص شي او هېواد له اقتصادي محتاجي څخه خلاص شي، بنا د کورني اقتصاد د ودې په موخه مقاومتي اقتصاد ته جدي اړتیا محسوسېږي.

## درېیم مبحث: د کورني اقتصادي د ودې په موخه په افغانستان کې د مقاومتي اقتصاد ستراتیژۍ او فرصتونه

د مقاومتي اقتصاد ستراتېژي پلي کېدو لپاره موږ خورا زیات فرصتونه لرو او په لاندې ډول د افغانستان د کورني اقتصاد په وده کې رول لوبولی شي:

۱. **داخلي تولید او ملاتړ یې**: د مقاومتي اقتصاد تګلارو کې یوه مهمه تګلاره داخلي تولید دی، چې په دې کار سره له بهرني احتیاج څخه خلاصون موندلای شو.

۲. **د داخلي تولیداتو ترویج**: ځینې وخت داخلي تولید لرو، مګر نه یې کاروو، یا ترویج نه دي، بهرني تولیدات او برانډ کارول یو ډول ویاړ بولو، نو د داخلي تولیداتو ترویج او کارول د مقاومتي اقتصاد یوه مهمه برخه ده.

۳. **د داخلي کرنسۍ چلښت**: د داخلي کرنسۍ چلښت او کارول ډېر مهم بحث دي، ځینې وخت د بندیزونو په جریان کې ممکن موږ د اسعارو له کمبود سره مخ شو، چې د مقاومتي اقتصاد له تګلارو یوه یې د داخلي ملي کرنسۍ ترویج دی.

۴. **انتي ډمپینګ سیاستونه**: ځینې وخت ګاونډي هېوادونه کوښښ کوي، چې ځینې تصدۍ له ناکامي سره مخ کړي او ډمپینګ سیاست کاروي، چې د

مقاومتي اقتصادي سیاست په صورت کې د ډمپینګ ضد سیاست کارول اړین دي، چې ګمرکي تعرفې او ګڼ ابزار په بر کې نیسي.

۵. **معقول اقتصادي سیاستونو پلي کول**: په مقاومتي اقتصاد کې باید له بېلابېلو اقتصادي سیاستونو څخه کار واخیستل شي، لکه حمایوي سیاست، تقابلي سیاست، مالي سیاست او په ځینو برخو کې مناسب پولي سیاستونو کارول.

٦. **د صنعتي فابریکو جوړول**: ډېرى هغه هېوادونه، چې د صنعت په برخه کې ضعیف وي د مقاومت توان يې هم کم وي، نو هغه هېوادونه، چې د مقاومتي اقتصاد تکل لري باید جدي توګه د صنعت برخې ته توجه وکړي، په ځانګړي ډول د ځینو عمده وارداتي جنسونو په برخه کې.

۷. **د کرنې مېکانیزه کول**: زموږ په داخلي بازارونو کې اوس هم بهرنۍ میوې تر سترګو کېږي، حتی د هېواد خپل کرنیز محصولات د دوی په لوګو او مارک په موږ بیا ځلې پلورل کېږي سره له دې، چې ګڼ شمېر هېوادوال مو په یاد سکتور کې بوخت دي، خو تر ټولو لویه بیکاري په همدې سکتور کې تر سترګو کېږي.

۸. **د اوبو جدي او موثر مدیریت**: د اوبو مدیریت د مقاومتي اقتصاد لپاره مهمه وسیله ده، تر ټولو لویه اړتیا د برېښنا ده او دې ته ورته برخو کې اتکا د اوبو د اغېزناک مدیریت پر مټ راکمولی شو، حتی په مکمل ډول دا اتشه له منځه وړلای شو (Da Afghanistan Bank, 2025).

۹. **د کانونو مسلکي او فني استخراج**: د مقاومتي اقتصاد لپاره د کانونو مسلکي استخراج او په دې برخه کې د ضایعاتو مخنیوی، دعرضې او تقاضا مسایل په پام کې نیول نهایت اړین دي او د اقتصادي ټیکاو لپاره اساسي ګامونه دي.

۱۰. **د لومړنیو اړینو جنسونو تولید**: موږ معمولا ډېر ابتدایي جنسونه له نږدې هېوادونوڅخه اخلو او د اقتصادي ستونزو د ایجاد پر مهال د پنیر، بورې، غوړیو او

دې ته ورته ابتدايي جنسونو له کمښت سره مخ کېږو، چې دا موضوع دا ایجابوي، څو د تولید لپاره یې جدي او سخت کار وکړو (The Kabul Times, 2025).

۱۱. **قوي سیاسي او اقتصادي ډیپلوماسۍ خپلول**: د یوه هېواد اقتصادي بدیلونه پیداکول او پر ځای یې له نورو هېوادونو سره سوداګریزې اړیکې پالل ډېر مهم دي، د مقاومتي اقتصاد لپاره مهمه ده، چې قوي اقتصادي ډیپلوماسي ولرو او د یو هېواد پر ځای څو بدیلونه او انتخابونه ولرو (Agri Economist, 2025).

۱۲. **د ځان بسیاینې لپاره ملي فکر رامنځته کول**: د مقاومتي اقتصاد لپاره مهمه دا ده، چې د ځان بسیاینې فکر غښتلی شي، پر نفس باور رامنځته شي، د ځان بسیاینې مفکوره د رسنیو له لارې نشر او رامنځته شي او یادې موخې ته عملاً کار وشي، ګروندګر، استادان، سوداګر، هټۍ وال او بل هر افغان باید د ځان بسیاینې پر فکر پیر او پلور وکړي او جدي کار وکړي.

۱۳. **د سرچینو موثر مدیریت**: د مقاومتي اقتصاد لپاره مهمه دا ده، څو داخلي سرچینې په غوره شکل مدیریت شي، د داخلي سرچینو مدیریت مو داقتصادی ټیکاو په لورې بیایي، که داخلي سرچینې مدیریت نه کړو بهر ته مو د اړتیا سلنه زیاتیږي، چې په دې کار سره د اقتصادي مقاومت توانایي له لاسه ورکوو.

۱۴. **خصوصي سکتور ته وده ورکول**: د هېوادونو په اقتصادي ځان بسیاینه کې د خصوصي سکتور رول نهایت اړین دی، بناء د مقاومتي اقتصاد تګلارې پلي کوونکو لپاره مهمه، چې د خصوصي سکټور پوره ملاتړ وکړي، وده ورکړي او د هېواد په اقتصادي وده کې یې له دولت سره سهیم کړي.

۱۵. **د کورنیو ظرفیتونو لوړول**: د مقاومتي اقتصاد لپاره د داخلي ظرفیتونو جوړول او لوړول ډېر مهم دي، ځکه که کورني ظرفیتونه په هره برخه کې لوړ شي په بهر اتکا کمیږي او په هره برخه کې نوښت، ظرفیت، مولدیت، موثریت او مثمریت رامنځته کیږي، نو دا هم مهمه نقطه ده.

**۱٦. مالي او بانکي سیستم اصلاح کول:** د هېوادونو لپاره د مالي او بانکي سیستم اصلاح او پیاوړتیا جدي اړتیا ده په ځانګړي ډول د تحریمونو په صورت کې د مقاومتي اقتصاد د تطبیق لپاره باید یادې برخې ته په علمي او مسلکي شکل جدي پاملرنه وشي.

**۱۷. د صادراتو د زیاتوالي فرهنګ رامنځته کول او د وارداتو محدودول:** د مقاومتي اقتصاد پلی کوونکو هېواد لپاره پکار ده، چې صادراتي فرهنګ رامنځته کړي او د وارداتو د کم استعمال فکر عام کړي.

**۱۸. د تولید د زیاتوالي له لارې پر نورو د اتکاء کمول:** د مقاومتي اقتصاد پلي کوونکي هېواد لپاره جدي اړتیا ده، چې تولیداتي جنسونه زیات کړي او له دې لارې د اقتصادي وابستګۍ څخه ځان وساتي.

**۱۹. د کسب او کار د خنډونو له منځه وړل:** د مقاومتي اقتصاد پلي کوونکي هېواد لپاره پکار ده، چې د کسب او کار لپاره اسانتیاوې رامنځته کړي بې ځایه محدودیتونه، د قانون هغه مغلقې برخې او ځینې نور موارد جدي او زر تر زره اصلاح کړي.

**۲۰. له اداري او اقتصادي فساد سره جدي مبارزه:** د مقاومتي اقتصاد پلي کوونکي هېواد لپاره په کار ده، چې له اداري او اقتصادي فساد سره شدیده مبارزه وکړي، ځکه ډېری وخت فساد د هېواد اقتصاد سخت ځپي، ګاونډیو ته اړ کوي، اقتصادي بنسټونه نړوي او د هېواد معافیتي سیستم له منځه وړي.

**۲۱. د نویو کاري فرصتونو رامنځته کول:** د مقاومتي اقتصاد پلي کوونکي هېواد لپاره اړینه ده، چې په هره برخه کې نوي کاري فرصتونه رامنځته کړي، له دې لارې بیکارۍ کې هم کموالی مومي او د GDP د زیاتوالي سبب هم کېږي.

**۲۲. د ټکنالوژیکي ننګونو حلول:** د مقاومتي اقتصاد پلي کوونکي هېواد لپاره اړینه ده، څو موجودې ټیکنالوژیکي ستونزې حل کړي، مواصلات او مختلفې سایبري برخې محفوظې او محکمې کړي.

**۲۳. د اقتصاد زیانمنو شویو برخو پېژندنه:** د مقاومتي اقتصاد پلي کوونکي هېواد لپاره پکار ده، چې اقتصادي اسیب شناسي یا د اقتصاد ځپل شوې برخې تشخیص کړي او د بیا رغولو لپاره یې جدي کار وکړي.

**۲۴. د نوښتونو رامنځته کول او پیاوړتیا:** د مقاومتي اقتصاد پلي کوونکي هېواد لپاره د خلاقیتونو رامنځته کول، پنځول او پیاوړتیا جدي اړتیا ده.

**۲۵. د لګښتونو اغېزناک مدیریت:** د مقاومتي اقتصاد پلي کوونکي هېواد لپاره په کار ده، چې له بې ځایه لګښتونو په بشپړ ډول ځان وساتي او د لګښتونو موثر مدیریت وکړي په دې کار سره د ګاونډیو له احتیاجه او اقتصادي بندیزونو څخه په بریالیتوب راوتلی شو (Global Initiative, 2025).

**۲٦. د دولتي شرکتونو مدیریت کول او پیاوړتیا:** د مقاومي اقتصاد لپاره د یادو شرکتونو مدیریت ته جدي اړتیا ده، چې باید ترسره شي.

**پایله**

د افغانستان د اقتصادي ودې او کورني اقتصاد پیاوړتیا لپاره مقاومتي اقتصاد نهایت اړین دی، ځکه د مقاومتي اقتصاد له مفکورې پرته د داخلي تولید انګېزه کمرنګه او حتی نا شونې ده او د افغانستان د اقتصادي دفاع لپاره دومره مهم دی، لکه د ناروغیو پر وړاندې د وجود معافیتي او د فاعي سیستم، مقاومتي اقتصاد د اقتصادي دفاع، رغون، معافیت او ټیکاو په موخه تطبیقېږي.

د مقاومتي اقتصاد په تطبیق سره به په هېواد کې کوچني کاروبارونه او تشبثات پیل شي، د داخلي تولیداتو د ملاتړ انګېزه به رامنځته شي، دولت او خلک به د بهرنیو

تولیداتو پر پرتله داخلي تولیداتو ته لومړیتوب ورکړي، سړي سر عاید به لوړ شي، په GDP کې به د پام وړ تغییر راشي.

مقاومتي اقتصاد د هغو هېوادونو لپاره، لکه افغانستان چې اقتصاد یې وارداتي بڼه لري کورنی تولید یې کم وي، کورنی اقتصاد یې کمزوری وي، داقتصادي ودې بهیر یې ټکنی وي، په بهرنیو مرستو یې اتکا زیاته وي او د سختو تحریمونو سره مخ وي اړین دی، ځکه په مقاومتي اقتصاد کې د وارداتي فکر د تغییر انګېزه پرته او له سختو حالاتو سره د مقابلې فکر لېږدوي.

د اقتصادي ودې لپاره د هېواد له داخلي ظرفیتونو څخه اغېزناکه استفاده، د اوبو سالم مدیریت، د داخلي تولیداتو ملاتړ، معقول اقتصادي سیاستونو کارول، د ملي کرنسۍ ترویج د مقاومتي اقتصاد مهم رکنونه او برخې دي، چې باید په دې برخه کې جدي او ځو چنده زیات کار وشي، د پوهې تولید په تخنیکي او علمي برخه کې ځان بسیاینه، صنعت برخه، صنعتي فابریکې، د زراعت میکانیزه کول او د مهمو تولیدي جنسونو تولیدول هغه څه دي، چې موږ د نورو ملکونو له اقتصادي وابستګۍ څخه راوباسي، همدارنګه ترانزیتي لارې، حلقوي سړکونه، د خوړو ستراتېژیکې زېرمې، د نفتو فني اکتشاف او استخراج.

واړه کاروبارونه، انتي ډامپینګ پالیسۍ کارول، مالیاتي معافیتونه او د برېښنا اسانتیاوې یې نورې اساسي برخې دي،

همدا راز د معقولې اقتصادي او سیاسي ډیپلوماسۍ کارول یې بل مهم شاخص دی، د لګښتونو سم مدیریت او په ټوله کې پورته موارد هغه څه دي، چې د کورني اقتصاد او داخلي تولید سره مرسته کوي او له تحریمونو او اقتصادي سختو شېبو څخه مو په اسانۍ را ایستلی شي.

**مناقشه**

د مقاومتي اقتصاد مفهوم چې د داخلي سرچینو څخه د اعظمي استفادې انګېزه له ځان سره لري یاد اقتصاد، چې د اقتصادي ځان بسیاینې د بهرنیو فشارونو پر وړاندې د ملي اقتصاد د ثبات غوښتنه کوي د معاصر اقتصادي سیاست یوه مهمه تګلاره بلل کېږي. د دې څېړنې موندنې ښيي، چې د مقاومتي اقتصاد پلي کېدل نه یوازې د بهرنیو فشارونو پر وړاندې یو دفاعي میکانیزم دی، بلکې د کورني اقتصاد د پیاوړتیا، کارآفرینی او د داخلي بازار د پراختیا لپاره یو فعال ستراتېژیک چوکاټ هم ګڼل کېږي.

په افغانستان کې د پوره شفافیت او حکومتي ملاتړ په شتون کې د مقاومتي اقتصاد موډل یقینا نتیجه ورکوي او د افغانستان وارداتي اتکاء راکموي.

د بېلابېلو هېوادونو تجربو ته په کتو څرګنده شوه، چې بریالۍ تجربې، لکه د ایران، چین او هندوستان سیاسي ثبات، بنسټیزو پانګونو او همغږې ادارې له لارې ممکنې شوې دي. دا هېوادونه توانیدلي دي، چې د داخلي تولید، ملي نوښت او ستراتېژیکو سکتورونو تمرکز ته لومړیتوب ورکړي، چې له امله یې نه یوازې د اقتصادي بحرانونو مخنیوی شوی، بلکې د صادراتو او صنعتي ودې لپاره هم زمینه برابره شوې ده.

برعکس د وینزیلا تجربه ښيي، چې که مقاومتي اقتصاد د ښې حکومتولۍ، شفافې پالیسۍ او د خلکو د ګډون پرته پلي شي، نه یوازې مطلوبې پایلې نه ورکوي، بلکې کېدای شي اقتصادي بحرانونه لا زیات کړي. دا ناکامه تجربه د دې خبرې تائید دی، چې مقاومتي اقتصاد د سیاسي ارادې تر څنګ بنسټیزو اقتصادي جوړښتونو ته اړتیا لري.

په افغانستان کې که څه هم مقاومتي اقتصاد لا تر اوسه د ملي پالیسۍ کچې ته نه دی رسېدلی، خو د اقتصادي انحصار، د وارداتو پراخوالی او د تولیدي سکتورونو

کمزورتیا دا اړتیا لا پیاوړې کړې، چې د مقاومتي اقتصاد اصول باید د ملي پراختیا د یوې تګلارې په توګه مطرح شي.

افغانستان له خپلو طبیعي سرچینو، زراعتي ظرفیت او کاري ځواک څخه په سمه توګه په استفادې سره کولای شو د مقاومتي اقتصاد له لارې د کورني اقتصاد بنسټونه پیاوړی کړو.

د څېړنې موندنې له تېرو لیکنو سره همغږي دي په ځانګړي ډول له هغو نظریو سره، چې د اقتصادي ځان بسیاینې، د وارداتي اتکاء د کمښت او د داخلي نوښتونو پر ملاتړ ټینګار کوي، خو له بل پلوه دا څېړنه دا هم روښانه کوي، چې مقاومتي اقتصاد باید د علمي تحلیل، دقیقو پالیسیو جوړولو او د ټولنې د ونډې اخیستنې په رڼا کې تطبیق شي، څو پایښت لرونکې او اغېزناکې پایلې ورکړي.

**پایله اخیستنه**

دا څېړنه د مقاومتي اقتصاد د مفهوم د علمي تحلیل، د نورو هېوادونو د تجربو د مقایسې او د معتبره اسنادو او ادبیاتو د تحلیل پر بنسټ ترسره شوې ده. د څېړنې کیفي او کمی طریقې او تطبیقي مقایسې دا امکان برابر کړ، چې د مقاومتي اقتصاد تطبیق د بېلابېلو شرایطو او سیاسي-اقتصادي بسترونو له نظره وڅېړل شي.

دې تحلیل وښوده، چې مقاومتي اقتصاد یو جامع او څو اړخیز مفهوم دی، چې د سیاسي ارادې، اقتصادي منابعو، د خلکو د ګډون، ونډې او د علمي پالیسۍ جوړونې یوځایوالي ته اړتیا لري. د ایران، چین او هندوستان تجربو ته په کتو دا پایله تر لاسه شوه، چې د کورني تولید، ملي نوښت او د وارداتو د بدیلو لارو مقاومتي اقتصاد د اقتصادي ودې بنسټ ایښودلی شي.

د تطبیقي مقایسې د میتود له لارې د بریالیو تجربو ترڅنګ د ناکامو تجربو (لکه وینزویلا) تحلیل وښوده، چې یوازې شعارونه او جزوي اقدامات د مقاومتي اقتصاد د

پلي کېدو لپاره بسنه نه کوي؛ بلکې یو همغږی سیستم، شفاف مدیریت، او اوږدمهاله لید ته اړتیا ده.

د افغانستان په فعلي شرایطو کې د کیفي تحلیل پایلو دا جوته کړه، چې که څه هم مقاومتي اقتصاد لا رسمي چوکاټ نه لري، خو د داخلي ظرفیتونو د فعالولو اړتیا په شدت سره تر سترگو کیږي. د همدې تحلیلونو او ملي منابعو پر بنسټ، دا وړاندیز شوی، چې افغانستان باید مقاومتي اقتصاد د یوه اوږدمهاله اقتصادي ماډل په توگه مطرح کړي، تر څو د بهرنیو اتکاوو پر ځای پر ملي امکاناتو تکیه وکړي.

د څېړنې په پای کې ویلی شو، چې کارول شوې میتودولوژي د دې لپاره اغېزناکه وه، چې د موضوع ژور تحلیل، د بېلابېلو تجربو مقایسه او د پالیسۍ جوړونې لپاره عملي درسونه وړاندې کړي.

## وړاندیزونه

### دولت ته

۱. دولتي شرکتونو څومره چې ممکنه وي باید ریفورم شي او په سم شکل مدیریت شي.

۲. داخلي تولیداتو ته باید زمینه سازي وشي او د ترویج لپاره یې عامه پوهاوی اوملاتړ وشي.

۳. خصوصي سکتور ته باید لاس ورکړل شي، د ملا ماتوونکي مالیاتي فشار څخه باید وژغورل شي (د مالیاتي قوانینو ریفورم).

۴. د بهرنیو هېوادونو د ډامپینگ پالیسۍ پر وړاندې باید انتي ډامپینگ سیاست او معقوله اقتصادي ډیپلوماسي و کارول شي.

۵. معقول اقتصادي سیاستونه باید تطبیق شي او د خصوصي سکتور لپاره اسانتیا رامنځته شي.

### خصوصي سکټور ته

۱. داخلي تولیداتو ته دوارداتو په ځای لومړیتوب ورکړل شي.

۲. د ښه کیفیت او مناسب قیمت اجناسو تولید باید ترسره شي.

۳. د هېوادوالو اقتصادي وضعیت ته په کتو تولیدات وشي.

### تحصیلي سکټور ته

۱. لوړو زده کړو بنسټونه باید د مقاومتي اقتصاد اړوند تطبیقي علمي څېړنې تر سره کړي.

۲. لوړو زده کړو وزارت باید د کورني اقتصاد د پیاوړتیا په موخه د کوچنیو کاروبارونو اړوند روزنیزې برنامې جوړې کړي.

### عامو هېوادوالو ته

۱. د وارداتي محصولاتو پر ځای دې کورني تولیدات وکاروي.

۲. د داخلي تولیداتو هر ډول حالت (لوړ قیمت، نا مناسبه بسته بندي) و زغمي.

۳. داخلي تولید ته د ملي ویاړ په سترګه وکتل شي.

### مأخذونه


1. :Alaa Tartir, S. B. (2012, February). Defeating dependency, creating a resistance economy. *LSE Research Online*, 2. Retrieved from http: //eprints. lse. ac. uk/
2. Arabi H. (2013) , resistance economy in talks of the Supreme Leader, macroeconomic policy journal, Volume 2, Issue 2 .
3. Ahmadi, H. (2019). *Resilient Economy and Sustainable National Development*. Tehran: Nashr-e Danesh .
4. Emami, sina. (2024) The Resistance Economy as the Islamic Republic of Iran's Policy Discourse for Economic Independence.

https: //wsps. ut. ac. ir/article_97025_c078973850866a22966ad276d073a585. html .

5. Ghaffarpour D. and Pourhatami (2004) resistance economy, strategy and tactics, available at: http: //hawzah. net/fa/article/view/93728
6. Mohammadi, M. (, 2018). *'Resistance Economy' Means Prosperity for Few, Poverty for Many*. radiofarda. Retrieved from https: //en. radiofarda. com/a/iran-resistance-economy-khamenei/29029815. html
7. Rahmani, F. (2021). The Role of Domestic Production in Strengthening Afghanistan's Economy. Kabul: Afghan Economic Review .
8. Shahrudi M. (2006) adopting economic diplomacy with the implementation of resistance economy, Young Journalists Club, available at: http: //www. yjc. ir/
9. Sadeghi, M., & Moradi, A. (2020). "Resistance Economy: A Strategic Model Against Sanctions. " International Journal of Economic Strategies, 9 (1) , 21–40 .
10. Sharma, R. (2022). "Atmanirbhar Bharat: India's Road to Economic Self-Reliance. " Indian Journal of Economic Reforms, 14 (1) , 44–59 .
11. Sadeghi, M., & Moradi, A. (2020). "Resistance Economy: A Strategic Model Against Sanctions. " International Journal of Economic Strategies, 9 (1) , 21–40 .
12. Taghavi, M., & Zarei, S. (2017). Foundations of Resistance Economy: Theoretical and Applied Perspectives. Mashhad University Press .
13. Liu, X., & Zhang, L. (2021). "The Dual Circulation Economy: A New Model for China's Economic Resilience. " Asian Economic Policy Review, 16 (2) , 235–250 .

14. Government of India. (2021). Economic Survey 2020-21. Ministry of Finance .

15. Rodríguez, F. (2020). "Venezuela’s Failed Resistance Economy: Lessons in Policy Failure. " Latin American Economic Review, 29 (3) , 75–91 .

16. Faraji, R., & Alizadeh, M. (2018). "Strategies for Implementing a Resistance Economy in Developing Countries. " Journal of Economic Development, 12 (3) , 55-73 .

17. Taghavi, M., & Zarei, S. (2017). Foundations of Resistance Economy: Theoretical and Applied Perspectives. Mashhad University Press .

18. https: //mof. gov. af/en

19. https: //moec. gov. af/

**اکرام‌الله همکار**

سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، التقوی پوهنتون

# د دولتونو ترمنځ د دوستانه اړیکو په پراختیا کې د کلتوري ډیپلوماسۍ رول

**لنډیز**

کلتوري ډیپلوماسي د ملتونو ترمنځ د اړیکو د پیاوړتیا یو نرم قوت بهیر دی، چې د ژبې، هنر، تعلیم، فرهنګي ارزښتونو او تاریخي میراثونو له لارې عمل کوي. دا پروسه د خلکو ذهنونه او زړونه اغېزمنوي او د باور، تفاهم او درناوي فضا رامنځته کوي، ملتونه له دې لارې خپل ارزښتونه تبادله کوي، ترڅو شخړې کمې او تفاهم زیات شي. کلتوري ډیپلوماسي د سیاسي فشار پر ځای د انساني اړیکو پراختیا ته زمینه برابروي، په جګړه ځپلو هېوادونو کې، کلتوري ډیپلوماسي د سولې، ثبات او ټولنیز تفاهم لپاره مهم رول لري. افغانستان، چې له اوږدو نښتو، داخلي ستونزو او نړیوالې انزوا سره مخ دی، کولی شي د دې وسیلې له لارې خپل نړیوال اعتبار بېرته ترلاسه کړي. دا پروسه د سیمه ییزو فرهنګي اړیکو د پراخېدو او د ګډو ارزښتونو د پیژندنې زمینه برابروي، همداراز دا د خلکو ترمنځ د تفاهم د زیاتوالي لامل کیږي. په دې څېړنه کې تاریخي، نظري او عملي شواهدو ته مراجعه شوې، څو د کلتوري ډیپلوماسۍ د تطبیق علمي چوکاټ روښانه او د کلتوري ډیپلوماسۍ علمي او عملي بنسټونو تحلیلول او د افغانستان لپاره د تطبیق فرصتونو او ننګونو ارزول شي، کلتوري ډیپلوماسي د ملتونو ترمنځ د باور او هوکړې فضا پیاوړې کوي، خو دا یوازې هغه مهال بریالۍ ده، چې د دولتونو له خوا دوامداره ملاتړ او ستراتېژیک پلانونه موجود وي، که څه هم نړیوالې تجربې د دې بریالیتوب ښیي، خو په افغانستان کې یې تطبیق لا هم له جدي ننګونو سره مخ دی.

**کلیدي کلمې:** ارزښتونه، دولتونو ترمنځ اړیکې، سیاسي کړکیچ، شخړو حل، کلتوري تبادله، کلتوري ډیپلوماسي

## سریزه

کلتوري ډیپلوماسي د دولتونو ترمنځ د نږدېوالي، تفاهم او همکارۍ یوه اغیزناکه وسیله ده. دا ډیپلوماسي د سیاست، اقتصاد او پوځي تعاملاتو پر ځای د فرهنګ، ژبې، هنرونو، دیني ارزښتونو او تعلیمي همکاریو له لارې ملتونه یو بل ته نږدې کوي. په دې څېړنه کې د دولتونو ترمنځ د اړیکو په پراختیا کې د کلتوري ډیپلوماسۍ په رول باندې بحث شوی او په ضمن کې په ځینې نورو مهمو مسایلو، چې د کلتوري ډیپلوماسۍ سره تړاو لري او اړتیا ورته لیدل کیږي، چې بحث پرې وشي په ټولو مسایلو رڼا اچول شوې او د موضوع هر اړخ څېړل شوی.

د دولتونو ترمنځ د دوستانه اړیکو په پراختیا کې د کلتوري ډیپلوماسۍ رول یوه مهمه او اړینه موضوع ده، د دې څېړنې موخه دا ده، چې د کلتوري ډیپلوماسۍ په مرسته د ملتونو ترمنځ د اړیکو جوړولو، د تفاهم او همکارۍ پراختیا او د سولې ټینګښت څرنګوالی وڅېړل شي. موږ غواړو چې د کلتوري ډیپلوماسۍ اهمیت، اغېزې او د دې پروسې له لارې د سیاسي او اقتصادي شخړو په منځ کې د سولې او تفاهم فضا جوړولو اړوند مسایل تحلیل کړو. د دې څېړنې ضرورت او اهمیت په دې کې دی چې کلتوري ډیپلوماسي د سختو سیاسي او اقتصادي شرایطو په منځ کې د اړیکو نرمولو او د شخړو د حل لپاره یوه اغیزناکه وسیله ده.

د نړۍ په بېلابېلو برخو کې د شخړو او نفاقونو شتون د کلتوري ډیپلوماسۍ اهمیت لا زیاتوي، د هنرونو، ادبیاتو او کلتوري ارزښتونو له لارې ملتونه یو بل ته نږدې کېږي، د دوستانه اړیکو پراختیا او د سولې ټینګښت لپاره یوه نوې لاره پرانیزي. په دې څېړنه کې د کلتوري ډیپلوماسۍ پروسې په اړه زیاته پوهه او نوې لارې چارې وړاندې شوې دي، چې نه یوازې د حکومتونو؛ بلکې د ټولنیزو بنسټونو، پوهنتونونو او غیرې حکومتي سازمانونو لپاره هم ګټورې دي. د دې څېړنې پایلې د دولتونو ترمنځ د اړیکو پراختیا، د شخړو د حل او د سولې ټینګښت لپاره یو ګټور بنسټ رامنځته

کړي. د کلتوري ډیپلوماسۍ د رول پوهېدل او په نړیوالو اړیکو کې د دې مفهوم تطبیق کولای شي د سولې او ثبات پر لور یو نوی فرصت جوړ کړي.

## د څېړنې ستونزه

دا څېړنه د دولتونو ترمنځ د دوستانه اړیکو د پراختیا لپاره د کلتوري ډیپلوماسۍ د اغېزو زیاتولو ته ځانګړې شوې ده. اساسي ستونزه دا ده، چې څنګه کولای شو د سیاسي او اقتصادي فشارونو پر ځای د کلتوري ډیپلوماسۍ له لارې د دولتونو او ملتونو ترمنځ تفاهم، همکاري او د شخړو د حل لپاره یوه نرمه او دوامداره لاره رامنځته کړو. کلتوري ډیپلوماسي د نرم ځواک (Soft Power) یوه مهمه وسیله ده، خو د عملي تطبیق پر مهال له بېلابېلو محدودیتونو سره مخ ده، له دغو محدودیتونو څخه کلتوري اختلافات، ژبني خنډونه، سیاسي حساسیتونه، اقتصادي محدودیتونه او د عامه نظر منفي برداشتونه هغه اساسي خنډونه دي، چې د دې پروسې اغېزمنتیا کموي، دا ستونزه نه یوازې په افغانستان، بلکې د سیمې او نړیوالې کچې په دولتونو کې هم معمول ده.

## د موضوع اهمیت

دا څېړنه ځکه مهمه ده، چې کلتوري ډیپلوماسي د دولتونو ترمنځ د تفاهم، همکارۍ او سولې د ټینګښت یوه مهمه وسیله ده. دا نه یوازې د شخړو د کمولو لپاره بدیلې لارې وړاندې کوي، بلکې د دولتونو، غیرې حکومتي سازمانونو، فرهنګي مؤسسو، پوهنتونونو او ټولنیزو بنسټونو لپاره د کلتوري همکارۍ د پیاوړتیا فرصتونه هم رامنځته کوي. څېړنه د سیاستوالو، ډیپلوماتانو، کلتوري فعالانو، د سولې او شخړو د حل متخصصینو، اکاډمیکو څېړونکو، ژبپوهانو او هغو سازمانونو لپاره مهمه ده، چې د نړیوالو اړیکو، فرهنګي تبادلو او بشري همکاریو په برخه کې کار کوي .

د دې څېړنې له بشپړېدو سره، د کلتوري ډيپلوماسۍ د رول، فرصتونو او محدودیتونو په اړه نوی علمي تحلیل وړاندې کیږي، چې دولتونو ته د سولې او تفاهم لپاره نوې لارې پرانیزي، سربیره پر دې دا څېړنه د کلتوري تبادلو، علمي همکاریو او د ملتونو ترمنځ د باور جوړولو لپاره اغیزناکې ستراتېژۍ وړاندې کوي. څېړنې د کلتوري ډيپلوماسۍ د علمي چوکاټ د پراختیا لپاره نوی علمي تحلیل چمتو کړی، چې د دې رشتې په نظریو، تیوریو، او عملي تطبیق کې نوې څېړنیزې زاویې زیاتې کړې. د نړیوالو اړیکو، ښوونیزو پروګرامونو، فرهنګي همکاریو او د سولې هڅو ته یې نوی لوری ورکړی. د پوهنتونونو او څېړنیزو مرکزونو لپاره دا امکان برابروي، چې د کلتوري ډيپلوماسۍ تدریس ته وده ورکړي. همدا راز د غیرې حکومتي سازمانونو او مدني ټولنو لپاره یې فرصتونه رامنځته کړي، څو د فرهنګي تبادلو له لارې د ملتونو ترمنځ د همکارۍ فضا پراخه کړي، چې په پایله کې د سولې، اقتصادي ودې او ټولنیز پرمختګ لپاره نوي فرصتونه برابر شي.

## د څېړنې پوښتنې

۱. کلتوري ډیپلوماسي د دولتونو ترمنځ د اړیکو په پراختیا کې څه رول لري؟

۲. د نرم ځواک په توګه، کلتوري ډیپلوماسي څنګه کار کوي؟

۳. تاریخي شواهد څنګه د کلتوري تبادلو اغیزمنتوب ښیي؟

۴. کوم خنډونه د کلتوري ډیپلوماسۍ اغیزمنتوب محدودوي؟

۵. د همغږۍ او همکارۍ وده څنګه ممکنه ده؟

## د څېړنې موخې

دغه علمي څېړنه، چې (د دولتونو ترمنځ د دوستانه اړیکو په پراختیا کې د کلتوري ډيپلوماسۍ رول) سرلیک لاندې لیکل شوې اساسي موخې یې په لاندې ډول دي.

۱. د کلتوري ډیپلوماسۍ مفهوم او اهمیت په علمي توګه روښانه کول.
۲. د کلتوري ډیپلوماسۍ د نرم ځواک په توګه د ملتونو ترمنځ د اړیکو د پیاوړتیا او تفاهم د پراختیا څرنګوالي تحلیلول.
۳. جګړه ځپلو هېوادونو په ځانګړې توګه د افغانستان د وضعیت له نظره د کلتوري ډیپلوماسۍ فرصتونو او ننګونو بیانول.
۴. د تاریخي، نظري او عملي شواهدو په کارولو سره د کلتوري ډیپلوماسۍ د تطبیق علمي چوکاټ وړاندې کول.
۵. د کلتوري ډیپلوماسۍ د عملي بنسټونو ارزونه او د هغې د اغېزو تحلیل.

**د څېړنې مواد او کړنلاره**

څېړنه مې د ټاکلو علمي اصولو او میتودونو پر بنسټ لیکلې ده، هڅه مې کړې، چې د لیکنې په بهیر کې وضاحت، ترتیب او تسلسل وساتم. د مقدمې نه تر پایلې پورې مې لیکنه د منظم پلان له مخې پر مخ وړې ده.

۱. څېړنه مې د علمي چوکاټ له مخې تنظیم کړې ده، چې پکې مقدمه، منځپانګه او پایله شامله ده.
۲. ما له باوري کتابونو، مقالو او علمي سرچینو څخه ګټه اخیستې ده، ټولې حوالې مې د APA اسلوب مطابق ورکړې دي.
۳. په لیکنه کې مې ساده، خو علمي ژبه کارولې ده. تخصصي اصطلاحات مې په واضحو او دقیقو طریقو استعمال کړي دي.
۴. راټول شوي معلومات مې ژور تحلیل کړي دي، د بېلابېلو نظریاتو پرتله مې کړې ده، تر څو د موضوع د درک کچه لوړه شي.

**پخوانیو لیکنو ته منطقي کتنه**

د کلتوري ډیپلوماسي موضوع که څه هم په نړیوالو علمي سرچینو کې تر یوه بریده څېړل شوې، خو د افغانستان په څېر هېوادونو لپاره لا هم دا موضوع تر ډېره نوې او نیمګړې پاتې شوې ده. تر اوسه پورې د دې موضوع په اړه مستقله او پراخه علمي مقاله یا څېړنه نه ده تر سترګو شوې، بلکې یوازې محدود بحثونه په کې موندل کیږي. له همدې امله ما هڅه کړې، چې د نړیوالو لیکوالانو اړوند لیکنې وڅېړم او د دې موضوع علمي بنسټونه روښانه کړم. دا شننه د دې لپاره هم ارزښت لري، چې زما د څېړنې د نظري چوکاټ برخه شي. رالف ټي ارنډټ په خپل کتاب (د پاچاهانو لومړنی انتخاب: د شلمې پیړۍ امریکایي کلتوري ډیپلوماسي) کې د کلتوري ډیپلوماسي تاریخي پرمختګ بیان کړی او څرګندوي، چې دا مفکوره څنګه د امریکا د بهرني سیاست بنسټیزه برخه پاتې شوې ده.

رابرټ پي بارسټن په خپل اثر (عصري ډیپلوماسي) کې د معاصرې ډیپلوماسي اړخونه څېړلي او کلتوري اړخونه یې د دولتونو ترمنځ د تفاهم یوه اساسي وسیله معرفي کړې ده. نیکولاس جي کال په خپل کتاب (عامه ډیپلوماسي: د تېر وخت درسونه) کې د عامه ډیپلوماسي د تاریخي تجربو له لارې دا څرګنده کړې، چې څنګه پالیسي جوړوونکي کولی شي له تېرو زده‌کړه وکړي.

مارګریټ سي کومنګز په خپل کتاب (کلتوري ډیپلوماسي او د متحده ایالاتو حکومت) یوه سروې کې د امریکا د فرهنګي پالیسۍ عمومي جوړښت تشریح کړی او د کلتور د ترویج ستراتېژي یې بیان کړې ده. همدارنګه وېلیم پي ډیزارډ په خپل اثر (د کلتوري ډیپلوماسي راتلونکی تاریخي لید) کې د کلتوري ډیپلوماسي د تاریخي ودې څرنګوالی څېړلی او دا یې د سولې او تفاهم د پیاوړتیا یوه مؤثره لاره بللې ده.

جې، سي، اې، ګیناو هیشت او مله ډانفریډ په خپل کتاب (د کلتوري ډیپلوماسي په لټه کې د تبادلې، هنر او ورزش له لارې سولې ته هڅې) کې د فرهنګي، هنري او ورزشي تبادلو له لارې د کلتوري ډیپلوماسي رول روښانه کړی او دا یې د نړیوال تفاهم لپاره اړین بللی دی. همدا راز کلیر کرمش په خپل کتاب (ژبه او کلتور) کې د ژبې او کلتور ترمنځ اړیکه څېړلې او دا اړیکه یې د فرهنګي تفاهم لپاره یو بنسټیز اصل بللی دی.

سټیون مارک په خپل اثر (کلتوري ډیپلوماسي ته پراخ رول ورکول) کې وړاندیز کړی، چې فرهنګي ډیپلوماسي باید د بهرني سیاست یوه مؤثره او ستراتېژیکه برخه وي.

د پورته اثارو څخه زما دا څېړنه له څو اړخونو توپیر لري لومړی دا، چې په پورته کتابونو کې د کلتوري ډیپلوماسي کارونه زیاتره د نړیوال سیاست د نفوذ له مخې څېړل شوې، خو زما مقاله د سولې، تفاهم او همکارۍ لپاره یوه اغېزناکه وسیله ګڼل شوې ده. دویم دا چې دا څېړنه د افغانستان ځانګړي فرهنګي او سیاسي وضعیت ته ځانګړې پاملرنه کوي، خو نړیوال لیکوالان د لوېدیځو هېوادونو تجربې څېړي.

درېیم نړیوال لیکوالان کلتوري ډیپلوماسي ډېری وخت د قدرت او نفوذ د پراخولو وسیله بولي، خو زما دا څېړنه کلتوري ډیپلوماسي د سولې، ثبات او تفاهم لپاره عملي حل‌لاره ګڼي، چې د شخړو د حل او د باور په بیا رامنځته کولو تمرکز لري.

## لومړی مبحث: د کلتوري ډیپلوماسۍ پېژندل

کلتوري ډیپلوماسي هغه فعالیتونه او هڅې دي، چې یو دولت د خپل کلتور، هنر، ادبیاتو، ژبې او دودونو د خپرولو له لارې د نړۍ په نورو دولتونو کې خپل مثبت انځور جوړوي. موخه یې د ملتونو ترمنځ تفاهم، همکاري او د اعتماد فضا رامنځته کول دي، ترڅو د تاوتریخوالي او جګړې مخه ونیول شي او د سولې ټینګښت ته

لاره هواره شي. کلتوري ډيپلوماسۍ د نرم ځواک يوه مهمه برخه ده، چې د ملتونو ترمنځ د اړيکو جوړولو او د سياسي او اقتصادي شخړو د کمولو لپاره مرسته کوي. کلتوري ډيپلوماسي د يو دولت د کلتوري ارزښتونو، هنر، ادب، ژبې او دودونو د خپرولو او د نړۍ په نورو دولتونو کې د خپل مثبت انځور جوړولو لپاره کارول کېږي.

دا ډيپلوماسي هڅه کوي، چې د ملتونو ترمنځ تفاهم، همکاري او د اعتماد اړيکې رامنځته کړي او په نړيواله کچه د سولې او ثبات په راوستلو کې مرسته وکړي. کلتوري ډيپلوماسي د هنر، نندارتونونو، ادبي ليکنو او ژبنيو پرگرامونو له لارې د بېلابېلو کلتورونو ترمنځ د خبرو اترو او پوهاوي لپاره زمينه برابروي. په دې ډول، کلتوري ډيپلوماسي د حکومتونو، غيرې دولتي سازمانونو او فردي کلتوري مبادلو له لارې تر سره کېږي. د دې ډيپلوماسۍ موخه دا ده، چې د يو دولت نرم ځواک پياوړی کړي او د نورو دولتونو خلکو ته د خپل دولت د کلتوري ارزښتونو په اړه يو مثبت انځور وړاندی کړي. همدارنگه، کلتوري ډيپلوماسي د نرمو ځواکونو يوه مهمه برخه ده، چې کولی شي ملتونه د جگړې او جنجال پر ځای د همکارۍ او خبرو اترو لاره ته برابر کړي. دولتونو ترمنځ د دوستانه اړيکو په پراختيا کې د کلتوري ډيپلوماسۍ رول نه يوازې د کلتوري تبادلو له لارې، بلکې د اوږدمهاله همکارۍ، تفاهم او د سولې ټينگښت لپاره اغېزناکه وسيله گڼل کېږي. کلتوري ډيپلوماسي د شخړو د حل، د سولې رامنځته کولو او د نړيوالو اړيکو په نرمولو کې په ځانگړې توگه د منفي سياسي شرايطو او جگړو په منځ کې د يوې مثبته بديلې لارې په توگه عمل کوي (۱۱: ۱۵).

## لومړی مطلب: د کلتوري ډيپلوماسۍ تاريخي سير

کلتوري ډيپلوماسۍ د دولتونو ترمنځ د دوستانه اړيکو د پراختيا لپاره د بېلابېلو کلتورونو ترمنځ د تعامل او تفاهم هڅه کوي، دې مفکورې د شلمې پيړۍ په نيمايې کې د جگړو وروسته د سولې او همکارۍ د پياوړتيا لپاره د نوې لارې په توگه

وړاندې شوه. کلتوري ډيپلوماسي لرغوني ريښې لري، څکه چې په لرغوني يونان او روم کې سفيران د هنري او ادبي اثارو له لارې د يو بل ملتونو سره په تعامل کې وو. تجارتي کاروانونه، د اکتشافاتو سفرونه او د تمدونو تر منځ تبادله يې هم تر سره کوله. په منځنو پيړيو کې هم کلتوري ډيپلوماسۍ د سفرونو، علمي مطالعاتو او مذهبي تبليغاتو له لارې روانه وه.

اسلامې نړۍ په ځانګړي ډول په علم، هنر او ادب کې د اروپا او نورو تمدونونو سره د اړيکو په برخه کې مهم رول درلود. په شلمه پيړۍ کې د کلتوري ډيپلوماسۍ د اهميت يو بل مهم پړاو پيل شو، په ځانګړې توګه د دويمې نړيوالې جګړې وروسته کله، چې لوی ملتونه، لکه امريکا او شوروي اتحاد د سړې جګړې په دوران کې د خپل سياسي نفوذ د پراختيا لپاره کلتوري ډيپلوماسي وکاروله. نن ورځ کلتوري ډيپلوماسي د نړۍ په ډېرو برخو کې د سولې او همکارۍ د ودې يوه مهمه وسيله ګڼل کيږي، په دې برخه کې ملګري ملتونه او نور نړيوال سازمانونه هڅه کوي، چې د کلتوري پروګرامونو له لارې نړيواله همکاري زياته کړي (٦: ١٨).

## دويم مطلب: د کلتوري ډيپلوماسۍ اهميت

کلتوري ډيپلوماسي د دولتونو ترمنځ د کلتوري تبادلو له لارې د تفاهم د رامنځته کولو لپاره يوه مهمه وسيله ده. د بېلګې په توګه د هنري نندارتونونو، موسيقۍ او د ادبياتو د تبادلو له لارې دولتونه کولی شي د خپلو فرهنګونو ځانګړتياوې وښايي او د يو بل فرهنګ سره آشنا شي. دا کلتوري پيوندونه د خلکو ترمنځ د تفاهم او همغږۍ زمينه برابروي، چې له دې لارې د تعصباتو د مخنيوي او د کمښت امکان رامنځته کيږي، د کلتوري ډيپلوماسۍ له لارې دولتونه کولی شي په ګډه د حقوقو د ترويج پروژې پيل کړي او د بشري حقونو د نقض مخه ونيسي، دا پروسه د دولتونو ترمنځ د اړيکو د نرمولو او د همکارۍ د ټينګښت لپاره يوه اغيزناکه لار ده، د لا ښه وضاحت لپاره د دولتونو ترمنځ د کلتوري ډيپلوماسۍ اهميت دوه بېلګې ذکر کوو. (٦: ٢١)

**لومړی جز: تعلیمي تبادلې**

تعلیمې تبادلې د دولتونو ترمنځ د کلتوري ډیپلوماسۍ یوه مهمه برخه ده کله، چې زده کوونکي، ښوونکي او څېړونکي د بېلابېلو دولتونو کلتور، ژبه او دودونه زده کوي، نو هغوی د دغه دولتونو په اړه مثبت نظرونه او احساسات پیداکوي، دغه تبادلې د راتلونکي نسل لپاره د سولې او پوهاوي پیغامونه خپروي او د ځوانانو تر منځ د نړیوالې همغږۍ لپاره مرسته کوي. تعلیمي تبادلې د دولتونو ترمنځ د یووالي او پوهې زیاتوالي لپاره خورا مهمې دي، د هنر او کلتور له لارې د اړیکو جوړول د سولې په رامنځته کولو کې د کلتوري ډیپلوماسۍ یوه بله اغیزناکه برخه ده، په ګډو هنري پروژو، نندارتونونو او نورو کلتوري فعالیتونو کې ګډون کول کولی شي دولتونه او ټولنې یو له بل سره آشنا کړي او د منفي پیغامونو پر ځای د مثبتو پیغامونو لپاره لار هواره کړي، همدارنګه دا ډول پروژې د کلتوري دیپلوماسۍ له لارې د سولې او نړیوالو اړیکو د پرمختګ لپاره مؤثرې وسیلې دي (٦: ٢٥).

**دویم جز: سپورتي ډیپلوماسي**

سپورټ یوه مهمه وسیله ده، چې له لارې یې بېلابېل ملتونه او کلتورونه سره یو ځای کېدای شي او اړیکي جوړولی شي. سپورتي ډیپلوماسي له سپورټ څخه په استفادې سره د بېلابېلو هیوادونو ترمنځ د اړیکو ښه کولو او د دوستۍ فضا رامنځته کولو په موخه کارول کېږي. د ۱۹۷۰ لسیزې په پیل کې امریکا او چین د ټیبل ټینس لوبډلو د تبادلې له لارې دواړو هیوادونو، چې تر هغه وخته یې یو له بل سره سیاسي شخړې لرلې نږدې شول، دې اړیکو وروسته د دواړو هیوادونو ترمنځ د سیاسي او اقتصادي اړیکو پر پرانیستو کې مرسته وکړه. (١: ٧)

## دویم مبحث: د دولتونو ترمنځ د دوستانه اړیکو په پراختیا کې د کلتوري ډیپلوماسۍ رول

کلتوري ډیپلوماسي د ملتونو ترمنځ د تفاهم، همکارۍ او سوله ییزو اړیکو د رامنځته کولو یوه مهمه وسیله ده، دا ډیپلوماسي نه یوازې د دولتونو ترمنځ رسمي اړیکې تنظیموي، بلکې د خلکو ترمنځ د تفاهم، همکارۍ او متقابل درک د پراخولو لپاره هم بنسټیز رول لري. د نړۍ بېلابېلو تمدنونو او کلتورونو ترمنځ د متقابل درک فضا رامنځته کول د نړیوالې سولې او ثبات د ټینګښت لپاره حیاتي ارزښت لري. دا اړینه ده، چې د دولتونو ترمنځ نه یوازې سیاسي یا اقتصادي اړیکې پراختیا وکړي، بلکې کلتوري اړخونه هم په پام کې ونیول شي، کلتوري ډیپلوماسۍ د دولتونو ترمنځ د دوستانه اړیکو د پراختیا لپاره ځینې اساسي رولونه لري، چې په لاندې ډول یې روښانه کوو:

### لومړی مطلب: کلتوري ډیپلوماسي د باور جوړونې او تفاهم پُل دی

کلتوري ډیپلوماسي د دولتونو ترمنځ د باور او تفاهم د پیاوړتیا لپاره یوه اړینه او ګټوره وسیله ده. کلتوري ډیپلوماسي د ملي ګټو خوندیتوب او نرم ځواک (Soft Power) له لارې د خلکو د زړونو او ذهنونو ګټلو کې مرسته کوي، لکه څنګه، چې په ۲۰۰۵ کال کې د هندوستان او پاکستان ترمنځ نرم ځواک رامنځته شو په دې کال کې دواړو دولتونو د کراچۍ او ممبۍ ترمنځ د سولې د بس خدمتونه پیل کړل، چې مسافرینو ته یې د کلتوري تبادلو او اړیکو ښه کولو زمینه برابره کړه. په ۲۰۱۰ کال کې د موسیقۍ او ادبي فستیوالونو، لکه پنجاب فستیوال او د دواړو دولتونو ترمنځ کلتوري پروګرامونه ترسره شول، چې موخه یې د دواړو هېوادونو ترمنځ د تفاهم زیاتول او د کلتوري اړیکو پیاوړي کول و.

**لومړی جز: د امریکا او جاپان ترمنځ د کلتوري ډیپلوماسي بریالی ماډل**

د کلتوري ډیپلوماسي یوه بله ښه بېلګه د امریکا او جاپان ترمنځ د دویمې نړیوالې جګړې وروسته کلتوري ډیپلوماسي ده. د دواړو دولتونو د سختو اختلافونو سره سره، امریکا په جاپان کې د کلتوري پروګرامونو په پیلولو سره هڅه وکړه، چې د جاپاني خلکو زړونه او ذهنونه وګټي. په دې پروګرامونو کې د زده کړو، د ژب ښوونې، هنري نندارتونونو او د تبادلې پروګرامونه شامل وو، چې له مخې یې جاپاني زده کوونکو امریکا ته سفر کاوه او امریکایي زده کوونکو او استادانو جاپان ته سفر کاوه. دغه پروګرامونه د دواړو ملتونو ترمنځ د درک او تفاهم په رامنځته کولو کې ډېر ګټور ثابت شول، د دې پروګرامونو له برکته په دواړو ملتونو کې یو بل ته د درناوي فضا جوړه شوه، چې له امله یې د اوږد مهاله سولې او دوستانه اړیکو لپاره بنسټ رامنځته شو (۲: ۲۵).

**دویم مطلب: فرهنګي تبادله**

فرهنګي تبادله هغه بهیر دی، چې په کې خلک نظریات، هنرونه او دودونه د یوه دولت څخه بل دولت ته انتقالوي، تر څو د بېلابېلو کلتورونو تر منځ اړیکې پیاوړې شي. د شنیډر په نظر فرهنګي تبادله نه یوازې د خلکو تر منځ د درک او پوهاوي زیاتولو لپاره مهمه ده، بلکې د دواړو خواوو تر منځ د اعتماد او همکارۍ د جوړولو لپاره هم یوه اغیزناکه وسیله ده. فرهنګي تبادله کولی شي د سوله ییزو اړیکو په رامنځته کولو کې مرسته وکړي، ځکه چې دا د خلکو تر منځ پر انسانیت او ګډو ارزښتونو ټینګار کوي. د شنیډر په وینا فرهنګي تبادله د دې سبب کېږي، چې دولتونه او ملتونه د خپلو ځانګړتیاوو په اړه نورو خلکو ته پوهه ورکړي او همدارنګه د نورو کلتورونو له عناصرو څخه زده کړه وکړي، یو ښه بېلګه یې د فولبرایټ سکالرشیپ پروګرام دی، چې په دې پروګرام کې زده کوونکي او څېړونکي د بېلابېلو دولتونو څخه امریکا ته ځي او امریکایي زده کوونکي نورو دولتونو ته ځي دوی د

زده کړې او څېړنې په ترڅ کې د بېلابېلو کلتورونو سره اشنا کېږي. د دې ډول پروګرامونو له لارې خلک له یو بل سره اړیکې جوړوي، یو بل ښه پېژني او د یو بل کلتورونو ته درناوی پیداکوي (۹: ۱۹).

## درېیم مطلب: ژبه او زده کړه

د کلتوري ډیپلوماسۍ لپاره ژبه یوه مهمه وسیله ده، ځکه چې د یو بل کلتور د ژبې زده کول د دې سبب کېږي، چې خلک د هغه کلتور او رواجونه ښه وپېژني. ژبه یوازې د اړیکو وسیله نه ده، بلکې د فکر، احساساتو او کلتوري هویت یوه برخه هم ده. د کلتوري ډیپلوماسۍ له لارې دولتونه کولی شي خپلمنځي اړیکې ټینګې کړي. له بله اړخه زده کړه د کلتوري ډیپلوماسۍ یوه ډېره مهمه برخه ده، ځکه چې د تعلیم له لارې خلک د بېلابېلو کلتورونو او تاریخونو په اړه پوهه حاصلوي، چې همدغه پوهه د تضادونو پر ځای د همکارۍ فضا رامنځته کوي، لکه د جاپان او امریکا ترمنځ د زده کړې او کلتوري تبادلې پروګرامونه له دویمې نړیوالې جګړې وروسته پیل شول، کله چې خلک د یو بل د کلتور او تاریخ په اړه زده کړه کوي، نو د توپیرونو درناوی زده کوي، چې دا د دولتونو ترمنځ د دوستانه اړیکو پراختیا لپاره یو اغیزناک ګام دی. د امریکا او جاپان د زده کړې پروګرامونو موخه داوه، څو د جګړې وروسته د دواړو دولتونو ترمنځ د دوستۍ او تفاهم فضا رامنځته کړي (۱۵: ۱۳).

## څلورم مطلب: سافټ پاور (نرم ځواک)

هغه ځواک دی، چې د نظامي یا اقتصادي فشار پر ځای د کلتور، ارزښتونو او سیاستونو په مرسته د نورو دولتونو ملاتړ تر لاسه کوي. یوه مشهوره بېلګه یې د امریکا فرهنګي صادرات دي، لکه د هالیووډ فلمونه او موسیقي، له دې لارې امریکا کولی شي په نورو دولتونو کې خپل ارزښتونه، لکه ډیموکراسي، بشر حقونه او فردي ازادي ترویج کړي او خلکو ته د جلب لپاره د خپلې خوښې ارزښتونه ور

وپېژني، همدارنګه د سافټ پاور له لارې دولتونه کولی شي د خپلو مسایلو د حل لپاره نړیوال ملاتړ ترلاسه کړي (۱۲: ۲۴).

## پنځم مطلب: تفاهم او درناوی

د کلتوري تبادلې له لارې ملتونه د یو بل کلتورونه او ارزښتونه پېژني، دا پېژندنه د ناسمې پوهېدنې او کلتوري ټکرونو د کمولو لامل ګرځي، ځکه چې ملتونه د یو بل د تفکراتو، عقایدو او کلتوري رسمونو په اړه پوهېږي. دغه پروسه هر ملت ته خپله ځانګړتیا او درناوی رامنځته کوي، چې د شخړو کمولو او د ګډو ګټو د پېژندلو زمینه برابروي.

**بېلګه:** د جاپان او امریکا ترمنځ له دویمې نړیوالې جګړې وروسته کلتوري تبادلې، لکه هنري نندارتونونه او د سینما د پروګرامونو تبادله، د دواړو ملتونو ترمنځ د تفاهم او درناوي فضا رامنځته کړه (۳: ۲۲).

## شپږم مطلب: باور جوړونه

کلتوري ډیپلوماسي د دولتونو ترمنځ باور جوړوي، ځکه چې کله ملتونه یو له بل سره د خپلو کلتورونو په اړه معلومات تبادله کوي، نو د متقابل تفاهم لاره هواروي. دا باور د اوږد مهاله دوستانه اړیکو لپاره بنسټ دی، کله چې دولتونه یو بل ته خپل کلتوري ارزښتونه ښیي او دا ارزښتونه د بل طرف په نظر کې نیسي، نو د اعتماد یوه قوي فضا رامنځته کېږي چې د اړیکو د پراختیا لپاره اغېزناکه وي.

**بېلګه:** د فرانسې او آلمان ترمنځ د کلتوري تبادلې پروګرامونه، لکه د هنر نندارتونونه او د ادب په اړه ګډ سیمینارونه، د دې ملتونو ترمنځ د باور رامنځته کولو او د یو بل د کلتور د درناوي لپاره اغیزناک و (۵: ۱۹).

**اووم مطلب: د اړیکو نرمول**

کلتوري ډيپلوماسي د دولتونو ترمنځ د نرمو اړیکو پراختیا ته لاره هواروي، د هنرونو، ادبیاتو، موسیقۍ، سینما او نورو کلتوري فعالیتونو له لارې ملتونه یو له بل سره نږدې کېږي، دا ډول فعالیتونه د سیاسي یا اقتصادي اختلافاتو په صورت کې د شخړو د حل لپاره یوه مثبت فضا رامنځته کوي. کلتوري تبادلې د سیاستوالو لپاره د نوو لارو چارو په وړاندې کولو کې مرسته کوي، چې د سختو وضعیتونو په منځ کې د خبرو اترو او سوله ییزو حل لپاره زمینه برابروي (۴: ۸).

**بېلګه:** امریکا او کیوبا ترمنځ د موسیقۍ د تبادلې پروګرامونه، لکه د جاز فستیوالونه، چې د دې دوه هېوادونو ترمنځ د سیاسي اختلافاتو سره سره د نرمو اړیکو په پراختیا کې مرسته وکړه.

**اتم مطلب: د شخړو حل**

کلتوري ډيپلوماسي د شخړو د حل لپاره د خبرو اترو او همکارۍ فضا رامنځته کوي. د کلتوري تبادلې له لارې دولتونه کولی شي خپل اختلافات له جګړې یا تشدد پرته په سوله ییزه توګه حل کړي، کله چې ملتونه په خپل منځ کې د کلتوري فهم تبادله وکړي، هغوی پوهېږي، چې د تفاهم او همکاریو پراختیا د شخړو د حل اساسي برخه ده، د بیلګې په توګه، هنري نندارتونونه یا فرهنګي پروګرامونه د ملتونو ترمنځ د لیدلو فرصتونه رامنځته کوي، چې د خبرو اترو او خبرو په سطحه به د کلتوري پوهې پراختیا لپاره اغېزه وکړي (۷: ۲۴).

**بېلګه:** د اسراییل او فلسطین ترمنځ د کلتوري ډيپلوماسۍ هڅې، لکه د هنري نندارتونونو جوړول او ګډې فرهنګي پروژې د دواړو لورو ترمنځ د اعتماد جوړولو او د شخړو د حل لپاره هڅې وې.

**نهم مطلب: د اړیکو پراختیا**

کلتوري ډیپلوماسي د اوږدمهاله او باوري اړیکو لپاره اساسي رول لري، د کلتوري تبادلو له لارې دولتونه د خپلو ګټو او لومړیتوبونو په تړاو ښه پوهیږي، کوم چې د تجارتي، سیاسي او اقتصادي همکاریو پراختیا کې مرسته کوي. کله چې ملتونه په یو بل کې د خپلو کلتورونو او ارزښتونو په اړه زده کړه وکړي، دوی د ګډو ګټو پر بنسټ د همکارۍ فضا رامنځته کوي. دا نه یوازې د سیاسي اړیکو ښه والی راولي، بلکې د نړیوالې ټولنې د استحکام او پرمختګ لپاره هم مرسته کوي. چې ښه بېلګه یې د چین او افریقایي هیوادونو ترمنځ د کلتوري ډیپلوماسۍ هڅې دي، لکه د فرهنګي غونډو او تعلیمي تبادلو پروګرامونه، چې د اقتصادي او سیاسي همکاریو لپاره قوي بنسټ جوړوي (۱۳: ۱۹).

**پایله**

دغه علمې څېړنه، چې (د دولتونو ترمنځ د دوستانه اړیکو په پراختیا کې د کلتوري ډیپلوماسۍ رول) تر سرلیک لاندې لیکل شوې لاندې پایلې ترې تر لاسه کېږي:

۱. کلتوري ډیپلوماسي د ملتونو ترمنځ د باور، تفاهم او همکارۍ د رامنځته کولو لپاره یو اغېزناک او نرم ځواک (Soft Power) ګڼل کېږي.

۲. دا ډیپلوماسي د ژبې، هنر، ادبیاتو، تعلیم او فرهنګي تبادلو له لارې د سیاسي شخړو شدت راکموي او د ملتونو ترمنځ مثبت انځور وړاندې کوي.

۳. د څېړنې پایلې ښیي، چې افغانستان د اوږدو شخړو او نړیوالې انزوا له امله کولی شي له کلتوري ډیپلوماسۍ څخه د سولې، ثبات او سیمه ییز تعامل د پراخولو لپاره مثبته ګټه واخلي.

۴. د فرهنګي تبادلو برنامې، علمي همکارۍ او غیر رسمي اړیکې د رسمي ډیپلوماسۍ لپاره زمینه برابرولای شي او د نړیوال تفاهم پراخولو ته هم وده ورکوي.

**مناقشه**

د دولتونو ترمنځ د دوستانه اړیکو پراختیا کې کلتوري ډیپلوماسي د نرم ځواک یوه اغېزناکه او بدیله تګلاره ده، چې د ژبې، هنر، تعلیم، فرهنګي ارزښتونو او تاریخي میراثونو له لارې عمل کوي. دا بهیر د دولتونو ترمنځ د تفاهم، باور او سولې فضا رامنځته کوي او هڅه کوي، چې د سخت ځواک پر ځای د انساني او معنوي اړیکو پر بنسټ بین‌الدول تعاملات باثباته کړي. د کلتوري ډیپلوماسي دا ځانګړنه، چې د خلکو ذهنونه او زړونه نښلوي، د دولتونو لپاره دا فرصت برابروي، چې د رقابت او سیالۍ پر ځای د همکارۍ، درناوي او ګډو ارزښتونو فضا رامنځته کړي. د افغانستان پر څېر دولتونه، چې د جګړو او ناخوالو قرباني شوي، کولای شي د کلتوري ډیپلوماسي له لارې له نړیوالې ټولنې سره خپلې اړیکې رغنده، مثبتې او بااعتماده کړي. په دې برخه کې د چین، فرانسې، جرمني او جاپان فرهنګي مرکزونه د بریالۍ کلتوري ډیپلوماسۍ غوره بېلګې دي، چې د خپلو فرهنګي ارزښتونو د ترویج ترڅنګ یې له نورو دولتونو سره د دوستانه اړیکو زمینه برابره کړې، خو د دغو تجربو بریا د دولتونو پر سیاسي اراده، اوږدمهاله ستراتېژیک لید، همغږۍ، بودیجې او سازماني ملاتړ پورې تړلې ده.

د څېړنې اساسي قوت دا دی، چې د کلتوري ډیپلوماسۍ موضوع مې د نظریاتو له کچې څخه تر عملي تطبیق پورې په ژوره توګه څېړلې او د هغو خنډونو پر ماهیت مې تمرکز کړی، چې ډېری دولتونه د تطبیق پر مهال ورسره مخامخ وي. دا تحلیل د کلتوري ډیپلوماسۍ له سطحي درک څخه فراتر تللی او د واقعي تطبیق شرایطو ته یې علمي کتنه کړې. پخوانۍ څېړنې د کلتوري ډیپلوماسۍ پر مؤثریت ټینګار کوي، خو دا څېړنه په ځانګړې توګه د عملي خنډونو او محدودیتونو تحلیل ته ژوره پاملرنه کوي. همداراز دا څېړنه یو نوی لید وړاندې کوي، چې له مخې یې کلتوري

ډیپلوماسي باید یوازې د ننداړو، نمایشونو یا رسمي مراسمو په کچه ونه ارزول شي، بلکې باید د دولتونو د بهرنۍ پالیسۍ یوه فعال او مؤثره برخه وګرځي.

## پایله اخیستنه

کلتوري ډیپلوماسي د نړیوالو اړیکو په ډګر کې یوه بنسټیزه او اغېزناکه وسیله ده، چې د دولتونو ترمنځ د سوله ییزو اړیکو د جوړولو، سیاسي شخړو د کمولو او د متقابل اعتماد رامنځته کولو لپاره یو هر اړخیز علمي او عملي چوکاټ وړاندې کوي. په دې چارچوب کې کلتوري ډیپلوماسي د سختو یا نظامي دیپلوماسۍ د بدیل په توګه نه، بلکې د هغوی د تکمیل یوه مهمه برخه ګڼل کیږي، ځکه چې سخت ځواک یوازې په محدودو برخو کې ګټور تمامیږي، خو نرم ځواک لکه کلتوري ډیپلوماسي کولای شي د اوږدمهاله سولې او تفاهم لپاره پراخې او ژورې اړیکې رامنځته کړي. څېړنه ځرګندوي، چې د کلتوري ډیپلوماسۍ د بریالیتوب او اغیزناکتوب لپاره اړینه ده، چې دولتي ادارې، تعلیمي مؤسسې، مدني ټولنې، فرهنګي بنسټونه او سیمه ییزې ټولنې په یو همغږي او منظم ډول سره همکاري وکړي. په داسې حالت کې یوازې کلتوري ډیپلوماسي کولای شي د سیاسي کړکیچونو په منځ کې اړیکې عادي کړي، د تفاهم پراختیا او د اوږدمهاله او تلپاتې سولې ټینګښت ته موثر او دوامداره خدمتونه وړاندې کړي. پر همدې اساس دا څېړنه ټینګار کوي، چې د کلتوري ډیپلوماسۍ د اغېزناکتوب لپاره اړینه ده، چې د ستراتېژیکو فرهنګي پالیسیو جوړولو ته لومړیتوب ورکړل شي.

## وړاندیزونه

١. حکومتونه باید د هنر، ادب او ژبنیو پروګرامونو له لارې د نورو هېوادونو سره کلتوري تبادلې وهڅوي، ترڅو د ملتونو ترمنځ تفاهم او درناوی رامنځته شي، دا به د سولې او ثبات په راوستلو کې مرسته وکړي.

۲. د محصلینو، استادانو او څېړونکو لپاره د تعلیمي تبادلو فرصتونه دې رامنځته شي، ترڅو د بېلابېلو کلتورونو په اړه پوهه پراخه شي، دا پروګرامونه باید د نړیوالې همکارۍ او تفاهم په لور مخته یوړل شي.

۳. سپورټ د کلتوري ډیپلوماسۍ یوه مهمه برخه ده، چې هېوادونه سره نږدې کوي، د سپورټ نړیوالې سیالۍ لکه اولمپیک باید د ملتونو ترمنځ د باور فضا رامنځته کولو لپاره وکارول شي.

۴. حکومتونه باید د کلتوري ډیپلوماسۍ په وسیله خپل نرم ځواک پیاوړی کړي، ترڅو په نړیواله کچه یو مثبت انځور وړاندې او په دې توګه د سیاسي شخړو د کمولو لپاره یو نوي فرصتونه رامنځته شي.

۵. ګډې هنري پروژې او نندارتونونه باید زیات شي، ترڅو ملتونه د یو بل له کلتورونو او ارزښتونو سره نږدې او د جګړو او شخړو مخنیوی وشي.

### اخځلیکونه


1. Arndt, R. T. (2005). The First Resort of Kings: American Cultural Diplomacy in the Twentieth Century. Potomac Books .
2. Barston, R. P. (2006). Modern Diplomacy. Pearson Education .
3. Cowan, G., & Arsenault, A. (2008). Moving from Monologue to Dialogue to Collaboration: The Three Layers of Public Diplomacy. Annals of the American Academy of Political and Social Science .
4. Cull, N. J. (2008). Public Diplomacy: Lessons from the Past. USC Center on Public Diplomacy .
5. Cummings, M. C. (2003). Cultural Diplomacy and the United States Government: A Survey. Washington, D. C.: Center for Arts and Culture .
6. Dizard, W. P. (2004). The Future of Cultural Diplomacy: A Historical Perspective. In Cultural

7. Diplomacy: A Pathway to Peace. Berghahn Books .
8. Gienow-Hecht, J. C. E., & Donfried, M. (2010). Searching for a Cultural Diplomacy: Perspectives on Cultural Exchange, Artistic Cooperation, and Sports Diplomacy in the Pursuit of Peace. Berghahn Books .
9. Gil, J. (2017). Soft Power and the Worldwide Promotion of Japanese Language and Culture. Lexington Books .
10. Kramsch, C. (1998). *Language and Culture*. Oxford University Press
11. Mark, S. (2010). A Greater Role for Cultural Diplomacy. Clingendael Institute .
12. Melissen, J. (2005). The New Public Diplomacy: Soft Power in International Relations. Palgrave Macmillan.
13. Nye, J. S. (2004). Soft Power: The Means to Success in World Politics. Public Affairs .
14. Schneider, C. P. (2003). Diplomacy That Works: 'Best Practices' in Cultural Diplomacy. Center for Arts and Culture .
15. Schneider, C. P. (2009). Culture Communicates: US Cultural Diplomacy and the Iraqi-Kurdish Conflict. Global Media Journal .

**طارق‌الله ملکزی او شیراجان صدیقي**
حقوقو څانګه، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، التقوی پوهنتون

# د حنفي فقهې او وضعي قوانینو له نظره د تبعي جزاګانو پرتلیزه څېړنه

**لنډیز**

تبعي جزاګانې عبارت له هغه جزاګانو څخه دي، چې د اصلي جزاګانو ترڅنګ د قاضي له حکم څخه پرته خپله په اوتومات شکل سره په مجرمینوباندې تطبیق کېږي، لکه د قذف په حد کې د شهادت نه قبلېدل، چې اصلي جزا یې د دُرو وهل دي ولې د دُرو ترڅنګ په دعوو کې د شهادت نه منل دا یوه تبعي جزا ده، چې پرته د قاضي له حکم څخه په مجرم باندې تطبیق کېږي.

د دې څېړنې د اهمیت ټکی همدا دی، چې تړاو یې د یوې مهمې موضوع سره دی، چې هغه تبعي جزاګانې دي، تبعي جزاګانې هم په وضعي قوانینوکې او هم په حنفي فقه کې په بشپړ ډول سره ذکرشوي دي، ولې په دې ځای کې یې په پرتلنه باندې بحث ترسره شوی دی.

له دې څېړنې څخه مو موخه په حنفي فقه او وضعي قوانینو کې د تبعي جزاګانو په تړاو د افتراق او اشتراک ټکي په ګوته کول او واضحه کول دي.

نوموړې څېړنه په کتابتوني بڼه باندې څېړل شوې ده، تر ډېره په کې کوشش شوی دی، چې د حنفي فقهې برخه یې له معتبرو کتابونو څخه واخیستل شي او ترڅنګ یې وضعي قوانین هم په یاده برخه کې په واضحه توګه باندې تر بحث لاندې ونیول شي.

د حنفي فقهې او وضعي قوانینو له مخې تبعي جزاګانې په ځینو برخو کې مشابهتونه لري، لکه د مجرمینو اصلاح کول، په ټولنه کې د عدالت اصل تطبیق کول او په ځینو

برخو کې بيا سره توپيرونه هم لري، لکه د جزا ټاکلو سرچينو له مخې چې په حنفي فقه کې تبعي جزاګانې د الهي احکامو څخه اخيستل شوې دي او په وضعي قوانينو کې بيا د جزا ټاکلو سرچينه دانسان عقل دی.

**کليدي کلمې:** تبعي جزاګانې، حنفي فقه، وضعي قوانين

**سريزه**

الحمد لله رب العالمين والعاقبة للمتقين والصلاة والسلام على رسوله محمد وعلى آله واصحابه اجمعين اما بعد فاعوذ باالله من الشيطن الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم (اَلزَّانِیْ لَا یَنْکِحُ اِلَّا زَانِیَةً اَوْ مُشْرِکَةًؗ وَّ الزَّانِیَةُ لَا یَنْکِحُهَا اِلَّا زَانٍ اَوْ مُشْرِکٌ وَ حُرِّمَ ذٰلِکَ عَلَی الْمُؤْمِنِیْنَ) (سورت النور، آيت شمېره: ۳).

**ژباړه:** زنا کوونکي سړي نه نکاح کوي (په رغبت سره) مګر خو زنا کوونکې ښځه يا مشرکه ښځه او زنا کوونکې ښځه نه به نکاح کوي هغه زنا کوونکې ښځه (په رغبت او محبت سره) مګر زنا کوونکی سړی يا مشرک سړی او حرامه کړې شوې ده دغه (زنا يا نکاح له بد کاروسره د پيسو د حاصلولو لپاره) په (صالحانوعفيفانو) مؤمنانو (۲۴۶، ۲۴۵: ۱۵).

انسان الله تعالی جل جلاله اشرف المخلوقات پيدا کړی دی او په ټولو مخلوقاتو باندې برتري او فوقيت ورکړی دی او د دې موضوع په اړه، چې انسان ته الله تعالی جل جلاله لوړ مقام او شرف ورکړی دی، ګڼ دلايل په اسلامي شريعت کې موجود دي، په قرآن کريم کې راغلي، چې ما انسان په ښايسته شکل سره پيدا کړی دی، نو ښايسته والی خپله په دې باندې دلالت کوي، چې دانسان مقام د نورو مخلوقاتو څخه لوړ دی، همدارنګه بل ځای کې اله العالمين فرمايي، چې ما په ځمکه او آسمانونو کې هر څه د انسان د ګټې لپاره پيدا کړي دي، چې دا هم د انسان په لوړ مقام او شرف باندې دلالت کوي، همدارنګه د انسان د لوړ مقام او شرف په موخه الله تعالی جل جلاله ملايکو ته امر کړی دی، چې انسان ته د تکريم او عزت سجده

وکړي، دا خپله په دې باندې دلالت کوي، چې انسان د الله تعالی جل جلاله پر وړاندې ډېر لوړ مقام او مرتبه لري، دا او دېته ورته نور داسې ډېر دلايل موجود دي او هغه په دې باندې دلالت کوي، چې انسان ته الله تعالی جل جلاله ډېر لوړ مقام او شرف ورکړی دی او د دغه لوړ مقام او شرف غوښتنه له انسان څخه دا ده، چې د الله تعالی جل جلاله احکامو او قوانينوته غاړه کيږدي او له دغه احکامو او قوانينوڅخه سرغړونه ترسره نه کړي، ولې متأسفانه سره د دې لوړ مقام اوشرف بيا هم ځينې انسانان شته، چې هغوی د الله تعالی جل جلاله راغلي احکام او قوانين نه مني او ور څخه سرغړونه کوي، چې د دې سرغړونکو انسانانو د سرغړونو د مخنيوي په موخه هم په اسلامي شريعت او هم د هېوادونو په وضعي قوانينو کې يو لړ جزاګانې پيشبيني شوي دي، چې په مجرمينو باندې د دغو جزاګانو تطبيق له يوه پلوه د مجرمينو د اصلاح باعث وګرځي او له بله پلوه په مجرمينو باندې د دې ډول جزاګانو تطبيق د ټولنې د وګړو لپاره د عبرت سبب وګرځي، په دې څېړنه کې يوازې په تبعي جزا باندې بحث ترسره شوی دی، تبعي جزا عبارت له هغې جزا څخه ده، چې د اصلي جزا ترڅنګ پرته د قاضي له حکم څخه خپله په اوتومات شکل سره په مجرم باندې تطبيق کيږي.

### د څېړنې مساله

په عام ډول د جزاګانو په برخه کې حنفي فقه د وضعي قوانينو سره ځينې توپيرونه او مشابهتونه لري، چې د دغې جزاګانو له جملې څخه يو هم تبعي جزاګانې دي، چې په دې برخه کې کوم مشابهتونه او توپيرونه موجود دي په دې څېړنه کې پرې بحث ترسره شوی دی.

### د څېړنې اهميت

د حنفي فقهې او وضعي قوانينو له نظره د تبعي جزاګانو پرتليزه څېړنه د حقوق جزا يوه مهمه موضوع ده، په ځانګړې توګه د قاضيانو، څارنوالانو او مدافع وکيلانو لپاره،

ځکه قضات یوازې د اصلي جزاګانو په تړاو حکم ترسره کوي او تبعي جزا د هغې د حکم څخه پرته خپله په اوتومات شکل سره تطبیق کیږي، نو باید پوهه شي، چې د کوم ډول جزاګانو په تړاو حکم وکړي.

همدارنګه څارنوالان، چې د مجرمینو لپاره د جزا غوښتونکي دي دوی هم باید پوهه شي، چې د تبعي جزاګانو په برخه کې حنفي فقه او وضعي قوانین څه ډول دریځ لري.

له دې سربېره مدافع وکیلان، چې دوی د خپلو مؤکلینو څخه دفاع ترسره کوي باید پوهه شي، چې د دوی په مؤکلینو باندې د اصلي جزاګانو ترڅنګ کومې تبعي جزاګانې تطبیق کیږي.

همدارنګه د دې مقالې د لیکلو په پایله کې د حنفي فقهې او وضعي قوانینو ترمنځ د تبعي جزاګانو په برخه کې د مشابهت او افتراق ټکي هم روښانه شوي.

## د څېړنې موخې

د یادې څېړنې موخې په لاندې ډول سره ذکر کیږي:

١. د تبعي جزاګانو په تړاو د حنفي فقهې او وضعي قوانینو دریځ روښانه کول.

٢. د تبعي جزاګانو په تړاو په حنفي فقهې او وضعي قوانینو کې د افتراق او اشتراک ټکي په ګوته کول.

## تېرو لیکنوته کتنه

د تبعي جزاګانو په تړاو د حنفي فقهې په ډېرو کتابونوکې بحث ترسره شوی دی، چې په دې ځای کې د دې کتابونو له جملې څخه د یو څو کتابونو یادونه کوو او له هغې سره د خپلې لیکنې توپیر روښانه کوو.

١. **السرخسي:** د شمس الدین السرخسي لیکنه ده، چې په دې کې د تبعي جزاګانو په تړاو د حنفي فقهې نظرونه راخیستل شوي دي، ولې ما بیا په خپله لیکنه کې د دې

نظریاتو ترڅنګ د تبعي جزاګانو په تړاو د وضعي قوانینو دریځ هم روښانه کړی دی.

۲. **التشریع الجنایي الاسلامي:** د شهید عبد القادر عوده کتاب دی، چې په یاد کتاب کې د جزاګانو په تړاو عمومي بحث ترسره شوی دی او ټولې جزاګانې یې تربحث لاندې نیولي دي، ولې ما بیا په خپله لیکنه کې د دغو جزاګانو له جملې څخه یوازې تبعي جزاګانې تربحث لاندې نیولې دي او په پرتلیز ډول مې د وضعي قوانینو سره څېړلي دي.

۳. **الفقه علی المذاهب الأربعه:** د عبدالرحمن الجزیري کتاب، چې په نوموړي کتاب کې د ټولو مذاهبو له مخې جزاګانې تربحث لاندې نیول شوې دي، ولې ما بیا په خپله لیکنه یوازې تبعي جزاګانې رااخیستي هغه هم یوازې د حنفي فقهې له مخې او د وضعي قوانینو سره مې یې پرتله ترسره کړې ده.

## د څېړنې پوښتنې

۱. د حنفي فقهې او وضعي قوانینو له مخې تبعي جزاګانې څه ته وایي؟
۲. د تبعي جزاګانو په برخه کې د حنفي فقهې او وضعي قوانینو ترمنځ د اشتراک او افتراق ټکي کوم دي؟
۳. تبعي جزاګانې په حنفي فقه او وضعي قوانینو کې مشروعیت لري او کنه؟

## مواد او کړنلاره

په دې لیکنه کې د کتابتوني میتود څخه استفاده شوې ده، چې په حنفي فقه کې د تبعي جزاګانو په تړاو له معتبرو سرچینو څخه ګټه اخیستل شوې، ولې په ځینو مواردو کې، چې په معتبرو کتابونو کې څه نه دي پیدا شوي، نو بیا د دویم لاس اخځلیکونو څخه هم استفاده ترسره شوې ده.

## د څېړنې حدود

یاده څېړنه د مذاهبو له جملې څخه یوازې په حنفي فقه کې او د وضعي قوانینو له جملې څخه یوازې د افغانستان په قوانینوکې په پرتلیزه توگه څېړل شوې ده.

## لومړی مبحث: د تبعي جزا پېژندنه او مشروعیت

په دې بحث کې لومړی د تبعي جزاگانو په پېژندنه او بیا په مشروعیت باندې په جلاء جلاء ډول سره بحث ترسره کوو.

### لومړی مطلب: د تبعي جزا پېژندنه

د ښه وضاحت په موخه تبعي جزا په لغوي او اصطلاحي ډول تربحث لاندې نیسو.

#### لومړی جز: د تبعي جزا لغوي پېژندنه

تبعي د التبع څخه اخستل شوې کلمه ده، چې په لغت کې چا پسې د تگ یا د چا پسې د ورتلو او تېرېدو په معنی سره راځي (۸: ۱۳-۱۴).

لکه څرنگه چې الله (جل جلاله) په قرآن کریم کې فرمایي: (وَ جٰوَزْنَا بِبَنِیْٓ اِسْرَآءِیْلَ الْبَحْرَ فَاَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ وَ جُنُوْدُهٗ بَغْیًا وَّ عَدْوًا حَتّٰٓی اِذَآ اَدْرَكَهُ الْغَرَقُ قَالَ اٰمَنْتُ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا الَّذِیْٓ اٰمَنَتْ بِهٖ بَنُوْٓا اِسْرَآءِیْلَ وَ اَنَا مِنَ الْمُسْلِمِیْنَ) (سورت یونس، آیت شمېره: ۹۰).

**ژباړه:** او موږ بني اسرائیل له سمندر څخه پورې ویستل، نو فرعون او د هغه لښکر د ظلم او تېري په غرض په هغوی پسې روان شول آن تر دې، چې کله فرعون په غرقېدوشو، نو غږ یې وکړ ما ومنله، چې له هغه ذات څخه پرته بل حقیقي خدای نشته، چې پر هغه بني اسرائیلو ایمان راوړی دی او زه هم د اطاعت سر ټیټونکوڅخه یم (۱۵: ٦۴۷).

نو له پورته آیت کریمه څخه معلومه شوه، چې تبعي په معنی د تللو سره راځي، لکه د فرعون لښکر، چې بني اسرائیلو پسې لاړ.

**دويم جز: د تبعي جزا اصطلاحي پېژندنه**

دا هغه جزاګانې دي، چې په مجرم باندې د اصلي جزا په ضمن کې بې له دې څخه، چې حکم ورباندې وشي، تطبيقيږي، لکه د مثال په ډول سره د مقتول په وارث باندې دقتل د جزا حکم وشي، نو له ميراث څخه بې له دې، چې قاضي پرې حکم وکړي محروميږي، همدارنګه که په قاذف باندې د جزا حکم وشي، نو بې له دې چې حکم پرې وشي د شهادت له اداء کولو څخه محروميږي (۴: ۵۵۵).

**دويم مطلب: د تبعي جزاګانو مشروعيت**

کولای شو د تبعي جزګانو د مشروعيت په اړه لاندې دلايل ذکرکړو:

**لومړی دليل:** الله (جل جلاله) په قرآن کريم کې فرمايي: (اَلزَّانِیْ لَا یَنْکِحُ اِلَّا زَانِیَةً اَوْ مُشْرِکَةً وَّ الزَّانِیَةُ لَا یَنْکِحُهَا اِلَّا زَانٍ اَوْ مُشْرِکٌ وَ حُرِّمَ ذٰلِکَ عَلَی الْمُؤْمِنِیْنَ) (سورت النور، آيت شمېره: ۳).

**ژباړه:** زنا کار سړی نه نکاح کوي (په رغبت او محبت سره) مګر زنا کاره ښځه يا مشرکه ښځه، او زنا کاره ښځه نه په نکاح کوي (دغې ښځې زا نيې لره په رغبت او مينه سره) مګرسړی زنا کار يا مشرک، او حرام کړی شوی ده دغه (زنا يانکاح له بد کارو سره دحاصلولو د مبلغ لپاره) پرصالحانو عفيفانو) مؤمنانو (۱۲: ۱۰۷۰).

د پورته آيت کريمه لاندې حافظ ابن کثيررحمه الله ليکي: (وَ حُرِّمَ ذٰلِکَ عَلَی الْمُؤْمِنِیْنَ)

**ژباړه:** او دا حرام شوي په مؤمنانوباندې څخه مطلب دبغاتو څخه ښځه کول يا ورکول اوهمدارنګه پاکې او عفيفې ښځې فجارو ته ورکول دي، کوم چې په شريعت مطهره کې د زنا لپاره جزا ذکر شوې ده، هغه د غير محصن او بکر لپاره جلد او تعذيب دی، او محصن لپاره رجم دی، البته دبغاتو سره عدمې نکاح او زنا کار ته د

پاکې او عفیفې ښځې په نکاح نه ورکول د زنا لپاره اصلي جزاګانې نه دي، بلکې د ا جزاګاني تبعي جزاګانې دي د زنا د جرم لپاره (۱: ۲۵٦ ).

**دویم دلیل:** عن ابي هريرة رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: (القاتل لایرث) (٦: ۸۸۳ ).

همدارنګه په یو بل روایت کې له عمر بن خطاب څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: (لیس لقاتل شیء) (۹: ۱۲۷۳).
**ژباړه:** د قاتل لپاره له میراث څخه برخه نشته (۵: ۴٦).

په پورته حدیث شریف کې د قاتل لپاره جزا د میراث څخه محروم کېدل ښودل شوي، په داسې حال کې چې د قتل لپاره اصلي جزا په قرآن کریم کې قصاص او دیت ذکر شوی، نو معلومه شوه، چې د میراث څخه محروم کېدل د قتل لپاره اصلي نه؛ بلکې تبعي جزا ده.

**دویم مبحث: د تبعي جزاګانود تطبیق څرنګوالی او ډولونه**
په دې بحث کې لومړی د حنفي فقهې او بیا د وضعي قوانینو له مخې په جلا، جلا ډول سره د تبعي جزاګانو د تطبیق څرنګوالی اوډولونه تربحث لاندې نیسو.

**لومړی مطلب: د حنفي فقهې له مخې د تبعي جزاګانو د تطبیق څرنګوالی او ډولونه**
په دې مطلب کې لومړی د حنفي فقهې له مخې د تبعي جزاګانو پر څرنګوالي اوبیا يې پر ډولونو باندې په جلا، جلا ډول سره بحث کوو.

**لومړی جز: په حنفي فقه کې د تبعي جزاګانو د تطبیق څرنګوالی**
د حنفي فقهې له مخې د تبعي جزاګانو د تطبیق څرنګوالی د یومثال په ذکر کولو سره روښانه کوو.

په حنفي فقه کې د تبعي جزاګانو لپاره ښه مثال په قذف حد کې د شهادت څخه محرومېدل دي، چې په دُرو باندې د قاذف شخص د وهلو سربېره، په تبعي ډول او پرته له دې چې محکمه پرې حکم وکړي د قاذف شخص شهادت د منلو وړ نه دی او نشي کولای، چې په دعوو، قضيو او محاکمو کې شهادت اداء کړي او نه يې شهادت د اعتبار وړ دی (۱۰: ۲۱۳).

په دې ځای کې يوه بله موضوع، چې په حنفي فقه کې ورته اشاره شوې ده، هغه دا چې آيا د قاذف شخص شهادت به په دايمي ډول سره نه قبلېږي، که چېرې توبه وباسي، نو د توبې ويستلو څخه وروسته يې شهادت قبلېږي او که نه؟

په دې اړه په حنفي فقه کې په لاندې ډول سره صراحت موجود دی:
د امام ابوحنيفه (رح) په نزد د هغه قاذف شخص شهادت تر ابده پورې نه قبلېږي، چې د قذف حد ورباندې تطبيق شي که د حد له تطبيق څخه وروسته توبه هم اوباسي، مګر په هغه حالت کې يې شهادت قبلېدای شي، چې د قذف حد ورباندې تطبيق شوی نه وي (۵۹: ۳).

همدارنګه د امام ابو حنيفه (رح) له نظره کله، چې يو شخص د قضاء په مجلس کې د يوې دعوې په اړه شهادت اداء کړي، نو د شاهد ظاهري حالت ته به کتل کيږي، که ظاهري حالت يې په عدالت باندې دلالت کاوه او شخص مسلمان و، نو په دې صورت کې يې تزکيې ته ضرورت نشته، که دخصم له لورې پرې تور وارد شي او دا ځکه چې په حديث شريف کې راځي (المسلمون عدول بعضهم على بعض الامحدودا في قذف) (۱۴۵: ۲).

**ژباړه:** مسلمانان په خپل منځ کې يو د بل پر وړاندې عادل دي، مګر محدود فی القذف عادل نه دي، اما که چېرې په حدودو او قصاص کې دخصم (مدعي) له لورې په شهودو باندې تور پورې شي، نو په دې صورت کې به د شهودو سري (پټه)

او علني (ښکاره) تزکیه کېږي، مګر امام ابو یوسف او امام محمد (رحمهم الله) وایي، چې د ټولو حقوقو په دعوو کې د شاهدانو تزکیه په سري او علني ډول باندې ضروري ده، خو که خصم پرې تور او د عدالت په نشتون اعتراض نه وي کړی او دلیل یې دا دی، چې قضاء په دلیل باندې بناء ده او هغه د شاهدانو عدالت دی، له بله پلوه په تزکیه کې د قضاء د بطلان څخه مخنیوی کېږي، په اوس وخت کې فتوه هم د امام ابو یوسف او امام محمد (رحمهم الله) په قول باندې ده او دا ځکه، چې د امام ابوحنیفه رحمه الله زمانه د خیرالقرون زمانه وه اما اوس د فساد زمانه ده (۳: ۵۹).

## دویم جز: په حنفي فقه کې د تبعي جزاګانوډولونه

په حنفي فقه کې د ځینو تبعي جزاګانوڅخه یادونه شوې ده، چې په لاندې ډول ورڅخه یادونه کوو:

۱. د قذف حد په تطبیق کې د شهادت څخه محرومېدل.

په دې معنی سره که چېرته په قاذف شخص باندې د قذف حد تطبیق شي، نو د اصلي جزا ترڅنګ چې هغه د دُرو وهل دي، د شهادت څخه محرومېدل په تبعي ډول پرته د قاضي له حکم څخه خپله په اوتومات ډول سره تطبیق کېږي او د قاذف شخص شهادت نه قبلېږي (۱۰: ۲۱۳).

۲. دمقتول په وراث باندې د قتل د جزا ترڅنګ د میراث څخه محرومېدل.

په دې معنی که چېرته یوشخص راپورته شي اوهغه څوک ووژني، چې له هغې څخه میراث وړي، نو د دغه شخص د جرم اصلي جزا د هغې قصاص کول دي، چې هغه به قصاص کېږي، ولې د دې اصلي جزا ترڅنګ د میراث څخه محرومېدل دا تبعي جزا ده او نوموړی مجرم پرته د محکمې او قاضي له حکم څخه په اوتومات ډول له میراث څخه محرمېږي (۳: ۵۹).

**دویم مطلب: دوضعي قوانینو له نظره د تبعي جزاګانود تطبیق څرنګوالی**

په وضعي قوانینو کې کولی شو د تبعي جزاګانو څرنګوالی په دوو بېلابېلو برخو کې تر بحث لاندې ونیسو.

**لومړی جزء: د دایمي تبعي جزاګانو تطبیق**

د ۱۳۹۶ کال جزا په کوډ کې له دې ډول تبعي جزاګانو څخه موخه دا ده، چې په عام ډول محکومیت په مرحله او غیر له هغې د مرتکب په ټول ژوند کې پرې تطبیق کېږي او آثار یې پر محکوم باندې د مرور زمان د اصل په استثناء سره دایمي بڼه لري، چې د تبعي جزاګانو د دې ډول څخه په لاندې ډول سره یادونه شوې ده:

هغه شخص چې د لسو کلونو څخه زیات د حبس په جزا یا د دې قانون د دویم کتاب په لومړي او دویم باب کې په درج شوو جرمونو کې له لسو کلونوڅخه په لږ حبس باندې محکوم شي له لاندې حقوقو او امتیازاتو څخه محرومېږي، خو دا چې د قانون یا محکمې په حکم اعاده حیثیت شوی وي.

۱. په دولتي درې ګونو قواوو او نورو دولتي بنسټونوکې خدمت.

۲. په ټاکنیزو عهدو کې نوماند کېدل.

۳. له نښانونو، مډالونو او دولتي افتخاري القابوڅخه استفاده.

۴. د اداري او مالي فساد د جرم د ارتکاب په سبب د محکومیت په صورت کې د شرکتونو، بانکونو او مؤسسوپه مدیره هیئت کې غړیتوب.

۵. له ادارو، تصدیو، دولتي او مختلفو مؤسسو سره د قرارداد د عقد یا مالي جرمونو د ارتکاب په صورت کې د دولت لخوا د امتیاز ترلاسه کول (۱۴: ۱۷۲ ماده).

**دویم جزء: موقتي یا لنډ مهاله تبعي جزاګانو تطبیق**

د دې ډول جزاګانو څخه موخه هغه جزاګانې دي، چې آثار یې یوازې د محکومیت په دوره کې پر مرتکب باندې پاتې کېږي او کله چې د محکومیت دوره پای ته

ورسېږي، نو د يادو جزاګانو آثار هم پای ته رسېږي، چې په لاندې ډول سره يادو جزاګانوته اشاره کوو:

١. په معاملو او دعوو کې وصايت، وکالت او قيموميت.

٢. په عقودو او معاملو کې شهادت.

٣. دمالونو او املاکو مستقيمه اداره د وقف او وصيت په استثنی سره (۱۷۳: ۱۴، ماده).

## دريېم مبحث: د حنفي فقهې او وضعي قوانينو له نظره د تبعي جزاګانو پرتله

په دې بحث کې د اسلامي فقهې او وضعي قوانينو له نظره د تبعي جزاګانو پر پرتله باندې بحث کوو، چې د لا وضاحت په موخه په لومړي مطلب کې د حنفي فقهې او وضعي قوانينو له نظره د تبعي جزاګانو په مشترکو ټکو او بيا يې د اختلاف په ټکو باندې په جلا، جلا ډول سره بحث کوو.

### لومړی مطلب: د حنفي فقهې او وضعي قوانينو له نظره د تبعي جزاګانومشترک ټکي

په دې مطلب کې د حنفي فقهې او وضعي قوانينو له مخې د تبعي جزاګانو په مشترکو ټکو باندې بحث کوو.

#### لومړی جزء: د عدالت د اصل له پلوه

په دې معنی او مفهوم سره، چې په دواړو يعنې په حنفي فقه او په وضعي قوانينو کې د تبعي جزاګانو د وضعه کولو څخه اساسي موخه د عدالت اصل تأمين دی او همدې اصل ته په کتلو سره د اصلي جزاګانو ترڅنګ تبعي جزاګانې هم په نظرکې نيول شوې دي.

#### دويم جزء: د ټولنيز نظم د ساتلو له پلوه

په دې معنی او مفهوم سره، چې په حنفي فقه او وضعي قوانينو دواړو کې چې د اصلي جزا ترڅنګ تبعي جزا ګانې وضعه شوي دي، نو اساس يې د ټولنيز نظم ساتنه

ده، چې د تبعي جزاگانو د تطبيق سره بايد ټولنيز نظم اعاده شي او په عمل کې موږ گورو، چې کله هم د اصلي جزاگانو ترڅنگ تبعي جزاگانې تطبيق شوې دي، نو د ټولنې تللی نظم په ډېر ښه شکل سره اعاده شوی دی.

**دريیم جزء: د اخلاقي او اصلاحي موخې له پلوه**

په دې معنی، چې په دواړو هم په حنفي فقه او هم په وضعي قوانينوکې د تبعي جزاگانو د وضعه کولو موخه د مجرم د اخلاقو دوباره اصلاح او ترميم دی، چې ياده موخه د تبعي جزاگانو پر تطبيق سره ترلاسه کېږي، يعنې کومې تبعي جزاگانې، چې په حنفي فقهې او وضعي قوانينو په نظر کې نيولي دي او په عمل کې تطبيق شي، نو کېدلی شي چې په دې سره د مجرمينو دوباره اصلاح وشي.

**دويم مطلب: د حنفي فقهې او وضعي قوانينو له نظره د تبعي جزاگانو د بېلوالي ټکي**

په دې مطلب کې به د حنفي فقهې او وضعي قوانينو له نظره د تبعي جزاگانو په برخه کې، چې کوم د بېلوالي ټکي وجود لري په جلا ډول سره تربحث لاندې ونيسو.

**لومړی جزء: د جزا د ټاکلو سرچينې له پلوه**

په دې معنی سره په حنفي فقه کې د تبعي جزاگانو سرچينې الهي احکام دي، چې دا موضوع موږ مخکې په تفصيل سره تربحث لاندې ونيوله، ولې په وضعي قوانينو کې چې کومې تبعي جزاگانې ټاکل شوې دي، نو د هغې سرچينې د انسان په لاس جوړ شوي وضعي قوانين دي.

**دويم جزء: د تطبيق د تمرکز له پلوه**

په دې معنی سره په حنفي فقه کې چې کومې تبعي جزاگانې ټاکل شوې دي، نو په دنيا او اخرت دواړ کې د تطبيق تمرکز ته ډېره پاملرنه شوې ده، ولې په وضعي قوانينو

کې بیا تمرکز یوازې په دنیاوي نظم باندې شوی دی او یوازې په دنیاوي لحاظ سره د ټولنې نظم په نظرکې نیول شوی دی.

**درېیم جزء: د جزا د موخې له پلوه**

په دې معنی سره چې په حنفي فقه کې د تبعي جزاگانود ټاکل کېدو موخه د الهي احکامو پلي کول او گناهگارانو اصلاح کول دي په داسې حال کې، چې په وضعي قوانینو کې بیا د تبعي جزاگانو د ټاکل کېدو موخه د ټولنیز نظم ټینگښت او د جرایمو مخنیوی دی.

**څلورم جزء: د تبعي جزاگانو د ډولونو له پلوه**

په دې معنی سره، چې په حنفي فقه کې تبعي جزاگانې په عام ډول سره پرته له وېشنې څخه ذکرشوې دي او یوازې تطبیق ته یې اشاره شوې ده، په داسې حال کې چې په وضعي قوانینو کې تبعي جزاگانې بیا په ډولونو وېشل شوې دي، چې عبارت دي له، دایمي تبعي جزاگانې او مؤقتي یا لنډ مهاله تبعي جزاگانې.

**پایله**

(د حنفي فقهې او وضعي قوانینو له نظره د تبعي جزاگانو پرتلیزه څېړنه) د موضوع له څېړلو څخه وروسته دې نتیجې ورسیدم.

۱. د حنفي فقهې له مخې تبعي جزاگانې عبارت له هغه جزاگانو څخه دي، چې په مجرم باندې پرته د قاضي له حکم څخه خپله په اوتومات ډول سره تطبیق کېږي، لکه د قذف حد په تطبیق کې د شهادت نه قبلېدل.

۲. د حنفي فقهې او وضعي قوانینو له مخې تبعي جزاگانې په ځینو برخو کې (عدالت اصل له مخې، ټولنیز نظم ساتلو له مخې، اخلاقي او اصلاحي موخې له مخې) ورته والی او مشابهت لري، چې یاد موارد په څېړنه کې په تفصیلي ډول سره تربحث لاندې نیول شوي دي.

۳. د حنفي فقهې او وضعي قوانينو له مخې تبعي جزاګانې په ځينو برخو کې (جزا ټاکلو سرچينو له مخې، تطبيق د تمرکز له مخې، جزا هدف له مخې، تبعي جزاګانو ډولونو له مخې) سره توپيرونه لري، چې ياد توپيرونه په پورته څېړنه کې په پوره تفصيل سره تربحث لاندې ونيول شول.

۴. په حنفي فقهې او وضعي قوانينو کې د نورو جزاګانو ترڅنګ تبعي جزاګانې په نظر کې نيول شوې دي او د يادو جزاګانو هدف په دواړه حقوقي نظامونو کې د عدالت د اصل تطبيق او د مجرمينو اصلاح او روزنه ده.

**مناقشه**

پورتنۍ پايلې په لاندې کرښو کې تر مناقشې لاندې نيول کېږي:

۱. تبعي جزاګانې عبارت له هغه جزاګانو څخه دي، چې د اصلي جزاګانو ترڅنګ پرته د قاضي له حکم څخه خپله په اوتومات شکل سره په مجرم باندې تطبيق کېږي، د يادې جزا تطبيق په دې ډول سره، چې پرته د قاضي له حکم څخه په مجرم باندې تطبيق کېږي، په اسلامي شريعت کې د جزا ټاکلو له روحيې څخه معلومېږي، چې تبعي جزاګانې د اصلي جزاګانو سره پيوسته دي او دې ته ضرورت نشته، چې د تبعي جزاګانو په تړاو دې قاضي په جلاء ډول سره حکم وکړي، لکه د مثال په ډول سره په قرآن کريم د قذف حد لپاره ټاکل شوې جزا، چې عبارت ده د اتيا دُرو څخه ترڅنګ په دايمي ډول سره د شهادت نه قبلېدلو جزا متصل ذکرشوې ده او د دې ضرورت نه ليدل کېږي، چې د شهادت د نه قبلېدلو په اړه دې قاضي په جلاء ډول سره حکم وکړي، ځکه ياده جزا د اصلي جزا سره پيوسته ده او پرته د حکم کولو څخه خپله په اوتومات ډول سره تطبيق کېږي.

۲. د حنفي فقهې او وضعي قوانينو له مخې، چې د تبعي جزاګانو په برخه کې کوم موارد څه مشابهت لري، لامل يې همدا دی، چې په دواړو حقوقي نظامونو کې د

تبعي جزاګانو د وضعه کولو موخه يوه ده، هغه که د عدالت اصل له مخې دی، څکه دواړه غواړي، چې په ټولنه کې د جزاګانو په برخه کې د عدالت اصل تطبيق شي، که هغه د ټولنيز نظم په برخه کې دي او يا هم نورو برخو کې. دواړه حقوقي نظامونه غواړي، چې د تبعي جزاګانو پر اساس په ټولنه کې ټولنيز نظم رامنځته کړي که هغه د اخلاقي او اصلاحي موخو له حيثه دی او که له نورو، دواړه غواړي چې دتبعي جزاګانو له مخې په ټولنه کې اخلاقي او اصلاحي موخو ته ځان ورسوي.

۳. د حنفي فقهې او وضعي قوانينو له مخې، چې د تبعي جزاګانو په برخه کې کوم توپيرونه شتون لري، لامل يې همدا دی، چې په حنفي فقه کې د وضعه شويو تبعي جزاګانو اساس او بنسټ اسلامي شريعت دی او ياده برخه د ستونزو او خلاوو څخه په مکمل ډول سره پاکه ده، ولې د وضعي قوانينو په برخه کې بيا هغه تبعي جزاګانې پيشبيني شوې دي، چې اساس او سرچينه يې وضعي قوانين دي او ياد قوانين د انسان په لاس باندې جوړ شوي دي او په دې برخه کې د خطاء او او خلاء امکان حتماً وجود لري، نو په همدې اساس باندې موږ ويلي شو، چې حنفي فقه او وضعي قوانين د تبعي جزاګانو په برخه کې يو لړ تفاوتونه لري، چې ياد تفاوتونه په پورته څېړنه کې موږ په تفصيلي ډول سره ذکر کړل.

۴. په حنفي فقه او وضعي قوانينو دواړو کې تبعي جزاګانې وجود لري، چې په حنفي فقه کې د تبعي جزاګانو وجود په پورته څېړنه کې د مشروعيت تر عنوان لاندې په پوره تفصيل سره ذکر شو، چې تبعي جزاګانې په اسلامي شريعت کې مشروعيت لري او د مشروعيت حکمت يې هم په دې کې دی، چې يادې جزاګانې د مجرمينو د اصلاح او روزنې په برخه کې خورا مهمې دي او دا ارزښت يې په عمل کې په ښه ډول سره روښانه شوی هم دی، همدارنګه د حنفي فقهې ترڅنګ په وضعي قوانينو کې هم د نورو جزاګانو ترڅنګ تبعي جزاګانو ته ځای

ورکړل شوی دی او تبعي جزاګانې يې د اصلي جزاګانو سره په دوو عنوانونو باندې متصل کړې دي، چې يو ته يې مؤقت يا لنډ مهاله تبعي جزاګانې ويل کېږي او بل ته يې دايمي يا اوږد مهاله تبعي جزاګانې ويل کېږي، چې د هر يو د تطبيق ځايونه يې په وضعي قوانينو کې روښانه شوي دي او د روښانتيا ترځنګ د تطبيق هدف يې هم تر ډېره ترلاسه شوی دی او په عمل کې چې هغه ټولنيز نظم رامنځته کول دي او په درست شکل سره د مجرمينو اصلاح او روزنه ده.

**پايله اخيستنه**

د حنفي فقهې او وضعي قوانينو له مخې تبعي جزاګانې په ځينو برخو کې سره مشابهتونه لري، چې عبارت دي له، د مجرم د اصلاح او تربيې له مخې، په ټولنه کې د عدالت اصل د تطبيق له مخې، ولې په ځينو برخو کې بيا سره توپيرونه هم لري، لکه د تبعي جزا ټاکلو سرچينو له مخې، چې په حنفي فقه کې د تبعي جزاګانو سرچينه الهي قوانين او احکام دي ولې په وضعي قوانينو کې بيا د تبعي جزاګانود ټاکلو سرچينې وضعي قوانين او انساني عقل دی، همدارنګه د جزاګانو د ډولونو له حيثه سره هم توپير لري.

**وړانديزونه**

(د حنفي فقهې او وضعي قوانينوله نظره د تبعي جزاګانو پرتليزه څېړنه) موضوع له څېړلو څخه وروسته لاندې وړانديزونه لرم.

١. مقنين د قانون د وضعه کولو په وخت کې ټول هغه ټکي، چې د تبعي جزاګانو په تړاو په حنفي فقه کې شتون لري بايد په پام کې ونيسي.

٢. قضات، څارنوالان او مدافع وکيلان د جزاګانو د تطبيق او غوښتنې په وخت کې په وضعي قوانينو کې د ټاکل شويو تبعي جزاګانو ترڅنګ بايد د حنفي فقهې ټاکل شوې تبعي جزاګانې هم په پام کې ونيسي.

۳. په راتلونکي کې د موضوع په رابطه د دې موضوعاتو څېړل اړين دي (د حنفي فقهې او وضعي قوانينوله نظره د تبعي جزاګانو په تطبيق کې عملي ستونزې او په عملي ساحه کې د حنفي فقهې احکامو ته عدم پاملرنه).

**اخځليکونه**


القرآن کريم

۱. ابن کثير، حافظ عماد الدين اسماعيل بن عمر. (۱۴۰۱هـ ق). تفسيرالقرآن الکريم، جلد ۳، بيروت، لبنان.

۲. الدارقطني، أبوالحسن علي بن عمر بن أحمد بن مهدي بن مسعود بن النعمان بن دينار البغدادي. (۲۰۰۴م). سنن الدار قطني، جلد (۴)، لبنان: مؤسسة الرسالة.

۳. السرخسي، محمد بن احمد بن ابی سهل شمس الأيمه (_____) کتاب المبسوط للسرخسي، جلد (۹)، لبنان: دارالمعرفه.

۴. عوده، شهيد عبد القادر. (۱۴۰۵هـ ق). التشريع الجنايي الاسلامي بالقانون الوضعي لبنان: دار احياء التراث العربي.

۵. الکوزی، عبيد الرحمن. (۱۳۹۹ل). ميراث حقوق، دويم چاپ، جلال آباد: مسلم خپرونديه ټولنه.

٦. ماجه، ابو عبد الله محمد بن زيد ابن. (۱۴۰۳هـ ق). سنن ابن ماجه، جلد (۲)، لبنان: دارالفکر.

۷. محمد شفيع. (۲۰۰۰م). تفسير معارف القرآن،، دريیم جلد تاج کتب خانه.

۸. منظور، محمد بن مکرم ابن. (۱۹٦۸). لسان العرب، جلد، ۲.

۹. انس، بن مالک. (۱۴۰٦هـ ق). الموطا، بيروت: لبنان دار احياء التراث العربي.

۱۰. الجزيري، عبدالرحمن بن محمد عوض. (۲۰۰۳م). الفقه على المذاهب الأربعه، پنځم جلد، لبنان: دارالکتب العلمية.

۱۱. ترجمة معاني القرآن الکريم الى لغة البشتو، جلد (۱)

۱۲. ترجمة معاني القرآن الكريم الى لغة البشتو، جلد (۲)

۱۳. د افغانستان اسلامي امارت. (۱۴۳۵هـ ق). د عدلي محكمو اداري او حقوقي اجراآتو اصولنامه، د تميزعالي رياست.

۱۴. د افغانستان د جزا کوډ. (۱۳۹۶هـ ش). پرلپسې ګڼه (۱۲۶۰).

۱۵. د يوبندي، محمود الحسن او نور. (۱۳۹۳ هـ ش). کابلی تفسير، ژباړن: د افغانستان د علماؤ هئيت، جلد (۱).

۱۶. د يوبندي، محمود الحسن او نور. (۱۳۹۳ هـ ش). کابلی تفسير، ژباړن: د افغانستان د علماؤ هئيت، جلد (۳).

**حبیب‌الرحمن سربلند**
حقوقي علومو څانګه، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، روښان پوهنتون

# د اسلامي فقهې او د افغانستان د ۱۳۵۵ ل کال مدني قانون له نظره د نکاح په عقد کې د ښځې مالي حقوق او امتیازات

**لنډیز**

دغه څېړنه د اسلامي فقهې او د افغانستان ۱۳۵۵ ل کال مدني قانون له نظره د نکاح په عقد کې د ښځې مالي حقوقو او امتیازاتو ته ځانګړې شوې ده. ښځه د اسلامي فقهې او افغانستان د ۱۳۵۵ ل کال مدني قانون له مخې د مهر، نفقې او اوسېدو د ځای په برخو کې معلوم او ځانګړي مالي حقوق لري. مهر هغه مالي مکلفیت دی، چې د نکاح د عقد یا حقیقي دخول په سبب مېړه پرې مکلف دی، نفقه د ښځې خوراک، لباس، درملنه او نورې اړتیاوې په ځان کې رانغاړي او د اوسېدو ځای باید د هغې له شان او حیثیت سره سم برابر شي.

د دې موضوع اهمیت په دې کې دی، چې ښځې په ډېرو ټولنیزو شرایطو کې د خپلو حقونو څخه بې برخې کېږي، دا څېړنه د اسلامي فقهې او د افغانستان ۱۳۵۵ ل کال مدني قانون له نظره د ښځې مالي حقوق روښانه کوي، څو د دې محرومې طبقې په حق کې یو مثبت بدلون رامنځته شي.

د څېړنې موخه دا ده، چې د ښځې مالي حقوقو اړوند فقهي او قانوني احکام روښانه شي او د ټولنې لپاره د حقوقي او قانوني پالېسیو په جوړولو کې مرسته وکړي. په دې څېړنه کې له کتابتوني میتود او معتبرو فقهي او قانوني سرچینو څخه ګټه اخیستل شوې ده.

د پايلې په توگه دا څرگنده شوه، چې د ښځې مالي حقوق د اسلامي شريعت او د افغانستان د ۱۳۵۵ ل کال مدني قانون دواړو له مخې معتبر دي او د دې حقوقو مراعاتول د ښځو د کرامت او ټولنيز عدالت لپاره اړين دي.

**کليدي کلمې:** فقه، قانون، مالي حقوق، مسکن، مهر، نفقه

## سريزه

الحمدلله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى اله واصحابه ومن والاه وبعد: قال الله تبارک وتعالى: (الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ بِمَا فَضَّلَ اللَّهُ بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ وَبِمَا أَنْفَقُوا مِنْ أَمْوَالِهِمْ) (سورة النساء، ايت: ۳۴).

**ژباړه:** سړي حاکمان مقرر شوي دي پر ښځو باندې په سبب د دې، چې فضيلت ورکړی دی الله تعالى ځيني د دوی پر ځينو نورو باندې او په سبب د دې، چې نفقه کوي دوی پر دغو ښځو د مالونو خپلو.

د اسلام دين يو کامل او شامل دين دی، چې د ژوند ټولو اړخونو ته رسيدنه کوي، د ژوند په ټولو برخو کې يې نارينه او ښځينه ته بشپړ حقوق ورکړي، چې دا د دې سبب کيږي، څو اسلام د يو متمايز دين په توگه وپيژندل شي، چې ټول اصول يې په عدالت باندې ولاړ دي. د نکاح په عقد کې د ښځې مالي حقوق او امتيازات يوه داسې موضوع ده، چې د اسلامي شريعت او معاصر قوانينو په سياق کې خورا مهمه ده، د ښځې مالي حقوق نه يوازې د هغې اقتصادي استقلال، بلکې د هغې د ټولنيز او کلتوري موقف له پلوه هم ستر اهميت لري. د نکاح په عقد کې ښځې ته د مهر، نفقې، د ژوند لپاره اړين مالي لگښتونه، د پام وړ اصول او حقوق ورکول شوي.

## د څيړنې اهميت

زموږ په ټولنه کې په ډيرو مواردو کې د ښځې حقوق نه مراعتيږي او د دوی حقوق د ناپوهۍ له امله په ځانگړې توگه د مالي حقوقو په برخه کې تر پښو لاندې کيږي،

خو بيا هم په اسلام کې د ښځو حقوقو ته ډېره پاملرنه شوې او په دې برخه کې اسلامي فقهې په بشپړه توگه د ښځې مالي حقوق تشريح کړي او همدارنگه د افغانستان د ۱۳۵۵ ل کال مدني قانون هم د ښځې مالي حقوقو په اړه ځانگړي احکام لري.

د اسلامي فقهې په تاريخ کې د ښځې مالي حقوق د هغې د انساني کرامت او حقونو پر بنسټ تعريف شوي دي، په اسلامي فقه کې ښځه د خپل مال، مهر او اقتصادي استقلال په برخه کې له ځانگړو حقوقو برخمنه ده. د ښځې مهر ورکول د نکاح يوه اساسي برخه گڼل کېږي، چې د مېړه د پوره مسؤليت او ښځې د مالي استقلال څرگندونه کوي. اسلام د ښځې د مالي حقونو د خوندي کولو لپاره روښانه اصول وضع کړي، چې د ښځې د ځانگړې واکمنۍ او اقتصادي حيثيت پر اساس دي.

## د څېړنې د اختيار لاملونه

دا چې ولې مې د خپلې څېړنې لپاره دغه موضوع وټاکله لوی لامل يې دا و چې زموږ په ټولنه کې په ډېرو مواردو کې د ښځې مالي حقوقو ته پاملرنه نه کېږي په ځانگړې توگه مهر او نور اړونده حقوق يې، نو ومې غوښتل، چې په دې برخه کې څېړنه وکړم، څو خلک د ښځې مالي حقوقو په اهميت پوه شي، همدارنگه په کتابتونونو کې د ښځې مالي حقوقو په هکله په پښتو ژبه کې تر ډېره بريده علمي مواد شتون نه لري، که وي هم هغه به په نشت کې حساب دی، نو د دې لپاره چې دغه موضوع خلکو ته روښانه شي او په دې برخه کې شته تشه ډکه شي غوره مې وبلله، چې ياده موضوع وڅېړم.

## د څېړنې موخې

د دې موضوع موخې په لاندې توگه ذکر کوو:

۱. د نکاح په عقد کې د ښځې مالي حقوقو روښانه کول.

۲. د فقهې او د افغانستان د ۱۳۵۵ ل کال مدني قانون له نظره د نکاح په عقد کې د ښځې مالي حقوقو د احکامو څېړل.

۳. د فقهې او د افغانستان د ۱۳۵۵ ل کال مدني قانون له نظره د مهر، نفقې او د مسکن اړونده احکامو روښانه کول.

## د څېړنې تګلاره

دا څېړنه په کیفي څېړنو پورې تړاو لري، چې په ځانګړي ډول د فقهي او قانوني سرچینو د تحلیل او پرتله کولو لپاره ترسره شوې ده، څېړنه کې هڅه شوې، چې د اسلامي شریعت او د افغانستان د ۱۳۵۵ ل کال مدني قانون له مخې د ښځې مالي حقوق روښانه شي.

د څېړنې د ترسره کولو لپاره د کتابتوني میتود څخه استفاده شوې ده. په دې میتود کې لاندې لارې کارول شوې دي:

**تحلیلي میتود:** د اسلامي فقهې او قانوني موادو ژور تحلیل، ترڅو د ښځې مالي حقوق ښه درک شي.

**مقایسوي میتود:** د اسلامي فقهې احکام د افغانستان د ۱۳۵۵ ل کال مدني قانون سره پرتله شوي دي، څو د تطابق او توپیرونو روښانه انځور وړاندې کړي.

د دغې څېړنې په ترسره کولو کې هڅه شوې، چې له بېلابېلو علمي کتابونو، علمي لیکنو، په واقعیتونو او حقایقو ولاړو سرچینو، نویو علمي رسالو څخه ګټه اخیستل شوې.

## د څېړنې پوښتنې

۱. مالي حقوق څه ته ویل کېږي؟

۲. ایا ښځه د نکاح په عقد کې مستقل مالي حقوق لري؟

۳. فقه او د افغانستان د ۱۳۵۵ ل کال مدني قانون د نکاح په عقد د ښځې مالي حقوقو په اړه کوم ډول صراحت لري؟

**تېرو ليکنو ته لنډه کتنه**

د دې موضوع په اړه پخوا هم څه نا څه ليکنې شوې دي، ولې په دې موضوع کې کوم خاص او مستقل کتاب شتون نه لري، خو د فقهې په کتابونو کې دا موضوع خاص اهميت او ځانته ځای لري، همدارنګه ځينې عربي ليکوالانو هم په دې برخه کې ليکنې کړي، ولې په مستقل ډول د نکاح په عقد کې د ښځې مالي حقوقو په اړه يې ليکنه نه ده کړې لکه د دکتور سيد عبدالعظيم کتاب (عاشروهن بالمعروف، ناشر درالايمان، اسکندريه) چې په دې کتاب کې د ښځې د مالي حقوقو سربېره په مفصله توګه د نورو حقوقو څخه هم يادونه شوې، ما هم له همدې کتابونو، فقهې او قانون په رڼا کې خپلې څېړنې ته وضاحت ورکړی.

په اسلامي فقه کې د ښځو مالي حقوق د مهر، نفقې او مسکن په بڼه تعريف شوي دي. ډېری فقهي کتابونو لکه الفقه الاسلامي وأدلته (وهبة الزحيلي) او فقه النکاح والفرائض (محمد عبداللطيف قنديل) کې ښځې ته د مالي حقوقو ارزښت او اړوند احکام په بشپړ ډول سره ذکر شوي دي. دغه ليکنه د مالي حقوقو ترڅنګ د مېړه مکلفيتونه هم بيانوي، په ځانګړي ډول د مهر د مقدار ټاکنه، د نفقې د شرايطو وضاحت او د ښځې لپاره د اوسېدو مناسب ځای برابرول د فقهي احکامو د مهمو برخو په توګه بحث شوي دي.

په معاصرو څېړنو کې ښځو ته د اسلامي شريعت او قانون له مخې د مالي حقوقو ارزښت په ټولنيزو او اقتصادي پرمختګونو کې د ښځو رول ته اړوند ګڼل شوی دی. د معاملات المالية اصالة ومعاصرة (ابو عمر دبيان) او الإسلام عقيدة وشريعة (محمود شلتوت) په څېر معاصرو ليکنو کې ښځې ته د مالي حقوقو د ورکړې ټولنيزې او اخلاقي اغېزې تحليل شوې دي. دغه ليکنه په دې ټينګار کوي، چې د ښځو مالي

حقوق نه يوازې د ښځو د اقتصادي خپلواکۍ لپاره مهم دي، بلکې د کورنۍ اړيکې پياوړې او ټولنيز عدالت رامنځته کوي.

سره له دې، چې په فقهي او قانوني سرچينو کې د ښځو مالي حقوق په تفصيل سره بيان شوي دي، خو په عملي ډول د دې حقوقو پلي کېدو کې ستونزې شته، ډېرى ليکنې يوازې د حقوقو تعريف او ارزښت بيانوي، خو د ټولنيزو خنډونو د حل لپاره کافي وړانديزونه نه لري.

**د مالي حقوقو پېژندنه**

دا چې زموږ د بحث اصلي موضوع (د فقهې او قانون له نظره د نکاح په عقد کې د ښځې مالي حقوق او امتيازات) ده، ولې د دې لپاره چې موضوع مو په پوره ډول روښانه شي غوره به دا وي، چې لومړى مالي حقوق وپېژنو او وروسته خپلې اصلي موضوع ته داخل شو.

**لومړى مبحث: مالي حقوقو تعريف**

د دې لپاره، چې مالي حقوق وپېژنو، نو همدا موضوع د دوو جلا عنوانو په ترڅ کې تر بحث لاندې نيسو او هغه په دې ترتيب چې لومړى مال او دويم حقوق تعريفوو.

**لومړى مطلب: د مال تعريف**

مال په لغت کې په هغه شي باندې اطلاق کېږي، چې د انسان تر واک او لاس لاندې وي او په فعل سره ترې ګټه واخلي، برابره خبره ده که چيرې په اعيانو کې وي، لکه سره زر او که په منافعو کې وي، لکه سورلۍ او يا په کور کې اوسېدل وي؛ مګر هغه شيان، چې د انسان د واک او لاس لاندې نه وي مال نه حسابېږي، لکه په هوا کې مارغان او نور (۱۴: ۳۹۸).

بل تعريف فقهاء داسې ذکر کوي، چې مال مفرد دی او جمع يې اموال راځي، چې په اصل کې (مول) په واو باندې دی او د واو حرکت (فتحه) زور چې له هغه څخه مخکې راغلی، له دې کبله په الف بدل شوی، چې مال لوستل کېږي.

**ابن عبدالبر مال داسې تعريفوي:** ټول هغه شيان، چې تر ملکيت لاندې راځي او په مال کې د زياتوالی سبب کېږي عبارت له مال څخه دی.

په نبوي سنتو او د صحابوو په اقوالو کې د مال اطلاق په ډېرو شيانو کېږي، لکه بڼ، ځمکه، کالي او ټول هغه شيان چې خوړل او اغوستل کېږي عبارت له مال څخه دي (۵: ۱۱۲).

**دويم مطلب: د حقوقو تعريف**

لومړی حقوق په لغوي لحاظ او دويم يې په اصطلاحي ډول در وپېژنو.

**لومړی جزء: د حق لغوي معنی او مفهوم**

حق په لغت کې د باطل ضد، واجب، برخه، حکم او په نورو معنا ګانو راغلی.

**دويم جزء: د حق اصطلاحي تعريف**

د فقهاو له نظره د حق تعريف په دوو معناګانو راځي، عامه او خاصه.

**لومړی فقره: د حق عام تعريف**

په اسلامي فقه کې ټول هغه اعيان، منافع او مصلحت، چې د شريعت لخوا شخص ته په هغې باندې د واک، منعې، يا د هغه ورکولو او يا له هغه څخه د تنازل کول، عبارت له حق څخه دی.

لکه په اعيانو کې، چې وواييي دا کتاب زما حق دی او يا د دې کتاب ملکيت زما حق دی او يا هم په مصالحو کې په عامه توګه لکه، حضانت د مور حق دی، په نفس او مال باندې ولايت د پلار حق دی.

همدارنګه حق په عامه اصطلاح کې په منافعو، اعیانو، مصالحو که هغه مادي وي او یا غیر مادي وي دلالت کوي.

**دویمه فقره: د حق خاص تعریف**

عبارت له هغه حقوقو څخه دی چې شرعي اعتبار یې مصالح دي چې د هغې منځته راتلل یوازې د شریعت له خوا ټاکل شوي وي، لکه د شفعې حق، خیار حق، طلاق حق، قصاص او داسې نور ( ۵: ۱۶۱-۱۶۹).

**الف: د حقوق پوهانو له نظره د حقوقو تعریف**

د حقوقو علم لکه څرنګه، چې معلومېږي له ټولنیزو علومو څخه یو برجسته او مهم علم دی، چې تر اوسه پورې یو واحد تعریف نه لري او هر چا ورته جلا جلا تعریفونه کړي، چې ځینې تعریفونه یې د بېلګې په ډول دلته ذکر کوو.

**کانت وایي:** حقوق د هغو ټولو شرایطو مجموعه ده، چې د هغې پر اساس د یو شخص اراده د ازادۍ د اصل سره سمه د نورو د ګډې ارادې او ګټو سره یووالی مومي.

**مایوس مک دوګال وایي:** حقوق د قدرت لرونکي مقام هغه احکام دي، چې اغېزناک ځواک او قوي کنټرول سره یوځای وي. (۱۳: ۵)

نو د خپل بحث په نتیجه کې ویلای شو، چې مالي حقوق عبارت له هغه حقوقو څخه دي، چې مالي مسایل ترتیب او تنظیموي.

**دویم مبحث: د نکاح په عقد کې د میرمنې مالي حقوق د فقهې له نظره**

د دې لپاره، چې د نکاح په عقد کې د میرمنې مالي حقوق او امتیازات د فقهې له نظره وڅېړو او په دې هکله لا ډېر معلومات ترلاسه کړو غوره به وي، چې په دې برخه کې یو شمېر موضوعات په لاندې ډول یو د بل پسې تر بحث لاندې نیسو.

**لومړی مطلب: مهر**

مهر چې د ميرمنې د مالي حقوقو څخه ګڼل کېږي په دې مبحث کې موږ مهر په درې بېلابېلو عنوانونو کې تر بحث لاندې نيسو، چې لومړی د مهر تعريف، دويم د مهر مشروعيت دلايل او درېيم د مهر ډولونه.

**لومړی جزء: د مهر تعريف**

مهر عبارت له هغه مال څخه دی، چې د نکاح د تړون يا حقيقي دخول له امله په مېړه باندې لازمېږي او يا مهر عبارت له هغه مال څخه دی، چې د نکاح د عقد او يا د وطی په وجه ښځه د هغه مستحقه ګرځي، مهر په بېلابېلو نومونو، لکه صداق، نحلة، فريضة، طول او يا هم د علايق په نوم يادېږي (۱۴: ۲۳۰).

**دويم جزء: د مهر ډولونه**

د فقهاؤ په اند مهر په دوه ډوله دی، لومړی مهر مسمی او دويم مهر مثل.

**لومړی فقره: مهر مسمی**

عبارت له هغه مهر څخه دی، چې د نکاح د عقد په وخت کې نومول کېږي او يا هم له عقد څخه وروسته په رضايت باندې ټاکل کېږي په داسې توګه، چې په صراحت سره په عقد کې ورباندې اتفاق وشي (۱۴: ۲۵۲).

او يا هم هغه مهر، چې په عقد کې صحيح نومول شوی وي او دواړو لورو پرې اتفاق کړی وي او يا هم له عقد څخه د ښځې لپاره ټاکل شوی وي په داسې توګه چې عقد صحيح وي او رضايت هم شتون ولري (۱۱: ۱۹۳).

**دويمه فقره: مهر مثل**

دا هغه مهر دی، چې د ښځې په امثالو کې د هغه لپاره ټاکل کېږي (۱۲: ۳۹جلد، ۱۵۳).

د احنافو په اند مهر مثل هغه مهر ته ويل کېږي، چې دښځې مهر د پلار لخوا د نورو ښځو سره يو شان وي. د مهر د اندازې په اړه فقهاء بېلابېل نظرونه لري، ځينې فقهاء وايي، چې هر څه په مهر کې راځي، خو په دې شرط چې مال وي او قيمت ولري.

بيا ځينې نور فقهاء وايي، چې بايد مهر د خپلې ټاکلې اندازې څخه کم نه وي، چې دغه ټاکلې اندازه ځينې فقهاء درې (۳) درهمه او ځينې نور لس (۱۰) درهمه يادوي، د فقهاؤ په اتفاق سره د مهر زياته اندازه نه ده ټاکل شوې (۶: ۱۴۲).

**درېيم مبحث: مهر د افغانستان د ۱۳۵۵ ل کال مدني قانون له نظره**

د افغانستان مدني قانون ۹۸ مادې څخه تر ۱۳۰ مادې پورې د نکاح په عقد کې د ښځې مالي حقوقو ته اشاره کړې، دغه حقوق يې د اسلامي فقهې څخه اخيستې، چې عبارت دي له مهر، نفقه او د اوسېدلو ځای څخه، غواړو دغه حقوق په لاندې توګه روښانه کړو.

د افغانستان د ۱۳۵۵ ل کال مدني قانون د مهر په هکله د ۹۸ مادې څخه تر ۱۱۴ مادې پورې څرګندونې لري، د مهر په هکله ۹۸ ماده داسې صراحت لري: (په دخول، صحيح خلوت يا د زوجينو څخه د يوه په مرګ که څه هم دا مرګ د دخول يا صحيح خلوت تر مخه صورت موندلی وي ټول مهر لازمېږي (د افغانستان مدني قانون، ۳: ۹۸ ماده).

په پورته ذکر شوې ماده کې د مهر د لزوم والي لپاره د نکاح عقد شرط بولي سربېره پر دې که چېرې زوجين د دخول او يا هم د صحيح خلوت څخه مخکې مړ شي بيا هم ټول مهر لازمېږي.

پورته ماده د حنفي فقهې مطابق صراحت لري، چې د حنفي فقهې مطابق ټول مهر يوازې د نکاح عقد په رامنځته کيدو سره لازميږي. که چيرې د دخول او يا هم صحيح خلوت څخه مخکې طلاقه کړي وي نو بيا د مهر نيمايي لازميږي.

**لومړی مطلب: مهر په اړه د فقهې او د افغانستان د ۱۳۵۵ ل کال مدني قانون مقارنه**

**لومړی جزء: فقهي امتيازات**

۱. په فقه کې مهر د ښځې د عزت او کرامت په توګه ګڼل کيږي، چې د هغه مال د بشپړ کنټرول حق ورکوي.

۲. مهر د ښځې د مالي استقلال څرګندونه کوي او ښځه حق لري، چې مهر يې په خپله خوښه وکاروي.

۳. د مهر ورکول د مېړه د قانوني مسووليت څرګندونه ده او که مېړه مهر ورنه کړي، ښځه د مهر اخيستو حق لري.

**دويم جزء: د افغانستان د ۱۳۵۵ ل کال مدني قانون له نظره**

۱. د مدني قانون له مخې د مهر اندازه بايد د طرفينو د رضا پر اساس و ټاکل شي.

۲. د مدني قانون له مخې د مهر کمه اندازه د قانوني تحفظ او حقوقو له اړخه کومه ستونزه نه راولاړوي، ځکه چې د مدني قانون پر بنسټ مهر د ښځې شخصي مال دی.

**څلورم مبحث: نفقه**

د ښځې د مالي حقوقو له جملې څخه يوه هم نفقه ده، په خاوند باندې د ښځې خوراک، لباس، درمل او نورې اړتياوې پوره کول د نفقې څخه شمېرل کيږي، د ښځې نفقه په غني او مالداره خاوند باندې واجب ده.

**لومړی مطلب: د نفقې د ورکړې شرطونه**

سید سابق په فقه السنة کې د نفقې د ورکړې شرطونه ذکر کړي، چې په لاندې توګه یې بیانوو:

۱. د واده عقد باید صحیح وي.

۲. ښځې خپل نفس باید خاوند ته تسلیم کړی وي.

۳. د ښځې څخه باید استمتاع واخلي.

۴. که چېرې خاوند وغواړي، چې خپله ښځه بوځي باید منع یې نه کړي، مګر که چېرې په سفر سره هغه ته ضرر ورسېږي او یا هم د هغې مال او نفس په امن کې نه وي.

۵. دواړه خاوند او مېرمن د یو بل څخه د خوند او استمتاع اخیستلو اهلیت ولري (۷: ۱۴۹-۱۵۰).

که چېرې د پورته ذکر شوو شرایطو څخه یو شرط هم نه وي، نو نفقه نه لازمېږي.

**دویم مطلب: نفقه د افغانستان د ۱۳۵۵ ل کال مدني قانون له نظره**

پورته بحث د نکاح په عقد کې د ښځې مالي حقوقو له جملې څخه نفقه د اسلامي فقهې له نظره څېړل شوې اوس غواړو، چې همدا بحث د قانون له نظره تر څېړنې لاندې ونیسو.

مدني قانون د ۱۱۷ مادې څخه تر ۱۳۰ مادې پورې د نفقې په هکله صراحت لري، نفقه د مدني قانون ۱۱۸ ماده داسې تعریفوي، د ښځې نفقه مشتمله ده په لباس، خوراک د اوسېدلو ځای او د ښځې په دارو کولو، خو د مېړه مالي قدرت په تناسب.

د پورته مادې مطابق د ښځې نفقه عبارت ده له، د ښځې د اړتیا وړ خوراک، د اغوستلو لپاره جامې، د اوسېدلو لپاره مناسب ځای او همدارنګه د ناروغتیا پر مهال د هغې درملنه کول په کې شامل دي.

په پورته ذکر شوې ماده کې یو قید شتون لري هغه دا، چې د نفقې ټول اړونده موارد د خاوند د مالي توان مطابق به وي، خو په دې شرط چې نفقه د ښځې د کمې اندازې د کفایت څخه کمه نه وي، د دې شرط په هکله د مدني قانون ۱۲۳ ماده داسې صراحت لري: (د ښځې نفقه د مېړه د مالي قدرت سره سمه تأمینېږي، خو په دې شرط چې نفقه د ښځې د کمې اندازې د کفایت څخه کمه نه وي (۳: ۱۲۳ ماده).

د ښځې نفقه په مېړه باندې په هر حال کې لازم ده؛ مګر ځینې موارد دي، چې بیا ښځه د نفقې حق نه لري، چې دې مواردو ته د مدني قانون ۱۲۳ مادې داسې اشاره کړې.

په لاندنیو حالونو کې ښځه د نفقې حق نه لري:

۱. که ښځه یې د مېړه د اجازې یا د جایزو مقصدونو په غیر د اوسېدلو د ځای څخه ووځي.
۲. که ښځه د زوجیت په امورو کې اطاعت ونه لري.
۳. که د مېړه کور ته د ښځې د نقلولو مانع موجوده وي (۳:۱۲۳ ماده).

سربېره پر دې د طلاق په حالت کې د ښځې نفقه د عدت تر پایه پورې لازم ده، لکه څرنګه چې د مدني قانون ۱۲۶ ماده په دې هکله صراحت لري: (طلاقه شوې د طلاق د نېټې څخه د عدت د پای ته رسېدو پورې د نفقې حق لري (۳: ۱۲٦ ماده).

## پنځم مبحث: د نفقې په اړه د فقهې او د افغانستان د ۱۳۵۵ ل کال مدني قانون مقارنه

د فقهې له مخې، نفقه د مېړه پر ذمه ده او باید هغه د خپلې ښځې ټولو اړینو اړتیاوو پوره کولو ته اوږه ورکړي، د نفقې ورکول یوازې د ښځې د اړتیا لپاره نه، بلکې د هغې د عزت او کرامت په ساتلو کې هم رول لري.

**لومړی مطلب: د فقهې له نظره**

د اسلامي فقهې له مخې، نفقه د مېړه د یو لړ مسولیتونو له ډلې ده، چې د ښځې لپاره ټاکل کیږي، که چېرې مېړه مالي امکانات ولري، هغه باید ښځې ته نفقه ورکړي. که څه هم که ښځه خپل مال ولري او خپله اقتصادي استقلالیت ولري، د هغې د نفقې مسوولیت د مېړه له پاره نه کمیږي. مهر او نفقه دواړه د ښځې حقوق بلل کیږي، چې په شریعت کې نه یوازې د هغې د مالي پاملرنې بلکې د هغې د احترام او کرامت لپاره هم ضرور ګڼل کیږي.

**لومړی جزء: فقهي امتیازات**

۱. نفقه د مېړه پر غاړه ده، چې د ښځې د اړتیاوو پوره کولو لپاره یې ورکوي، که مېړه دغه مسوولیت پوره نه کړي، ښځه د دې حق لري، چې د نفقې غوښتنه وکړي.
۲. د نفقې اندازه په اسلام کې په دقیق ډول نه ده ټاکل شوې، بلکې د ښځې د اړتیاوو او د مېړه د مالي توان پر اساس ټاکل کیږي.
۳. نفقه د ښځې د عزت او کرامت ساتنه کوي، ځکه ښځه د مېړه له خوا د هر اړخیزو اړتیاوو پوره کولو حق لري.
۴. که مېړه د نفقې ورکولو څخه ډډه وکړي، ښځه د قانوني لارې د خپلې نفقې حق ترلاسه کولای شي.

**دویم جزء: د افغانستان د ۱۳۵۵ ل کال مدني قانون له نظره**

د افغانستان د ۱۳۵۵ ل کال مدني قانون مطابق، مېړه مکلف دی، چې د خپلې ښځې د ژوند ټول اړین لګښتونه پوره کړي. د نفقې ورکول یوازې د ښځې د اړتیا لپاره نه، بلکې د هغې د عزت، کرامت او قانوني حقوقو خوندي کولو لپاره هم اړین دي. د مدني قانون مطابق، که مېړه د نفقې ورکولو څخه سرغړونه وکړي، ښځه کولی شي د قضا له لارې دغه حق ترلاسه کړي.

**شپږم مبحث: مسکن (د اوسېدلو ځای)**

د ښځې د مالي حقوقو څخه یو هم د اوسېدلو ځای دی، چې د میرمنې لپاره د هغې د شان سره مناسب ځای د اوسېدلو لپاره برابروي، همدارنګه د نارینه د قوامیت معنی هم دا ده، چې د ښځې لپاره به د اوسېدو ځای او د اوسېدلو لپاره به لوازم او امکانات برابروي.

کله چې ادم علیه السلام په جنت کې و، نو الله تعالی ادم علیه السلام ته وویل، چې په جنت کې به نه وږی کېږي او نه بربنډ کېږي او نه به دې ګرمي وشي، نو د انسان د مهمو ضرورتونو څخه خوراک، څښاک، پوښاک او د هستوګنې لپاره ځای دی، چې انسان په کې له لمر، باران او نورو ضررونو څخه په امن کې وي، په جنت کې ذکر شوي تکلیفونه نشته، نو الله تعالی ادم علیه السلام تنبیه کاوه، که چېرې د جنت څخه ووتلې، نو د دې ټولو شیانو سره به مخامخ شې چې په هغې کې د اوسېدلو ځای هم و.

الله تعالی جل جلاله د مطلقې ښځې په هکله فرمايي: (أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنْتُمْ مِنْ وُجْدِكُمْ وَلَا تُضَارُّوهُنَّ لِتُضَيِّقُوا عَلَيْهِنَّ وَإِنْ كُنَّ أُولَاتِ حَمْلٍ فَأَنْفِقُوا عَلَيْهِنَّ حَتَّى يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ) (سورة الطلاق، ایت شمېره: ٦).

**ژباړه:** واوسوئ دا طلاقې کړې شوې ښځې په هغه ځای کې چې تاسې اوسیږئ له توان ستاسې او مه کوئ اراده د ضرر تاسې دغه مطلقانې، چې تنګوئ تاسو په دوی باندې ځایونه او نفقې او که چېرې وي دغه ښځې حاملانې نو نفقه کوئ تاسې پر دوی باندې، څو چې دوی خپل حمل وزیږوي (تفسیر کابلي).

په دې آیت کې الله تعالی جل جلاله د طلاقې شوې ښځې مسکن واجب کړی، نو که چېرې د طلاقې شوې ښځې مسکن واجب وي، نو باید د هغې ښځې چې په نکاح کې ده د هغوی نه ډېره مستحقه ده، چې د اوسېدو لپاره ځای ورته برابر شي.

میرمن به دخپل خاوند له اجازې څخه پرته له کوره نه وځي، همدارنگه د اوسېدلو پر ځای یې باید بل څوک ونه اوسي تر څو د هغوی زوجي اړیکو ته صدمه ونه رسوي او یا په دې سره متضرر شي.

## اووم مبحث: د اوسېدلو ځای (مسکن) د افغانستان د ۱۳۵۵ ل کال مدني قانون له نظره

د ښځې د مالي حقوقو څخه یو هم مسکن یا د اوسېدلو ځای دی، د اوسېدلو د ځای په اړه د افغانستان د ۱۳۵۵ل کال مدني قانون یوازې په دوو مادو کې ۱۱۵ او ۱۱۶ کې اشاره کړې.

۱۱۵ ماده د اوسېدلو د ځای په اړه داسې صراحت لري: (که یو سړی د یوې ښځې څخه زیاتې ښځې ولري، نه شي کولای، چې د هغوی د رضا څخه پرته د اوسېدلو په یوه ځای کې اوسېدلو ته مجبورې کړي. (۱۱٦: ۳ ماده)

د افغانستان د ۱۳۵۵ ل کال مدني قانون او اسلامي فقهې له مخې د ښځې د ژوند ټول مالي مصارف، لکه خوراک، لباس او مسکن د مېړه په ذمه دي. د ښځې لپاره اړینه نه ده، چې د دې اړتیاوو لپاره مالي مرسته وکړي او مېړه مکلف دی، چې د ښځې د اړتیاو پوره کولو ته پاملرنه وکړي.

د یادونې وړ ده، چې د افغانستان د شیعه وگړو د شخصیه احوالو قانون چې په ۱۳۸۸ هجري شمسي- کال کې تصویب او توشیح شوی، په دې قانون کې هم د ښځې د مالي حقوقو په اړه یادونه شوې، چې د مهر په اړه ۱۰۴ څخه تر ۱۱۹ مادو پورې صراحت لري او همدارنگه د نفقې په اړه د ۱٦۱مه ماده داسې صراحت لري: (نفقه د ژوند پېژندل شوې اړتیاوې دي، چې متعارف انسان ورته ضرورت لري، لکه خوراک، جامې، د اوسېدلو ځای، درمل او داسې نور) (۳: ۱٦۱ ماده).

همدارنگه ۱۶۴ ماده د مسکن په هکله داسې صراحت لري: (زوج د زوجې لپاره د مسکن په برابرولو مکلف دی).

د یاولو وړ ده، چې د (جهیزیه) په نوم یو بل مالي حق دی، چې په دې قانون کې ترینه یادونه شوې، چې په ۱۲۱ ماده کې په دې اړه داسې صراحت لري: (جهیزیه د کور اثاثیه، جامې او هغه شیان دي، چې زوجه یې له خپلې او یا د پلار له شتمنی څخه گډ کور ته راوړي) (د اهل تشیع د شخصیه احوالو قانون، ۱۳۸۸ ه ش، ۱۲۱ ماده).

**لومړی مطلب: د مسکن (داوسېدو ځای) په اړه د فقهې او مدني قانون مقارنه**

د ښځې د مسکن حق په اسلامي فقه او د افغانستان مدني قانون له نظره د مېړه د مسوولیت یوه بنسټیزه برخه ده، که څه هم په فقه کې د مسکن د ځای ځانگړي معیارونه ذکر شوي، خو په عمومي ډول مېړه باید د ښځې لپاره داسې مسکن تأمین کړي، چې د هغې د عزت او کرامت سره سمون ولري.

**لومړی جزء: فقهي امتیازات**

۱. د فقهې له مخې د ښځې د مسکن حق په دې معنا دی، چې ښځه باید په داسې کور کې اوسېږي، څو د هغې ټولنیز مقام ته مناسب وي، دغه مسکن باید د مېړه د مالي وضعیت سره متناسب وي.

۲. په فقه کې که چېرې ښځه د خپلې موافقې پرته د مېړه له کور څخه ووځي، نو د هغې د مسکن حق محدودیږي؛ مگر که مېړه د دې حق پوره کولو کې پاتې راشي، ښځه کولی شي د دې حق لپاره قضا ته مراجعه وکړي.

۳. د ښځې مسکن د نفقې سره تړلی حق دی؛ یعنی که چېرې نفقه نه ورکول کیږي، مسکن هم ورته نه ورکول کیږي، خو د دې نه ورکولو مسوولیت د مېړه پر ذمه دی.

**دویم جزء: د افغانستان د ۱۳۵۵ ل کال مدني قانون له نظره**

۱. د افغانستان مدني قانون له مخې که مېړه د خپلې ښځې لپاره د مناسب مسکن برابرولو کې پاتې راشي، ښځه د قضاء له لارې دا حق ترلاسه کولای شي.

۲. په افغانستان کې د مسکن د ورکولو مسوولیت یوازې د مېړه پر ذمه دی، د مدني قانون پر بنسټ، که مېړه خپله اقتصادي استطاعت ولري، هغه مکلف دی، چې د ښځې لپاره مناسب مسکن برابر کړي.

**پایله**

اسلامي شریعت ښځې ته ډېر امتیازات ورکړي، چې د دې امتیازاتو له جملې څخه یو هم مالي حقوق دي، د اسلامي فقهې له مخې د ښځې مالي حقوق عبارت دي له مهر، نفقې او د اوسېدو د ځای څخه، مهر هغه مالي حق څخه عبارت دی، چې د نکاح د عقد او یا د حقیقي دخول له امله په مېړه باندې لازمیږي.

د افغانستان په مدني قانون کې هم مهر د نکاح په عقد کې د ښځې د مالي حقونو یوه مهمه برخه ده. د مدني قانون پر اساس، مهر د ښځې حق دی او د هغې ملکیت بلل کیږي. که څه هم مهر د مېړه پر غاړه دی، خو د ښځې لپاره په دې برخه کې یو شان محدودیتونه شتون لري، چې په ځینو شرایطو کې مهر کم یا بېرته اخیستل کېدای شي.

همدارنگه نفقه عبارت له هغه حق څخه ده، چې په مېړه باندې د ښځې خوراک، لباس، درمل او نورې اړتیاوې پوره کول د نفقې څخه شمېرل کیږي، د ښځې نفقه په مالداره او غني مېړه واجب ده، همدارنگه مسکن هم د ښځې د مالي حقوقو څخه شمېرل کیږي، عبارت له هغه حق څخه دی، چې د ښځې لپاره د هغه د شان سره مناسب ځای د اوسېدلو لپاره برابروي د نارینه د قوامیت معنی هم دا ده، چې د میرمنې لپاره د اوسېدو ځای او د اوسېدو امکانات برابروي.

د افغانستان مدني قانون د ۹۸ مادې څخه تر ۱۳۰ مادې پورې د ښځې مالي حقوقو ته اشاره کړې، دغه حقوق يې د اسلامي فقهې څخه راخيستي دي، چې عبارت دي له مهر، نفقې او د اوسېدلو د ځای څخه د موضوع په محتوا کې ورڅخه په تفصيلي توگه يادونه شوی.

**مناقشه**

د موضوع له څېړنې وروسته د اخبره جوتېږي، چې د نکاح په عقد کې ښځه نسبت نارينه ته د ډېرو حقوقو لرونکې ده، چې زموږ په ټولنه کې د دې حقوق مراعت او پر ځای کول ډېر په نظر کې نه نيول کېږي او سطحي چلند ورسره کېږي او حتا ترې محرومېږي هم، چې د دې په بدل کې هيڅ ډول اجرائيوي ضمانت شتون نه لري، چې د دې حقوقو د سلبونکو څخه دې پوښتنه وشي په داسې حال کې، چې اسلامي فقې او قانون د ميرمنې مالي حقوق په ډېر صراحت سره روښانه کړي او د اسلام په نزد د دغې حقوقو سلبونکي گناهگار گڼل کېږي.

زما ليکنه پخپل کې ذات کې د نکاح په عقد کې د ميرمنې مالي حقوق چې تر ډيره بريده نوې موضوع گڼل کېږي او يوازې د مالي حقوقو څخه بحث کوي، چې د فقهې او قانون له نظره روښانه شوي.

**پايله اخيستنه**

۱. په دې څېړنه کې څرگنده شوه، چې ښځې په اسلامي فقه کې د مهر، نفقې او مسکن په برخو کې ځانگړي مالي حقوق لري او دا حقوق د افغانستان د ۱۳۵۵ ل کال مدني قانون کې هم تاييد شوي دي. دا د ښځو د کرامت، اقتصادي استقلاليت او ټولنيز عدالت لپاره خورا ارزښتناک دي. سره له دې، په ډېری ټولنو کې دا حقوق په کافي توگه نه عملي کېږي.

۲. د اسلامي شریعت له مخې د مهر، نفقې او مسکن برابرول د مېړه یو روښانه مکلفیت دی، دا احکام د ښځې اقتصادي خوندیتوب لپاره وضع شوي دي. د مهر ټاکنه د ښځې لپاره د کرامت او عزت یوه نښه ګڼل کېږي او نفقه د هغې ورځنیو اړتیاوو د پوره کولو لپاره لازمي ده، مسکن د ښځې د آرام ژوند لپاره د هغې د ټولنیز شان او حیثیت په نظر کې نیولو سره برابرول کېږي.

۳. د افغانستان د ۱۳۵۵ ل کال مدني قانون د ښځې مالي حقوق په روښانه ډول تعریف کړي دي، دا قوانین د ښځې د حقونو د ساتنې لپاره یو مهم حقوقي چوکاټ وړاندې کوي، خو د قانوني اجراآتو د کمزورۍ، ټولنیزو خنډونو او د خلکو د ناپوهۍ له امله ښځې لا هم له خپلو حقوقو محرومې دي.

۴. په ټولنه کې د ښځو د مالي حقوقو په عملي کولو کې سترې ستونزې لیدل کېږي، د ښځو د حقوقو اړوند ناسمې ټولنیزې انګېرنې، د قانوني اجراآتو کمزوري او د خلکو کلتوري خنډونه له لویو ننګونو څخه دي، خو دا څېړنه د دې فرصت رامنځته کوي، چې د اسلامي شریعت او قانون له مخې د ښځو مالي حقوقو د خوندیتوب لپاره پوهاوی زیات شي.

**وړاندیزونه**

۱. د نکاح په عقد کې هره کورنۍ مکلفیت لري چې د خپل لور او خور د مالي حقوقو پوښتنه وکړي او د هغې د تأمین لپاره د حقوقي لارو چارو او دیني نصوصو څخه استفاده وکړي.

۲. د ښځو د حقوقو د تأمین په موخه دولت مکلفیت لري، چې ځانګړي قوانین وضعه کړي او د سرغړونکو سره جدي برخورد او مجازات یې کړي.

۳. په ټولنه کې د هر کور مسول او د کلي مشران باید د میرمنو د حقوقو د تأمین په موخه خپل رول ادا کړي او پرې نږدي، څو د دوی حقوق تر پښو لاندې شي.

**مأخذونه**


قرآن کریم.

۱. ابن تیمیه، احمد بن عبدالحلیم. (۱۴۲۱ هـ ق). الفتاوی الکبری. بیروت: دار الکتب العلمیة.

۲. ابو زهرة، محمد. (۱۹۵۷). الاحوال الشخصیة. قاهره: دار الفکر العربي.

۳. افغانستان مدني قانون، ۱۳۵۵ هـ ش، ۳۵۳ گڼه رسمي جریده، د عدلیې وزارت

۴. تفسیر کابلي. سعودي عربستان: بې خپرندوی.

۵. دبیان، ابو عمر. (۱۴۲۲ هـ ق). المعاملات المالیة أصالة ومعاصرة. ریاض: دار ابن الجوزي.

۶. ریان، احمد علي طه. (۲۰۰۵). فقه الأسرة. قاهره: دار السلام.

۷. سعید عبدالعظیم. عاشروهن بالمعروف، اسکندریه: دار الإیمان للنشر والتوزیع.

۸. شلتوت، محمود. (۲۰۰۱). الإسلام عقیدة وشریعة. قاهره: دار الشروق.

۹. غزالي، محمد بن محمد. (۲۰۰۵). إحیاء علوم الدین. بیروت: دار المعرفة.

۱۰. قرطبي، محمد بن احمد. (بې کاله). الجامع لأحکام القرآن. بیروت: دار إحیاء التراث العربي.

۱۱. قندیل، محمد عبداللطیف. (۲۰۰۵). فقه النکاح والفرائض. قاهره: دار الوفاء.

۱۲. وزارة الأوقاف والشؤون الإسلامیة. (۱۴۰۴-۱۴۲۷ هـ ق). الموسوعة الفقهیة الکویتیة. کویت: وزارة الأوقاف.

۱۳. واثق، احمد گل. (۱۳۹۸ هـ ش). د حقوقو بنسټونه. جلال‌آباد: دانش خپرندویه ټولنه.

۱۴. وهبة الزحیلي. (۲۰۰۳). الفقه الاسلامي وأدلته. دمشق: دار الفکر.

**ولي الله حنيفي[1] او ماهرالله ماهر[2]**

[1] حقوقي علومو څانګه، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، التقوی پوهنتون

[2] سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، التقوی پوهنتون

# د کورني اقتصاد په مدیریت کې د ښځو رول

**لنډیز**

ښځه د کورنۍ اساسي عنصر دی، چې د کورنۍ په ټولو چارو کې بنسټیز رول لري، له همدې امله د ښځو رول په کورني اقتصاد او د هغې په مدیریت کې خورا بارز او څرګند دی. دا څېړنه د کورني اقتصاد په مدیریت کې د مېرمنو رول ارزوي چې ښځه په کورنۍ کې کوم نقش لري، د کورني اقتصاد په مدیریت کې څه رول لري، د کورنۍ لګښتونو کنټرول کې څه نقش لري، د دې تر څنګ د کورني اقتصاد د مدیریت ګټورې لارې او د کورني اقتصاد د مدیریت مهارتونه هغه فکتورونه دي، چې د دې څېړنې اهمیت په ډاګه کوي. د کورني اقتصاد لنډه پېژندنه، په کورني اقتصاد کې د ښځو رول، د کورني اقتصاد په مدیریت کې د ښځو نقش، د کورنیو لګښتونو د کنټرول مؤثر روشونه او د کورني اقتصاد د مدیریت مهارتونه روښانه کول، د دې څېړنې اساسي موخې دي، دا یوه مروري څېړنه ده، د معتبرو مقالو او سرچینو څخه په کې استفاده شوې ده، د موضوعاتو تسلسل، د معلوماتو کیفیت، د حوالې ورکولو او تنظیم برخه کې یې خورا دقت نه کار اخیستل شوی. د کورني اقتصاد مدیریت د کورنۍ د مالي ثبات او هوساینې لپاره ډېر مهم دي، ښځې د کورني اقتصاد په مدیریت کې ډېر مهم او کلیدي نقش لري، د ښځې او خاوند غوره اړیکې، مالي پلان جوړونه، د لومړیتوبونو تشخیص، د اړتیاوو او ضرورتونو معلومول، د اسراف او تبذیر څخه مخنیوي او سپما هغه موارد دي، چې پرمټ یې ښځې د کورني اقتصاد په مدیریت کې اساسي نقش ادا کوي، همدا شان د منطقي او عاقلانه روش څخه په استقادې کولای شو، چې کورنۍ اقتصاد په ښه شکل مدیریت کړو.

**کلیدي کلمې:** ښځه، کورنۍ اقتصاد، کورني مصارف، مدیریت، مهارتونه

**سریزه**

الحمدالله رب العلمین وبه نستعین و بعد! کورنۍ د ټولنیز نظام یو مهم اصل دی، چې د نارینه او ښځینه د منطقي پیوند پر بنسټ تشکیل مومي، کورنۍ لومړنی بنسټ دی، چې فرد په کې غړیتوب ترلاسه کوي او د همدې کورنۍ له بطن څخه د یو ټولنیز موجود په حیث نشأط کوي، د کورني ژوند جوړښت او ساختار په خپل ذات کې د مدیریت یو ښه بېلګه ده، په دې کې هیڅ شک نشته چې د لویو او کوچنیو مجموعو مدیریت د امورو د تنظیم لپاره یو منطقي اصل دی له دې امله د کورنۍ مدیریت په ځانګړې توګه د کورني اقتصاد مدیریت هم د ضرورت او اړتیا وړ یوه موضوع ده د یوې منظمې، باثباته، خوشحاله او له اقتصادي اړخه پر ځان د یوې بسیا کورنۍ رامنځته کول د کورني اقتصاد له مدیریت پرته شوني نه دي، پر همدې اساس ښځې د کورني اقتصاد په مدیریت خورا مهم او رغنده رول لري، د اړتیاوو تشخیص، د لومړیتوبونو ټاکل، د مصارفو کنټرول، د عاید او مصارفو ترمنځ تعادل او سپما رامنځته کول هغه موارد دي، چې ښځې په کې نسبت نارینه ته قوي نقش لري، دا څېړنه هم د کورني اقتصاد په مدیریت کې د ښځو رول تر بحث لاندې نیسي.

د کورني اقتصاد لنډه پېژندنه، په کورني اقتصاد کې د ښځو رول، د کورني اقتصاد په مدیریت کې د ښځو نقش، د کورنیو لګښتونو د کنټرول مؤثر روشونه او د کورني اقتصاد د مدیریت مهارتونه روښانه کول، باثباته او پر ځان بسیا اقتصادي کورنۍ جوړنه د دې څېړنې اساسي مفردات دي، دا موضوعات مې څکه دې څېړنه کې تر بحث لاندې ونیول، تر څو د کورني اقتصاد په مدیریت کې اغېزناک رول لرونکی شخص تشخیص او پاملرنه ورته شي، هغه څه چې تر اوسه ورته په شعوري یا غیر شعوري توګه لازمه پاملرنه نه ده شوې، همدا لامل دی، چې کورنی اقتصاد د نابودۍ پر لور ګامونه اخلي.

د دې څېړنې اهمیت او ګټه دا ده، چې د کورني اقتصاد په مدیریت کې د ښځو رول په ډاګه کوي، د کورنۍ د اساسي رکن په حیث د ښځو موقف ته پاملرنه را اړه وي، د کنټرول او مدیریت په برخه کې د دوی هڅې او کوښښونه منعکس کوي او دا روښانه کوي، چې څنګه د کورني اقتصاد د مدیریت پر مټ یوه سوکاله کورنۍ رامنځته کولای شو.

## د څېړنې ستونزه

د ډېری کورنیو اقتصاد له یوې شدیدې انارشۍ سره مخ دی لامل یې دا دی، چې دوی د کورني اقتصاد سالم مدیریت ته پاملرنه نه ده کړې او همدا شان د کورني اقتصاد مدیریت کې د ښځو رول باندې یا نه پوهیږي او یا په شعوري توګه ورته پاملرنه نه کوي، په دې څېړنه کې هڅه شوې ده، چې د کورني اقتصاد د عدم مدیریت ستونزه او عوامل بررسي او ورته مناسبې او معقولې حل لارې وړاندې شي.

## د څېړنې اهمیت

د دې څېړنې اهمیت او ګټه دا ده، چې د کورني اقتصاد په مدیریت کې د ښځو رول په ډاګه کوي، د کورنۍ د اساسي رکن په توګه د ښځو موقف ته پاملرنه راجلبوي، د کنټرول او مدیریت په برخه کې د دوی هڅې او کوښښونه منعکسوي او دا روښانه کوي، چې څنګه د کورني اقتصاد د مدیریت پر مټ یوه سوکاله کورنۍ رامنځته کولای شو، څو له مالي اړخه پر ځان بسیا او کورنۍ اقتصاد یې منظم مدیریت څخه برخمن شي.

دا څېړنه د ټولو هغه خلکو لپاره مهمه ده، چې د کورنۍ مدیریت او سرپرستي ور تر غاړې ده، د دې تر څنګ دا څېړنه به د کورني اقتصاد د مدیریت په برخه کې هم ګټور مطالب لوستونکو ته په لاس کې ورکړي، څو د کورني اقتصاد د مدیریت ګټورې لارې او مهارتونه زده کړي.

څېړنه به د ټولنې او په ټوله کې د هېواد په کچه کورني او ملي اقتصاد د مدیریت لپاره روښانه تګلارې وړاندې کړي.

## د څېړنې موخې

دغه څېړنه چې د کورني اقتصاد په مدیریت کې د ښځو رول تر عنوان لاندې لیکل شوې ده، مهمې او اساسي موخې يې په لاندې ډول دي:

۱. د کورني اقتصاد په اړه د معلوماتو وړاندې کول.

۲. د کورني اقتصاد په مدیریت کې د ښځو رول روښانه کول.

۳. د کورنیو لګښتونو کنټرول او مدیریت په اړه معلوماتو وړاندې کول.

۴. د کورني اقتصاد د مدیریت مهارتونو په اړه معلوماتو وړاندې کول.

۵. د کورني اقتصاد مدیریت د ګټو په اړه د معلوماتو وړاندې کول.

## تېرو لیکنو ته منطیقي کتنه

۱. دا څېړنه چې د " د کورني اقتصاد په مدیریت کې د ښځو رول" تر عنوان لاندې تر سره شوې ده، یوه مروري څېړنه ده په دې برخه کې ګڼې علمي مقالې او کتابونه لیکل شوي دي، چې د بېلګې په توګه يې زه دلته ځینې مثالونه ذکر کوم.

۲. د HOUSEHOLD ECONOMIC STRATEGIES: Review and Research Agenda د Marianne Schmink علمي مقاله، په دې مقاله کې د کورني اقتصاد په پالیسۍ او په لاتیني امریکا ټولنه کې د کورني اقتصاد په بېلا بېلو برخو بحث شوی دی.

۳. Household Production and the Household Economy د Duncan Ironmonger علمي مقاله کې په کورني اقتصاد او د کورني تولیداتو په بېلابېلو اقسامو باندې بحث شوی دی.

۴. HOUSEHOLD ECONOMIC PORTFOLIOS د Martha Alter Chen او Elizabeth Dunn مقاله کې د کورني اقتصاد پر تحلیل، جوړښت او خطرونو باندې بحث شوی دی.

۵. The Household Economy Approach A resource manual for practitioners د John Seaman، Paul Clarke په اثر کې کورني اقتصاد تعریف، کورنۍ مدیریت، مارکیټ او بازار موندنه، کورني مصارف او اړتیاوې، انفرادي او کورني خواړه او داسې نورو ګڼو مواردو باندې بحث شوی دی.

۶. Household and Economy: Toward a NewTheory of Population and Economic Growth د Marc Nerlove علمي مقاله کې هم د کورني اقتصاد په بېلابېلو اړخونو باندې بحث شوی دی.

۷. PROVISIONING THE CEREN HOUSEHOLD The vertical economy, village economy, and household economy in the southeastern Maya periphery د Payson Sheets علمي مقاله کې په کوچني اقتصاد، کلیوالي اقتصاد او کورني اقتصاد په بېلابېلو اړخونو باندې بحث شوی دی.

۸. Development Entrepreneurship Intention as an Effort to Improve the Level of the Consumer Household Economy د Siti Nur Halizah او Didit Darmawan علمي مقاله د کورني اقتصاد په بیلا بیلو اړخونو بحث شوی دی.

۹. Studying the Impact of Household Economic and Community Variables on Child Mortality د T. Paul Schultz علمي مقاله کې کورني اقتصاد باندې بحث شوی دی.

۱۰. The Household Economy Approach. Managing the impact of climate change on poverty and food security in developing

او James Acidr , ،Gary E. Sawdon ،John A. Seaman د countries Celia Petty علمي مقاله کې کورني اقتصاد باندې بحث شوی دی.

١١. 'HOME ECONOMICS': THE MANAGEMENT OF THE HOUSEHOLD AS AN ENTERPRISE د Fiona Allon علمي مقاله کې کورني اقتصاد باندې بحث شوی دی.

په پورته ذکر شوو مقالو او علمي اثارو کې د کورني اقتصاد په بېلابېلو اړخونو بحث شوی دی، ولې مشخصاً په یادو مقالو کې ما داسې څه تر لاسه نه کړل چې، د کورني اقتصاد په مدیریت کې د ښځو رول باندې بحث شوی وي، چې دا په خپل ذات کې له نورو څېړنو سره د دې څېړنې یوه متمایزه نقطه ده، همدا شان په پورته ذکر شوو څېړنو کې د څېړنو له بېلابېلو ډولونو او میتودونو څخه استفاده شوې ده، په دې څېړنه کې ما د متفاوت میتود او ډول څخه استفاده کړې ده چې د پورته ذکر شوو څېړنو سره ډېر توپیر لري، نو په نتیجه کې ویلای شو چې د دې څېړنې څخه د نورو څېړنو په پرتله یوه بشپړه متفاوته پایله تر لاسه شوې ده.

## د څېړنې تګلاره

دا چې هره څېړنه له یوې ځانګړې تګلارې څخه په ګټې اخیستنې تر سره کېږي، نو پر همدې اساس ما په دې څېړنه له کتابتوني میتود څخه ګټه اخیستې، د معلوماتو په راټولولو، تحلیل او تجزیه کې مې له خورا زیات دقت نه کار اخیستی دی له غوره سرچینو څخه مې ګټور معلومات راټول کړي دي، خپل نظر او تحلیل مې په کې شامل دی، د دې تر څنګ د ماخذونو په اړه د APA سیستم څخه استفاده کړې ده، د هر نقل شوي متن په وروستۍ برخه کې د د کوډینګ په ذریعه ماخذ ذکر شوی دی، همدا شان ځیني اصطلاحات چې په متن کې یې د تعریف مجال نه وو د پاڼې په وروسته برخه کې تعریف شوي او شمېرو په وسیله په نښه شوي دي.

## د کورني اقتصاد پېژندنه

کورنی اقتصاد چې د ملي اقتصاد یوه مهمه برخه ده ګڼ شمېر تعریفونه ورته شوي دي، د بېلګې په توګه موږ یې دلته ځینې تعریفونه ذکر کوو.

## د اضافي ترکیب په اعتبار د کورني اقتصاد پېژندنه

کورنی اقتصاد یو ترکیبي لفظ دی، چې له دوو کلمو څخه جوړ شوی دی، یو یې کورنۍ او بل یې اقتصاد دی، لومړی دواړه اصطلاح ګانې جلا جلا تعریفوو وروسته بیا د کورني اقتصاد لپاره یو جامع تعریف وړاندې کوو.

**د کورنۍ تعریف:** کورنۍ د ټولنې د تشکیل یو کوچنی واحد دی، چې لږ تر لږه د یو خاوند او ښځې څخه تشکیلیږي او په اولادونو سره بشپړیږي، همدا راز د افغانستان د ۱۳۵۵ کال مدني قانون کورنۍ په دې ډول تعریف کړې ده: ( (د انسان کورنۍ د هغه له خپلوانو څخه متشکله ده، چې د يو شريک اصل په اساس سره جمع شوي وي) ). (۵: ۵۶ ماده) یا هم کورنۍ پر هغې ډلې باندې اطلاق کیږي، چې غړي یې یو له بل سره د وینې، قانوني نسبت یا مشترک مکان په وسیله تړل شوي وي (۷: ۴۴).

د اقتصاد لپاره هم علماوو ګڼ شمېر تعریفونه کړي دي، چې د بېلګې په توګه یې څو دلته ذکر کوو:

## د اقتصاد لغوي معنی

اقتصاد له عربي کلمې د (قصد) نه اخیستل شوی، چې دمیانه روۍ او اعتدال په معنی ده، هغه که په هره برخه کې وي. Economics یوه یوناني کلمه ده چې ایکوس (EKOS) د کور او نوموس (nomos) د اداري قانون معنی لري، نو (Ekonomos) د کور اداره کولوته وایي، چې دا کلمه د لومړي ځل لپاره له میلاد مخکې د زنیفونxenephone له خوا وکارول شوه.

**د اقتصاد اصطلاحي معنی**

د اقتصاد لپاره اقتصاد پوهانو مختلف تعریفونه کړي دي، چې یو څو مهم یې په لاندې ډول دي:

۱. اقتصاد هغه علم دی، چې په تولید، توضیع، مصرف، تجارت، تبادلې او وېشلو پورې اړونده ټول فعالیتونه څېړي.

۲. اقتصاد هغه علم دی، چې د مالونو او خدمتونو د تولید، توزیع او مصرفولو لپاره انسانان له محدودو سرچینو (طبیعت، کاري ځواک او سرمایه) څخه څه ډول استفاده کوي تر څېړنې لاندې نیسي.

۳. د محدودو او کمیابو سرچینو په واسطه د انسانانو نا محدودې اړتیاوې او غوښتنې په ښه او مناسب ډول پوره کول دي (۱: ۲۹).

**د کورني اقتصاد تعریف**

کورنی اقتصاد، چې د اقتصاد یوه برخه ده ګڼ شمېر تعریفونه ورته شوي دي چې، د بېلګې په توګه مورږ یې څو دلته ذکر کوو:

د کورن اقتصاد د کورنۍ خورا مهمو اړتیاوو او غوښتنو ته د محدودو شته سرچینو تخصیص عبارت دی له کورني اقتصاد څخه. د سرچینې څخه موخه د کورنۍ عاید، چې په طبیعي توګه محدود دي، مګر د ترلاسه کولو وړ دي (۱۴: ۷).

همدا شان، د کورنۍ سرچینې او سرچینو تنظیم او اداره عبارت له کورني اقتصاد څخه دي (۱: ۳۱).

پورته تعریفونو ته په کتو کولای شو، چې د کورني اقتصاد لپاره یو جامع تعریف په دې شکل وړاندې کړو، د سرچینو تخصیص، د لومړیتوبونو تشخیص، د بحران مدیریت، د عایداتو او لګښتونو تر منځ د توازن ساتل او مالي پلان جوړونه عبارت له کورني اقتصاد څخه دي. په دې تعریف کې د کورني اقتصاد مختلف اړخونه ذکر

شوي دي پر همدې بنیاد ویلی شو، چې دا تعریف نسبت پورته نورو ذکر شوو تعریفونو ته یو جامع تعریف دی.

**د کورني اقتصاد مدیریت مفهوم او پېژندنه**

د کورني اقتصاد مدیریت لپاره مختلف تعریفونه شوي دي، رضایي او شعباني په دې عقیده دي، چې د کورنۍ مدیریت، په یوه معینه زماني دوره کې مشخصو موخو ته د رسېدو په منظور د کورنۍ د علم او هنر همغږي کول او په ښه شکل د کورنیو سرچینو (باورونو، عقایدو، انساني او مالي شتمنۍ، عواطف او احساسات قابو کول) عبارت دي د کورني اقتصاد له مدیریت څخه (۱۲: ۲۲).

همدا شان د افشاري په باور، د کورني اقتصاد مدیریت د کورنیو سرچینو د څرنګوالي، سازماندهۍ او مدیریت په اړه تصمیم نیونه عبارت ده د کورني اقتصاد له مدیریت څخه (۱: ۳۳).

په کورني اقتصاد کې د کورني اقتصاد د مدیریت په مهمو اړخونو باندې بحث کېږي، چې فرد د اقتصادي مصالحو په اړه کې د کورنۍ د سرچینو او امکاناتو ترتیب، د مدیریت وړتیا، پلان جوړونه، مالي کنټرول او هدایت او د کورنۍ اقتصادي چارې د کورنۍ د غړو د مادي او معنوي ارامتیا د تامین په موخه کسب کوي (۹: ۴۱).

په یو بل ځای کې ویل شوي، چې د کورنۍ اصلي موخه مطلوبیت ته رسېدل دي (۷: ٦۷).

کورنی اقتصاد هڅه کوي، چې د کورنۍ اقتصادي مسایل تر ارزیابۍ لاندې ونیسي، د کورنۍ اقتصادي نظام باید داسې برابر شي چې د کورنۍ د غړو غوښتنو ته، چې هم مهال د زیاتېدو په حال کې دي ځواب ووایي (۱: ۲۷).

بقاء او تداوم د هر سازمان لومړنی موخه ده، یعنې هر سازمان غواړي، چې تر هر څه وړاندې دوام پیدا کړي او دې موخې ته د رسېدو لپاره مختلف روشونه په کار اچوي د کورنی غړي، چې د ژوند او تداوم لپاره هڅه او کوښښ کوي، هر سازمان وروسته له هغې، چې تر یوه حده پورې له خپل تداوم څخه مطمئن شي د ترقی او پرمختګ فکر ور سره پیدا کېږي، کورنی هم له دې قاعدې څخه مستثنی نه ده کورنی د لومړنیو اړتیاوو تر پوره کېدو وروسته د نورو اړتیاوو د پوره کولو په فکر کې وي، د مازلو په فکر د لومړینو ضرورتونو د پوره کېدو په صورت کې ثانوي ضرورتونه، چې ځان بسیاینې پورې اړه لري رسېږي، هم کورنی اقتصاد، د اعتدال، د سرچینو او لګښتونو سم مدیریت او مالي بدلون په معنی دی (۱۰: ۴۹).

د کورني مدیریت تعریف ته په کتو داسې ښکاري، چې دا متغیر د بېلابېلو ټولنیزو علومو د هغې له جملې اقتصاد، ټولنپوهنه، مدیریت او. . . یو پېچلی او څو اړخیز مفهوم دی، موجوده هر یو تعریف د دې لوی متغیر مختلفې برخې تر بحث لاندې نیولي دي، دلته موږ هڅه کوو، چې د کورني اقتصاد مدیریت لپاره یو منلی تعریف وړاندې کړو، په دې اساس د کورني اقتصاد مدیریت د راتلونکي په نظر کې نیولو سره په عادي او بحراني حالاتو کې د مطلوبیت لوړې سطحې ته د رسېدو په موخه د مادي او غیر مادې سرچینو څخه سمه او متعادله ګټه اخیستنه عبارت د کورني اقتصاد له مدیریت څخه ده (۱۰: ۵۰).

په پورته تعریف کې د کورني اقتصاد د مدیریت مهم عناصر، چې عبارت دي له، د مادي او معنوي سرچینو بسیج کول، مطلوبیت، راتلونکی په نظر کې نیول، بحران ته پاملرنه، په مالي عادتونو، عایداتو او مصارفو کې تعادل ذکر شوي دي، نو پر دې بنیاد ویلی شو چې پورتنی تعریف نسبت نورو تعریفونو ته، چې پورته ذکر شول د کورني اقتصاد د مدیریت یو جامع تعریف دی.

**ښځې او اقتصاد**

اقتصاد هغه مقوله ده، چې د یوې کوچنۍ ټولنیزې ډلې چې کورنۍ نومېږي څخه شروع کېږي او تر نړیوالې او بین المللي کچې پورې ادامه پیدا کوي، له همدې کبله ښځه د کورنۍ د اصلي رکن په توګه کولای شي، چې د هېواد په کچه په اقتصادي برخه کې انقلاب رامنځته کړي. ښځه په کورني او ټولنیز چاپیریال کې په بېلابېلو کچو خپل موقف لري په فردي، ټولنیزه او نړیواله کچه، چې هر یو یې له دې اړخونو څخه د اقتصادي نقش په تر سره کولو کې د کورني اقتصاد شرایط بهتره وي. موږ په نننۍ نړۍ او ټولنه کې د ښځو د نقش د یو لوی دوه قطبي نظام سره مخ یو، له یوې خوا یوه توحیدي او اسلامي نمونه ده، چې ښځې ته د سالم اقتصاد او بشري سرچینو په انحصار کې د یوې سالمې کورنۍ په لور لارښوونه کوي او له بلې خوا د عصریت له فضا څخه راوتلی کلتور دی، چې د خپلو ښکلو او شفافو رنګونو سره یې ډېر خلک ځانته جلب کړي دي (۱۴: ۷).

له همدې امله د دغو دوو قطبونو مقایسه، مطالعه او په ټولو کچو کې د ښځو مهمې دندې د بحث یوه مهمه موضوع ګرځېدلې ده، له همدې امله ښځې د ټولنې نیمه برخه او د لوستو خلکو د پام وړ سلنې په توګه د ټولنې په ټولو کچو کې ځانګړی موقعیت لري. نن سبا د ښځو د شتون اغېزې د پوهنتونونو په څوکیو، د خصوصي او دولتي شرکتونو، اقتصادي فعالیتونو، د نفوذي سیاسي پوستونو او تر ټولو مهمه کورنۍ کې لیدل کیږي. له دې امله د دې لوی ټولنیز ګروپ د ابعادو څېړل یو له خورا مهمو او په ورته وخت کې خورا ستونزمنه څېړنه ښکاري. په هره ټولنه کې د ښځې ځای او له هغې څخه طمعه د بشري نظریاتو له مخې توپیر لري، خو د دې مسلې په اړه غالب نظر دا دی، چې د لویدیځ مادي تمدن په ټولو ټولنو او کلتورونو کې د پراختیا هڅه کوي (۱۴: ۷).

په دې فکري سبک کې د افرادو لومړیتوب خوښي او فردي ګټې تامینول دي، په لومړي نظر کې هغه څه، چې له دې ډول طرز، ژوند او فکري موډل څخه ترلاسه کېږي له مادي راحتونو ډک ژوند دی. بله مسله، چې په حقیقت کې په یوه کور کې د خلکو اسارت، پیسې او یوازیتوب دی په داسې چاپیریال کې، چې هر سړی د خپل ژوند مسولیت لري، ښځه او خاوند سره له دې چې یوځای ژوند کوي او دوی د یو او بل پر وړاندې هیڅ مسولیت نه لري او ښځه مکلفه ده، چې په شخصي توګه د خپل ژوند بار په غاړه واخلي او دا په ټولو چارو او په ځانګړې توګه په اقتصادي چارو کې د ښځو د ټولنیز شتون لپاره لازمي ده او دا مسله د ښځو حقوقو او ازادي، چې په ښه شکل سره ترې یادونه کېږي سره مغایریت لري؛ ځکه چې ټولنیز او اقتصادي فعالیت باید د ښځو لپاره مکلفیت نه وي او دا اړینه ده، چې دا مسایل د ښځو د ودې لپاره په پام کې ونیول شي او دا هغه تاریخي ظلم دی، چې د ټولنیزو او اقتصادي ازادیو په نوم په دوی باندې تحمیل شوی دی. د غالب کلتور په پراخیدو سره نننۍ ښځه د پخوانۍ میرمنې برعکس په داسې ټولنه کې ژوند کوي، چې د عصري توکو او عصري ټیکنالوژۍ کارول یو بنسټیز او نه انکارېدونکی حقیقت دی هغوی مجبور دي د کورنۍ دندو سربېره، چې د مېرمن کېدو، د ماشومانو پالنه او د کور د چارو د سمبالولو په شمول باید په ټولنه او د سیالۍ په ډګر کې حضور ولري، ترڅو دندې ترلاسه کړي او په دې توګه د ځان لپاره عاید پیدا کړي، نو ویلي شو چې ښځې په ټولنیزو او اقتصادي برخو کې په ځانګړې توګه کورني اقتصاد کې ډېره مهمه ونډه لري (۱۴: ۷).

## د کورني اقتصاد په مدیریت کې د ښځو رول

ښځې د مالي پرېکړو، بودیجې جوړولو او د سرچینو تخصیص د څارنې له لارې د کورنۍ اقتصاد په اداره کولو کې مهم رول لوبوي، دوی په فعاله توګه په اقتصادي فعالیتونو کې برخه اخلي، د کورنۍ پرېکړو کې اغېزناک ګډون کوي او په ټولنیزو او

کلتوري بدلونونو کې مرسته کوي، ښځې د هڅاندو کوښښونوله لارې هڅه کوي، چې کورنی اقتصاد په غوره شکل مدیریت کړي، دلته موږ د کورني اقتصاد په مدیریت کې د ښځو رول په تفصیل سره ذکر کوو.

## د ښځې او خاوند اړیکې او همکاري

د کورني اقتصاد په مدیریت کې یو تر ټولو مهم فکتور د ښځې او خاوند تر منځ اړیکې او یو له بل سره مرسته ده د دې لپاره، چې کورني امور په ځانګړې توګه اقتصادي چارې په ښه شکل مدیریت شي، نو دا یو لازمي امر دی، چې د دوی ترمنځ حسنه اړیکې، لازمه همغږي او یو له بل سره مرسته وکړي، یوه ورځ او مسلمانه ښځه هڅه کوي، چې په خپل تدبیر په ټولو چارو کې له خاوند سره د یو ښه همکار په توګه مرسته وکړي، د هغه د پرمختګ او ودې لپاره فرصتونه او وسیلې چمتو کړي، که مېړه د زده کړې په جریان کې وي، د تحصیل وسیله ورته تیاروي، که د دې د مېړه دنده دا ایجابوي، چې په کور کې پاتې شي او مطالعه وکړي او یا لیکل او حساب وکړي هڅه کوي، چې په دې لاره کې ورسره مرسته وکړي. که هغه بې سواده وي هڅوي یې، چې ښوونځي ته لاړ شي، که تعلیم یافته وي، تشویقوي یې ترڅو خپلو زده کړو ته دوام ورکړي، که هغه عالم وي، نو هغه مطالعې او لیکنې ته هڅوي (۱۱: ۸۹).

قرانکریم د ښځې وجود د سکون او ارامتیا سرچینه بولي په دې توګه کله، چې مېړه د ټولنې لخوا کوم زیان او تکلیف ویني کور ته په ننوتلو او سکون په موندلو سره یې جبران کوي او د ژوند په لوړو او ژورو (پورته او ښکته) برخو کې په خپلې مېرمنې تکیه کول هغه له یوازیتوب څخه خلاصوي. په ډېرو مواردو کې مېرمنې د مېړه لخوا زیانمن کیږي، د بېلګې په توګه مېړه ناروغه وي یا مفلس وي، یا د کورنۍ د ژوند د تامینولو لپاره مناسب کارو بار نه لري، یا په جګړه کې شهید شوي وي، یا ځاني او مالي زیانونه ورته رسیږي په ټوله کې د مېړه له کړاوونو سره مخ کیږي.

ډېرې ښځې شته چې خپل خاوند جنتي کوي او همدارنګه ډېر نارینه شتون لري، چې خپلې میرمنې واقعاً نیکمرغه کوي. د دې برعکس هم شتون لري، ممکن دوی ښه سړي اوسي، ښځې به یې دوزخیان جوړ کړي او ممکن ښځې ښې وي، خو نارینه به یې دوزخیان جوړوي که نارینه او ښځینه دواړه ښې اړیکې ولري او یو بل ته د کور په چاپېریال کې د ښه نصیحت، همکارۍ او مشورې سره د دین او اخلاقو په لوړولو کې د نظریې بڼې په پرتله عملي بڼې ته زیات اهمیت ور کړي او یو بل سره مرسته وکړي، بیا به سوکاله او د اطمینان نه ډک ژوند ولري (۳: ۲۱).

زیاتره دا ناخوالې قصدي نه دي اما که د دوی ترمنځ ښې اړیکې نه وي، له بده مرغه ښځه خپل ځواک او قوت له لاسه ورکوي او په بې رحمۍ او ناوړه چلند پیل کوي، څرګنده ده، چې په دې حالت کې به د هغې، خاوند او اولادونو ته ناوړه پایلې ولري. که ښځه د بې رحمۍ پرځای همت او صبر نه کار واخلي او له خپل مېړه سره مرسته وکړي، له یوې خوا د خپل خاوند ژوند به تنظیم کړي او له بلې خوا به له خپل ځان او ماشومانو سره به مرسته وکړي او د الله تعالی جل جلاله پر وړاندې به هم سرلوړې وي، چې دا مسله د ډېرو کورنیو ستونزو د حل بنسټ کېدی شي (۲: ۷۸).

د یوې پیاوړې او هوښیارې ښځې نورې ځانګړتیاوې دا دي، چې خپل خاوند د ټولې نړۍ پر وړاندې نه بدلوي، دا مسله په څو حالاتو کې ثابتېږي:

**لومړی:** چېرته چې ځینې خپلوان یا دوستان د دې د خاوند په اړه بدې خبرې کوي، ښځه په پوره جراءت او حوصلې سره د خپل خاوند پلوي او له هغه څخه ملاتړ او دفاع کوي.

**دویم:** د هغې چلند او کړنې باید په غربت او شتمنۍ کې یوشان وي؛ بلکې د غربت او فقر او مادي ستونزو پر مهال باید له خپل خاوند سره زیاته مینه او محبت وښیي، هیڅ کله د صبر څخه لاس وانخلي او خپل قوت او همت له لاسه ورنکړي.

**درېیم:** که چېرې د خپل خاوند کومه نیمګړتیا، کمزوري او یا تېروتنه یې ولیده، باید له بل چاسره یې شریکه نه کړي او د خپل کور نیمګړتیاوو په اړه دې نورو ته څه ونه وایي (۱۳: ۱۳).

همدا شان انسان شتمني او مال د خپلې هوساینې او ارامتیا لپاره غواړي او په طبیعي توګه د هغې سره مینه لري، که چا سره ښېګڼه او احسان وکړي او هغه مال، چې د ده ژوند ورسره تړلی ورته ورکړي، نو تمه لري، څو د هغه ستاینه او قدرداني وشي، ښګڼې او نیکو کارونو ته پاملرنه کېږي، نه یوازې دا چې هغه د دې کسانو سره به ډېر ښېګڼې وکړي، بلکې هغه په بشپړ ډول نیکیو کولو سره لیوالتیا پیدا کوي، ان تر دې اندازې پورې، چې نیکي کول ورو ورو د دې په ثانوي عادت او طبیعي عادت باندې بدلېږي، د ښېګڼې او نیک عمل لیواله ګرځي، خو که چېرته د هغه د نیکیو قدرداني او ستاینه ونه شي او ښېګڼې یې له پامه وغورځول شي، نیکو کارونو ته زړه نه ښه کوي، صداقت او شکر ګزارئ ښه اخلاق دي او د ښېګڼې او احسان جلبولو لوی راز دی؛ ان تر دې الله تعالی هم نورو ته اړتیا نه لري، مګر د خپلو نعمتونو شکر ادا کول د نورو نعمتونو د دوام لپاره شرط ګڼي او فرمایي: (که تاسو شکر ادا کړئ، زه به خپل نعمتونه نور هم زیات کړم) (سورت ابراهیم، آیت شمېره: ۷).

مېړه هم یو عادي انسان دی شکر ګذراي او مننه یې خوښېږي، د ژوند لګښتونه برابروي او دا کړنه خپل اخلاقي او دیني وجیبه ګڼي او له تر سره کولو څخه یې خوند اخلي، خو هیله لري چې وجود یې ارزښتمن وګڼل شي او د هغه له کړنو څخه قدرداني او مننه وشي (۲: ۸۹).

نو ویلای شو، چې د کورنیو چارو په ځانګړې توګه د کورنۍ اقتصادي چارو په ښه مدیریت کې د خاوند او ښځې ترمنځ اړیکې نادیده نه شي ګڼل کېدای، که چېرته د دوی ترمنځ نېکې او حسنه اړیکې موجودې وي د کورنۍ ټول امور په ځانګړې توګه

د کورنۍ مالي او اقتصادي چارې په ډېر ښه او عالي شکل باندې مدیریت شي او که نه، نو د دوی کورنی نظام به د هلاکت کندې ته ولوېږي.

## مالي پلان جوړونه

مالي پلان جوړونه د کورني اقتصاد د مدیریت اساسي عنصر دی، څو چې کورنۍ لپاره یو منظم مالي پلان جوړ نه شي، تر هغې کورني اقتصاد نه تضمینېږي، په مالي پلان جوړونه کې ښځې تر ټولو لوړ او بارز رول لري؛ ځکه چې د کورنۍ ډېری چارې لکه، د اولادونو روزنه، تعلیم، تحصیل، روغتیا، خواړه او داسې نور هغه چارې چې ښځې یې په ځانته توګه تر سره کوي، په دې برخه کې د دوی پوهه او تجربه تر نارینه وو زیاته ده، نو د کورنۍ لپاره منظم مالي پلان چې د کورنۍ ټول ضرورتونه، اړتیاوې او عواید په کې د عیني واقعیتونو پر بنسټ سنجول شوي وي او د ټولو چارو لپاره یو منظم مالي سیستم شتون ولري اړین دی، نو ښځې په مالي پلان جوړونه کې مهم رول لري (۹: ۳۱).

## د اړتیاوو او لومړیتوبونو تشخیص

اړتیا او ضرورتونه هغه موارد دي چې ژوند ور پورې تړلی او له شتون پرته یې ژوند هیڅ امکان نه لري، پر همدې بنیاد د کورني اقتصاد د سالم مدیریت په موخه د اړتیاوو او لومړیتوبونو تشخیص یو لازمي امر دی، ډېری وختونه کورني اقتصاد کې لویې ننګونې له دې امله رامنځته کېږي، چې لومړیتوبونه او اړتیاوې مشخصې نه وي، پر ځای د دې چې د اړتیا وړ توکي یا شیان وپلورل شي، داسې شیان پلورل کېږي، چې هیڅ اړتیا ورته نه وي همدا لامل دی، چې کورنی نظام له سترو مالي ننګونو سره مخ کوي، نو د دې لپاره، چې کورنی اقتصاد په سالم شکل مدیریت شي، نو پکار ده چې اړتیاوې تخشیص شي او د اړتیاوو په تشخیص کې د ښځو رول نادیده نه شي ګڼل کېدای؛ ځکه دوی د کورنیو چارو او اړتیاوو څخه باخبره وي(۸: ۱۳۰).

**د عوایدو او مصارفو تر منځ توازن (بیلانس)**

ښځې په دې ښه پوهېږي، چې عواید یې څومره دي او همدا شان لګښتونه تر کومې کچې پورې رسېږي، پوهه او باخبره ښځې په کورنۍ کې مالي ثبات او ځان بسیاینې ته د رسېدو په موخه کوښښ کوي، چې د عوایدو او مصارفو ترمنځ توازن رامنځته کړي، حتی دوی کوښښ کوي، څو د بې ځایه مصارفو مخه ونیسي او د عوایدو یو برخه وساتي، هغه کورنۍ یا ښځې، چې د عوایدو او مصارفو بیلانس ته پام نه کوي او یا هم مصارف یې د عوایدو په نسبت زیات دي د نابودۍ پر لور ګامونه اخلي او ډېر ژر به د هلاکت کندې ته ولوېږي او کورنۍ نظام به یې له یوې شدیدې او جدي انارشۍ سره مخ شي او له مالي اړخه به په لوی بحران کې واقع شي، اما بر عکس هغه کورنۍ یا ښځې چې کوښښ کوي مصارف کنټرول کړي او د عوایدو یوه برخه له ځان سره وساتي، دوی په سنجیده توګه د خپل ښه راتلونکي او له مالي اړخه د یوې باثباته کورنۍ په توګه په خورا لوړ تدبیر سره کار کوي (٦: ٣٢٦).

**سپما او پس انداز**

د یو انسان راتلونکی دا ایجابوي، چې خپله ټوله ګټه په یو ځل مصرف نه کړي، بلکې خپل راتلونکی هم په نظر کې ونیسي د خپل ژوند د سکون او ارام په موخه د امکان به صورت یو اندازه کې سپما وکړي. سپما د راتلونکي تشویش او په لویه کچه د کورنۍ او ټولنې د ضرورتونو د تامین لپاره ډېره اړینه ده؛ ځکه د یو شخص فردي راتلونکی د مقایسې وړ نه دی. په قران کریم د حضرت یوسف (علیه السلام) د غنمو ذخیره کول د خلکو د راتلونکي ضرورتونو تامین لپاه ښه یو مثال دی، د غنمو په ذخیره کولو یې د انسانانو ژوند وژغوره (سوره یوسف، ایت شمېره: ۴۷ ـ ۴۸).

**حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) فرمایي:** (چاته چې د ژوند وسایل برابر وي، د هغوی روح په سکون کې وي) (۱۵: ۴ جلد، ۱۱).

امام رضا فرمایلي دي کله، چې یو انسان خپل خوراک او اړتیاوې برابرې کړي، نو هغه به سکون او ارام ژوند ولري، امام صادق او باقر تر هغه، چې د یو کال په اندازه خوراکي توکي برابر نه کړي، نو ملکیت نشئ ترلاسه کولای (۱۵: ۵ جلد، ۸۹).

او امام صادق د خپل خدمتګارپه صفت کې فرمایي، په خپلو ځمکو ونې وکرئ! د دې لپاره هر کله چې په یو انسان ناڅاپه مصیبت راشي، نو په یاد راځي چې مالي ملاتړ لري، کورنی نظم به یې برقراره او سخاوتمند به وي (۱۵: ۵ جلد، ۹۲).

امام علی راتلونکي ته نظر او سپما د ښه ژوند لپاره غوره کار ګڼي. هغه فرمایلي د پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) د نزدیک ترینو دوستانو له جملې څخه، چې په زهد او تقوی پېژندل کېدل سلمان او ابو ذر و د سلمان د کار څرنګوالی داسې و، هغه هر کال له بیت المال څخه د کال خپل سهم ترلاسه کاوه او د یو کال لپاره یې ذخیره کاوه، څو د راتلونکې برخې پورې یې ورسوي خو اعتراض پرې وشو، چې ته د دومره زهد او تقوا سره د مال د جمع کولو په فکر کې یې ممکن نن یا سبا تاته مرګ راشي یې په ځواب کې یي وویل، تاسو ولې د مرګ فګر کوئ او د ژوندي پاتې کولو اندېښنه در سره نشته؟ ای ناپوه انسانه تاسو د دې څخه غفلت کوئ د ژوند کافي وسایل ونه لرئ، نو تاسو د اطاعت په حق کې او خپل قوت د حق په لاره کې له لاسه ورکوئ. ولې په همدومره اندازه دنیا، مال او وسایلو ته، چې اړتیا لرئ په اطمنان او ارامش کې د حق په اطاعت کې ژوند کوئ (۱۶: ۱۷ جلد، ۴۳۵).

نو ویلای شو، چې سپما یا پس انداز د کورنۍ د مالي ثبات لپاره مهم رکن دی او ښځه د دې رکن اساسي ستن ده، ښځې په اسانه سره کولای شي، چې د عایداتو یوه برخه سپما یا پس انداز کړي، که د دې خبرې علمي اړخ ته هم نظر وکړو ډېری داسې ښځې شته، چې عایدات په ډېر ښه شکل سره مدیریت کوي، ټول عایدات په یو وخت او یو ځای ډول نه مصرفوي، بلکې د عاید یوه برخه ساتي، تر څو د اړتیا پر وخت کې ترې استفاده وکړي.

**د اسراف او تبذیر مخنیوی**

اسراف په لغت کې له حد څخه د تجاوز په معنی دی او تبذیر د خپرولو او جلا کولو په معنی دی (۱۷: ۳۰).

کله چې علي رض (د بیت المال په تقسیم کې د مساوات اصل رعایت کاوه، ځینو خود غرضو په علي (رض) باندې نیوکه وکړه او هغه یې د سیاست خلاف وباله، علي رض د خطبې پر مهال هغوی مخاطب کړل او داسې وفرمایل: «أَلاَ وَ إِنَّ إِعْطَاءَ الْمَالِ فِي غَيْرِ حَقِّهِ تَبْذِيرٌ وَ إِسْرَافٌ وَ هُوَ يَرْفَعُ صَاحِبَهُ فِي الدُّنْيَا وَ يَضَعُهُ فِي الْآخِرَةِ، وَ يُكْرِمُهُ فِي النَّاسِ وَ يُهِينُهُ عِنْدَ اللَّهِ؛ وَ لَمْ يَضَعِ امْرُؤٌ مَالَهُ فِي غَيْرِ حَقِّهِ وَ لاَ عِنْدَ غَيْرِ أَهْلِهِ، إِلاَّ حَرَمَهُ اللَّهُ شُكْرَهُمْ وَ كَانَ لِغَيْرِهِ وُدُّهُمْ» (نهج البلاغه، خطبه: ۱۲۶).

**ژباړه:** خبردار! په نا حقه توګه یو چاته مال ورکول اسراف او تبذیر دی، دا کار په دنیا کې په ظاهره توګه تر سره کوونکی پورته کوي، مګر په اخرت کې یې د سرګردانۍ سبب ګرځي د خلکو پر وړاندې یې ګرانوي اما د الله تعالی جل جلاله په نزد یې خواروي، هر چا چې خپل مال ناحقه مصرف کړ او یا یې اهل شخص ته ونه وسپاره الله تعالی به یې له دې نعمت څخه محروم کړي، اسراف چې هر ډول وي د انسان د تباهۍ سبب ګرځي په ځانګړې توګه هغه اشخاص، چې د الله تعالی د ایتونو څخه په انکار او د پیغمبرانو په تکذیب سره د خپل ځان یا د هغې ټولنې، چې په هغې کې ژوند کوي اسراف وکړي په اړه یې الله تعالی فرمایي: «ثُمَّ صَدَقْنَاهُمُ الْوَعْدَ فَأَنجَيْنَاهُمْ وَمَن نَّشَاءُ وَأَهْلَكْنَا الْمُسْرِفِينَ» (سورت انبیاء، ایت شمېره: ۹).

**ژباړه:** بیا وګورئ، چې په پای کې مو له هغوی سره خپلې وعدې پوره کړې او هغوی، چې زموږ خوښ شول هغوی ته مو نجات ورکړ او له حده تېرې کوونکې مو هلاک کړل. نو اسراف په ټولو چارو کې یوه بده کړنه ده باید مخه یې ونیول شي په کورنۍ کې ښځې په ښه شکل سره کولای شي، چې د هر ډول اسراف مخه ونیسي؛

ځکه چې هغوی د کورنۍ د ډېرو مصارفو لومړني لوبغاړي دي، نو د اسراف په کنټرول کې هم ښه رغنده او رول لري (۸: ۸).

**په کورنۍ کې د لګښتونو کنټرول**

کورنۍ د ټولنې اساسي ستنه ده او ښځې د کورنۍ د زړه ضربان دي، په پرمختګ کې د انسانانو رول ته او د هغې اساسي ستنې ښوونه او روزنه او د کورنۍ موقف ته په کتو سره د ښځو رول نور هم رنګین او روښانه کېږي. د کورنۍ د لګښتونو کنټرول او مدیریت کې د ښځو د موقف پېژندنه، د ښځو موقف د کورنۍ لګښت کنټرول کې تر هغې کچې زیات دی، چې نه شو کولای په اعدادو او ارقامو یې اندازه کړو؛ ځکه چې په بېلابېلو اړخونو کې د ښځو ډېری هڅې د محاسبې وړ نه دي. ښځه د کورنۍ د اقتصاد مدیرې په توګه د پیردولو او د لګښت په برخه کې مهم رول په غاړه لري، د لګښت نحوې په اړه د اړینو معلوماتو په ترلاسه کولو سره، ښځې کولی شي، چې د ټولنې لګښتونه کنټرول کړي او د ملي تولیداتو کنټرول او مدیریت د کچې د لوړېدو لامل ګرځي، چې دا کار په کورنیو کې د لګښتونو د اصلاح کولو او سمولو له لارې ترلاسه کېږي (۱۲: ۶۳).

د ټولنې پرمختګ د لګښتونو په کمولو او د تولید په لوړولو پورې اړه لري او په دې برخه کې ښځې د کورنۍ د لګښتونو په کمولو کې ډېر اغېزناک رول لوبوي، یوه مسولیت منوونکې ښځه ځان یوازې په ښځینه مسایلو پورې محدوده نه ګڼي، بلکې په بشپړې صله رحمۍ او مسولیت منلو سره د ژوند د بېلابېلو ډګرونو او برخو ښه کولو په موخه د نارینه وو سره اوږه په اوږه قدم پورته کوي؛ ترڅو خپل نظارت او کنټرول ته ادامه ورکړي، دا چې ډېر وخت ښځې اجناس پیر ي کولی شي په بازار کې د وارد شویو توکو، فیشن، جامو او نورو محصولاتو په ډول کې اغېزناکه ونډه ولري (۴: ۶).

په لنډیز کې د کورنۍ په اقتصاد کې د ښځو ونډه څو اړخیزه ده، چې مالي مدیریت، عاید تولید، د سرچینو تخصیص، سپما او د ټولنې ښکیلتیا په کې شامله ده. په دې برخو کې د ښځو د رول ملاتړ کولی شي په ټولیزه توګه اقتصادي روغتیا او د کورنۍ په هوساینې اغېزه وکړي.

**د کورني اقتصاد د مدیریت روشونه**

ترسره شویو څېړنو ښودلې، چې په عمومي توګه د کورنۍ د اقتصادي مدیریت دوه اصلي روشونه شتون لري، چې عبارت دي له، منطقي یا عقلاني مدیریت (Rational economic management) او غیر منطقي (عقلاني) مدیریت ( Irrational economic management) په لاندې ډول به په دواړو ذکر شویو اصلي روشونو باندې په هر اړخیز ډول بحث وشي.

**۱. هر اړخیز منطقي یا عاقلانه مدیریت (Rational economic management)**

دا ماډل د مدیریت د روشونو تر ټولو بشپړ ډول یا نمونه ده او ویلای شو، چې دا نمونه د کورني اقتصاد د مدیریت مطلوب ډول دی. په دې ماډل کې راتلوونکې لپاره وړاندوینه، د بحران لپاره چمتووالی، د عایداتو او لګښتونو توازن ساتل، د مادي او معنوي سرچینو چمتو کول او نورې اړتیاوې د مطلوبیت په لوړه کچه کې قرار لري او خراب مالي عادتونه په ټیټه کچه کې وي، د مدیریت دا ډول په خپل ذات کې په دوه ډوله وېشل شوی دی، چې عبارت دي له: (٦: ٣٢٥).

**الف: موخه لرونکی منطقي مدیریت**

دا ماډل د مدیریت یو ډول دی، چې په ورته وخت کې د اقتصادي مدیریت ټول تشکیلوونکي بدلونونه، لکه د راتلوونکي لپاره وړاندوینه، د بحران مدیریت کول، د عایداتو او لګښتونو ترمنځ توازن، د سرچینو چمتو کول په کې شتون لري

"مطلوبیت" د نورو اړخونو او ابعادو په پرتله خورا لوړ اهمیت لري. په دې روش کې د دویمې کچې او حتی د درېیمې کچې اړتیاوې چمتو کول خورا مهم دي.

په بل عبارت د داسې کورنیو لپاره د لومړنیو اړتیاوو سربېره، نور اړتیاوې لکه تفریح او ډېر لګښت لرونکي سفرونه د نورو مواردو په پرتله خورا مهم دي. دا روښانه ده چې ډېر لګښت درلودل یو نسبي مفهوم دی. دا ممکنه ده چې یوه کورنۍ کوم چې لږ عادات لري په اړینو اړتیاوو کې ولګوي خو نور اړتیاوې هم له پامه ونه غورځوي. (٦: ٣٢٥).

**ب: راتلونکي لپاره ګټور منطقي مدیریت**

ځوانه کورنۍ په دویم پړاو کې (ښځه، مېړه او ماشومان یې) او لومړی پړاو (ښځه او مېړه، چې ماشومان ونه لري) معمولاً په دې ډول مدیریتي روش کې قرار لري هغه خلک، چې په دې ډول مدیریتي روش کې دي د هر څه په پرتله د سبا په اړه فکر کوي او اړتیاوې په ټیټه کچه کې وي. په بل عبارت په دې نمونه کې خلک د لومړنیو اړتیاوو په برطرف کولو او په پای کې ثانوي اړتیاوې تر یوې اندازې پورې ترسره کولو باندې بسنه کوي او تر ډېره بریده د سبا په فکر کې وي. د مدیریت په دې روش کې راتلونکي ته پاملرنه هر څه نه مخکې وي، که څه هم ځینې نور موارد له پامه نه غورځول کیږي (٦: ٣٢٦).

**هر اړخیز غیر منطقي یا غیر عاقلانه مدیریت ( Irrational economic management)**

هغه خلک چې په دې کټګورۍ کې قرار لري، بې پولې او بې چوکاټه مدیریت لري. په حقیقت کې ویلای شو، چې دغه ډول خلک په خپل اقتصادي ژوند کې هیڅ پلان نه لري او نه کوم لومړیتوب لري، راتلوونکي لپاره هیڅ پلان او موخې ته اهمیت نه ورکوي. بد مالي عادتونه په پراخه کچه شتون لري، تر ټولو مهم دا، چې په دې مدیریت کې د

عایداتو او لګښتونو ترمنځ تعادل ساتلو ته خورا لږه پاملرنه کیږي. دا ډول افراد نه شي کولای، چې دا تعادل رامنځته کړي او تل د ستونزو سره لاس او ګریوان وي، همیشه د قرضونو اخیستلو په حال کې وي، نو له همدې امله په ټولنه کې د خلکو ترمنځ ښه اعتبار نه لري. په بل عبارت ویلای شو، چې په ټولنه کې له ډېرې ټیټې اجتماعي پانګې څخه برخمن وي، د دغو کورنیو د غړو ترمنځ همغږي او د سرچینو چمتو کولو حس موجود نه وي او د دوی ترمنځ بې باورې شتون لري (٦: ٣٢٦).

**الف: غیر منطقي ګټور مدیریت**

منطقي چلندونه او کړنې د مدیریت په دې لار کې کمېږي، ګټه او موخه په لوړه کچه اهمیت لري مګر غلطې مالي کړنې په شدت سره زیاتیږي، په دې ډول کې احساساتي مالي کړنې زیاتوالی مومي، لکه برنډ ګرایي (پیرودلو کې سوداګریزو نښو ته پاملرنه کول)، خرید کې چانه وهل (د قیمت کښته کول)، تجمل ګرایي (د قیمتي توکو اخیستل)، هغه کسان، چې په دې روش کې قرار لري ثانوي اړتیاوو ته د اولیه اړتیاوو پرتله لومړیتوب ورکوي، لکه هغه څوک چې خپل عاید په عیش او عشرت، قیمتي شیانو اخیستلو او بهرنیو سفرونو کې مصرفوي، خو د کور اخیستلو هڅه نه کوي (٦: ٣٢٦).

**ب: راتلوونکي لپاره غیر منطقي مدیریت**

په دې ډول مدیریت کې سپما کول له موخې پرته د سرطان په څېر په شدت سره سرایت کوي، مطلوبیت د اولیه اړتیاوو په کچه کې قرار لري او ځینې وختونه هغه څه، چې جمع شوي دي هیڅ کله نه کارول کیږي. د بحران لپاره تیاری نیول، په عایداتو او لګښتونو کې توازن ساتل، د سرچینو چمتو کول، شتون نه لري (که شتون هم ولري د منطقي مدیریت په حد کې نه وي) د مدیریت په دې روش کې د بحران مدیریت هیڅ اهمیت نه لري (٦: ٣٢٧).

## د کورني اقتصاد د مدیریت مهارتونه

د کورني اقتصاد د مدیریت لپاره ګڼ شمېر مهارتونه شته، چې د دغو مهارتونو د کارولو پر مټ کولای شو، چې کورني اقتصاد په ښه شکل مدیریت او د ښځو رول کې روښانه کړو، کولای شو دغه مهارتونو ته په لاندې توګه اشاره وکړو.

۱. **د کورني اقتصاد مدیریت لپاره د مسوول شخص ټاکل:** د کورني معاش تامین او د مالي سرچینو مدیریت د کورنۍ د مدیریت یو له مهمو دندو او رولونو څخه دي، دا دنده په ټولي شکل د بېلابېلو شرایطو په اساس کېدای شي د کورنۍ د هر غړي په غاړه وي اما د معمول مطابق دا دنده همېشه د نارینه وو په غاړه وي، د اسلام له نظره د کورنۍ نفقه د نارینه وو په غاړه ده، که چېرته نارینه کافي اندازه عاید ولري، چې وکولی شي د ژوند مصارف تامین کړي، هغه د کورني اقتصاد مسول دی، اما که په هر دلیل د کورنۍ نارینه ونه شي کولی، چې دغه مسولیت تر سره کړي په دې صورت کې ښځه د دې مسولیت لرونکې ګرځي. په ټوله کې باید د کورني غړي په اقتصادي چارو کې یو له بل سره مشوره وکړي، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایي: (یوه شئ چې ټول تاسې سرپرستان یاست او ټول تاسې د لاس لاندې اشخاصو په اړه پوښتل کېږئ، هغه امیر چې خلکو ته فرمان صادروي، سرپرست دی او د خپل رعیت په نسبت به پوښتل کیږي)، نارینه د خپلې کورني سرپرست دی او د هغوی په وړاندې باید ځواب ویونکی اوسي او ښځه د کور او خپل خاوند د اولادونو سرپرسته ده او د هغوی په وړاندې باید ځواب ویونکي اوسي(۱۸: ۱جلد، ۱۴۷).

۱. **عاقلانه او مدبر مدیریت:** هغه څوک چې د کورني اقتصادي مدیریت په غاړه اخلي باید عاقلانه او له احساساتو پرته راتلونکی په نظر کې ونیسي او پلان له ځان سره ولري، مدبر مدیر هغه څوک دی چې، پرته له دې چې د کورنۍ د عوایدو زیاتوالی او د هغې د تداوم د وړاندوینې باوجود کولی شي په خپلو احساساتو غلبه

حاصله کړي او په یو دمي توګه د مصارفو پخوانی موډل پرېښږدي او د نوي مصرف موډل له تعقل، تدبر او تحلیل پرته ونه مني، اعتدال او میانه روي په مصارفو او پرداخت کې یو معقول او منطقي روش دی له دې امله علی رض فرمایي: ((القناعه مال لاینفد)) قناعت پای ته نه رسېدونکی شتمني ده (۱۹: ۸۹).

د قناعت او اعتدال په مقابل کې بې ځایه مصارف او اسراف دی چې، هم د الله تعالی جل جلاله د نعمتونو په وړاندې ناشکري او هم د فقر او لاستنګۍ او د امکاناتو د ضایع کېدو عامل دی، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایي: هر څوک چې په ناحقه بخشش وکړي، اسراف یې کړی دی او هر څوک چې حق (پر ځای) خرچ ونکړي سختي او بخل یې کړی دی (۲۰، ج ٦٦، ٢٦١) نو ویلی شو چې، ښځه او خاوند باید د کورني اقتصاد په مدیریت کې عاقلانه چلند وکړي او باید له تدبر څخه کار واخلي.

۲. **د عوایدو او لګښتونو تر منځ توازن ساتل:** عاید او لګښتونه د بودجې د موډل دوه اساسي ارکان ګڼل کېږي، د بویجې جوړولو بهترین موډل هغه دی، چې لګښتونه د عایداتو سره معقول تناسب ولري او لګښتونه له عایداتو زیات نه وي، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایي: (درې کسان د الله تعالی دښمنان دي، څوک چې صدقه کوي او احسان باروي، څوک چې په شتمنۍ او دارایي کې بخل کوي او اسراف کوونکی فقیر (۱۸: ۲ جلد، ۱۲۱).

۳. **د کورنۍ اقتصاد ته په پام د لومړیتوبونو ټاکنه:** په کورني اقتصاد کې یو کلیدي امر د لومړیتوبونو تشخیص او په لګښتونو کې د مهمو کارونو معلومول دي؛ ځکه په دې مسله کې غفلت په حقیقت کې د شتمنۍ ضایع کېدل او د کاري اسراف له ډولونو څخه دي، چې له ځان سره ګڼ شمېر ستونزې زېږوي، امام علی فرمایي: (هر چا چې داسې شی وپیره، چې مهم نه وو، هغه څه چې ډېر مهم وو له لاسه یې ورکړل)، «من اشتغل بغیر المهم ضیع الاهم» (غرر الحکم، ۴۷۷).

په ټولو چارو کې د مهمو اړتیاوو، لومړیتوبونو او لګښتونو معلومول یو له کلیدي مهارتونو څخه دي، چې یوه کورنۍ د فقر او تنګلاسۍ کندې ته له تېل وهلو ژغوري.

**۴. د مسولیت په منلو کې د ټولو ګډون:** د کورنۍ غړي باید لګښتونو او مصارفو په برخه کې مشارکتي مدیریت ولري؛ ځکه چې د هغوی اقتصادي پرېکړې مشورتي ځانګړنه لري، دا چاره د دې پرېکړو اجرایوي تضمین لا پیاوړی کوي او کورنۍ د عملیاتي پلان جوړونې او د کار د وېش پر بنسټ تنظیموي. همدا شان د اړتیاوو لومړیتوب او ټاکل شوي لګښتونه او د کورنۍ ټول غړي په بریالیتوب سره د هغې په اجراء باندې متعهد کوي او فعاله او اغېزناکه کورنۍ د مصارفو غوره نمونې په پلي کولو سره له افراطي لګښتونو، عیش او بخل څخه لرې ساتي (۶: ۳۲۷).

**۵. د اولادونو نوښت او خلاقیت:** د نن ورځې اولادونه د سبا ورځې مېندې او پلرونه او په لویه کچه د ټولني اصلي وګړو په توګه ګڼل کېږي، پر همدې اساس د مخ پر ودې او مترقي ټولنې د جوړولو لپاره باید هغوی د علم، نوښتونو او خلاقیت زیات تړي او د هغوی تعقیب ته باید وهڅول شي دا اولادونه، چې کوم ارزښتونه د ټولنیز کولو په دوران کې د کورني بنسټ کې داخلوي، مهم او اساسي ارزښت یې د فرد شخصیت جوړونه ده. له همدې امله د مور او پلار د چلند ډول او هغه ارزښتونه، چې د هغې په اساس فکر او عمل کوي د اولادونو په خلاق جوړولو کې مهم رول لري، خلاق اولادونه له مالي اړتیاوو وړاندې د ارزښتنو او د فکري وړتیاوو زده کړې ته اړتیا لري، د بېلګې په توګه د خطر منلو ځواک ته اړتیا لري، له هغه ځایه چې اولادونه مختلفې وړتیاوې لري، که له هماغه ځوانۍ دوران څخه په مناسب مسیر باندې هدایت شي، په مالي چارو کې له نیمګړتیاوو سره سره امکان لري د عمل په ساحه زیاتې بریاوې تر لاسه کړي (۶: ۳۲۷).

**پایله**

له دې څېړنې څخه لاندې پایلې تر لاسه شوې:

کورنۍ د ټولنې د تشکیل یو کوچنی واحد دی، چې لږ تر لږه د یو خاوند او ښځې څخه تشکیلیږي او په اولادونو سره بشپړیږي. همدا راز د افغانستان د ۱۳۵۵ کال مدني قانون کورنۍ په دې ډول تعریف کړې ده: ( (د انسان کورنۍ د هغه له خپلوانو څخه متشکله ده، چې د یو شریک اصل په اساس سره جمع شوي وي) ). یا هم کورنۍ په هغې ډلې باندې اطلاق کیږي، چې غړي یې یو بل سره د وینې، قانوني نسبت یا مشترک مکان په وسیله تړل شوي وي.

د کورنۍ خورا مهمو اړتیاوو او غوښتنو ته د محدودو شته سرچینو تخصیص عبارت دی له کورني اقتصاد څخه. د سرچینې څخه موخه د کورنۍ عاید، چې په طبیعي توګه محدود دي؛ مګر د ترلاسه کولو وړ دي، همدا شان د کورنۍ سرچینې، سرچینو تنظیم او اداره عبارت له کورني اقتصاد څخه دي.

بقاء او تداوم د هر سازمان لومړنۍ موخه ده، یعنې هر سازمان غواړي، چې تر هر څه وړاندې دوام پیدا کړي او دې موخې ته د رسېدو لپاره مختلف روشونه په کار اچوي، کورنۍ غړي چې د ژوند او تداوم لپاره هڅه او کوښښ کوي، هر سازمان وروسته له هغې، چې تر یوه حده پورې له خپل تداوم څخه مطمین شي، د ترقۍ او پرمختګ فکر ور سره پیدا کیږي، کورنۍ هم له دې قاعدې څخه مستثنی نده، کورنۍ د لومړنیو اړتیاوو تر پوره کېدو وروسته د نورو اړتیاوو د رفع کولو په فکر کې وي، د مازلو په فکر، د لومړینو ضرورتونو د رفع کېدو په صورت کې ثانوي ضرورتونه، چې ځان بسیاینې پورې اړه لري رسیږي. کورنۍ اقتصاد، د اعتدال، د سرچینو او مصارفو سم مدیریت او مالي بدلون په معنی دی.

ترسره شویو څېړنو ښودلې، په عمومي توګه د کورنۍ د اقتصادي مدیریت دوه اصلي روشونه شتون لري، چې عبارت دي له منطقي یا عقلاني مدیریت (Rational

(Irrational economic management) او غـیر منطقـي (عقـلاني) مـدیریت (economic management) د یادو روشونو پر مټ کولای شو کورنی اقتصاد په ښه شکل مدیریت کړو.

د کورني اقتصاد مدیریت کولای شو د ځینو مهارتونو له لارې تر سره کړو، مثلاً د کورني اقتصاد مدیریت لپاره د مسؤل شخص ټاکل، عاقلانه او مدبر مدیریت له لارې، د عاید او لګښتونو توازن، د اړتیاوو او لومړیتوبونو تشخیص، ټول ګډونه مسولیت منلو اصل او د اولادونو د نوښت او خلاقیت د مهارتونو په کار اچولو سره کولای شو، چې کورنی اقتصاد په ښه شکل سره مدیریت کړو.

**مناقشه**

ښځه د بېلابېلو فکتورنو څخه په استفادې کولای شي، چې د کورني اقتصاد په مدیریت رغنده او اساسي رول ولري د بېلګې په توګه د ښځې او خاوند اړیکې او همکاري، مالي پلان جوړونه، د اړتیاوو او لومړیتوبونو تشخیص، د عوایدو او مصارفو ترمنځ توازن، سپما او پس انداز، د اسراف او تبذیر مخنیوی او په کورنۍ کې د لګښتونو کنټرول هغه موارد دي چې پر مټ یې ښځې کولای شي، چې کورنی اقتصاد په سم شکل مدیریت کړي.

په ډېر تاسف سره بایو ووایو، چې زموږ په ټولنه کې ښځې ته یا هم په شعوري توګه یا په غیر شعوري توګه ارزښت نه ورکول کېږي، تصمیم نیونه کې ونډه نه ورکول کېږي، مشورو او خبرو ته یې غوږ نه نیول کېږي، مشوره ور سره نه کېږي، دا هغه عوامل دي، چې په کورنیو مسایلو کې د رول او ونډه اخیستنه ښځې ټېټې کچې ته راوستې ده، همدا لامل دی، چې زموږ ډېری کورنۍ په بد اقتصادي وضعیت کې قرار لري او کورنی اقتصاد یې له یوې شدیدې انارشۍ سره مخ دی.

**پایله اخیستنه**

د کورني اقتصاد د مدیریت لپاره اول باید د کورنۍ ټول غړي هڅه او کوشش وکړي، چې سالم او مشروع کار وکړي او د عاید څو مدرکونه ولري، د دې تر څنګ د مالي او اقتصاد چارو د تنظیم لپاره په کورنۍ کې یو مسول شخص وټاکي، منظم مالي پلان ولري، اړتیاوې او لومړیتوبونه تشخیص کړي، قیمتي او تجملي شیانو له اخیستلو باید ډډه وکړي، ښځو ته په لوړ ارزښت قایل شي، کورنۍ مسایلو او پریکړو ته مستقیم داخلت ورکړل شي، نظریات یې واورېدل شي او د دوی د استعداد او مهارتونو څخه استفاده وشي، همدا شان ټول عاید باید په یو ځای مصرف نه شي، د عاید یوه برخه باید حتمن وسپمول شي، د بحراني حالت لپاره باید منظمه بودیجه شتون ولري، راتلونکی په نظر کې ونیول شي او د مدیریت د منطقي او عاقلانه موډل په نظر کې نیولو سره د کورني اقتصاد د مدیریت لپاره اقدام وشي.

**وړاندیزونه**

۱. د کورني اقتصاد د مدیریت لپاره باید هره کورنۍ یو منظم مالي پلان ولري داسې یو پلان، چې عاید او لګښتونه پکې په نظر کې نیول شوي وي دا چاره دې د ښځو پر مټ تر سره شي.

۲. هره کورنۍ د دې لپاره، چې مالي ثبات ته ورسېږي او کورنی اقتصاد یې رشد او پرمختګ وکړي، نو دا پرې واجب ده، چې د خپلو عایداتو یوه برخه سپما کړي.

۳. دا چې ښځې د کورنۍ اساسي رکن دی باید د کورنۍ په ټولو پریکړو او تصمیمونو کې فعاله او رغنده رول ورکړل شي.

۴. هره کورنۍ باید د منطقي او عاقلانه مدیریت پر مټ، چې د عاید او لګښت انډول پکې سنجول شوی وي، لومړیتوبونه پکې مشخص شوي وي، اړتیاوې پکې درجه بندي شوي وي، د بې ځایه لګښتونو څخه ډډه شوي وي، د بحران د

مدیریت لپاره چمتوالی موجود او سمپا صورت موندلی باید کورنی اقتصاد مدیریت کړي.

۵. نارینه باید هڅه وکړي، چې ښځو ته د دې فرصت برابر کړي چې، د کورني اقتصاد په مدیریت کې د اساسي رکن په حیث فعاله او مهمه ونډه واخلي، ښځو ته هم پکار ده، چې د مسولو اشخاصو په حیث بې پروایي او غفلت ونه کړي او د خپلې کورنۍ د تنظیم او د اقتصاد د مدیریت لپاره خپلې وړتیاوې په کار واچوي.

**ماخذونه**


۱. افشاری, زهرا. (۱۳۸۳). اقتصاد خانواده، مرکز امور زنان و خانواده، تهران: دانشگاه الزهرا.
۲. امینی, ابراهیم. (۱۳۸۹). آیین همسرداری. انتشارات اسلامی.
۳. ای, علی خامنه. (۱۳۸۷). خطبه عقد، مطلع عشق. تهران.
٤. تفضلی، فریدون. (۱۳۷٦). اقتصاد کلان؛ نظریه ها و سیاست های اقتصادی. تهران: نشرنی.
۵. د عدلیې وزارت. (۱۳۵۵). د افغانستان مدني قانون. عدلیې وزارت.
٦. صدیق، رها شگفته، حسین میرزایی، علی اکبر، غلام رضا. (۱۳۹۹). سبک های مدیریت اقتصادی خانواده های مشهدی. مشهد: مشهد ایران.
۷. عبری، غلام رضا. (۱۳۷٦). اقتصاد خانواده: سنتی یا مدرن، تازه های اقتصادی.
۸. فرد، اعظم یکتا پور. (۱۳۹۱). مهارت زنان در مدیریت اقتصاد خانواده. تهران: جاویدان.
۹. فرزانه، م. (۱۳۹۰). اقتصاد خانواده، مازندران. مازندران: جهاد دانشگاهی مازندران.
۱۰. فیضی، حسین. (۱۳۹٤). اسیب های اقتصاد خانواده و راهای بیرون رفت از ان از دیدگاه قران، پایان نامه دکتری. قم: دانشگاه قم.
۱۱. قائمی، علی. (۱۳۸۹). نظام حیات خانواده در اسلام، تهران: انجمن اولیا و مربیان.
۱۲. مریم، رضایی، احمد، شعبانی. (.۱۳۹۳). بررسی رویکرد تطبیقی دیدگاهای علامه

طباطبایی و پارسنز نسبت به مدیریت خانواده، تهران: مجله معرفت.

۱۳. مظاهری، حسین. (۱۳۹۰). خانواده در اسلام. شفق.

۱٤. وند، یوسف زینی. (۱۳۸۸). نقش زن در مدیریت خانواده، تهران: دانشگاه تهران.

۱۵. کلینی، محمد بن یعقوب. (۱۳۸۹). اصول الکافی، ج ۵، خپروندوی: انتشارات دارالحدیث قم، ایران.

۱٦. حرعاملی، محمد بن حسن. (۱۳۹۳). وسائل الشیعه و مستدرکها، ج ۱۷، خپروندوی دفتر انتشارات اسلامی، ایران

۱۷. الیاس، شریفي اشکوري. (۱۳۸۷). فقرات فقیه، ایران: بیت ایت الله، قم.

۱۸. ورام، مسعود بن عیسی. (۱۳٦۹). مجموعه ورام آداب و اخلاق در اسلام، ایران: آستان قدس رضوی.

۱۹. الحراني، ابن شعبة. (۱۳٦۳). تحف العقول، شارع المطار، بېروت

۲۰. تقي، محمد باقر بن محمد (کال نشته). بحار الأنوار، دار الرضا.

**قیس‌الله قديري**
ديپارتمنت حقوق، پوهنځی حقوق و علومو سیاسي، پوهنتون بایزید روښان

# ویژگی ها و آثار جرایم سازمان یافته در اسناد ملی و بین المللی

## چکیده

جرایم سازمان یافته از جمله جرایم مغلق در سطح ملی، منطفه ای و بین المللی می باشد این جرایم در اسناد ملی و بین المللی مورد بحث قرار گرفته وعبارت از جرایمی است که بصورت سازمانی با هماهنگی سه نفر یا بیش از آن به صورت منظم به هدف ارتکاب یک یا چند جرم جنایت یا جنحه جهت کسب منفعت مالی یا سایر منافع ارتکاب میابد، بنابر این جرایم سازمان یافته دارای ویژگی های منحصر به فرد می باشد که بعضی از ویژگی ها مربوط به جرایم سازمان یافته و بعضی از آنها مربوط سازمان های مجرمانه می باشد، مانند، ساختار سازمانی، استمرار زمانی، قدرت مرکزی، سلسله مراتب تشکیلاتی، قواعد الزام آور، تقسیم کارو محدودیت اعضا، سازمان های مجرمانه با ارتکاب جرایم سازمانی پایه های اقتصادی، سیاسی و اجتماعی جامعه را متزلزل ساخته و اثرات جبران نا پزیری را در این بخش ها وارد می کند، بنا شناسایی جرایم سازمان یافته برای قضات، پولیس، اساتید حقوق و شرعیات، مشاوران حقوقی و محصلان پوهنځی های حقوق و شریعت دارای اهمیت فوق العاده می باشد، هدف انتحاب موضوع این است تا ویژگی های جرایم سازمان یافته و سازمان های مجرمانه روشن و در ضمن آثار و پیامد های منفی آن مشخص شود. این تحقیق از نوع توصیفی- تحلیلی می باشد، وروش جمع آوری اطلاعات با استفاده از منابع کتاب خانه ای می باشد، لذا می توان گفت که در اسناد ملی و بین المللی جرایم سازمان یافته تعریف نشده، بلکه گروه های مجرمانه تعریف شده و به یک سلسله ویژگی ها آن پرداخته شده است، ضمنا در اسناد ملی هدف گروه های مجرمانه را کسب منفعت مالی و قدرت سیاسی می دانند در حالیکه

دراسناد بین المللی معمولاً هدف عمده گروه های مجرمانه را بدست آوردن منافع مادی عنوان می کنند.

**واژهای کلیدی:** اثار، اسناد بین المللی، اسناد ملی، جرایم سازمان یافته، گروه های مجرمانه

**مقدمه**

جرایم سازمان یافته یکی از مباحث مهم و کار بردی در علم جرم شناسی می باشد جرایم سازمان یافته عبارت از فعالیت های غیر قانونی و هماهنگ گروهی منسجم از اشخاصی است که با تبانی با هم و برای تحصیل منافع مادی و قدرت به ارتکاب مستمر اعمال مجرمانه می پردازند و برای رسیدن به این هدف از هر نوع ابزار مجرمانه نیز استفاده می کنند، با عنایت به تعریف فوق می توان گفت که جرایم سازمان یافته دارای دو نوع ویژگی ها می باشد که یک سلسله ویژگی ها مربوط به جرایم سازمان یافته و تعداد ویژگی ها مربوط به سازمان های مجرمانه می باشد ازجانب دیگر جرایم سازمان یافته ماهیت اقتصادی و سیاسی داشته که توسط سازمان های مجرمانه ارتکاب می یابد، بنا ارتکاب این جرایم آثار منفی اقتصادی، سیاسی و اجتماعی را به همراه دارد، بنا بر این در این تحقیق به ویژگی ها و پیامد های منفی جرایم سازمان یافته پرداخته شده است که با مطالعه آن می توان به ویژگی و پیامد های منفی جرایم سازمان یافته پی برد، پس فهم و درک جرایم سازمان یافته برای مجرمان قانون و دولت دارای اهمیت فوق العاده می باشد، زیرا با درک ماهیت سازمان های مجرمانه می توان در تشخیص این سازمان ها موفق شد و مرتکبین چنین جرایم شناسایی وبه میز عدالت کشاند از طرف دیگر با فهم و درک این سازمان ها می توان که از آثار و پیامد های منفی اقتصادی، سیاسی و اجتماعی که دولت ها متحمل می شوند جلو گیری کرد. این تحقیق طی دو مبحث مورد مطالعه قرار گرفته است، طوری که در مبحث اول مفهوم و ویژگی های جرایم سازمان مورد مطالعه

قرار گرفته است که این مبحث مشتمل به سه مطلب می باشد، طوری که در مطلب اول مفهوم جرایم سازمان یافته در مطلب دوم ویژگی های سازمان های مجرمانه و در مطلب سوم ویژگی های جرایم سازمان یافته مورد مطالعه قرار گرفته است. به همین ترتیب در مبحث دوم به آثار و پیامدهای منفی جرایم سازمان یافته پرداخته شده است، این مبحث نیز طی سه مطلب مورد مطالعه قرار گرفته، طوری که در مطلب اول آثار سیاسی جرایم سازمان یافته، در مطلب دوم آثار اقتصادی جرایم سازمان یافته و در مطلب سوم آثار اجتماعی جرایم سازمان یافته مورد مطالعه قرار گرفته و در اخر این مقاله به مناقشه، پیشنهادات و نتیجه گیری پرداخته شده است.

**بیان مساله**

مساله اصلی و اساسی این است که اکثر اشخاصی که در ارگان های عدلی و قضایی کار می کنند از جرایم سازمان یافته برداشت درست نداشته، زیرا آنها محض موجودیت سه نفر یا بیش از سه نفر را در قضایای جنایی جرایم سازمان یافته تلقی کرده و بدون توجه به سایر ویژگی های جرایم سازمان یافته مرتکبین را به مجازات شدید محکوم می کنند که این مورد می تواند عدالت را شدیدا خدشه دار بسازد، در حالیکه جرایم سازمان یافته بر بنیاد اسناد ملی و بین المللی علاوه از ویژگی تعداد اعضا دارای یک سلسله ویژگی های دیگر نیز می باشد که در این مقاله این ویژگی ها روشن و برجسته می شودو ضمنا جرایم سازمان یافته به هدف کسب منفعت مالی و قدرت سیاسی صورت می گیرد و این جرایم معمولاً ماهیت اقتصادی و سیاسی داشته که از اثر ارتکاب این جرایم اثرات منفی به پیکر جامعه وارد و پایه های اقتصادی، سیاسی و اجتماعی دولت را متزلزل می سازد بنا عدم درک درست دولت ها از آثار زیان بار این گروه ها فعالیت این گروه ها هر روز تقویه و فعالیت ها آنها گسترش می یابد، بنا این تحقیق می تواند که در شناسایی اثرات زیان بار این سازمان ها موثر واقع شود.

**اهمیت و ضرورت تحقیق**

۱. بدون تردید می توان اذعان داشت که جرایم سازمان یافته آثار زیان باری را اعم از لحاظ سیاسی، اقتصادی و اجتماعی برای کشور ها وارد می کند، که از آن جمله کشور مان همواره از ناحیه ارتکاب جرایم سازمان یافته زیان مند بوده، چنانکه قاچاق مواد مخدر، قاچاق اسلحه، قاچاق مهاجران، قاچاق انسان، جرایم تروریستی و تطهیر پول که از جمله مصادیق جرایم سازمان یافته می باشد ارتکاب این جرایم پایه های اقتصادی، سیاسی و اجتماعی را متزلزل می سازد بنا ضرورت است تا این جرایم بطور دقیق شناسایی و تدابیر جدی در قبال مرتکبین این جرایم از جانب دولت اتخاذ شود و در شناسایی و گرفتاری مجرمین سازمان یافته از جانب دولت اقدام صورت گیرد.

۲. مطالعه و فهم دقیق از ویژگی های جرایم سازمان یافته، سازمان های مجرمانه و آثار زیانبار آن برای مجریان عدالت مانند قضات، پولیس، اساتید پوهنځی های حقوق و شرعیات، محصلان این پوهنځی ها، مشاورین حقوقی و برای آنعدی اشخاصی که به نحوی از انحا با مراجع عدلی و قضایی سرو کار دارند دارای اهمیت فوق العاده بوده، زیرا آنها می توانند که با فهم درست از ویژگی های این جرایم به عدالت دست پیدا کنند.

**اهداف تحقیق**

۱. روشن ساختن ویژگی های جرایم سازمان یافته وسازمان های مجرمانه با عنایت به اسناد ملی و بین المللی.

۲. روشن ساختن اثرات منفی سیاسی، اقتصادی و اجتماعی ناشی از ارتکاب جرایم سازمان یافته توسط سازمان های مجرمانه.

## علت انتخاب موضوع

چون جرایم سازمان یافته از جمله جرایم مغلق و پیچیده در علم جرم شناسی است و به نسبت اینکه جرایم سازمان برای بار اول در کد جزای افغانستان جرم انگاری شده است، بنا بر این کمتر دانشمندان جرم شناسی به ابعاد این جرایم و آثار ناگوار آن قلم و قدم زده اند روی همین دلیل است که این جرایم از جمله موضوعات جدید و مهم در نظام جزایی افغانستان می باشد و هر روز دامنه فعالیت سازمان های جنایی گسترش پیدا می کند و آثار زیانباری را برای دولت افغانستان در عرصه های سیاسی، اقتصادی و اجتماعی وارد می کند، بنا جدید و مهم بودن این جرایم و علاقه خاصی که نسبت به درک و فهم این جرایم داشتم، این مساله باعث شد که این موضوع را انتخاب و بالای آن تحقیق نمایم.

## پیشینه ای تحقیق

در مورد جرایم سازمان یافته تا حال صد ها دانشمند در حوزه علوم جنایی مطالعات و تحقیقات انجام داده، اما بطور مشخص در مورد ویژگی ها و آثار جرایم سازمان یافته کدام تحقیق جامع تا حال صورت نگرفته است، بطور مثال داکتر احمد رضا صادقی در کتاب معتبر خود تحت عنوان منطقه ای شدن سیاست جنایی در قبال جرایم سازمان یافته، که در سال ۱۳۹۸ به نشر رسیده است و در ذات اش یکی از کتاب های معتبر علمی و آکادمیک بوده، اما در خصوص ویژگی های جرایم سازمان یافته اشاره کوتاه و گذرا داشته، آنچه که لازم بود بایستی روی آن بحث همه جانبه صورت می گرفت صورت نگرفته است و فقط ویژگی های جرایم سازمان یافته را لیست کرده و به توضیح و تشریح آن نپرداخته است. به همین ترتیب شارحین کد جزای افغانستان نیز از ویژگی های گروه های جرمی نام برده و بطور بسیار سطحی به تشریح آن پرداخته اند اما، در خصوص آثار جرایم سازمان یافته حتی اشاره هم نداشته اند، بنا بر این آنچه، این تحقیق را از سایر تحقیقات در

خصوص این جرایم متمایز می سازد همانا بطور مشخص بحث روی ویژگی ها و آثار منفی جرایم سازمان یافته می باشد.

## سوالات تحقیق

۱. جرایم سازمان یافته و گروه های مجرمانه دارای چی ویژگی ها می باشند؟

۲. اثرات منفی جرایم سازمان یافته کدام ها اند؟

## روش تحقیق

این تحقیق از لحاظ سطح تحلیل از نوع توصیفی- تحلیلی می باشد، بدین معنی که ابتدا مفاهیم توصیف و بعد به تحلیل موضوع پرداخته شده است، روش جمع آوری اطلاعات نیز متناسب به ماهیت موضوع بوده که با استفاده از منابع کتاب خانه ای، مقالات حقوقی و اسناد ملی و بین المللی حقوقی معلومات جمع آوری شده است.

## مبحث اول: مفهوم و ویژگی های جرایم سازمان یافته

این مبحث شامل سه مطلب می شود، که به مفهوم و ویژگی های جرایم سازمان یافته و سازمان های مجرمان پرداخته شده، طوری که در مطلب اول به مفهوم جرایم سازمان یافته، در مطلب دوم به ویژگی های سازمان های مجرمانه و در مطلب سوم به ویژگی های جرایم سازمان یافته پرداخته شده است.

### مطلب اول: مفهوم جرایم سازمان یافته

اصطلاح جرم سازمان یافته برای بار نخست توسط ساترلند جرم شناس معروف امریکایی در سال ۱۹۲۴ میلادی در کتاب مشهور خود تحت عنوان (اصول جرم شناسی) به آن اشاره کرد، بنا بر این جرایم سازمان یافته یا (organize crimes) به مجموع فعالیت های غیر قانونی و مستمری گفته می شود که با هدف تحصیل در آمد های مالی و مادی توسط یک گروه مجرمانه سازمان یافته یعنی گروه متشکل از

سه نفر یا بیشتر از آن که دارای وظایف و تقسیم کار مشخص بوده و نوعی سلسله مراتب و نظم برآنها حاکم است انجام می شود. (۵: ۳۸)

جرایم سازمان یافته عبارت از عمل گروهی که دارای ساختار یک پارچه و متحد بوده و هدف اساسی آن بدست آوردن منفعت مالی از طریق غیر قانونی می باشد (۶: ۹۳).

از آن زمان تا امروز جرایم سازمان یافته به موازات توسعه و تکامل آن در عمل از جهات مختلف مورد توجه جرم شناسان و نظام های جزایی در ابعاد داخلی، منطقه ای و بین المللی قرار گرفته است، چنانکه دربین این رویکرد ها از حیث تبیین نوع جرم، قلمرو، هدف و ویژگی های مقوم جرایم سازمان یافته تفاوت وجود دارد و این تفاوت ها موجب شده است که بسیاری از نویسندگان به عدم تعریف جامع و مورد اتفاق اعتراف کنند. تعاریف ارایه شده که بیش از ۱۵۰ مورد در خصوص جرایم سازمان یافته می باشد نشان دهنده موضع گیری ها از جهات مختلف می باشد، بدین توضیح که گروهی نفس جرایم سازمان یافته و گروه دیگر مجرمان سازمان یافته رامورد توجه قرار داده اند در حالی که گروه سوم ویژگی های سازمان مجرمانه را مورد تاکید قرار داده اند، قانونگذار افغانستان هر چند جرایم سازمان یافته را بطور مشخص تعریف نکرده اما به تعریف گروه سازمان یافته جرمی پرداخته که با عنایت به مواد ۶۱ و ۴۹۵ کد جزای افغانستان گروه سازمان یافته جرمی عبارت از« دسته تشکل یافته سه نفر یا بیش از آن است که برای مدت زمانی موجود بوده و با داشتن نقش های تعریف شده برای اعضای خود بصورت منسجم، به هدف ارتکاب یک یا چند جرم جنایت و دریافت منفعت مالی یاسایر منافع فعالیت نماید» بنا بر این تعریف می توان گفت که جرایم سازمان یافته یکی از جرایم نهایت شدید و خطرناک بوده که معمولا توسط گروه های مجرمانه ارتکاب میابد، قانون مبارزه علیه اختطاف و قاچاق انسان نیز گروه مجرمان سازمان یافته را را تحت عنوان «گروه

جنایت کار» چنین تعریف می کند« گروه متشکل از سه نفر یا بیشتر از آن است که با داشتن هدف ارتکاب یکی از جرایم مندرج این قانون یا بیش از آن متفقا اقدام کنند» جرایم سازمان یافته درکنواسیون سازمان ملل متحد مصوب سال ۲۰۰۰ مشهور به«کنوانسیون پالرمو» بطور مشخص تعریف نشده اما{گروه مجرمین سازمان یافته} در بند الف ماده ۲ چنین تعریف شده«گروهی مجرمین سازمان یافته به گروه تشکل یافته از سه نفر یا بیشتر از آن اطلاق می شود که برای یک دوره زمانی مشخص وجود داشته و با هدف ارتکاب یک یا چند جرم یا تخلف شدید مندرج در این کنوانسیون به منظور تحصیل مستقیم یا غیر مستقیم منفعت مالی یا سایر منافع مادی به صورت هماهنگ فعالیت می کنند» جرم شناسان ویژگی های مختلفی را برای جرایم سازمان یافته بیان کرده اند، تا با تفکیک آن بتوان جرایم سازمان یافته را از جرایم غیر سازمان یافته تفکیک کرد، در بیان ویژگی های جرایم سازمان یافته گاهی چنان ویژگی های مطرح شده که جرایم سازمان یافته را محدود به جرم های بسیار شدید ارتکابی توسط سازمان های مافیایی کرده اند، اساسی ترین ویژگی های جرایم سازمان یافته در تعریف اتحادیه اروپا که از این جرایم انعکاس یافته است و این تعریف که مبتنی بر ویژگی های جرم شناختی جرایم سازمان یافته است، جرایم سازمان یافته مجموع ای از فعالیت های غیر قانونی توسط گروه است که دارای ویژگی ها زیر باشد:

۱. همکاری بیش از دو نفر.
۲. وظیفه مشخص برای هر یک ازاعضای گروه.
۳. همکاری برای یک مدت نسبتا طولانی.
۴. داشتن کنترول بر اعضا.
۵. در مضان ارتکاب جرم سنگین بودن.
۶. فعالیت در یک سطح بین المللی.

۷. استفاده ازخشونت و ابزار مناسب دیگر برای ارعاب و تهدید.

۸. استفاده از تشکیلات بازرگانی یا شبه تجاری.

۹. ارتکاب تطهیرپول.

۱۰. تاثیرگذاری درامور سیاسی، رسانه های گروهی، ادارات عمومی، مقامات قضایی و اقتصاد.

۱۱. به دنبال منافع مالی، اقتصادی یا قدرت می باشد (۱۲: ۳۸).

## مطلب دوم: ویژگی های سازمان های مجرمانه

از اینکه جرایم سازمان یافته اکثراً توسط سازمان ها و گروه های مجرمانه ارتکاب میابد، در بررسی ویژگی های جرایم سازمان یافته، باید به بررسی سازمان های مجرمانه نیز پرداخته شود، زیرا سازمان های جرمی خود نقش برازنده ای را در ارتکاب و جهت دهی جرایم ارتکابی و متصف کردن آنها به جرم سازمان یافته دارد، بنا بر این ویژگی های سازمان های مجرمانه طی اجزای جداگانه مورد مطالعه قرار می گیرد.

### جزءاول: غیر ایدیالوژیک بودن سازمان یا گروه مجرمانه

این ویژگی بدین معنی است که یک گروه جنایتکار جرایم را تنها به هدف اقتصادی و حصول منفعت مالی انجام می دهد و با دلبستکی های مذهبی و سیاسی اقدام به ارتکاب جرم نمی کنند. هدف از این گروه تنها کسب پول و منفعت مالی است، هر چند ممکن است که این گروه گاهی به مبارزات سیاسی هم روی آورند ولی هدف اساسی آنها از این مبارزات کسب قدرت سیاسی نیست مگر هدف شان تقویت قدرت اقتصادی، لغوه قوانین مغایر با اهداف مجرمانه و اقتصادی خویش و تصویب قوانین تسهیل کننده فعالیت های خاص و سر انجام به دست آوردن قدرت های اجرایی و غیره برای حفاظت سازمان و اعضای آن در مقابل اجرای عدالت است (۱۱: ۱۱۲).

اما رویکرد قانونگذار افغانستان در خصوص غیر ایدیالوژیک بودن گروه های مجرمانه طوری دیگری است، زیرا با عنایت به سیاست تقنینی افغانستان که از مواد (۴۹۵ الی ۵۸۵) جرایم سازمان یافته را به مطالعه گرفته است، جرایم تروریستی را مشمول جرایم سازمان یافته دانسته، در حالیکه جرایم تروریستی توسط گروه ها و سازمان های تروریستی با اهداف و انگیزه ایدیالوژیک ارتکاب میابد.

### جزءدوم: وجود سلسله مراتب سازمانی و قدرت مرکزی

گروه های سازمان یافته جرمی دارای نوع ساختار سازمانی و عمدتا ساختار هر می شکل می باشد، که در حقیقت ساخت قدرت هر می شکل به نوعی مستلزم یک قدرت واحد و متمرکز خواهد بود، بنا بر این در سازمان های مجرمانه یک قدرت مرکزی وجود دارد. این قدرت مرکزی مدیریت واحد و منسجمی را بر کل سازمان و اعضای آن اعمال می کند. پس وجود سلسله مراتب تشکیلاتی از ویژگی های سازمان های جنایی به حساب می آید (۱۵: ۱۰۱).

ساختار هر مشکل بدین مفهوم است که در راس سازمان شخصی بنام سازمانده قرار دارد و دیگران اعضای آن سازمان محسوب می شوند، چنانکه ماده ۶۰ کد جزای افغانستان سازمانده را طوری تعریف داشته «سازمانده شخصی است که گروه سازمان یافته جرمی را تشکیل، رهبری، هدایت یا سازماندهی نماید». از این تعریف برمیآید که در راس سازمان شخصی بنام سازمانده قرار داشته و دیگران اعضای آن می باشند.

### جزءسوم: محدودیت اعضا و تقسیم کار

طوری که در ساختار تشکیلاتی سازمان های مجرمانه مطالعه گردید سازمان های مجرمانه دارای ساختار هرمی شکل بوده که در واقع یک قدرت مرکزی وجود دارد که این قدرت مرکزی مدیریت واحدی را بر کل سازمان اعمال می کند، اما آنچه در

سازمان های مجرمانه مهم است این است که اعضای آن محدود می باشندو حتی تشکل سه یا بیش از سه نفر را می توان سازمان مجرمانه نامید، با وصف آن هم تقسیم وظایف نیز از موضوعات اساسی در سازمان های مجرمانه تلقی می شود، اگر چه تعداد اعضای سازمان های جرمی سه یا بیشتر از آن است ولی باز هم تقسیم کار نظر به تخصص شان یک امر مهم تلقی شده، چنانچه گروه سازمان یافته جرمی بر اساس ماده ۴۹۵ کد جزا «گروه سازمان یافته جرمی عبارت از دسته تشکل یافته سه یا بیش از آن است که برای مدت زمانی موجود بوده و با داشتن نقش های تعریف شده برای اعضای خود، بصورت منسجم، به هدف ارتکاب یک یا چند جرم جنایت و دریافت منفعت مالی یا سایر منافع فعالیت نماید» که در این جا نقش های تعریف شده به معنای تفکیک موقعیت و تقسیم وظایف است و هر شخص نظر به مهارت و استعدادی که دارد وظیفه خود را در سازمان انجام می دهد و همین تقسیم وظایف باعث می شود که فعالیت های جرمی به موفقیت رسیده و در واقع فعالیت های مجرمانه خویش را سازمان های جرمی به کیفیت و سرعت انجام دهند (۴: ۱۱۹).

چون ماهیت جرایمی که توسط این گونه سازمان هان ارتکاب می یابند به گونه ای است، که یک نفر نمی تواند به تنهایی رکن مادی آنرا انجام دهند. لذا علاوه بر اینکه حضور چند نفر در کنار هم دیگر ضروری است هر کدام آنها عهده دار عمل خاصی می باشند (۷: ۳۵).

### جزءچهارم: وجود قواعد آلزام آور در سازمان

هر سازمان مجرمانه جهت حفظ و بقا ساختار سازمانی خویش مستلزم وجود نوعی قواعد الزام آور است که همه اعضای سازمان مکلف به رعایت آن می باشند، که اکثرا سازمان های مجرمانه دارای قواعد مشخص الزام آور بوده و با قواعد مکتوبی که به عنوان نمونه یک سازمان مشروعیت دارد متفاوت خواهد بود از طرف دیگر معمولاً قواعد فوق به رغم ضمنی بودن و در عین حال سری، روشن و شفاف هستند

و مورد پیروی اعضای سازمان قرار می گیرند، در عین حال همانند هر گونه مقررات یا قواعد دیکر دارای ضمانت اجراهای می باشند، که شامل مکافات و مجازات شده و از طرف سازمان علیه اعضای آن اعمال می شود و گاه چنین ضمانت اجراهای شدید و حتی شامل قتل می شود (۱۵: ۳ جلد، ۱۰۲).

گاهی ضمانت اجراهای جنبه مکافاتی داشته و این در حالی است که در صورتی یکی از اعضای سازمان از جانب مجریان حراست از قانون گرفتار و پای او به میز محاکمه کشانیده شود، در موردی که همین عضو سازمان در پروسه تعقیب عدلی به جرم ارتکابی خویش اعتراف یا اقرار کرده و سایر اعضای سازمان را معرفی، نوع فعالیت و محل فعالیت سازمان را برای مراجع عدلی و قضایی بازگو کند و وفاداری و سر سپردگی خود را نسبت به سازمان نشان ندهد، نتها که خود وی حتی خانواده او نیز از جانب سازمان مجرمانه مورد تهدید و حتی به قتل رسانیده می شوند، و بالعکس اگر وی وفاداری و سر سپردگی خود را با سازمان مجرمانه نشان دهد و در پروسه تعقیب عدلی به جرم ارتکابی خویش اعتراف یا اقرار نکرده و سایر اعضای شبکه جرمی را معرفی و افشا نکند و همچنان از محل و نوع فعالیت سازمان مجرمانه برای مراجع عدلی و قضایی معلومات ارایه نکند در این صورت خود وی و اعضای خانواده اوحتی بعد از رهایی از جانب سازمان مربوط مورد حمایت مالی قرار می گیرد.

**مطلب سوم: ویژگی های جرم ارتکابی**

طوری که در مطلب دوم ویژگی های سازمان های مجرمانه مورد مطالعه قرار گرفت، این سازمان ها دارای یک سلسله ویژگی های منحصر به فرد بوده که با فهم آن می توان گروه های مجرمانه را از غیر مجرمانه تفکیک کرد، به همین ترتیب جرایم سازمان یافته نیز دارای یک سلسله ویژگی ها می باشند، که با درک و فهم آن می توان جرایم سازمانی را از غیر سازمانی تفکیک کرد جهت وضاحت بهتر و بیشتر،

ویژگی های جرایم سازمان یافته را طی اجزای مختلف در این مطلب مورد مطالعه قرار می دهیم.

## جزءاول: درجه یا شدت جرم

جرم سازمان یافته تنها در جرایمی صدق می کند که جنایت یا حداقل جنحه باشد و این جرم ساختار مند در جرم قباحت مصداقیت ندارد، زیرا جرایم قباحتی معمولا جرایم خفیف بوده و با ارتکاب آن نیز کدام منفعت مالی خوبی که مطمع نظر گروه های سازمان یافته جرمی است حاصل نمی شود، چون معمولا هدف از جرایم سازمان یافته حصول منافع مالی است بنا ارتکاب جرم قباحت با اهداف شان سازگاری ندارد (۱۵: ۱جلد، ۲۱۳).

روی همین دلیل است که بعضی از نویسندگان جرایمی را مشمول جرایم سازمان یافته قرار داده اند که از (شدت) خاصی برخوردار باشد چنانچه در پیش نویس کنوانسیون پالرمو سال ۲۰۰۰م نیز درماده دوم (شدت) جرم را از ویژگی جرم سازمان یافته دانسته و بر مبنای آن کنوانسیون باید تنها نسبت به جرم های شدید قابل اعمال باشد. این ویژگی در کنوانسیون پالرمو پزیرفته شده و بر مبنای آن تنها جرایمی مشمول ضمانت اجرا پنداشته می شود که توسط سازمان مجرمانه ارتکاب یافته و دارای مجازاتی حد اقل چهار سال حبس باشد، قانونگذار افغانستان نیز با تبعیت از کنوانسیون پالرمو در تعریف گروه سازمان یافته صرف جرایم جنایت و جنحه را مشمول جرایم سازمان نموده است.

## جزءدوم: استمرار جرم در طول زمان

در بسیاری از موارد ممکن است برخی افراد جهت ارتکاب جرم خاصی دور هم جمع شده و با تبانی و همفکری اقدامات مجرمانه را بصورت جمعی برای یک بار انجام دهند، چنین جرایمی گرچه با همفکری و سازمان یافتگی صورت می گیرد، اما

جرم سازمان یافته به معنی جرم مورد نظر نیست، آنچه لازم است این است که گروه مجرمانه برای یک مدت زمان طولانی یا غیر مقید به زمان خاص ولی مستمر تشکیل شده باشد (۱۱: ۱۲۰).

گروه های جنایی سازمان یافته فعالیت های مجرمانه آنها بطور مقطعی نبوده بدین مفهوم که گروه سازمان یافته زمانی که مرتکب جرایم می شوند با موفقیت در آن جرم از ادامه فعالیت های مجرمانه خویش دست بر نداشته، بلکه پلان برای جرایم بعدی طرح می کنند، بدین معنی که ارتکاب جرم برای شان یک نوع شغل و پیشه شده و از همان طریق امرار معاش می کنند و به نسبت اینکه جرایم سازمان یافته ماهیت اقتصادی داشته و در زمان بسیاراندک سود مالی زیادی را بدست میاورند و یک فعالیت پر درآمداست، بنابراین فعالیت های آنها همیشه دوامدار بوده و مقطعی نیست و این مجرمین به آزادی دست از فعالیت های مجرمانه نمی کشند (۷: ۳۴).

**جزءسوم: ارتکاب فساداداری**

یکی از مهم ترین و خطرناک ترین ویژگی های جرایم سازمان یافته عبارت از فساد اداری است. از آن جا که سازمان های مجرمانه بدنبال کسب منفعت یا قدرت نامشروع است و جهت رسیدن به این منافع مرتکب افعال مجرمانه مختلف می شوند، ممکن است اعضای آن به سبب این جرایم تحت تعقیب قرار گیرند، در مواردی نیز در مرحله ارتکاب آن گاهی لازم است بخشی از کارهای شان در ادارات دولتی انجام شده که بعضی از مقررات اداری مانع انجام یا پیشرفت فعالیت شان گردد، در چنین مواردی جهت حفظ اعضای خود از تعقیب و محاکمه و یا به انجام رساندن امور جاری خود در ادارات دولتی اقدام به فاسد نمودن مدیران عالی و کارمندان اجرایی کرده، بنا بر این هر قدر که قدرت اقتصادی آنها بیشتر شود توانایی فساد شان بیش تر می شود و با استفاده از قدرت اقتصادی و نفوذ در دستگاه قضایی و فاسد ساختن قضات، څارنوالان و پولیس هم خود را از تعقیب و محاکمه در امان

می دارند و هم اقدامات غیر قانونی خویش را استمرار می بخشند و به این شکل موجی از فساد اداری فراگیر را در جامعه فراهم می نمایند (۱۱: ۱۱۳).

**جزءچهارم: استفاده از ارعاب و خشونت**

استفاده از خشونت یا سایر ابزار های تهدید و ارعاب، داشتن ساختار تجاری، پولشویی، نفوذ در مقامات سیاسی، قضایی و اجرایی از ویژگی های دیگر گروه های سازمان یافته جرمی می باشد (۵: ۳۸).

در بسیاری موارد گروه های مجرمانه با گروه های رقیب رو برو می شوند، در مواردی با مامورانی برخورد می کنند که حاضر به همکاری با آنها در مقابل دریافت رشوه و مثل آن نیستند، در مواردی نیز حتی مامورانی که قبلا با آنها در مقابل دریافت رشوه همکاری می کردند دیگر مایل به همکاری با این گروه ها نیستند، که در این حالت گروه سازمان یافته جرمی هر سه دسته از عوامل یاد شده را مانع رسیدن به اهداف کاری خویش دانسته و با ارعاب و تهدید دسته سوم مبنی بر افشای همکاری سابق و درگیری اعمال خشونت نسبت به دو دسته دیگر ودر صورت لزوم از میان برداشتن آنهابه کار خویش ادامه میدهند (۱۱: ۱۱۳).

تجارب نشان میدهد که گروه های سازمان یافته جرمی بطور دوامدار با مراجع عدلی و قضایی درگیر بوده و همواره آنها را مورد تهدید قرار می دهند، خصوصاْ زمانی که یکی از اعضای آن گروه ها از جانب مراجع کشفی و استخباراتی گرفتار و پای آن به میز محاکمه کشانیده شود، در این حالت برای مراجع سابق الذکر یک درد سر ایجاد می کنند و همواره خود آنها و اعضای خانواده ها شان را تهدید به مرگ می کنند یک نکته قابل یاد هانی است که مجرمان سازمان یافته که در واقع دارای خصایص مشترک با مجرمین حرفوی هستندو این مجرمین از لحاظ روانی نیز دارای یک سلسه ویژگی ها می باشند، مانند: ۱- مهارت فنی (تخصص) در یک عرصه خاص، ۲-

ولخرچی، ۳ـ انتقام جویی، ۴ـ حیله و نیرنگ جهت به چالش کشانیدن پروسه تعقیب عدلی (۸: ۲۰۲-۲۰۹).

**مبحث دوم: آثار جرایم سازمان یافته**

جرایم سازمان یافته امروز به یک نگرانی عمده برای دولت ها و مسوولین عدالت تبدیل شده، زیرا امکانات قابل ملاحظه ای که در اختیار این سازمان ها قرار دارد اغلب به آنها اجازه می دهد تا پولیس و دستگاه عدالت جنایی را به شکست مواجه سازد (۲: ۸۸).

جرایم سازمان یافته با تبع ویژگی که اهداف مورد نظر از ارتکاب آن دارای اثرات ناگوار اعم در سطح ملی، منطقه ای و بین المللی می باشد که این اثرات منفی بنیاد های سیاسی، اقتصادی و اجتماعی را شدیدا ضربه زده و بنیاد های آنرا سست می سازد، روی این دلیل است که جرایم سازمان یافته طی ۶۰ سال اخیر مورد توجه جرم شناسان و جامعه شناسان جنایی قرار گرفته است و حتی دانشمندان روان شناسی جنایی نیز در خصوص اثرات منفی فعالیت های سازمان های جنایی بحث های را ارایه داشته اند، بنابراین این مبحث طی سه مطلب مورد مطالعه قرار می گیرد، طوری که در مطلب اول آثار سیاسی جرایم سازمان یافته در مطلب دوم آثار اقتصادی جرایم سازمان یافته و در مطلب سوم آثار اجتماعی جرایم سازمان یافته مورد بررسی قرار می گیرد.

**مطلب اول: آثار سیاسی جرایم سازمان یافته**

جرایم سازمان یافته در سطح ملی و بین المللی بر مقوله سیاست تاثیرات منفی بجا گذاشته، مخصوصاْ کشور های که دارای چندان ثبات سیاسی نیستند، زیرا سازمان های جنایت کار در کشور های بی ثبات به مرور دولت و حکومت را چنان به

تحلیل می برند که به راحتی چنین دولت ها به یک آله دست تبدیل شده و اساساً کارکرد خود را از دست می دهند (۱: ۱٦٧).

نکته مهم دیگر در خصوص ثاتیرات سیاسی جرایم سازمان یافته این است که نقش آنها در زمینه منفعلانه نیست؛ یعنی به گونه ای نیست که آنها اقدامات مجرمانه خود را انجام دهندو بعد فعالیت های مجرمانه آنها چنین آثار سیاسی منفی را در پی داشته باشد بدون آنکه چنین سازمان های مجرمانه به دنبال اهدافی باشند، این فرض اگر در بخش هایی از فعالیت های چنین سازمان ها صدق کند، در غالب موارد این گونه نیست، بلکه سازمان های مجرمانه در روند تاثیرگذاری های سیاسی خود روند بسیار فعال دارند. در نهایت یک جنبه مهم دیگر که بر پیچیدگی رابطه میان جرایم سازمان یافته و سیاست می افزاید، رابطه حکومت با سازمان های مجرمانه است، به عبارت دیگر تلاش سازمان های مجرمانه برای برقراری رابطه با دولت جهت تحقق اهداف شان چندان تعجبی ندارد، اما آنچه مایه نگرانی و حیرت است، تلاش حکومت ها برای برقراری رابطه با این سازمان ها است. (۱۲: ٦٧)

بنا بر این آثار سیاسی جرایم سازمان یافته را می توان بطور خلاصه طی اجزای جداگانه مورد مطالعه قرار داد.

**جزءاول: کاهش مشروعیت دولت در نتیجه افزایش فعالیت های سازمان های مجرمانه**

وقتی دولت توان مقابله باگروه های مجرمانه را نداشته باشد، این خود در واقع سبب کاهش مشروعیت دولت شده حتی دولت متهم به همکاری با گروه های سازمان یافته می شود، این وضعیت به منزله عدم کار آمدی و فساد حکومت تلقی می شود، علاوه بر این فساد ماموران دولتی توسط شبکه های جرمی مشروعیت دولت را بیش از پیش تحت الشعاع قرار میدهد. گروه های سازمان یافته با ارتکاب جرایم سازمانی در واقع اقتدار دولت را به چالش کشیده و موجب تحدید قلمرو و نفوذ آن درتمام نقاط سر زمین می شوند، با توجه به فعالیت های فراملی شبکه های جرمی نقش دولت به عنوان

نهاد منحصر به فرد که در سطح ملی عمل می کند تضعیف می شود، زیرا سازمان های جنایی به عنوان یک بازیگر فراملی تحت هدایت و سلطه دولت قرار ندارند، بنابراین دولت های رقیب همواره می کوشند تا از این سازمان ها برای تضعیف دولت قانونی بهره جویند که در واقع همین فعالیت شبکه ها سبب رقابت های خشن بین شبکه ها و دولت شده و زمینه بروز خشونت را فراهم می سازد (۱۰: ۴۵).

**جزءدوم: فراهم آوری کاهش احساس و امنیت عمومی و اجتماعی**

فعالیت های گروه جنایی به ویژه با ورد در عرصه های خطرناک موجبات کاهش احساس امنیت عمومی و اجتماعی را فراهم می آورد. افراد و خانواده ها احساس نا امنی می کنندو این وضعیت آرامش و نظم عمومی رادر نظر شهروندان مختل می سازد (صادقی، ۱۳۹۸، ۸۰). همچنین می توان اذعان داشت که جرایم سازمان یافته و تهدید های ناشی از آن، دولت ها را وادار به وضع قوانین و مقررات سختگیرانه تر و یا به اصطلاح امنیتی تر نموده است به عبارت دیگر دولت ها در این روند سیاست جنایی، رویکردی را اتخاذ کرده اند که جهت تامین منافع ملی و صیانت از امنیت ملی است، در نتیجه این شیوه از یک سو خود موجب تحدید حقوق بشرو آزادی های فردی گردیده است و از سوی دیگر با تقویت ظرفیت های نظامی، پولیسی و قضایی موجب امنیتی کردن سیاست جنایی گردیده است (۳: ۵۰۶).

**مطلب دوم: آثار اقتصادی جرایم سازمان یافته**

سازمان های مجرمانه از یک طرف به سبب ارتکاب جرایم سازمانی از قبیل قاچاق مواد مخدر، قاچاق انسان، خصوصا زنان و کودکان، قاچاق اسلحه، قاچاق مهاجران، جرایم اقتصادی و تطهیر پول و به کار گیری ابزار مجرمانه و اعمال خشنونت باردر صورت لزوم بکار گیری تروریزم آثار زیان باری را بر فرهنگ، اخلاق، اقتصاد و امنیت یک جامعه بر جا می گذارداز طرف دیگر با توجه به این که سازمان ها به دنبال منافع اقتصادی اند در آمدهای آنان دو باره در بازار سرمایه گذاری شده،

ظرفیت های سازمان های مجرمانه را گسترش داده زمنیه نفوذ در دستگاه های دولتی را توسعه می دهد و از این راه آنها را برای کسب قدرت پیش تر، تاثیر گذاری در دستگاه حاکمه از طریق فاسد کردن ماموران ادارت و مسولین جامعه را افزایش می دهد که این خود موجب کاهش در آمد مالیاتی و تضعیف پایه های اقتصادی دولت می شود (۱۱: ۱۲۰).

**جزءاول: کاهش در آمد مالیاتی**

جرایم سازمان یافته اکثراً ماهیت اقتصادی دارند بنا بر این، این جرایم می توانند که تبعات اقتصادی دامنه داری را در قبال داشته باشند، بطور مثال پولشویی به عنوان یکی از جرایم اصلی مرتبط با جرایم سازمان یافته می تواند که آثار اقتصادی را به دنبال داشته باشد و همین طور قاچاق مواد مخدر، قاچاق اسلحه، قاچاق انسان و قاچاق مهاجران تبعات ناگوار اقتصادی را در قبال داشته و باعث تخریب نهاد های مالی می شوند، از جانب دیگر بسیاری از واسطه های مالی که اهداف توسعه ای و عام المنفعه را دنبال می کنند به واسطه تزریق این منابع از مسیر اصلی خود خارج می شوند، که در واقع سبب تخریب پایه های مالیاتی و کاهش درآمد های مالیاتی دولت می شود. توزیع نا برابر در آمد های اقتصادی از جمله آثار منفی دیگری است که به نحوی رشد و توسعه اقتصادی را شدیداً ضربه میزند، نکته مهم و قابل توجه دیگری در خصوص اثرات اقتصادی جرایم سازمان یافته که معمولاً فعالیت های مختلف جرم سازمان یافته علاوه براینکه خود درارتباط نزدیک با یک دیگر هستند، با برخی دیگر از اعمال مجرمانه نیز ارتباط می یابند که این مساله بر دامنه تاثیرات نامطلوب آنها می افزاید، برای مثال پولشویی به عنوان یکی از جرایم سازمان یافته می تواند که به عنوان یک خطر بالقوه ثبات اقتصادی کشور را تهدید کند (۱۲: ۷۱-۷۴).

**جزءدوم: تضعیف پایه های اقتصادی و فرار سرمایه**

چون هدف از ارتکاب جرایم سازمان یافته کسب منافع مالی و مادی است بنابراین جرایم سازمان یافته سبب تضعیف و متزلزل شدن سیستم اقتصادی کشور ها شده زیرا دولت ها سالانه یک مقدار پول زیادی را جهت مبارزه موثر علیه این گروه های جنایت کار و زندانی نمودن آنها به مصرف می رساند که این خود بطور اتوماتیک یک ضربه مهلک به پیکر اقتصاد دولت وارد کرده همچنان جرایم سازمان یافته اکثراً ماهیت اقتصادی داشته و از ناحیه ارتکاب این جرایم، مجرمان سازمان یافته در مدت بسیار کم پول زیادی را بدست میاورند که این خود سبب فرار سرمایه از کشور می شود. چنانکه تحقیقات نشان میدهد که اکثر گروه های مجرمانه جهت اینکه از دید قانون خود را پنهان نگه دارند در کشور های منطقه و فرا منطقه سرمایه گذاری می کنند که این مساله میتواند از یک طرف زمنیه جرم پولشویی را گسترش دهد و از جانب دیگر سبب فرار سرمایه شود و در نتیجه پایه های اقتصاد یک کشور را به مرور زمان سست بسازد و بسبب ایجاد تزلزل در اقتصاد و وابستگی های اقتصادی و تاثیرات فلج کننده ای را در درازمدت بر رشد و توسعه اقتصادی وارد کند، از همه مهمتر اینکه با فعالیت ها سازمان های مجرمانه در کشور امنیت جامعه مختل شده و تجاران و سرمایه داران از لحاظ مالی و جانی احساس امنیت نکرده بنابراین تجار و سرمایه داران که در واقع چرخه اقتصادی را به گردش میاوردند به نسبت نبود امنیت مالی و جانی به سرمایه گذاری دل خوش نکرده که این موضوع می تواند که بیکاری را افزایش دهد وبیکاری خود عامل فقر دانسته شده که این عامل می تواند که در کوتاه مدت اثرات ناگواراقتصادی را به کشور ها به ارمغان بیاورد (۳: ۵۰۷).

**مطلب سوم: آثار اجتماعی و فرهنگی جرایم سازمان یافته**

جرم به عنوان یک پدیده ضد اجتماعی دارای آثار منفی بر هرجامعه است و جرایم سازمان یافته ازاین اصل کلی مستثنی نبوده، بنابراین جرم و اجتماع لازم و ملزوم یک

دیگراست چون نمی توان در جهان اجتماع را سراغ داشت که در آن انسان زندگی کند و جرم وجود نداشته باشد، چنانکه اکثر دانشمندان جرم شناسی جرم را رفتار و یک پدیده انسانی و اجتماعی میدانند و اظهار میدارند که جرم یک میکروب اجتماعی است بنابراین، وقتی که جرم یک پدیده اجتماعی است طبیعی است که با ارتکاب آن اثرات منفی اجتماعی را به دنبال داشته، چنانکه دورکیم جامعه شناس فرانسوی جرم را عملی میداند که در خورمجازات باشد که با ارتکاب و یا ترک آن نظم، صلح و آرامش اجتماعی را مختل ساخته و قانون نیز برای آن مجازات تعین کرده باشد به نظر وی جرم یک پدیده و رفتار انسانی می باشد و تنها انسان است که مرتکب جرایم گوناگون می شود (۱۳: ۱۸۹).

از جانب دیگر دانشمندان جامعه شناختی جنایی جرم را رفتار نا همنوا با هنجار های اجتماعی تعریف نموده اند که در واقعیت امر از دیدگاه این دانشمندان جرم عبارت از رفتار ناسازگار و غیر منطبق با انتظارات جامعه یا رعایت نکردن قواعد و نورم های اجتماعی است، بنابراین ارتکاب جرایم سازمان یافته نگاهی منفی جامعه را به همراه داشته، در واقع جرم به نسبت اینکه عملی ضد اجتماعی است واکنش اجتماعی را نیز به دنبال داشته (۹: ۵۴).

امروز شبکه های قدرتمند سازمان های جنایی با گستره فعالیت های هماهنگ خود در قالب جرایم سازمان یافته در همه جای دنیا با تاثیرات بسیار زیانبار مرتکب جرایم سازمان یافته شده و زیان های جبران ناپزیری را در عرصه های سیاسی، اقتصادی، اجتماعی و حتی فرهنگی برای دولت ها اعم در سطح ملی، منطقه ای و بین المللی وارد می کنند. البته با عنایت به معضلات و پیامد های مخربی که جرایم سازمان یافته در عرصه های سیاسی، اقتصادی و اجتماعی دارد به عنوان تهدید قرن شناخته شده و برهمین مبنا سده بیست و یکم را به عنوان (سده جرایم سازمان یافته) نامگذاری کرده اند. چنانکه میدانید از ناحیه ارتکاب جرم معمولا دو نوع ضرر واقع

می شود، یکی ضرر برای افراد خصوصی و دیگران آن ضرر اجتماعی، ارتکاب جرایم سازمان یافته نیز از این حکم مستثنی نبوده و با ارتکاب آن صدمه شدید به پیکر اجتماع وارد می گردد. چنانچه قاچاق مواد مخدر یکی از انواع جرایم سازمان یافته است که اکثراً ضرر اجتماعی داشته و کمتر به افراد خصوص صدمه وارد می کند این جرایم که توسط سازمان های مجرمانه در تمامی کشور ها دنیا ارتکاب میابد که بدبختانه افغانستان نیز از این ناحیه خسارات بیشماری را متحمل شده و می شود، طوری که میداند قاچاق مواد مخدر توسط مافیای مواد مخدر آثار مخرب را روی اقتصاد، سیاست دولت و از همه مهمتر اینکه آثار اجتماعی و فرهنگی نامطلوبی را بالای افراد جامعه به جا گذاشته است به نسبت اینکه استعمال مواد مخدر در تعریف قاچاق مواد مخدر شامل بوده و روزانه صدها جوان، نوجوان، زنان و اطفال این کشور را به کام اعتیاد و بالاخره به کام مرگ سوق داده و در واقع نیرو جوان را که در واقع نیرو پویا و پرتحرک یک جامعه شمرده می شوند به جسم های عاطل و باطل مبدل ساخته و گروه های مافیایی از این ناحیه بیشترین مفاد را بدست میاورند که این خود آثار منفی اجتماعی و فرهنگی را به دنبال دارد.

**نتیجه**

طوری که ویژگی ها و آثار جرایم سازمان یافته در این تحقیق مورد مطالعه قرار گرفت، روشن شد که گروه های مجرمانه علاوه از جرایم ارتکابی شان که دارای یک سلسله ویژگی های منحصر به فرد بوده، ساختار های مجرمانه نیز دارای یک سلسله ویژگی ها می باشند که این سازمان های با ارتکاب جرایم اثرات منفی را بر پیکرد سیاست، اقتصاد و اجتماع وارد می کند:

۱. سازمان های مجرمانه دارای سلسله مراتب تشکیلاتی و قدرت واحد مرکزی بوده که در راس آن سازمانده قرار داردکه سازمان مجرمانه را هدایت، رهبری، مدیریت و کنترول می کرد، که سازمان های مجرمانه دارای محدودیت اعضای

بودند، بدین توضیح که تشکل سه یا بیشتر از سه نفر را می توان که گروه سازمان یافته جرمی تعریف کرد، بنابراین در این سازمان ها نقش اعضای سازمان تعریف و مشخص شده و معمولاً نظر به مهارت و تخصص شان تقسیم وظایف صورت می گرفت، و معمولاً جرایم سازمانی با خشونت و ارعاب همراه بوده و سازمان های مجرمانه جهت بقا و تداوم فعالیت های خویش قواعد الزام آور در داخل سازمان وضع و بالای اعضا آنرا در صورت تخطی اعمال می کنند، از جانب دیگراینکه گروه های سازمان یافته جرمی جرایم سازمانی را بطور مستمر انجام داده و فعالیت های مجرمانه آنها بطور مقطعی نمی باشد، نکته دیگری که در شناسایی گروه های مجرمانه قابل دقت است اینکه مجرمین سازمان یافته مانند مجرمین حرفوی دارای یک سلسله خصوصیات روانی بودند از قبل اقرار با سنجش، نام های مستعار، تخصص و مهارت خاص در نوع ارتکاب جرایم تغیر چهره و غیره.

۲. طوری که از محتوای تحقیق بر میاید علاوه از سازمان های مجرمانه جرایم سازمان یافته نیز دارای یک سلسله ویژگی ها می باشد که با فهم و درک آن می توان جرایم سازمان یافته را از جرایم عادی تفکیک کرد. مانند شدت جرایم چون ماهیت این جرایم شدیدبوده و صرف در قضایای جنایت و جنایح مصداقیت پیدا می کند به همین ترتیب این جرایم دارای استمراری زمانی بوده بدین توضیح که این جرایم بطور مقطعی ارتکاب پیدا نمی کند و گروه های مجرمانه بعد از ارتکاب جرم در پی ارتکاب جرایم دیگر بر میایند و این جرایم زمینه فساد را از طریق ارعاب و تهدید موظفین دولت در کشور مهیا می سازد.

۳. جرایم سازمان یافته با تبع ویژگی ها واهداف مورد نظر از ارتکاب آن دارای اثرات ناگوار اعم در سطح ملی و بین المللی می باشند که این اثرات شوم و مهلک بنیادهای سیاسی، اقتصادی و اجتماعی را شدیداً ضربه زده، همچنان

اثرات سوء دیگری را جرایم سازمان یافته از لحاظ سیاسی به همراه داشت تهدید جدی علیه حقوق اساسی بشر تلقی می شد که خود در واقع عامل تزلزل رابطه بین ملت و دولت می شود. از جمله آثار شومی اقتصادی که جرایم سازمان یافته در قبال داشت این که سبب تضعیف و متزلزل شدن سیستم اقتصادی کشور ها شده و همچنان دولت ها هم سالانه یک مقدار پول هنگفتی را جهت مبارزه موثر علیه این گروه های جنایت کار و زندانی نمودن آنها به مصرف می رساند که این خود بطور اتوماتیک یک ضربه مهلک به پیکر اقتصاد دولت وارد میکرد و همچنان جرایم سازمان یافته اکثراً ماهیت اقتصادی داشتتند و از ناحیه ارتکاب این جرایم، مجرمان سازمان یافته در مدت بسیار کم پول زیادی را بدست میاورند و جهت اخفا ساختن فعالیت های مجرمانه شان سرمایه را به خارج از کشور انتقال و در آنجا سرمایه گذاری کرده که خود سبب فرار سرمایه می شود، قاچاق مواد مخدر یکی از انواع دیگرجرایم سازمان یافته است که از سوی گروه های مجرمانه با شیوه ها و اسلوب های متفاوت انجام می شود و از ناحیه آن بیشترین مفاد مالی را مافیای مواد مخدر بدست میاورند و همچنان صدها جوان، اطفال و حتی زنان را به مواد مخدر معتاد ساخته و آنان را به جسم های عاطل و باطل مبدل کرده اند که این مساله از آثار اجتماعی و فرهنگی جرایم سازمان یافته تلقی می شود.

**مناقشه**

جرایم سازمان یافته در اسناد ملی و بین المللی پیش بینی شده است، اما در هر دو اسناد از جرایم سازمان یافته تعریف مشخص صورت نگرفته بلکه از گروه های مجرمانه در هر دو اسناد تعریف به عمل آمده و یک سلسله ویژگی های گروه های مجرمانه را تسجیل نمودهو ضمناً در اسناد ملی و بین المللی از جرایم سازمان یافته به عنوان جرایم شدید تذکر رفته است، بنابراین شدت جرایم را می توان از شدت

مجازات آن در نظام های جزایی کشور ها و نظام جزایی افغانستاناستنباط نمود، و از تعاریف گروه های مجرمانه می توان بدین نتیجه رسید که این گروه ها جهت کسب منفعت مالی و قدرت سیاسی در پی ارتکاب جرایم سازمان یافته می باشند که با ارتکاب جرایم سازمان یافته اثرات مخربی را بر ساحات سیاسی، اقتصادی، اجتماعی و فرهنگی وارد می کنند. آنچه که محدودیت در جریان تحقیق تلقی می شود عبارت از این است تا حال قانون خاص در مورد گروه های مجرمانه از جانب دولت به دست نشر سپرده نشده است و صرفاْ کد جزای افغانستان که فعلاْ ملغی می باشد در باب ششم فصل اول خویش تحت عنوان سازمان دهی یا عضویت گروه جرمی را از ماده (۴۹۵ الی ۵۴۵) تسجیل نموده و جرایم تروریستی، جرم پول شویی، قاچاق انسان، قاچاق مهاجران، قاچاق اسلحه را در زمره جرایم سازمان یافته بیان داشته در حالیکه بهتر بود که جرایم قاچاق مواد مخدر و اختطاف نیز در زمره جرایم سازمان یافته مورد مورد مطالعه قرار می گرفت، زیرا جرایم قاچاق مواد مخدر و اختطاف نیز علاوه از اینکه بخاطر کسب منفعت مالی صورت می گیرد این جرایم نیز دارای توسط سازمان های جرمی ارتکاب می یابند. پس بهتر است که یک قانون خاص از جانب نظام حاکم در مورد جرایم سازمان یافته تسوید، تصویب، به مرحله اجرا و تطبق گذاشته شود تا محاکم بتوانند از طریق اجرای مجازات شدید و یکسان بالای مرتکبین جرایم سازمان یافته به عدالت دست یابند و ضمناْ از آثار زیان بار این گروه ها کاسته شود و دولت در غنا سازی قوانین در مورد جرایم سازمان یافته و گروه های مجرمانه اقدامات عملی بردارد. در آخر پیشنهاد می شود که درباره ابعاد گوناگون شبکه های جنایتکار از جانب اهل علم و قلم بدستان تحقیق صورت گیرد و تا ماهیت این گروه ها بطور مورد دقیق شناسایی قرار گیرد.

## نتیجه گیری

از مطالعه جرایم سازمان یافته در اسناد ملی و بین المللی می می توان به این نتیجه رسید که از تعریف و ویژگی های جرایم سازمان یافته بر می یاید که اعم دراسناد ملی وبین المللی جرایم سازمان یافته بطور مشخص تعریف نشده، بلکه در اسناد ملی و بین المللی به تعریف گروه های مجرمانه پرداخته شده است و در هر دو اسناد جرایم سازمان یافته جرایم شدید عنوان شده و در اسناد ملی و بین المللی تشکل سه یا بیش از سه نفر را با یک سلسله ویژگی های مشابه دیگر گروه مجرمانه تلقی نموده است که موارد فوق می تواند وجه اشتراک رادر در اسناد ملی و بین المللی در مورد جرایم سازمان یافته نشان دهد. اما انچه که وجه افتراق را در خصوص جرایم سازمان یافته در اسناد ملی و بین المللی نشان میدهد عبارت از این است که کنوانسیون پالرمر هدف از گروه های مجرمانه را کسب منفعت مالی و سایر منافع مادی تلقی می کند که در این جا به صراحت معلوم می شود که اسناد بین المللی صرف هدف مادی مطمع نظر گروه های مجرمانه می باشد، در حالیکه در اسناد ملی هدف گروه های مجرمانه را علاوه از کسب منفعت مالی کسب قدرت سیاسی نیز تلقی می کند چنانکه ماده (٦١ و ۴۹۵) کد جزا افغانستان شاهد این مدعا است و علاوه بر این قانونگذار افغانستان جرایم تررویستی را نیز در زمره جرایم سازمان یافته تسجیل نموده است بنابراین می توان گفت که اهداف مورد نظر گروه های جنایتکاران سازمان یافته می تواند که هم دستیابی به سود مالی باشد و هم رسیدن به قدرت سیاسی.

## پیشنهادات

بعد از انجام تحقیق به این نتیجه رسیدم که شناخت گروه های مجرمانه و جرایم سازمان یافته بستگی به شناخت ویژگی های آن داشته و تا زمانی که ویژگی های گروه های مجرمانه و جرایم سازمان یافته مورد شناسایی قرار داده نشود نمیتوان که

جرایم سازمانی را از جرایم عادی تفکیک کرد، پس با شناخت گروه های مجرمانه می توان که از آثار زیانبار جرایم سازمان یافته کاست. بنابراین پیشنهاد میگردد که:

۱. جهت کاهش جرایم سازمانی بایستی که با مجرمان سازمانی برخورد حقوقی شود، نه برخورد سیاسی و غیر مسلکی.
۲. پشنهاد آخر اینکه محققان و قلم بدستان علم کریمنولوژی در خصوص جرایم تطهیر پول، قاچاق اسلحه، قاچاق مهاجران و قاچاق انسان کمتر قلم و قدم زده اند بناْ بهتر است که در مورد جرایم فوق الذکر تحقیقات همه جانبه صورت گیرد تا ابعاد تاریک آن روش شود.
۳. طوری که میدانید گروپ های جنایتکار با نفوذ و استخدام بعضی کارمندان ضعیف النفس در دستگاه دولتی پایه های نظام سیاسی را متزلزل ساخته و ماموران آنرا با استفاده از تهدید و تطمیع و پرداخت رشوت فاسد و نظام اقتصادی را نیز شدیداْ صدمه میزند که این موضوع می تواند اثرات منفی را بر اجتماع وارد سازد، بنابراین مبارزه علیه این گروه مبارزه قاطع و جدی مشترک را می طلبدکه اعم در سطح ملی، منطقه ای و جهانی بایستی علیه این گروه ها مبارزه جدی صورت گیرد.

**منابع**


۱. اسعدی، سید حسن. (۱۳۸٦). جرایم سازمان یافتفراملی، انتشارات میزان، چاپ اول.
۲. پیکاه، ژوژ. (۱۳۹۵). جرم شناسی، مترجم، علی حسین نجفی ابرند آبادی، چاپ چهارم، نشر میزان.
۳. حاجیانی، ابراهیم (۱۳۸۴)، جرایم سازمان یافته، مفهوم، مدل ها و تاثیرات آن بر ثبات سیاسی. مطالعات راهبردی، فصلنامه.
۴. حسینی، سیدمحمد، هاشمی، غازی (۱۳۹۸)، حقوق جزای اختصاصی۳، ناشر بنیاد آسیا.

۵. رحیمی نژاد، اسمعیل (۱۳۹۲)، جرم شناسی، ناشرفروزش.
٦. ستانکزی، نصر الله و دیگران، (۱۳۸۷)، قاموس اصطلاحات حقوقی، پوهنحی حقوق و علوم سیاسی، پوهنتون کابل.
۷. سر آمد، احمدی، (۱۳۹۰)، بررسی علل و عوامل قاچاق زنان و اطفال در افغانستان، ناشر، کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان.
۸. سرروی، عبدالبصیر، فاریابی، عبدالعظیم (۱۳۹۱)، جرم شناسی، انتشارات رسالت
۹. سلیمی، علی، داوری، محمد (۱۳۹۱)، جامعه شناس کجروی، انتشارات، پژوهشگاه حوزه دانشگاه.
۱۰. شبس، ویلیام (۱۳۹٦) مقدمه ای بر دیوان کیفری، ترجمه سید باقر میر عباسی، انتشارات جنگل.
۱۱. شمس، محمدابراهیم (۱۳۸۳) جرایم سازمان یافته، مجله فقه و حقوق.
۱۲. صادقی، احمد رضا (۱۳۹۸)، منطقه ای شدن سیاست جنایی در قبال جرایم سازمان یافته، نشر واژه.
۱۳. صدیقی، علیمی (۱۳۹۱)، روان شناسی اجتماعی، انتشارات یوسف زاد، کابل.
۱۴. کنوانسیون پالرمو مصوب (۲۰۰۰).
۱۵. گروه از شارحین (۱۳۹۸)، شرح کد جزا افغانستان، جلد۱ و جلد ۳، ناشر بنیاد آسیا.
۱٦. وزارت عدلیه جمهوری اسلامی افغانستان، قانون مبارزه علیه اختطاف و قاچاق انسان، شماره مسلسل ۹۵۲، تاریخ نشر ۲۵
۱۷. وزارت عدلیه جمهوری اسلامی افغانستان، کد جزا، شماره مسلسل ۱۲٦۰، تاریخ نشر ۲۵ ثور.

**نصیر احمد یوسفزی**

حقوقو څانګه، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، بایزید روښان پوهنتون

# د پښتنو عُرفي پرېکړې او د اسلامي شریعت سره یې پرتلیزه څېړنه

**لنډیز**

د قضاء مشروعیت یو له خورا مهمو مسایلو څخه دی، قضایي کړنې د جرم او مجرم مخنیوي او د حقوقو ساتنه کوي، په ټولنه کې عدالت راولي او خلکو ته د ښه ژوند اسانتیاوې برابروي.

عرفي پرېکړې او عرفي قوانین په اکثرو ټولنو او ملتونو کې چلښت لري، دغه مقاله مې د خلکو د دې پوښتنې په ځوب کې ولیکله، چې آیا عرفي پرېکړې مشروعیت لري او که نه؟ د عرفي پرېکړو کومې کړنې او کوم احکام د شرعي قضاء سره موافقې دي؟

په دې مقاله کې دغه موضوعات، لکه د قضاء حقیقت، د قاضي پېژندنه او شرطونه، په قضاء کې د پېښو د اثبات دلیلونه، قضایي کړنلارې، عرفي شوراګانې، په ټولنه کې د تعدیٰ او تجاوز مسایل، لکه قتل، قصاص، دیت، د قتل نه ټیټ (وهل ټکول)، د وهلو ټکولو په اړه احکام او پرېکړې، د عزت او ابرو مسایل، لکه زنا، د ښځې تښتونه او قذف (په زنا سره تورن کول) د دې مسایلو په اړه احکام او پرېکړې او اسلامي شریعت سره یې پرتلنه، تر بحث لاندې نیول شوي دي او همدارنګه د عرفي پرېکړې او شرعي قضاء ترمنځ د توافق او اختلافي اړخونو په اړه خبرې شوي دي. د څېړنې په پای کې مې هغه پایلې او سپارښتنې را اخیستي، چې هغې ته مې رسیده ګې کړې ده.

په دې څېړنه کې د معلوماتو راټولولو په برخه کې د څېړنې له دوه تګلارو څخه کار اخستل شوی دی، چې هم کتابتوني او هم میداني دي.

د څېړنې پایله او لاسته راوړنه دا ده، چې لوګر ولایت کې عرفي پرېکړو اړوند احکام او مسایل له اسلامي شریعت سره يې پرتله شوي، چې په پای کې د عرفي پرېکړو د حلت او حرمت، د توافق او اختلاف اړخونه يې د اسلامي شریعت له قضاء سره واضح او څرګند شوي دي.

**کلیدي کلمې:** اسلامي شریعت، احکام، شرعي قضاء، عرفي پرېکړې او لوګر ولایت

**سریزه**

الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام على اشرف المرسلین سیدنا محمد وعلى آله وصحبه ومن تبعهم بإحسان إلى یوم الدین.

اما بعد: دغـه مقاله مې د (پښتنو عرفي پرېکړې او د اسلامي شریعت سره يې پرتلیزه څېړنه (لوګر ولایت يې د بېلګې په ډول) په اړه لیکلې ده. قضاء د اسلام په دین کې یو اصل دی، قضاء په ټولنه کې د ملا د تیر حیثیت لري، د بشري او انساني ټولنې له پیله تر دې دمه جرم شتون لري او همدارنګه د جرم د مخنیوي لپاره قضاء ورسره اوږه په اوږه روانه او دوام لري، داسې ټولنه نه ده لیدل شوې او نه لیدل کیږي، چې د جرم او قضاء له موضوع څخه خالي او مبرا وي، قضاء له هغه اموراتو څخه ده، چې په هره ټولنه کې خلک ورته اړتیا لري، ځکه چې ظلم او تیری د هر انسان په طبیعت کې شتون لري او هیڅ انسان له تیري او معصیت څخه معصوم نه دی، نو باید د ظلم او تیري د رفع او دفع کولو په موخه قضاء شتون ولري، ځکه چې قضاء اختلافات له منځه وړي، شخړې حلوي، روغه جوړه راولي او له قضاء پرته بشري ټولنه کې امن او امنیت ناشوني دی.

د پښتنو عرفي پرېکړې له ډېر پخوا څخه د تطبیق او عملي کېدلو پراخه ساحه درلوده او اوس يې هم لري، عرفي پرېکړو کې اکثراً فساد نشته، د مسایلو پرېکړه ژر کیږي او

همدارنګه ژر تر ژره عملي کېږي، نو ځکه خلک جرګو او مرکو ته ترجیح ورکوي، په دې اړه مې ډېر کوښښ کړی، څو د عرفي پرېکړې مهم موضوعات له مشهورو جرګه مارو او مشهورو قومي مشرانو رانقل کړم او له هغه ورسته د اسلامي شریعت د فقهې احــکامو سره یې پرتلیزه څېړنه وکړم، څو مسلمانو ته دا جوته او څرګنده شي، چې عرفي قوانین او پرېکړې تر کومه بریده د اسلامي شریعت سره برابر او تر کومه بریده د اسلامي شریعت سره په ټکر کې دي او د دې مطالعې سره خلک وکولای شي د هغو قضاوتونو څخه، چې د اسلامي فقهې مخالف او متضاد دي او الله تعالی جل جلاله پرې ناراضه کېږي ځان وژغوري.

**د څېړنې مساله**

زموږ په هېواد کې ټولنیز وضعیت داسې دی، چې ډېری وګړي یې د شرعی قضاء ترڅنګ عرفي پرېکړو ته پوره توجه کوي، همدا لامل دی، چې ډېرو قضیو کې عرفي پرېکړې ترسره کېږي او په ټولنه کې مثبتې پایلې هم لري، خو په دې اړه دوه ستونزې شتون لري، چې یوه یې عملي او بله یې عقیدوي ستونزه ده.

عملي ستونزه یې دا ده، چې د یوې سیمې یا یو قوم عرفي پرېکړې د بلې سیمې یا بل قوم له پرېکړو سره مغایرت او توپیر لري اړینه ده، چې په دې برخه کې څېړنه وشي او د لوګر د خلکو عرفي پریکړې نورو خلکو یا نورو اقوامو ته څرګندې شي او هر یو په دې اړه معلومات حاصل کړي.

عقیدوي ستونزه دا ده، چې ځینې خلک عرفي پرېکړو ته غیر شرعي او کفري پرېکړې وایي او د شرعي قضاء خلاف یې بولي، دا چې زموږ په هېواد کې دې موضوع ته توجه نه ده شوې، نو په دې برخه کې څېړنه ډېره اړینه ده، تر څو د عرفي پرېکړو د موافقت او مخالفت اړخونه له شرعي قضاء سره څرګند شي، د خلکو ترمنځ دغه شته شکونه له منځه ولاړ شي او عرفي پرېکړو باندې د کفر فتوا و نه لګوي.

## د څېړنې ارزښت

انسان یو ټولنیز مخلوق دی باید ټولنه کې ژوند وکړي، د انسانانو ترمنځ د فطري او طبعي غرایزو پر بناء ظلمونه تېري، شخړې او جنګونه رامنځ ته کېږي، نو د دې پېښو لپاره قضاء او فیصلې اړینې دي، څو د خلکو ترمنځ دغه ستونزې حَل او حق حقدار ته وسپاري.

دغه موضوع زموږ د ورځني ژوند یو مهمه او با ارزښته برخه رانغاړي هر انسان د ستونزو، شخړو او جنګ جګړو له پېښېدو سره سم، عرفي پرېکړو ته، چې د شخړو د حل او فصل نږدې مرجع ده مخه کوي او خپلې ستونزې، جنګ جګړه او خصومتونه د همدې عرفي پرېکړو په مرسته حلوي.

## د څېړنې موخې

هره موضوع د ګڼ شمېر هدفونو لاسته راوړلو په پار ترتیب او تنظیمېږي، د لیکنې موخې په لاندې ډول دي:

١. په ټولنه کې ځیني خلک په عرفي پرېکړې باوري دي او د درناوي وړ یې بولي او خپلې ټولې پرېکړې د عرفي پرېکړو په مرسته فیصله کوي، دا خبره باید څرګند شي، چې عرفي پرېکړه د باور او درناوی وړ ده او که نه؟
٢. په ټولنه کې ځیني خلک په عرفي پرېکړو باندې عمل کول او هغې ته درناوی حرام او کفر بولي آن تر دې، چې د هغې غونډې یا مجلس ته ورتګ حرام بولي، غواړم چې عرفي پرېکړه له شرعي پرېکړې سره پرتله شي او دا خبره باید څرګنده شي، چې د عرفي پرېکړې کومه برخه له شریعت سره مخالفه ده، چې خلک پرې د کفر فتوا ورکوي.

د دې موضوع په اړه هیڅ داسي کومه څېړنه نه ده شویو څو خلکو ته د عرفي پرویکړو حرمت او حلت څرګند او ښکاره شي، ترڅو خلک له شکونو خلاص او مطمئن شي، له غلطو افکارو او غلطو فتواګانو څخه ځان وساتي.

## د موضوع د ټاکنې اسباب

ځیني خلک عرفي پرېکړې حرامې بولي آن تر دې، چې داسې جرګو ته ورتګ نا جایزه او ناروا بولي، د دوی پرېکړې او حکم ته تحاکم الی الطاغوت وایي، نو د دې څېړنې په مرسته دا جوتېږي، چې عرفي فیصلې او پرېکړې د شرعي قضاء سره مخالفې دي که موافقې.

د قضاء، تحاکم، روغې جوړې او پخلاینې ترمنځ توپیر نه کول، چې د حکمونو د صادرېدولو لامل کېږي.

د ځینو مصلحینو (جرګه مارانو او مرکچیانو) ناپوهي د شرعي احکامو په اړه، چې له (دودیزو) یا عرفي پرېکړې سره تعلق او تطابق لري، چې دوی باید د دې رسالې په مرسته پوه شي او په دې اړه معرفت حاصل کړي.

زه غواړم، چې دا لیکنه دوی ته وړاندې کړم، څو د اسلامي شریعت سره سم د ستونزو په حل کې له دوی سره مرسته وکړي.

## د څېړنې تګلاره

د څېړنې طبیعت دا دی، چې باید یوه ټاکلې تګلاره او ځانګړې طریقه ولري، نو باید وویل شي، چې د دې څېړنې تګلاره کتابتوني، تحلیلي او میداني ده.

## تېرو لیکنو ته کتنه

دا مقاله چې د (پښتنو عرفي پرېکړې او د اسلامي شریعت سره یې پرتلیزه څېړنه (لوګر ولایت یې د بېلګې په ډول) تر سرلیک لاندې په دوو فصلونو کې لیکل شوې ده، ما

چې کومه پلټنه کړې او د دې موضوع په اړه مې له ډېرو پوهانو، کتابتونونو او دعلومو اکاډمۍ څخه وپوښتل، چې آیا په دې اړه چا کتاب لیکلی دی؟ آیا د دې موضوع په هکله کوم کتاب شتون لري؟ نو د ټولو ځواب نه و، نو زما د معلوماتو پربناء په دې اړه هیڅا کتاب نه دی لیکلی، خو دوه واړه کتابونه، چې یو د (احمدزیو د ځلي او نرخونو) په نوم دی او بل یې (په افغانستان کې د عنعنوي جرګو نن او پرون) په نوم دی، چې یوازې د مختصرو نرخونو او همدارنګه د افغانستان د لویو جرګو په اړه یې لیکنه کړې ده، نو ځکه مې دا اراده وکړه، چې د (پښتنو عرفي پرېکړې او د اسلامي شریعت سره یې پرتلیزه څېړنه (لوګر ولایت یې د بېلګې په ډول) تر عنوان لاندې یوه مقاله ولیکم، څو د خپل علمي مسئولیت یوه وړه برخه ادا کړم.

## د څېړنې ستونزې

هره موضوع ځانته د ځانګړو ستونزو لرونکې وي، خو د دې څېړنې ستونزې دا وې، چې په افغانستان کې عرفي پرېکړې او عرفي احکام ځانګړي کتابونه نه لري، څو د هغې په مرسته مو موضوعات او احکام را غونډ کړي وای او عامو خلکو هم په دې اړه بشپړ معلومات نه لرل، نو د عرفي پرېکړو د احکام پیدا کولو په موخه او همدارنګه د هغې حقیقت او تطبیق څرګندولو لپاره په کلیو او بانډو کې ګرځېدل او د داسې متخصصو کسانو او کارپوهانو پیدا کول، چې د عرفي احکامو او پرېکړو په اړه پوره معلومات ولري ستونزمن کار دی.

## د څېړنې اصلي پوښتنې

۱. عرفي (دودیزې) پرېکړې څه ته وایئ؟

۲. عرفي پرېکړې مشروعیت لري او که نه؟

## د څېړنې فرعي پوښتنې

۱. د عرفي پرېکړې مخکنی تاریخ څه دی او څه وخت منځته راغلې؟

۲. عرفي پرېکړې له شرعي قضاء سره تر کومه کچه توپیر او یو بل سره ورته والی؟
۳. خلک ولې عرفي پرېکړو ته لیوال دي؟

**لومړی مبحث: د عرفي پرېکړې پېژندنه او مخینه**

دا چې انسانان ټولنیز کې ژوند کوي او ټولنیز ژوند د خلکو ترمنځ پر تبادلې او معاملې ولاړ وي، کله کله د دوی تبادلې او معاملې په شخړو اوړي، نو دلته داسې یو ځواک ته اړتیا شته، تر څو د دوی ترمنځ دا شخړې حل کړي، ګډوډي لرې کړي، آفتونه له منځه یوسي او عدالت رامنځته کړي او دا ځواک قضاء ده، قضاء د ټولنې امنیت او همدارنګه د عدل او انصاف رامنځته کولو لپاره اړینه ده، نو د دې لپاره، چې عرفي پرېکړې وپېژندل شي، نوموړې موضوع په لاندې درې مطلبونو کې څېړل کیږي.

**لومړی مطلب: د عرف پـېژنـدنـه او د عرفي پرېکړو تاریخي مخینه**

دود یا رواج ته په عربي ژبه کې عرف وایي اسلامي علماء د عرف تعریف داسې کوي:

**عرف په لغت کې:** عرف د منکر ضد دی، د پېژند (معروف)، اقرار (اِعترَفَ) په معنی استعمال شوی.

**عرف په اصطلاح کې:** « هو ما الفه المجتمع و اعتاده و سار علیه في حیاته من قولٍ او فعلٍ » (۱۷: ۲۵۲).

**ژباړه:** هغه شی، چې د یوې ټولنې له خوا جوړ شوی او ایجاد شوی وي او په ژوند کې غالبه شوی وي، که قول وي او که عمل.

د لیکوونکی له آنده: عرف عبارت له هغې خبرې او عمل څخه دی، چې د عامو خلکو له خوا د خپل طبیعت د خوښې او غوښتنې سره سم تاکل شوی او خلک ځان

پرې پابند بولي، کله د عقل او شرع سره موافق او کله مخالف وي، کله مقبول وي او کله مردود.

## د پښتنو د عرفي پرېکړې تاریخي مخینه

زرگونه کلونه وړاندې (پښتون) د آریایي ټولنې په غېږه کښې سترگې وغړولې، ده خپلې ژبې ته هم د (پښتو) نوم ورکړ او خپل قانون ته یې هم د (پښتو) یا (پښتونولۍ) نوم کېښود، خپل قانون کې یې هم هغه ټولې تجربې چې آریایانو د خپلې ټولنې د نظم ټینگښت او د خپل ټولنیز ژوند د سمبالښت لپاره کړې وې را خپلې کړې، د (پښتونولۍ) قانون شفاهي وو، خو په عین حال کې یې عملي بڼه درلوده، د پښتنو ملي قوانین له پېړیو - پېړیو د خلکو په سینو کې خپل اصالت او قدامت ساتلی او خپل رسالت یې تر سره کړی دی (۲۱: ۳۷).

د پښتو اصول او قانون په پښتنې ټولنه کې یو داسې پولادي نظم ټینگ کړی و، چې د هر چا مال، سر او ناموس پکې خوندي و، پښتونولۍ قوانین تر استثنایي حالاتو پرته د تطبیق لپاره پولیس او قهریه قوه نه درلوده، خو قضاییه قوه یې دومره له عیني شرایطو سره سمه وه، چې ټولو خواوو ته د منلو وړ وه، پړ او اوړ (ملامت او سلامت) دواړه پرې قانع کېدل (۱۸: ۲۳).

که تاریخ ته نظر وکړو زموږ په هېواد کې د جرگو او مرکو تاریخچه د پخوانیو آریایانو تر زمانې رسیږي، د جرگو او مرکو لومړني بسنټ اینبودونکي پخواني آریایان دي، چې د (سیمیتي - Simite) او (سبها - Sabha) په نومونو یې دوې جرگې درلودې، چې په سیمتی کې سپین ږیري او دقبیلې مشران سره غونډېدل، خو (سبها) کلیواله بڼه درلوده، یا په بله ژبه (سیمتی) د مشرانو د جرگې رول درلود او سبها د کلیوالو شخړو د فیصله کولو لپاره د یوې کلیوالې مرکې دنده سرته رسوله، په سیمیتي کې پاچا هم شامليده، یعنې د پاچا او مشر د ټاکلو حق یې درلود. (۲۱: ۳۷)

د افغاني ټولنې فطري ولسواکي د جرګو سره ژوره رابطه لري، حتی که حکومت یا دولت هم نه وي په پښتنو کې همدا جرګې دي، چې د ټولنیز ژوندانه دوه مهم ضرورتونه (امنیت او عدالت) تامینوي، جرګې له زرګونو کلونو راهیسې له افغانانو سره ملګرتیا او وفا کړې ده.

**دویم مطلب: د عرفي پرېکړې اړوند ټکي**

عرفي پرېکړې ځانته خپل اصطلاحات، مقررات، ضوابط او مفاهیم لري، د بېلګې په توګه « نرخ، جرګه، څلی، تیره، د بدو پور، سپین، تور، کرښنده، روغه جوړه، مچلګه، ننواتې، پخلا کېدل، ناغه، شرم، نـه ګون، سورلاسی، برمته، بدرګه او مرنۍ ». (۱۸: ۲۳)

۱. **نـرخ:** د قبیلوي حقوقي او جزایي تعاملاتو قانون ته نـرخ ویل کیږي، نـرخ یو عام مفهوم افاده کوي، چې د هغه په چوکات کې د ټولو جرایمو حدود او د مجـازاتو ډولونه او دودونه مـعلوم دي. پښتو کې دوه مشـهور نـرخـونـه دي یو د احـمدزیـو او بل د رزمـک.

**الف: د احمدزیو نرخ:** دا نـرخ د غزني څخه تر لوګر، پکتیا، بامیان، پکتیکا، مـیدان وردګ، کابـل او تر ننګرهار پورې د رواج ســاحــه لـري.

**ب: د رزمک نرخ:** د رزمک نرخ یوازې په وزیرستان او د هغه په شاوخوا کې رواج لــري.

دغــه دوه معتبره نرخونه د پښتنې قبیلې عـرفي پرېکړو په حقوقي او جزایي تعاملاتو کې اوچت ځای لــري.

۲. **تـــیـره:** په عرفي پرېکړو کې د «پولې» یا «حد» په مانا هم استعمالیږي، هر قوم خپل ځانګړي حُدود لري، د هر قوم جزایي اصول د نرخونو حدود د جرم په تناسب توپیر کوي (۲۱: ۴۲).

۳. **د بـــدو پـــور:** پور په اصل کې د (قرض او دَین) معنی ورکوي، مګر د پښتو په حقوقي او جزایي مسایلو کې د «تاوان» معنا ورکوي.

۴. **ســپــیــن:** د پښتو په حقوقي مسایلو کې د بدن هغو ښکاره برخو ته ویل کېږي، چې د جامو څخه وتلې وي، لکه سترګې، پوزه، غوږونه، ژبه، شونډې، لاسونه تر څنګلو پورې، پښې تر ښنګرو پورې، ښکاره غاښونه او داسې نور، همدارنګه له ګناه څخه پاک کس ته هم «سپین» وایي.

۵. **تـــور:** د پښتو په حقوقي مسایلو کې، د زخم په موضوع کې د بدن هغو برخو ته چې په جامو پټ وي «تور» وای، همدارنګه هغه کس ته، چې په ګناه کې داخل وي تور ګڼل کېږي (۱۸: ۲۴).

٦. **کــرښــنــده (Karsanda)** : کرښه په پښتو کې خط او لیکې ته وایي، خو دلته د اکراه او جبر معنی لري، مثلاً، هغه څوک چې له رضا پرته په زور او جبر سره بېول کېږي، وایي په «کرښنده» یې بوته.

۷. **نــنــواتــې (Nanawate)** : د عفوې غوښتلو معنی لري، عفوه غوښتوونکي او عذر کوونکي د هغه چا کور ته ځي، چې غواړي د هغه عذر وکړي او هلته خپل عجز او انکسار ښکاره کوي.

۸. **نـــه ګـــونـــه (Naguna)** : د نه چنده په مانا ده او عموماً د حیواناتو، د غلا د تاوان په وخت کې استعمالیږي.

۹. **ســـور لاسی:** کوم وخت، چې څو تنه په شریکه سره یو سړی ووژني، نو د جزا په وخت کې قاتل او معاون سره بېلېږي، سور لاسی هغه څوک دی، چې قتل د ده په لاس سرته رسېدلې وي او حقیقي قاتل وي.

۱۰. **بـــدرګـــه (Badraga)** : هغه کسان دي، چې د قافلې یا یو سړي یا د جمعیت د ساتنې له پاره مقررېږي، چې د خطر له ځایه یې تېر کړي او خپل منزل ته یې ورسوي (۲۱: ۴۸).

## د شرعي پرېکړې اړوند ټکي

**التحکیم:** په لغت کې منځګړتوب ته وایي او په اصطلاح کې د مسالې یا قضیې سپارل یو یا څو کسانو ته، څو د متخاصمو او دعوا کوونکو تر منځ فیصله وکړي.

**صلح په لغت کې: ص،** لح په لغت کې د فساد ضد او د صلاح، موافقت، ثواب او خیر په معنی ده (۹: ۲جلد، ۵۱۶).

**صلح په اصطلاح کې: ص،** لح هغه عقد او تړون څخه عبارت ده، چې شخړه له منځه وړي (۱۰: جلد ۷، ۲۷۸).

همدارنګه صلحه داسې یوه معاهده او تړون دی، چې د هغې په واسطه مخالفین پخلاینې ته رسېږي. (۶: ۳)

دا ټول تعریفونه په یوه معنی او مفهوم را څرخېږي، چې د شخړې له پرې کول او د دعوا ختمول دي.

**الحِسْبَة:** د الله متعال په حق کې له منکراتو څخه منع کول دي او د ممنوع او منکراتو له نړدیوالي څخه ساتنه ده (۲۵: ۳۲۷).

## درېیم مطلب: د عرفي پرېکړې حکم

**د قضاء پېژندنه:** قضاء عربی کلمه ده، قضاء په لغت کې حکم او پرېکړې (د دوه ډلو تر منځ د شخړې هوارولو) ته وایي، قضاء په اصطلاح کې« فصل الخصومات و قطع المنازعات علی نحو مخصوص» (۵: ۲۷۲).

**ژباړه:** قضاء په ځانګړې توګه د شخړو او دعوو فیصله کولو او خلاصولو ته وایي.

**جمهور علماء:** د صحیح عرف حجیت ته اعتبار ورکوي، یعنې د استدلال په توګه یې مني، خو په دې شرط، چې د شرعي قواعدو سره مخالف نه وي (۱۰: ۹۳).

**امام ابن العابدین وایي:** هغه مفتي، چې په عرف باندې فتوی ورکوي باید د زمانې په اړه پوهه ولري، د اوسېدونکي له حالاتو خبر وي، د عرف له خاص او عام څخه خبر وي، د نص سره له مخالفته پوه وي، د ماهر استاد لاس لاندې تربیه شوی وي، یوازې د مسایلو په حفظ او یادولو دې بسنه نه کوي؛ بلکې د مسایلو تحلیل باید وکولای شي، ځکه چې د یو مجتهد پوهه د خلکو په عاداتو ضروري او حتمي ده (۵: ج ۲، ۱۲۷).

**د قاضي پېژنده او د عرفي قاضي (مرکچي) شرطونه**

**قاضي پېژندنه:** په لغت کې پرېکړه کوونکي ته وایي، قاضي هغه کس دی، چې د خلکو ترمنځ قضاوت او فیصلې کوي او اصطلاح کې عبارت له هغه کس څخه دی، چې د سلطان لخوا د خلکو ترمنځ په قانوني او مشروع احکامو سره د دعوو او شخړو حل او فصل لپاره تعین او گمارل شوی وي (۲۹: ۱۷۸۵ ماده).

**د عرفي قاضي (مرکچي) پېژندنه:** هغه څوک دی، چې د دعوه کوونکو په رضایت سره د دوی ترمنځ د حکم صادرلو صلاحیت او واک لري.

**اسلامي شریعت کې د قاضي شـرطونـه**

**متفق علیه شرطونه:** اسلام، عقل، بلوغ او حریت دي (۲۸: ج ۷، ۴).

**بېلابېل فیه شرطونـه:** عدالت، اجتهاد، ذکورت او د غیر مسلم قضاء غیر مسلم ته سپارل (۱۹: ٦٨١).

**عرف کې د قاضي شرطونـه**

په عرف کې پرېکړه کوونکی (قاضي) باید نېک شهرت ولري، د ولسي روغې جوړې او قومي نرخونو په اصولو او نزاکتونو پوه وي، د تصمیم نیونې وړتیا ولري، خلکو ته د اعتماد وړ وي او قوت ولري (۲۲: مرکه).

**د لیکوونکي له نظره:** د عرفي قاضي لپاره لیکل شوي شرطونه شتون نه لري، د قاضي شرطونه په عرفي قاضیانو کې پاشلي او پراګنده دي او دا شرطونه د دوی له کړنې څخه پېژندل کېږي.

عرفي پرېکړې او شرعي قضاء ته په کتنې سره داسې ښکاري، چې د دوی ترمنځ یو څه توپیرونـه شتون لري، چې په لاندې ډول دي:

۱. **د ګمارنې او لرې کونې له امله:** د شرعي قاضي ګمارل او عزل د رئیس دولت صلاحیت دی، مګر د عرفي قاضي (مرکچي) ګمارنه او عزل د متخاصمو ډلو لخوا وي.

۲. **د ګمارنې ځای له پلوه:** شرعي قاضي د قضاء له ځانګړي ځاي څخه تجاوز نه شي کولای، مګر عرفي پرېکړې د ځانګړي ځای پورې اړونده نه دي، بلکې د متخاصمو لخوا چېرته چې وټاکل شو.

۳. **د احکامو د سرچنې له پلوه:** د شرعي قضاء سرچینه اسلامي شریعت دی؛ مګر د عرفي پرېکړې د احکامو مصدر اسلامي شریعت، دودونه، د مخکنۍ پرېکړې مثالونه، اجتهاد او د مرکچي تجربي دي.

۴. **د تنفیذ او عملي کېدلو له پلوه:** د شرعي قاضي حکم پر متخاصمو ډلو باندې نافذ دی، کله چې د نص او اجماع سره مخالف نه وي، مګر د عرفي قاضي حکم ملزم نه وي، لکن په هغه صورت کې چې متخاصمو ډلو قاضي تـه د تنفیذ اختیار ورکړی وي.

۵. **د دندې د ځانګړتیاو له پلوه:** شرعي قاضي ټولو قضیو ته لاس رسی کولای شي، حدود وي که جنایات، اموال وي که نورې داسې قضیې، مګر دا چې د قاضي صلاحیت یې محدود کړی وي، خو عرفي پرېکړه کې د هرې قضیې لپاره ځانګړی مرکچې ټاکل کېږي.

**دويم مبحث: د عرفي پرېکړې د اِثبات دليلونه او کړنلاره يې**

دا چې ځان برحقه ګڼل او مقابل لوری ملامتول د انسانانو فطري او طبيعي ځانګړنه ده، نو هر انسان د هر هغه څه غوښتنه لري، چې د ده په ګټه وي او هر هغه څه، چې د ده په کې تاوان وي پر بل انسان يې اړوي، د دې لپاره، چې حق حقدار ته ورسېږي د حق د ثبوت په موخه د دليلونو وړاندې کول اړين دي، د دې دليلونو لنډ وضاحت راتلونکي څلورو مطلبونو کې ترسره کېږي.

**لومړی مطلب: شهادت (ګواهي)**

شهادت ته په عربي ژبه کې (البينة) وايي، چې په دې سره حق ښکاره کېږي او ثابتېږي.

**د البينه کلمې پېژندنه:** په لغت کې ګڼې معنی ګانې لري، لکه، الخبر القاطع (غوڅه خبره)، الحضور و المعاينه (ليدنه او کتنه)، الحلف (لوړه او قَسَم)، العلم (پوهه)، البينة في القضا (په قضاء کې شهادت).

**شهادت په شرعي اصطلاح**

امام ابو حنيفه رحمه الله په دې اړه وايي دحق د اثبات لپاره د قضاء په مجلس کې د شهادت لفظ ريښتنې خبر ته وايي (۵: ج ۷، ٦٣).

**په عرفي پرېکړه کې شهادت**

د حق د اثبات لپاره د مرکې په مجلس کې د شهادت لفظ ريښتنې خبر ته وايي او په حقيقت کې د شرعي شهادت او عرفي شهادت د تعريفونو ترمنځ کوم توپير نشته.

**د ښځې شهادت:** عرف کې د قضيو په اړه د ښځو شهادت نشته، که چېرې قضيې او مسايل يوازې د مېرمنو ترمنځ پيښ شوي وي او يوازې مېرمنو پورې اړه ولري، نو بيا داسې شهادت د منلو وړ دی (۱۴: مرکه).

**د ماشومانو شهادت:** د ماشومانو حالت د مرکچیانو له لورې څېړل کېږي، که د جرگې قناعت پرې حاصل شي منل کېږي او په مشکوک حالت کې ردېدلی هم شي (۲۲: مرکه).

امام مالک او امام احمد (رحمه الله) د ماشومانو شهادت مني، خو چې د واقعې له ځایه سره تیت او متفرق نشي، یا کوم سړی یې منځ ته داخل نه شي، یا په کوم شي باندې چې اخته و اخته وي، امام مالک صاحب د زخمونو او قتل په اړه وایي: (اذا شهد اثنان فصاعدا قبل ان یتفرقا و کان ذلک صبیان کلهم) (٦: ج ۱۲، ۲۸).

**ژباړه:** کله چې دوه او یا زیات ماشومان شاهدي ورکړي مخکې له دې، چې جلا شي او دا ټول ماشومان وي شهادت یې صحیح دی، د یو ماشوم شهادت جایز نه دی او همدا رنگه په زخمونو کې د جنوکیو شهادت د منلو وړ نه دی، همدارنگه د جمهورو فقهاء وایي، چې د ماشومانو شهادت د منلو وړ نه دی.

دا خبره جوته شوه، چې عرفي پرېکړې او شرعي قضاء د جمهور فقهاوو له آنده، د ماشومانو د شهادت د نه منلو په اړه توافق لري.

**د شهادت نصاب:** د شاهدانو له پاره ټاکلی نصاب شتون نه لري او نه هم کوم تشریفات په نظر کې نیول کېږي مهمه داده، چې د جرگې قناعت حاصل کړي، په یوه شاهد باندې هم اعتماد کېدلی شي، خو چې کم اصله او بې نسبه نه وي، خو د شک په حالت کې شاهد ته قَسَم ورکول کېږي (۱۴: مرکه).

**شرعي قضاء کې د شهادت نصاب:** جمهور فقهاء وایي، شهادت د قضیې نوعیت اختلاف سره سره، د شهادت نصاب شرط دی، یعني د یو شاهد شهادت نه منل کېږي، مگر په ځینو مستثنا صورتونو کې، لکه روایت (خبر ورکول)، یا د ضرورت له امله منل کېږي (۲: ج ۷، ۲۷۰).

همداراز ابن القیم جوزي رحمه الله د حق په ثبوت کې نصاب شرط نه ګڼي (۱۳: ۹۲).

**مختار او غوره رایة:** د جمهور علماؤو رایه دا ده، چې د شهادت لپاره نصاب واجب او ضروري دی، ځکه چې ډېر دلایل د نصاب په وجوب باندې دلالت کوي او په عرفي پرېکړه کې د شهادت نصاب اعتبار نه لري، یوازې د ابن القیم رحمه الله دغه رایه چې (لا یشترط في ثبوت الحق النصاب) یعنې (په شهادت مالي کې نصاب معتبر نه دی) د عرفي پرېکړې له شهادت سره توافق لري (۱۳: ۹۲).

**دویم مطلب: یمین (قَسَم)**

یمین (قسم) د یوې قضیې د ثبوت له سترو دلیلونو څخه شمېرل کېږي، د اقرار او شهادت څخه وروسته، قضاء د قسم پر بناء حکم کوي، قسم د هري مسالې په حل او فصل کې پرېکنده ثبوت ګڼل کېږي.

**د یمین (قسم) پېژندنه:** یمین په لغت کې د قوت، طاقت، دِین، ملت، عهد او قَسَم په معنی استعمال شوی او په شرعي اصطلاح کې قسم له هغه عقد څخه عبارت دی، چې په هغې سره قسم خوړونکی د یو کار د کولو او یا نه کولو قوي او کلکه اراده کوي (۵: ج ۴، ۴).

همدارنګه یمین په عرفي اصطلاح کې د یوې معاملې ثابتول، لاسته راوړل یا په یو شي باندې ټینګار کولو څخه عبارت دي د الله متعال د نومونو یا صفاتو په یادولو سره.

**عرف کې ښځو ته قسم ورکول:** که چېري لوړه یا قسم ښځې ته راجع کېږي، نو پښتو کې ښځې ته قسم جواز نه لري، البته د ښځې پر ځای د هغې مېړه یا نږدې خپلوانو ته لوړه راجع کېږی (۱۸: ۱۲۲).

**د عرفي قسم الفاظ:** عرفي پرېکړه کې د قسم مشهوره صیغه (وَاللّٰهِ، بِاللّٰهِ، ثم تَاللّٰهِ) دی او ځینې وخت د طلاق الفاظ او کله هم د یو چا په سر قسم یادوي، کله هم د ځان یا یوه قریب د ژوند د اخیستو په الفاظو ترسره کارول کېږي. (۱۴: مرکه)

**د شرعي قسم الفاظ:** د ټولو فقهاوو (امام ابو حنيفه، امام مالک، امام شافعي او امام احمد حنبل) په نزد د يمين صيغه (وَ اللّٰهِ، و بِاللّٰهِ، و تَاللّٰهِ) دي، (۵: ج ۸، ۴)

**د حلف (قسم) تبادله:** په عرفي پرېکړه کې د قسم تبادله شتون لري، يعني که هر يو له مخالفو ډلو څخه يو له بله د قسم غوښتنه وکړي او مقابل لوري قسم وکړ، حق يې ثابت او تهمت تري دفع کېږي (۱۴: مرکه).

**المغني وايي:** قسم که پر مدعي وي يا مدعي عليه، که له دوی څخه هريو قسم وکړ، نو دعوه يې ثابتيږي.

**امام ابو حنيفه او حنابله وايي:** قسم کې تبادله نشته، ځکه چې قسم پر مدعي عليه باندې ثابت دی او مدعي ته نه انتقالېږي (۲۸: ۲۳۰).

خو د امام مالک او امام شافعی مذهب د يمين تبادله جايز بللې (۴: ۲۳۰).

**مختار او غوره رايه:** د امام شافعي او امام مالک (رح) نظر مختار دی، ځکه چې نبي عليه السلام، مدعين (دواړه مدعيانو) ته حلف ورکړی دی، لکه د (القسامة) په موضوع کې.

دلته مقصد او موخه د حلف (قسم) څخه د حق تبين (ښکاره کېدل) دي، کله چې مدعي عليه د مدعي پر قسم باندی راضي شو، نو د حق حاصلولو په موخه د مدعي پر حلف باندې کوم ممانعت نشته.

د دې موضوع په اړه، دا معلومه شوه چې عرفي پرېکړې د هغه چا رايې سره موافقه ده، چې د حلف په تبادله قايل دي.

## دريیم مطلب: ا قرار

اقرار د قضيو د ثبوت لپاره تر هر ډول دليل او سند څخه ډېره غوره او غښتلی سند بلل کيږي (۵: ۸).

**د اقــرار لغوي پېژندنه:** اقرار عربي کلمه ده، د « قَـرَّ » یعنی د « ثَـبَـتَ » په معنی دی (۹: ۸۲).

**د اقرار اصطلاحي پېژندنه:** ابن الهمام او ابن نجیم وايي، « اخبار عن ثبوت حق للغیر علی نفسه» (۲: ۳۱۷).

**ژباړه:** پر خپل ځان باندې د نورو د حق ثابتولو په اړه خبر ورکولو ته وايي.

د عرفي اقرار اصطلاحي تعریف، له شرعي معنی څخه نه وځي، اقرار په عرف کې د دلایلو سردار او قاطع حجت دی، نو ځکه د اقرار پر بناء حکم کېږي (۱٦: مرکه).

**قریــنه (نښې او نښانې)**

**قرینه په لغت کې:** د جمع، وصـــل، تضیق (تنګوالی او فشار)، مصاحب (ملګري، میرمن) په معنی ده (۹: ۳۳۱).

**قرینه په اصطلاح کې:** « ان القَـرِینَـة امْـرٌ یَـرشُدُ وَ یَـدُلُ عَـلی الـمَطْلُوب ». قرینه هغه څه ده چې مطلوب ته د رسېدلو لار ښونه کوي.

**قرینه په عرفي اصطلاح کې:** د لیکونکي له نظره له هغه نښې نښانې څخه عبارت دی چې مدعي د دعوی مطلبي برخې ته رسوي، یا مدعی د دعوی ثبوت ته رسوي.

کله چې د عرفي او شرعي قرینې اصطلاح ته ګورو په حقیقت کې د عرفي قرینې او شرعي قرینې د تعریفونو ترمنځ کوم توپیر نشته.

**د وخت له مخې د قرینې ډولونه**

۱. **پخواني قرینې:** لکـه، اثرات، نښې نښاني، داغـونـه، د پښې پل.

۲. **نوي قرینې:** لکـه، انځور، د وینې تحلیل، د ګوتو نښې، ځینې کرښې، د پولیسو راپور.

## د دلالت له مخې د قرينې ډولونه

**قطعي (ثابته) قرينه:** دا هغه قرينه ده، چې د تحقيق تابع نه وي، بلکې پخپل ذات کې قاطعه قرينه ده.

**ظني (مشکوکې) قرينې:** دا قراين د تحقيق تابع دي، چې تحقيق او څېړنې ته اړتيا لري، لکه د خط ليکل د مثال په توګه که ثبوت د مخالف په لاس ليکل شوی کاغذ وي، نو هغه څخه پوښتنه کېږي يا شاهدانو ته راجع کېږي يا اهل خبره او متخصيصينو ته وړاندې کېږي او يا هم ورته قسم ورکول کېږي.

**په شرعي قضاء کې قرينې:** قرينې د فقهاوو ترمنځ اختلافي موضوع ده، ځينی فقهاء د قرينو په حجيت باندې قايل دي لکه ابن القيم الجوزية، ابن تيميه، طرابليسي، ابن فرحون (۲۴: ۴۸۵).

ځينې فقهاء قرينې شرعي دليل او ثبوت نه مني، لکه ابن عابدين، محمد علاء الدين او القرافي (۵: ۴۳۸).

غوره نظر دا دی موږ نشو کولی هرې قرينې ته د ثبوت اعتبار ورکړو، يا هره قرينه په بشپړه توګه رد کړو، بلکې هرې قرينې ته بايد په جلا جلا توګه پام وشي، که قرينه روښانه واضحه او قوي وي، دليل ګڼل کېږي، که نه وي نه ګڼل کېږي.

عرفي پرېکړه کې قرينه معتبره ګڼل کېږي هغه که قطعي وي او که ظني وي، چې صحت يې ثابت شوی وي.

شرعي قضاء هم قراينو ته اعتبار ورکوي، خو چې شرعاً معتبره وي او حرامه نه وي، جادو ګري، فال بيني يا کشف رباني نه وي، چې دا ټول غيب ويل دي او دا رنګه اعمال زموږ په سپيڅلي دين کې شتون نه لري.

**څلورم مطلب: د عرفي پرېکړو طـرزالـعـمـلـونـه (کړنلارې)**

**د متعدي کړنه:** کله چې یوه پېښه رامنځته شي، نو د یرغلګر لخوا مقابل لوري ته څو مخورو کسان لېږل کېږي او د یوې ټاکلې مودې لپاره متعدي علیه څخه د مُهلت غوښتنه کوي، بیا تر هغې وروسته نور اجراات تر سره کېږي یا د پخلاینې سره پای ته رسېږي یا د تاوان په ورکړې سره.

عرفي قاضیان (مرکچیان) وروسته له ټاکنې څخه د شخړې له دواړو خواوو څخه باور او اعتماد ترلاسه کوي، واک ترې اخلی او د دې لپاره، چې خپل عهد څخه تیښته ونه کړي (مجلغه یا مچلګه) هم ترې اخستل کېږي (۱۶: مرکه).

**د وجهاوو (مخه ورو کسانو لېږد) مشروعیت:** وجهاء (مخه ور) کسان په واقعیت کې د خلکو د حقوقو ساتنې او حمایت لپاره او همدارنګه د خلکو ترمنځ د سولې لپاره وي، نو دا کار په شریعت کې جایز دی.

(عن سهل بن سعد ان اهل قباء اقتتلوا حتی تراموا بالحجارة فاخبر رسول الله ﷺ بذالک فقال: « اذهبوا بنا نصلح بینهم » (۱۲: حدیث شمېره، ۲۶۹۳).

**ژباړه:** د سهل بن سعد رضی الله عنه څخه روایت دی، چې د قباء خلکو په خپل منځ کې سره جګړه وکړه ان تر دې، چې یوبل یې په ډبرو وویشتل، نو رسول الله ﷺ ته د دې واقعې خبر راغی، رسول الله ﷺ وفرمایل: « زموږ سره ولاړ شئ، تر څو د دوی ترمنځ سوله وکړو ».

بناء پر دلایلو، دا خبره روښانه شوه، چې عرف او شریعت یو له بل سره د وُجهاوو په لېږد کې موافق دي.

مُهلت اخیستل له مباح امورو څخه دي او د سولې د راتګ له مرستندویو امورو څخه بلل کېږي، نو ځکه جایز دی.

**د متعدي علیه کړنې:** متعدي علیه درې ورځې انتظار باسي وروسته له انتظاره په ځینې کارونو لاس پکار کېږي لکه، مخالف ته د پېښې خبر ورکوي، کېدای شي مخالف له دې پېښې خبر نه وي یا مخالف ته د ناستې او پرېکړې دعوت ورکوي، که قضاوت ته حاضر شو، نو ډېره ښه ده او که نه بیا به خپل حق په خپل لاس په زوره واخلي که یې توان درلود (۲۲: د مرکه).

لنډه دا، چې په دې کړنلاره کې دوه شیان نغښتي دي لومړی د ناستې غوښتنه او دویم معامله بالـمثل.

**لومړی د ناستې غوښتنه:** تېری کوونکي ته خبر ورکول او د ناستې غوښتنه کوي، چې دا خبر د پرېکړې مبدا او اساس دی او د مخالف لوري سره د مخامخ کېدلو بنسټ او د رسول الله ﷺ د لاندې لیکل شوې ویناوو یو ډَول تطبیق دی، د حضرت علي (ض) څخه روایت دی فرمایي، چې رسول الله ﷺ وفرمایل کله، چې دوه کسان د قضاوت غوښتنه کوي، نو د لومړی کس په خبرو قضاوت مه کوئ، څو د بل کس خبرې مو نه وي آورېدلې (۱۵: حدیث شمېره، ۱۳۳۱).

له پورته مبارک حدیث څخه دا معلومېږي، چې له یوې خوا د خبرو په آورېدلو سره قضاوت جایز نه دی، څو بلې خوا ته د دفاع حق ورنه کړل شي، چې د خپل ځان څخه دفاع وکړي.

**دویم بالمثل عمل او مشروعیت یې:** مالکیان او حنبلیان وایي د حق څښتن په هر حالت کې خپل حق د قضاء له لارې تر لاسه کړي، که په مال باندي مُقر او معترف وي او که نه وي (٦: ۱۲جلد، ۲۲۹).

امام شافعي او د احنافو متاخرین علماؤ وایي، د حق څښتن کولای شي خپل حق په خپله ترلاسه کړي په هره لاره، چې وي که د ده د مال له جنس څخه وي او که نه وي (۵: ۷جلد، ۴۹۸).

**تطبيق:** د دواړو خواوو دلايلو ته په کتو سره د دوی ترمنځ داسې تطبيق کوو، که چېري مال اخيستل په خپل لاس د فِتنې لامل نه گرځي، نو مباح دی او که چېري د فتنې لامل گرځي، نو بايد با صلاحيته واکمن ته، چې قضاء ده مراجعه وکړي (٦: ١٢جلد، ٢٢٩).

اما د قتل او قصاص په مسايلو کې هيڅکله چاته اجازه نشته، چې خپله لاسپکار شي، ځکه چې دا د امام له ځانگړي صلاحيتونو څخه دي.

**درېيم مبحث: په ټولنه کې د مهمو مسائلو په اړه عرفي احکام**

انسانان د غرايزو لرونکي دي، انسان طبعتاً نظر دېته، چې حقدار دی او که نه د همدې غرايزو د مشبوع کولو غوښتونکی دی، چې په پايله کې مهم مسايل لکه، غلا، زنا، قتل او. . . رامنځته کېږي، د دې لپاره، چې ټولنه کې د بربريت مخه ونيول شي، هر انسان ته حقوق او حدود ټاکل شوي او د تخلف لپاره يې هم احکام ټاکلي، چې په لاندې ډول ځينې تخلفات او په اړه يې د ځينو احکامو يادونه کوو:

**لومړی مطلب: د قتل او ديت احکام**

قتل په عرف کې د ماهيت او وضاحت له مخې په لاندې څو ډولونو وېشل شوی دی:

**قتل عمد (قصداً) :** دا د يو کس قصداً او عمداً وژنه ده، دا ډول قضيې ډېری وختونه د شخړو، وهلو او ټکولو په جريان کې پېښېږي (١۴: مرکه).

**د چل او خيانت قتل:** د ملگرتيا او دوستۍ په بهانې سره بيول او بيا يې وژل يا. . . . په ځينو قومونو او ملتونو کې د چل او خيانت د قتل ديت له يو قتل څخه ډېر حسابېږي (٢٢: مرکه).

جمهور فقهاء (حنفیان، شافعیان او حنبلیان) وايي، (فریبانه قتل) له نورو قتلونو سره کوم توپیر نه لري، مساله د مقتول ولي پوري اړه لري، چې قاتل قصاصوي یا عفوه ورته کوي یا د پیسو په بدل کې قاتل سره سوله کوي (۴: ۲جلد، ۳۹۸).

امام مالک وايي، څوک چې په خیانت سره وژل شوی وي، د دې امر سلطان ته راجع کېږي او سلطان پرې د محارب په توګه فیصله کوي، یا یې غاړه پرې کوي یا یې په دار ځړه وي او په دې کې ولي الدم کار نه لري.

د خیانت قتل په اړه عمر بن الخطاب د یوه سړي په سر یې پنځه یا اوه کسان وژلي دي، هغوی یو تن یې په فریب او خیانت سره وژلي وو، او عمر ورته وویل که د صنعا ټولو خلکو د ده پر ضد سازش کړی وای نو ټول به مې وژلي وای (۱۲: حدیث شېره، ۶۸۹۵).

**عرف کې له ځانه د دفاع په حالت کې قتل:** یو کس د خپل ځان، ناموس یا پیسو په دفاع کې بل کس وژني دا قتل د پښتنو په عرف کې د قتل عمد په شان دی، کله چې حقیقت یې ثابت شي، د جرګې لوزوم دید سره دیت یې څه اندازه کمېږي، خو ځینو قومونو کې پر دفاع کوونکي قاتل باندي هیڅ نشته.

**شریعت کې له ځانه د دفاع په حالت کې قتل:** که یو کس بل کس قتل کړي او دعوه وکړي، چې دا سړی مې خپلې ښځې سره ولید، دغه دعوه پرته د شاهدانو له شهادته نه منل کېږي او قصاص پرې لازمېږي، که داسې نه وي، نو د قتل دروازه د خلکو پرمخ خلاصېږي. دلیل یې د صحابه کرامو اجماع ده، امام شافعي رحمه الله فرمايي، زه په یاد نه لرم چې علماوو په دې اړه اختلاف کړی وي (۶: ۹جلد، ۳۳۹).

عرف په دې اړه له قاتل سره د قتل عمد په توګه چلند کوي او شرعي پرېکړه هم همداسې ده.

**خطا وژنه (قتل خطاء)** : دا غیرې ارادي یا سهواً وژنه ده کومه نتیجه، چې پر قتل عمد باندې مرتب کېږي، پر دې باندې هم مرتب کېږي، خصوصاً چې د ډزو پر مهال شوې وي، نو دا غیرې قصدي یا تېروتنه نه ګڼل کېږي.

**سببي وژنه (چې د وژلو سبب ګرځېدلې وي)** : یو کس د قاتل لپاره مقتول ونیسي او یا د وژلو امر وکړي، عرفي پرېکړه کې نیوونکي او امر کوونکي ته د قتل عمد پر بناء سزا ورکول کېږي، که قاتل د مقتول پور لنډ کړي مرسته کوونکی یا نیوونکی خلاص دی، خو چې د قتل له ارادې خبر نه وي او که خبر وي، د مدعي لخوا قصاص کېږي، خو مدعي له دواړو څخه (دوه خُونه) نه شي اخستلای.

**د جمهورو فقهاء:** (حنفي، شافعي او حنبلي) که چېرې یو کس بل کس د وژلو لپاره نیولی وي، یا د وژلو امر کړی وي قاتل باید محاکمه شي نه هغه څوک، چې هغه یې نیولی یا امر کړی.

امام مالک وایي که چېرې نیوونکی د قاتل په اراده پوهېده، باید د قاتل سره ووژل شي، ځکه نیوونکی د قتل سبب وګرځېد او همدا رنګه امر کونکئ باید د قاتل سره ووژل شي (۱۱: حدیث شمېره، ۵۱۳).

**غوره نظر:** غوره نظر دا دی، چې د نیوونکي اراده په پام کې ونیول شي، که نیوونکی پوه وي، چې د ده په نیولو سره وژل کېږي، نو له هغه سره د قاتل په څېر چلند کېږي او که نه پوهېده بیا د جمهورو فقهاو په رایه عمل وشي او د هغه پر وړاندې دې تعزیراتي مجازات تطبیق شي، ځکه چې هغه د جرم لامل نه دی.

د پورتنیو یادونو پر بنسټ په قتل باالتسبیب کې عرف د امام مالک له نظر سره موافق دی د جمهورو له رایې سره توپیر لري.

**قتل انکار:** دا هغه قتل دی، چې یو څوک د یو کس په وژلو تورن شي بیا هغه له دې وژنې څخه انکار وکړي او وروسته پرې ثابته شوه، د دې قتل تاوان له یو قتل څخه ډېر دی.

**هغه مقتول چې مثله شوی وي:** یعنی چې مړی یې بدرنګه شوی وي، نو هغه په دوه قتلو باندي شمېرل کېږي او دوه خونه تاوان لري (۱۸: ۱۱۹).

**د ښځې وژل:** د ښځې د وژلو دوه حالتونه دي، د هغې ښځې په وژلو سره، چې جنګیږي او د جنګ په میدان کې ووژله شي د یو سړي (نارینه) د قتل په توګه ور سره چلند کېږي، خو که چېري په کور کې وژل کېږي، نو یو خون څخه زیاد پرې حسابېږي، ځکه چې ښځینه افغاني ټولنه کې د لوړ مقام څښتنه ده، نو دیت یې هم د خپل فزیکي وجود په نظر کې نیولو سره لوړ دی (۲۲: مرکه).

**ډزې کول پرته له قتل نه:** عرفي پرېکړه کې که چېري په چا باندې بې موجبه عمداً د ټوپک ډزې وشي، د ډزو په نتیجه کې که سړی مړ شوی هم نوي، خو دا چې د هغه د وژلو اراده یې درلوده، نو په ډز کوونکي د خون (قتل) پور تړل کېږي (۱۸: ۱۱۷).

### په عرف کې د قتل د ډولونو پرتله له اسلامي شریعت سره

مخکې یادونه وشوه، چې قتل په عرف کې د ماهیت او صفت له مخې په څو برخو وېشل شوی دی په داسې حال کې، چې په شریعت کې د قتل ډولونه درې دي.

۱. قتل عمد یا قصدي

۲. قتل خطاء

۳. قتل شبه عمد

دا باید په ګوته شي، چې د قتل په ډولونو کې د عرف او شریعت تر منځ یوازې اصطلاحاتو کې توپیر لیدل کېږي او بس د اصطلاحاتو توپیر د قتل په ذات کې اثر نه کوي.

### د قتل غچ اخیستل

غچ اخیستل اسلام کې مشروعیت نه لري، چې جاني څخه پرته بل کس قتل کړي، خو که چېري د مقتول له خوا قاتل وژل کېږي، نو دغه سړی نه پرې قصاص کېږي،

ځکه چې قصاص د هغه مقتول په بدل کې ترسره کېږي، چې معصوم الدم وي او دغه کس معصوم الدم نه دی، بلکې قاتل دی، خو د تېري په اړه يې امام تصميم نيسي (۲۸: ۷ جلد، ۳۳۵).

## عرفي پرېکړه کې د قتل د ديت احکام

د قتل بدو پور هغه ټاکلی اندازه پور دی، چې د مقتول د خون په نامه د نرخيانو له خوا د قاتل په ذمه هغه وخت ټاکل کېږي، چې د مقتول ورثه غچ نه اخلي او قاتل وبخښي.

## په قتل عمد کې د نجونو ورکړه

د قتل عمد قضيه که د روغي جوړې له لارې حل شي، نو د نرخ او څلی له مخې د قتل ديت درې خلاصې نجونې دي، چې عبارت دي له: « سپين پايځی »، « گوته لکه » او« ورنی » خو د حالاتو بدلون سره نجونې اوس په نغدو پيسو بدلېږي.

په عرف کې د ديت ډولونه، د قضيو پايلو ته په کتو سره بېلابېل ډولونه لري، لکه د عادي قتل ديت (عادي ديت) دی، خو که قتل له عادي حالت څخه ووځي لکه، چې مخکې بيان شو بيا يې ديت ډېرېږي.

اسلامي شريعت کې په قتل کې د نجونو ورکړه هيڅ اساس نه لري، نو ځکه دا يو بدعي عمل دی او د قتل ديت همدا يو ډول ديت دی، يعني د قتل د حالاتو پر بناء د ديت کچه بدلون نه مومي، عرف کې د ديت ډېری موضوعات له اسلامي شريعت سره مخالف دي.

په جنگ مغلوبه کې چې د مقتول قاتل معلوم نه وي، يا په سيمه کې داسې جسد (مړی) پيدا شي، چې قاتل يې معلوم نه وي، په عرف کې قصاص نه لري، يا به قَسم کوي يا به تاوان ورکوي.

اسلامي علماوو پر دې خبره اتفاق لري، چې په داسې صورتونو کې پرته له اثباته قصاص نشته دیت به ورکوي، دا، چې دیت پر چا لازمېږي اوڅوک یې باید ورکړي په دې اړه د علماوو اختلاف دی (۲۳: ۱۲جلد، ۱۸۳).

امام مالک رحمه الله فرمایي، (دیت هغه کس باید ورکړي، چې شخړه یې کړې ده) امام احمد فرمایي، (دیت پر (عاقله) باندي لازم دی) ابو یوسف وایی (دیت د هغو دواړو ډلو پر (عاقله) باندې دی چې جنګېدلي دي).

امام شافعي وایي، (که چېری پر معلوم کس یا معلوم قوم باند دعوا ونه کړه، نو بیا نه (عاقله) شته او نه قصاص) امام ابوحنیفه رحمه الله وایي، چې (دیت د هغې قبیلې پر عاقله باندې دی چې مړی په کې موندل شوی، مگر داچې په بل چا یې ادعا نه وي کړي)، خو غوره نظر د امام ابوحنیفه قول دی (۲۳: ۱۲جلد، ۱۸۳).

د پورتنیو ویناوو پر بنسټ دا څرګنده شوه، چې د دیت په ټاکلو کې عرفي پرېکړې له شرعي قضاء سره په داسې صورتونو کې، چې بیان شول موافق ده.

**دویم مطلب: له وژلو څخه ټیټ جرم (د وهلو او ټپي کولو) قضیې**

**عرف کې د وهلو او ټکولو پر بناء احکام:** عرفي پرېکړې د زخم موقعیت ته په کتلو سره او له جوړېدو وررسته، د زخم د اغېزو پاتې کېدلو او همدا رنګه د سپکاوي پر بناء اټکل کوي، هغه زخمونه، چې ظاهري اثر یې لږ وي، نو د وروستیو اثراتو معلومات لپاره له ډاکټر سره مشوره کېږي.

**لومړی:** پر مخ باندې وهل سپکاوی بلل کېږي، هغه وهل او زخم، چې بدن باندې یې نښې پاتې شي درونډ حکم لري، په بدن کې د تور او سپین زخم لپاره د نرخیانو له خوا بېلابېل پور ټاکل کېږي، لکه (پوره خون)، (نیم خون)، (دخون لسمه)، (دخون شلمه)، (د خون دوه دېرشمه) حصه، او د ټولو اندامونو لپاره د خون مقرره نرخ موجود دی، که په مغلوبه جګړه کې د یوې خوا ټپیان او له بلې خوا قتل منځ ته

راغلی وي، د قتل په مقابل کې تپیان پور نه لري، (کوچنی جرم د لوی جرم په بدل کې بَلع کېږي) (۱۸: ۱۱۷).

**دویم:** هغه وهل، چې په پایله کې عادي او نورمال کسر (ماتېدل) رامینځته کېږي، چې یو څه موده وروسته خپل طبیعي حالت ته بېرته راګرځي.

**درېیم:** هغه وهل، چې د معلولیت یا معیوبیت لامل ګرځي.

۱. **سترګې:** یوه سترګه که ړنده شي نیم خون او د دواړو سترګو پوره یو خون دی.

۲. **غوږونه:** یو غوږ که قطع شي نیم خون، د دواړو غوږونو پوره یو خون دی.

۳. **ژبه:** پوره یو خون دی.

۴. **شونډې:** یوه یا دواړه پرې شي، پوره یو خون دی.

۵. **پښې:** یوه پښه، چې له بنده پرې شي نیم خون او دواړه پوره یو خون دی.

٦. **لاسونه:** یو لاس نیم خون، دواړه لاسونه پوره یو خون دی.

۷. **پزه:** نیم خون دی.

۸. **غاښونه:** د مخې غاښونه، لسمه برخه د خون او نور وروسته غاښونه شلمه او دېرشمه برخه د خون ده.

۹. **ګوتې:** هغه ګوتې، چې دوه بنده لري یعنې غټې ګوتې، د هر بند مقابل کې شلمه برخه او هغه ګوتې، چې له دوه بندو زیات لري دېرشمه برخه د خون پور لري (۲۱: ۵۱).

هغه زخم، چې د سر پوستکی سولیدلی وي، هغه زخم چې وینه ترې جاري شوې وي، هغه زخم چې پوټکی یې پرې او غوښه یې ښکاره شوې وي، هغه زخم چې هډوکی یې ښکاره شي، هغه زخم چې هډوکی یې مات شوی وي، یعنې هډوکی یې د خپل اصلي ځای څخه بې ځایه شوی وي د دې نرخ، نرخي یا مرکچي پوري اړه لري.

که چېرته په سر باندې وار لګېدلی وي او د دې ضربې له امله عاقله قوه یې زیانمنه شوې وي، نو پوره خون دی.

که چېرې څوک امیدواره ښځه په لغته یا بل شي باندې ووهي او د هغې له امله یې بچې مړ پیدا شي یعني سقط جنین وشي، نو شلمه برخه د خون پور ټاکل کېږې او د شرم په نامه له ضاربه پور آخیستل کېږي (۱۸: ۱۰۴).

## شرعي قضاء کې د وهلو ټکولو احکام

شرعي قضاء زخمونو ته په کتلو سره بېلابېل چلندونه کوي یا یې قصاص کوي او یا دیت ټاکي یا د تاوان اټکل او تقدیر کوي. فقهاء د مخ او سر د زخمونو او د بدن په نورو برخو کې د زخمونو تر منځ توپیر کوي.

جمهور فقهاء وايي، د سُوک، څپېړې، قمچین چې داغ پرې نږدي، قصاص نه لري، خو تعزیر په کې شته (۲۸: ۷ جلد، ۳۵۷).

که زخم (الشجاج) صریح او ښکاره وي، د مماثلة امکان شتون ولري او د مرګ وېره نه وي، نو د پوره مماثلة پر بناء قصاص کېږي او که چېرې ښکاره نه وي، بیا قصاص پرې نه کېږي؛ ځکه چې پوره مماثلة په کې متعذره ده (۲۸: ۷جلد، ۳۷۰).

## د (الشجاج) د صریح زخم دیت

ځینو احادیثو کې د دیت اندازه ټاکل شوې ده، عن الزهري قال جاءني ابو بکر بن حزم بکتاب في رقعة من ادم عن رسول الله ﷺ : هذا بیان من ِ الله ورسوله (یایها الذین آمنوا اوفوا بالعقود) فتلا منها آیات ثم قال في النفس مائة من الإبل وفي العین خمسون و في الید خمسون و في الرجل خمسون و في المامومة ثلث الدیت و في الجائفة ثلث الدیت و في المنقلة خمس عشرة فریضة و في الاصابع عشر عشر و في الاسنان خمس خمس و في الموضحة خمس (۳۰: حدیث شمېره، ۴۸۵۷).

**ژباړه:** له زهري څخه روایت دی، چې وایي ماته ابوبکر بن حزم د څرمن په یوه ټوټه باندې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) څخه یو کتاب (خط) راوړی وو، چې فرمایي دا د الله او د هغه رسول وینا ده (یایها الذین آمنوا اوفوا بالعقود) نو یو آیت یې تلاوت کړ، بیا یې وویل، چې د نفس په بدل کې سل اوښان دي او د سترګې په بدل کې پنځوس، د لاس په بدل کې پنځوس، د پښې په بدل کې پنځوس د سر په ماتېدلو کې د دیة ثلث (درېیمه)، په جائفه کې د دیة ثلث (درېیمه)، د هډوکو په ماتېدو سره د پنځه لس، د ګوتو لس لس، د ښاغونو پنځه پنځه او په ښکاره زخم پنځه.

له پورتنیو مطالبو څخه لاندې لیکل شوی مضوعات څرګندېږي:

١. عرفي پرېکړې د ټپونو د مسایلو په حلولو کې پر هغې موضوع تکیه کوي، چې هغه اټکل (التقدیر) ده،

په داسې حال کې، چې شرعي پرېکړې دریو امورو ته، چې قصاص، دیت او تقدیر دی اعتبار ورکوي.

٢. عرفي پرېکړه کې اټکل یا تقدیر د مرکچي په خوښه دي، چې څه ټاکي، که په اړه یې نص راغلی وي او که نه وي راغلی.

٣. په شرعي قضاء کې تقدیر او اټکل د زخمونو په اړه د شریعت له لورې تنظمېږي، د قاضي تقدیر او اټکل په منصوص علیه موضوعاتو کې پرېښودل کېږي.

د پورتنیو ټکو پر بناء عرفي پرېکړې د شرعي پرېکړې سره د مجرم د مجازاتو په برخه او د دیاتو په تقدیر او اټکل کې د جمهورو فقهاوو له رایې او نظر سره موافقه ده که څه هم د تعزیر په طبیعت کې اختلاف شته.

**درېیم مطلب: د عزت او ناموس احکام**

ښځه په افغاني ټولنه کې د لوړ مقام څښتنه ده، افغاني ټولنه کې بیا په تېره د پښتنو عرفي پرېکړې د هغه چا لپاره چې د دوی د بې عزتۍ او سپکاوي هڅه وکړي ډېره درنه سزا ورته ټاکي.

**فحشاء د رضاء په دایره کې**

د پښتو په قاموس کې د زاني ژوند ختمول دی، حتی د پښتنو په جرګه کې د زنا د قضیې یادول بې ننګي ده، یعني جزا یې وژل دی، یا له زاني سره نکاح کول دی (١٦: مرکه).

**فحشاء دجبر په دایره کې**

هغې ښځې، چې پر عزت یې تېری کېږي، عرفي پرېکړه کې د دې سزا تر ټولو زیاته ده.

**جبري تښتونه:** په پښتو کې د جبري تښتوني جزا او حکم وینه تویول (وژل) دي.

**د رضاء تښتونه:** که تښتونه د دواړو خواوو په رضایت ترسره کېږي، خو د دې لپاره چې کورنۍ یې مجبوره کړي، ترڅو تښتوونکي ته یې په واده ورکړي او هغه د هغې د ښتولو په ټولو مرحلو کې وفا دار او امین وی، د داسي تښتونې حکم یا د دوی کورنۍ د دوی پر شرعي نکاح باندي راضي کېږي، یا دعوا چولوي، خو د جبري تښتونې پر پرتله د دې جرم کم دی او جزا ورته د تقدیر او اټکل پر بناء ټاکل کېږي.

له پورتنیو یادو موضوعاتو څخه دا روښانه کېږي، چې د ښځو دغه یاد مسایل په دوه ډوله تر سره کېږي، یا به په خپله اراده او رضاء سره وي، یا به غیر ارادي او پرته له رضاء څخه، چې په دې اړه عرفي احکام او فیصلې هم بیان شول اوس راځو دېته، چې اسلامي شریعت په دې اړه کوم احکام وړاندې کړي.

**د ښځې تښتونې احکام:** تښتونه په دوه ډوله وېشل کېږي، ارادي او غیر ارادي.

**ارادي (د رضاء) تښتونه:** دا ډول عمل د تښتونې له دایرې څخه مستثنی دی او هر انسان د خپلو اعمالو حساب ورکوونکی دی، په دې اړه د عرفي پرېکړې حکم، ښځه او سړی (پټکی او ټیکړی) کېږي، یعني دواړه وژل کېږي (۱۸: ۱۱۹).

**د ارادي تښتونې په اړه شرعي پرېکړه:** په دې اړه داسي حکم کوی، که چېرې د دوی تر منځ زنا شوې وي، نو د زنا حکم جاري کېږي، (چې رجم یا جَلد) دی او که زنا نه وي شوې، نو د قاضي له خوا تعزیري جزا ټاکل کېږي، خو دا په هغه صورت کې چې قضیه قاضي ته وړاندې شي او که وړاندې نه شي، نو شریعت د (ستر) یعني د قضیې پټولو مانع نه دی.

**د جبري تښتونې عرفي حکم**

که ښځه مېړوښه وي او قوم د دښمنی لمنه ټوله کړي، نو د مېړوښې ښځې په وَنج (بدل) کې به مېړوښه ښځه ورکوي، یعني تښتوونکی له یوې خلاصې نجلۍ سره به نکاح تړي بیا به یې طلاقوي او له دې سره به یوه پېغله نجلۍ د جرم او خیانت په خاطر هم ورکوي (۱۸: ۱۲۰).

**د جبري تښتونې شرعي حکم**

**د** اسلامي شریعت له نظره، جبري تښتونه د لوټماری یا قطاع الطریقي یوه بڼه ده او سخته جزا پرې مرتب کېږي. الله جل جلاله فرمايي: إِنَّمَا جَزَاءُ ٱلَّذِينَ يُحَارِبُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَسْعَوْنَ فِي ٱلْأَرْضِ فَسَادًا أَن يُقَتَّلُوٓاْ أَوْ يُصَلَّبُوٓاْ أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم مِّنْ خِلَٰفٍ أَوْ يُنفَوْاْ مِنَ ٱلْأَرْضِ ذَٰلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ فِي ٱلدُّنْيَا وَلَهُمْ فِي ٱلْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ (۱: المائیده، ۳۳).

**ژباړه:** بېشکه د هغو کسانو سزا چې د الله او د هغه د رسول پر ضد جګړه کوي او په ځمکه کې د فساد خپرولو هڅه کوي، دا ده، چې ووژل شي، یا په دار وځړول شي،

یا د هغوی لاسونه او پښې د یوې خوا څخه پرې کړل شي، یا له خپل ټاټوبي وشړل شي. دا رسوایي ده د دوی لپاره په دنیا کې او په آخرت کې د دوی لپاره ستر عذاب دی.

تښتونکی د (الحرابه) تر موضوع لاندې راځي ابن کثیر وایي، تښتونه د شرارت له ډولونو څخه ده (۷: ۳جلد، ۵۷).

امام القرطبي وایي، څوک چې لارې ته ووځي او د وسلې په ښودلو سره خلک وېروي او زوروي، نو دا ډېر بد او افحش دي تر هغه عمله، چې د خلکو نه مالونه واخلي (۲۷: ٦جلد، ۱۵۷).

دا عمل د خدای تعالی د دې ارشاد (وَيَسعَونَ فِي ٱلارضِ فَسَادًا) په معنی کې داخلیږي.

**ژباړه:** او دوی په ټوله ځمکه کې د فساد د خپرېدو هڅه کوي.

## د پورتنیو ټکو پر بنسټ لاندې مسایل روښانه کېږي

**الف:** عرفي پرېکړه د تښتونې یا د جنسي تېري په اړه سخت اقدامات کوي، چې حکم یې وینه تویول (قتل) دی.

**ب:** شرعي پرېکړه هم د تښتوني په اړه د (الحرابه) حد عملي کوي، چې په اسلام کې دا تر ټو لو سخته سزا ده.

**ج:** د شرعي قضاء او عرفي پرېکړې د (عِرض او ناموس په خاطر) د قتل احکامو په صورت کې سره متفق دي.

## شرعي قضاء کې د جبري زنا حکم

فقهاء په دې متفق دي کومه ښځه، چې زنا ته مجبوره شي، هیڅ گناه پرې نشته، چې گناهکاره نه وي، نو حد هم پرې نشته (۱۰: ۵ جلد، ۲۱).

حدیث کې راځي: (عن ابن عباس عن النبي ﷺ قال إن الله وضع عن امتي الخطا والنسیان وما استکرهوا علیه) (۸: حدیث شمېره، ۲۰۴۵).

**ژباړه:** د ابن عباس څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل، الله جل جلاله زما د امت څخه خطاء، نسیان او اکراه معاف کړي، له دې حدیث څخه معلومېږي چې د جبر احکام له امت څخه ایستل کیږي.

**د زناکار په اړه حکم:** د زنا کار حکم په دې اړه، د زنا کار له حالت سره سم په دوه ډوله وېشل شوې دي که زنا کار غیرمحصن (ناواده) وي، نو سزا یې جلد (دُري) دي، البته د الله متعال د حکم پر بناء، چې فرمايي: ٱلزَّانِيَةُ وَٱلزَّانِي فَٱجْلِدُوا كُلَّ وَٰحِدٍ مِّنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ وَلَا تَأْخُذْكُم بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْـَٔاخِرِ وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَآئِفَةٌ مِّنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ (۱: النور، آیت، ۲).

**ژباړه:** زناکاره ښځه او زناکار سړی د دوی هر یو ته سل دورې ورکړئ او د دوی په اړه دې پر تاسو رحم (ناسم نرمښت) غالب نه شي د الله په دین کې، که تاسو په الله او د اخرت په ورځ ایمان لرئ او د دوی د عذاب پر مهال دې د مؤمنانو یوه ډله حاضره وي.

**له پورتنیو موضوعاتو څخه دا روښانه کیږي چې:**

**الف:** عرفي پریکړه د مجنی علیه لپاره دوه حکمه وړاندې کوي، چې د جاني قتل غواړي او که ورسره واده کوي، خو په شرعي قضاء کې ښځه د جبري زنا په صورت کې مجرمه نه ګڼي، چې د جرم سزا ورکړل شي.

**ب:** عرف له جاني سره په قتل محاسبه کوي البته د نجلۍ د کورنۍ له خوا په داسې حال کې، چې شرعي قضاء مجرم ته د هغه حالت ته په پام سره یا په دُرو سره سزا ورکوي یا په سنګسار سزا ورکوي، سربېره پر دې مهر هم ترې غوښتل کیږي، سره له دې، چې په دې اړه د علماو اختلاف دی.

**عرفي پرېکړه کې قذف (تهمت په زنا)**

که يو سړی د يوې نجلۍ د بدنامولو په خاطر د زنا تهمت پرې وکړي، هغه بايد د دې تور لپاره دليل او ثبوت وړاندې کړي، که يې خبره ثابته نه شي، حکم يې د ژبې پرې کېدل يا د غاښونو ماتول يا د پيسو په بدل کې خپله ژبه او غاښونه خپل کړي (يعنې د پيسو په مقابل کې ژبه او غاښونه اخلي).

**شرعی قضاء کې د قذف حکم**

د قذف د حکم په اړه وړاندې وويل شو، چې دغه تهمت دې ثابت کړي يا دې د جرگې فيصله ومني، شريعت کې د قذف حکم ښکاره (ثَمَٰنِينَ جَلۡدَةٗ)، (۸۰، دُري) دی (۱: النور، آيت، ۴).

اسلام دين قذف لويه گناه بللې او د قذف د حکم په اړه الله تعالی داسې فرمايي: (فَٱجۡلِدُوهُمۡ ثَمَٰنِينَ جَلۡدَةٗ).

**آيا په قذف کې پخلاينه روا ده؟**

حنفي مذهب وايي، کله چې قذف ثابت شو بيا د هغه ښښل، معاف کول او يا پخلا کول روا نه دي (۲۸: ٦ جلد، ۷۲).

مالکي مذهب په دې اړه بيا داسې وايي کله چې امام خبر کړي، نو بيا بخښنه روا نه ده او که عارض شوی نه وي بخښنه روا ده (۴: ۲ جلد، ۴۴۲).

د شافعي او حنبلي مذهب نظر داسې دی، چې د قذف سزا د بنده له حقونو څخه ده، که د سلطان له خبرېدلو څخه مخکې وي يا وروسته. دلته د شافعيانو او حنبليانو نظر غوره دی، په دې اړه احاديث هم راغلي دي، چې عرض (عزت او ابرو) د بنده حق دی او د هغه په اړه پخلاينه د پيسو يا بل څه په بدل کې روا ده او همدارنگه امام نووي او ابوجعفر الطحاوي رحمهم الله په همدې نظر دي.

عرف کې چې کومه پرېکړه د قذف د صلح او پخلاینې په اړه کوي جواز لري.، والله اعلم.

**په عرف کې د غلا احکام**

عرفي پرېکړه کې، کله چې یو سړی له چانه غلا وکړي او غلا پرې ثاته شي، نو (نهه گون) به ورکوي، یعنې د غلا شوي شي قیمت، چې څومره وي د هغه نهه چنده تاوان به پرې کوي او د مال څيښتن ته به یې ورکوي (۱۴: ۱۲۲).

**شریعت کې د غلا احکام**

که چېرې دغلا قضیه محکمې ته رسېدلې وي او د غلا قضیه پرې ثابته شوې وي، نو سفارش او مصالحه نشي کېدلی، بلکې حکم یې د لاس پرې کول دی، لکه چې فرمايي: ﴿وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا جَزَاءً بِمَا كَسَبَا نَكَالًا مِّنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ﴾ (۱: المائیده، آیت ۳۸).

**ژباړه:** د غل سړي او د غلې ښځې لاسونه پرې کړئ، د هغه څه په بدل کې، چې دوی یې تر سره کړي دي، دا د الله له لورې عبرتناک جزا ده او الله غالب او حکیم دی.

او که چېرې د غلا د حد نصاب یې نه وو پوره کړی، نو د محکمې له لورې تعزیري سزا ورکول کیږي.

**پایله**

د عرفي احکامو په اړه مطالعې، بیاکتنې او د څېړنې په جریان کې ماته ثابته شوه، چې عرفي پرېکړه کې عرفي جزاگانې تادیبي دي، عرفي جزاگانې د تعزیري جزاگانو سره ورته والی لري.

تعزیر د هغه ګناهونو په بدل کې تادیب ته وایي، چې نه حد پرې ثابت شوی وي او نه کفاره یا عبارت له هغه سزا څخه دی، چې د کمیت او کیفیت اندازه یې قاضي ته پرېښودل شوې وي، د تعزیر مشروعیت په کتاب الله، سنت رسول الله او اجماع سره ثابت دی، تعزیر او تادیب د جرم او مجرم ضروري علاج دیو چې هدف یې له مجرم څخه انتقام او غچ اخستنه نه ده، بلکې د ټولنې حمایت دی، چې ټولنه د ظالمانو له ظلم څخه وژغورل شي او د نافرمانو خلکو اصلاح وکړي، نو تعزیري سزاګانې د انسانانو لپاره رحمت دی هغه که مطیع وي او که عاصي او دا د الله متعال د عدالت له غوښتنو څخه دي.

عرفي پرېکړې د اسلامي شریعت قضاء سره ډېر مطابقت لري، زما په آند دغه شرعي قوانین او احکام د (۱۴۴۵) کلونو په دوران کې ټولو خلکو ته انتقال شوي او رسېدلی دي، د دې اوږدې مودې په تېرېدلو سره دلایل ترې ورک شوي او احکام یې د میراث په شکل خلکو سره پاتې شوي دي او د میراث په توګه پرې حاکم دي، خو په دې موضوع نه پوهېږي، چې د دې حکم دلیل څه دی او له کوم ځایه اخیستل شوی دی؟

د اوږدې مودې په تېرېدلو سره ځینې احکام تغیر شوي دي او ځینې یې له خپل ځای څخه ایستل شوي دي، چې د شرعي قانون سره په ټکر کې دي او دا هغه څه دي، چې باید د شرعي قانون لخوا په دلایلو ثابت او بیا ځلي په خپل ځای کې مستقر شي.

د څارنې او تحقیق له امله دې پایلې ته ورسېدم، چې عرفي پرېکړې ډېرى وخت له شرعي قضاء سره موافقت لري، چې له هغې څخه ځینو ته په لاندې ډول اشاره کوو:

۱. په عرفي پرېکړه کې د ثبوت دلایل، شاهدي، اعتراف (اقرار)، لوړه (قسم) او نښې نښانې (قراین)، چې له شرعي اثباتي دلایلو سره مطابقت لري.

۲. قضايي کړنلاره لکه تاوان، باج ورکول، مخورخلک (وجهاء)، ضمانت (کفالت) دا ټول د اسلامي شريعت مطابق دي.

۳. د اصلاحي اشخاصو له خوا مصالحه د شريعت له مخې روا ده.

۴. په عرفي پرېکړې او همدارنگه شرعي قضاء کې قاضي د اختياري جزاء ټاکنه کې اختيار لري، مگر دا واک مطلق نه دی او نه هم خپلسري ده، بلکې د مصلحت او اصلاح د راوستلو لپاره د ځينو اصولو مراعاتولو تابع دي.

او هغه عرفي او دوديزه پرېکړه چې له شريعت سره په ټکر کې دي د دې پايله دا ده چې:

۱. د عرفي پرېکړې په ټولو قضيو کې له اقرار څخه نه را گرځېدل دي، خو شرعي قضاء کې له اقرار څخه رجوع کېدلی شي، چې حق الله وي او الله پوري اړوند موضوع وي.

۲. په عرفي پرېکړه کې بدگمانۍ ته د ثبوت په سترگه کتل دا د اسلامي شريعت خلاف کار دی.

۳. د انتقامي وژنې احکام ټول د شريعت خلاف دي.

۴. په بدو کې د لوڼو ورکول د شريعت خلاف دی.

۵. د قتل او ديت په قضيو کې د اسلامي شريعت سره توپيرونه شتون لري.

په پای کې وايو، چې د عرفي احکامو په هره برخه کې د هر حکم په اړه بايد ځانگړی بحث او لا پلټنه وشي، ترڅو خلک د هغو احکامو له پلي کولو څخه ځان وساتي، چې د شريعت اسلامي له احکامو سره مخالف او په ټکر کې دي او خدای مکړه په گمراهۍ او کفر کې واقع نه شي.

**مناقشه**

زموږ د هېواد قوانین د عرفي پرېکړو په برخه کې روښانه دریځ نه لري دا، چې خلک له ښارنو څخه لرې اوسیږي او تر څو لسیزو مخکې نقلیه وسایطو ته یې هم لاسرسی نه درلود، د دوی شخړې او حقوقي مسایل د دولت قضایي محاکمو تر دروازې رسول ډېر ستونزمن کار و، ځکه د دوی د مسایلو حل په عرفي پرېکړو ترسره کېده، که څه هم زموږ هېوادوال کلک مسلمانان دي او هیڅکله نه غواړي، چې د اسلامی اصولو مخالفت وکړي، خو ځیني عرفي پرېکړې د اسلامي اصولو او قواعدو سره مغایرې او مخالفې دي او علت یې بېسوادي ده، دا پرتلیزه څېړنه کولای شي خلکو ته د دې پوهاوی ورکړي، چې د عرفي پرېکړو کوم حکم د اسلامي شریعت له کوم حکم سره موافق دی او په کومه برخه کې مخالفت لري، په دې اړه پخوا کومه څېړنه نده ترسره شوې، چې خلکو ته سمه پرېکړه له ناسمې څرګنده شي.

د دې څېړنې په نتیجه کې دا ښکاره شوې، چې عرفي پرېکړې ډېری وخت له شرعي قضاء سره تطابق لري، خو د قتل او ناموس قضیو کې عرفي پرېکړې ډېری وخت له شرعي قضاء سره اړخ نه لګوي، چې هره موضوع یې په دې مقاله کې څرګنده او ښکاره شوې ده دا، چې دغه څېړنه د یو ولایت په اړه ترسره شوې ده، د څېړونکو څخه مې غوښتنه داده، چې د عرفي پرېکړو اړوند د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې ساحوي څېړنې ترسره کړي.

**پایله اخیستنه**

په پایله کې څرګنده شوه، چې عرفي پرېکړه د مدعیانو ترمنځ غیر رسمي فیصله او پخلاینه ده او له پېړیو پېړیو څخه تر دې دمه د خلکو ترمنځ رواج لري، د عرفي پرېکړو احکام تر هغه مشروعیت لري، چې د شرعی قضاء سره په ټکر کې نه وي.

په دې څېړنه کې ښکاره شوه، چې عرفي پرېکړې د شرعي قضاء له اکثرو مسایلو سره توافق او تطابق لري، داچې خلک عرفي پرېکړو ته لیوال دي، لامل یې د پرېکړو چټکتیا او سرعت دی، چې هره مساله په چټکتیا سره څېړي او په اړه یې پرېکړه صادروي.

## وړاندیزونه

د دې څېړنې له بشپړولو وروسته د ځینو فکرونو مشروعیت او د ځینو فکرونو نه مشروعیت جوتې او ښکاره شوې، داچې عرفي پرېکړې د رسمي قضاء تر څنګ زموږ د جامعې د تګلارې یو حقیقت جوړ دی، چې خپلې مزایاوې او نواقص هم لري د دې لپاره چې د عرفي پرېکړې نواقص له منځه ولاړ شي، غواړم یو څو سپارښتنې وړاندې کړم:

۱. د عرفي پرېکړې قاضیانو (جرګه ماران) ته دې کورسونه جوړ شي او هغوی ته د عرفي پرېکړې او شرعی قضاء د موافقت او مخالف ټکي وښودل شي.

۲. د عرفی احکامو په هره برخه کې د هر حکم په اړه باید ځانګړی بحث او لا پلټنه وشي، ترڅو خلک د هغو احکامو له پلي کولو څخه ځان وساتي، چې شرعي احکامو سره مخالف او په ټکر کې دي.

۳. مصلحین، منځګړي او جرګه ماران دې له شرعي علماو او د اسلامي قوانینو له متخصصینو او پوهانو سره همېشه مشوري ترسره کړي، تر څو په پریکړو کې له خطا څخه په څنګ پاتې شي.

۴. د عرفي پرېکړې ټولو کړنو او پریکړو ته د حرمت په نظر ونه کتل شي او د حرمت فتوی او همدارنګه د کفر فتوی دې نه ورکوی، ځکه چې ډېری عرفي پرېکړې د دین او شریعت پرېکړو سره موافقت لري.

## ماخذونه

قرآنکریم

١. ابن الهمام: كمال الدين محمد د عبد الواحد السيواسي ثـم الإسكندري، معروف په ابن همام الحنفـي (تولد ٦٨١هـ) شرح فـتح القـدير علـى الهدايـة شـرح بدايـة المبتـدئ.

٢. ابن تيمية: ابو العباس احمد د عبد الحليم د تيمية الحرانـي څوی، منهاج السنة النبوية تحقيـق محمـد رشـاد سـالم، لومړی چاپ: په (١٤٠٦ هـ) كال د چاپ ځای: مؤسـسة قرطبة.

٣. ابن رشد: ابـو الوليد محمد د احمد بن محمد د احمد د رشد القرطبي څوی تولد (٥٩٥ هـ) كال بداية المجتهد ونهاية المقتصد، لسم چاپ: په (١٤٠٨ هـ) نېټه: دار الكتب العلمية بيروت.

٤. ابن عابدين: محمد امين، حاشية رد المحتار على الدر المختار شرح تنـوير الابصار، دويـم چاپ: په (١٣٨٦هـ - ١٩٦٦م) نېټه د چاپ ځای: مطبعة مصطفى البابي الحلبي واولاده بمصر.

٥. ابن قدامة: موفق الدين ابي محمد عبد الله د احمد د قدامة المقدسي څوی، (ت ٦٢٠ هـ) المغني دويم چاپ: (١٤١٧ هـ) كال، د چاپ ځای: دار الفكر بيروت - لبنان. (٥ / ٣).

٦. ابن كثير: عمـاد الـدين ابـو الفـداء دكثيـر القرشـي الدمـشقي څوی، (ت٧٧٤هـ) تفـسير القـرآن العظيم لومړی چاپ په (١٤٢٣هـ - ٢٠٠٢م) كال، د چاپ ځای: مكتبة الصفا.

٧. ابن ماجه: ابو عبد الله محمد د يزيد القزويني، څوی (٢٧٣هـ) سنن ابن ماجة لومړی چاپ، په (١٤١٧هـ - ١٩٩٧م) كال، د چاپ ځای مكتبة المعارف للنشر والتوزيع، رياض.

٨. ابن منظور: جمال الدين ابي الفضل محمد د مكرم د منظور الانصاري الافريقي المصري ځوی، تولد (٧٧١هـ) کال، لسان العرب تحقیق او تعلیق د عامر احمد حیدر له خوا، لومړی چاپ: په (١٤٢٤ هـ ٢٥٥٣ م) د چاپ ځای: دار الكتب العلمية – بیروت لبنان.

٩. ابن نجيم: زين الدين د نجيم الحنفي ځوی (تولد ٩٧٠ هـ) کال، البحر الرائق شرح كنز الدقائق، دويم چاپ: د چاپ ځای، دار إحياء التراث العربي بيروت –لبنان.

١٠. الإمام مالك: الموطا: الإمام مالك د انس الاصبحي ځوی، (تولد ١٧٩هـ)، ترقيم اوتعليق: محمد فؤاد عبد الباقي، چد چاپ ځای: دار إحياء الكتب العربية. دحديث شمېره: (٥١٣).

١١. البخاري: ابو عبد الله محمد د إسماعيل ځوي اسماعيل د إبراهيم د المغيرة البخاري ځوی، الجامع المسند الصحيح المختصر من امور رسول الله ﷺ، لومړی چاپ، (١٤٢٢هـ)، چاپ ځای دار طوق النجاة.

١٢. بن القيم جوزية: الطرق الحكمية في السياسة الشرعية، ابو عبد الله محمد بن ابي بكر بن ايوب ابن قيم الجوزية، دار عطاءات العلم (الرياض) څلورمه طبعه، ١٤٤٠ هـ - ٢٠١٩ م

١٣. تاج محمد د حاجي ګلان زوي د لوګر ولایت ازرې ولسوالۍ د اکبرخیلو کلئ قومي مشر او جرګه مار. تولد (٦ / ٦ / ١٣٤٩) د اړیکو شمېره: (٠٧٧٠٨٠٦٥٨٦)

١٤. الترمذي: ابي عيسى محمد د عيسى الترمذي ځوی، متولد (٢٠٩ – ٢٧٩ هـ) سنن الترمذي، چاپ خانه مصطفى الحلبي د چاپ کال: ١٣٩٦ هـ ١٩٧٦ م.

١٥. جمعه خان مشهور په ټنډکئ د امیر جان زوی، لوګر ولایت، محمد آغي ولسوالۍ د سوړیا د کلي قومي مشر، د مرکې نیټه (١٤٠٢/١/١٨).

١٦. زيدان: الوجيز في اصول الفقه: الوجيز في اصول الفقه: دكتور عبد الكريم زيدان، د چاپ ځای، مؤسسة الرسالة، لومړی چاپ، (١٤١٧ هـ - م). صفحه: (٢٥٢).

١٧. سناتور عبدالله: څلی او نرخونه په احمدزيو کې، (٢٣)، سناتور عبدالله خان د حاجي بهرام زوي، لوګر ولایت دمحمد آغي ولسوالۍ د سُرخاو کلي کې په (١٣٠٨- هـ ش) کال زیږدلی او په (١٣٥۴ – هـ ش) کال کې وفات شو، د کتاب د چاپ وار (٢)، د چاپ کال (١٣٩٣)، مطبعه کمپیوتري دو ستاره د اړيکې شمېره (٠٧٠٠٠٩٨٥٣٥).

١٨. السيوطي: جلال الدين عبد الرحمن السيوطي، (تولد ٩١١هـ) كال الاشباه والنظائر في قواعد وفروع الشافعية تحقيق او تعليق د محمد محمد تامر او حافظ عاشور له خوا، دویم چاپ: په (١٤٢٤هـ - ٢٠٠٤م) نېټه د چاپ ځای: دار السلام مصر.

١٩. الطرابلسي: معين الحكام، ابوالحسن علاءالدين علي بن خليل الطرابلسي الحنفي، دارالفكر.

٢٠. عبدالجليل وجدي: د عنعنوی جرګو نن او پرون، د د وردګو د ولایت، اهتمام حیات الله حلیم، لومړی چاپ: (١٣٦٥) پېښور پاکستان. دویم چاپ: (١٣٩٦) کابل افغانستان، سالنګ واټ، دانش کتاب پلورنځی.

٢١. عزت الله بُرګئ: د حاجی محمد حُسین ځوي مخکني جهادي قومندان د لوګر ولایت محمد آغي ولسوالئ د بُرګ کلئ قومی مشر او جرګه مار. د اړيکو شمېره: (٧٦٧٢١٣٠٦۴ +٩٣)

٢٢. العظيم آبادي: عون المعبود شرح سنن ابي داود، محمد اشرف بن امير بن علي بن حيدر، شرف الحق، العظيم آبادي (المتوفى: ١٣٢٩هـ)، الناشر: دار الكتب العلمية بيروت، دويمه طبعه، ١٤١٥ هـ

٢٣. علي حيدر: درر الحكام: شرح مجلة الاحكام، دار الكتب العلمية، كال (١٩٧١-م) بيروت.

٢٤. الغزالي: احياء علوم الدين: محمد بن اجمد ابي حامد الغزالي (ت ٥٠٥ هـ)، دويم چاپ، په (١٤٢٨هـ) كال، د چاپ ځای: دار السلام للطباعة والنشر والتوزيع والترجمة. (٢ / ٣٢٧).

٢٥. القرافي: الفروق او انوار البروق في انواء الفروق: ابو العباس شهاب الدين احمد بن إدريس بن عبد الرحمن المالكي مشهور په القرافي (المتوفى: ٦٨٤ هـ)، دار الكتب العلمية: (1418هـ) بيروت.

٢٦. القرطبي: ابو عبد الله محمد د احمد الانصاري القرطبي ځوی، الجامع لاحكام القرآن د چاپ ځای: دار الشعب – القاهرة.

٢٧. الكاساني: علاء الدين ابو بكر مسعود الكاساني الحنفي (تولد ٥٨٧ هـ) بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع لومړی چاپ: په (١٤١٧هـ - ١٩٩٦م) كال، د چاپ ځای: دار الفكر.

٢٨. مجلة الاحكام: مادة (١٧٨٥).

٢٩. النسائي: ابو عبد الرحمن احمد د شعيب النسائي ځوی، (تولد ٣٠٣ هـ) سنن النسائي، لومړی چاپ په (١٤١٧هـ ١٩٩٧م) كال، د چاپ ځای: مكتبة المعارف للنشر والتوزيع – الرياض

**پوهنيار ننګيالی مصؤن او زاهدالله سيدي**
حقوقي علومو څانګه، حقوقو او سياسي علومو پوهنځی، التقوی پوهنتون

# د ښځو مادي حقوق او په کورني اقتصاد يې اغيزې

**لنډيز**

د ښځو مادي حقوق او په کورني اقتصاد يې اغيزې ترعنوان لاندې موضوع کې د ښځو په مادي حقوقو لکه د مهر حق، ميراث حق، نفقې حق او کار حق څخه بحث شوی او دا په کې څېړل شوې، چې د يادو حقوقو په اداکولو سره دوی کولای شي، چې د خپلې کورنۍ په اقتصاد کې رغنده رول ولوبوي. د څېړنې اهميت په دې کې دی، که موږ د ښځو مادي حقوق ادا کړو دې سره به ښځې وکولای شي، چې د خپلې کورنۍ اقتصادي ملاتړ وکړي. د څېړنې موخه دا ده، ترڅو موږ وکولای شو افغان ميرمنو ته د دوی هغه مادي حقوق، چې اسلامي شريعت او وضعي قوانينو ورکړي تاديه کړو، څو ښځې په کورني اقتصاد کې رغنده رول ولري، په دې څېړنه کې کتابتوني ميتود کارول شوی او له معتبرو سرچينو څخه په کې استفاده شوې ده.

د څېړنې په پای کې دې پايلې ته ورسېدم، چې د ښځو د مادي حقوقو څخه ځينې داسې دي، چې په ورکولو سره يې دوی د شتمنۍ مالکانې ګرځي، لکه مهر او ميراث د يادو دواړو حقوقو په ورکړې سره دوی د پانګې مالکانې هم ګرځي، چې د نوموړې پانګې په پانګونې سره دوی د خپل کاروبار مالکانې ګرځي او له دې لارې کولای شي، چې عوايد ترلاسه کړي. د ښځو دربيم مادي حق د نفقې حق دی، چې ښځې بايد د اصراف څخه کار وانه خلي او خپل ضرورتونه د خپل پلار يا خاوند د مالي توانايي په اندازه پوره کړي، نو کله چې مصارف را کنټرول شول دا پخپله په کورني اقتصاد باندې اغيزه لري.

ښځې کولای شي، چې ځینې دندې یا کاروبارونه ترسره کړي لکه، طبابت، د ښوونې او روزنې په برخه کې حرفوي کارونه په منقولو او غیر منقولو ملکیتونو پانګونه، چې په دې ټولو چارو کې نوموړې کولای شي، چې عواید ترلاسه کړي او په دې سره د خپلې کورنۍ په اقتصادي وده کې فعاله ونډه ولري.

د ښځو عمده مادي حقوق عبارت دي له مهر، میراث او نفقې څخه، چې یاد حقوق هم اسلامي شرعیت او هم د افغانستان نافذه قوانینو ورکړي دي، چې په دې کې هیڅ ډول اختلاف نشته؛ مګر د ښځو د کار په موضوع کې اسلامي شریعت د شرعي حجاب یادونه کړې ده، چې په رعایت کولو سره یې ښځې کولای شي کار وکړي.

**کلیدي کلمې:** ښځې، کورنی اقتصاد، مادي حقوق، میراث، مهر، نفقه.

**سریزه**

ښځې د یوه انساني موجود په توګه په ټولنه کې د ځینو مادي او معنوي حقوقو څخه برخمنې دي، چې نوموړي حقوق د اسلام مقدس دین، وضعي قوانینو او همدارنګه د نړیوالو تقنیني اسنادو له مخې ورکړل شوي دي، ترڅو د نوموړو حقوقو په ورکولو سره دوی د خپلو اساسي حقوقو څخه برخمنې شي او له همدې لارې د خپلې کورنۍ اقتصاد پیاوړی کړي او د خپلې کورنۍ او ټولنې د خدمت مصدر وګرځي.

موږ په دې څېړنه کې هڅه کړې، چې د ښځو مادي حقوق روښانه کړو، څکه که چېرې د ټولنې وګړو ته د دوی یاد مادي حقوق په خپل وخت سره ادا کړو، نو دوی به وکولای شي، چې د خپلې کورنۍ په اقتصاد کې رغنده رول ولوبوي. دا یوه مهمه موضوع ده، چې زموږ د ټولنې خلک ورته تر ډېره نه دي متوجه شوي، چې ښځې هم کولای شي د ځینو فعالیتونو په ترسره کوله سره (چې وروسته به ترې یادونه وشي) خپلې کورنۍ اقتصاد پیاوړي کړي، په دې څېړنې سره به د ټولنې وګړي او حکومت دې ته متوجه شي، چې د ښځو د مادي حقوقو لکه مهر، میراث او نفقې په

ورکولو او د خپلو يادو اموالو په کار اچولو سره به دوی گټه ترلاسه کړي، چې ياده چاره به د دوی په کورني اقتصاد باندې گټورې اغېزې وکړي.

## د څېړنې مسأله

په افغاني ټولنه کې ځيني خلک د ټولنيزو محدوديتونو، دودونو او يا هم پخوانيو کورنيو تعاملاتو له امله خپلو ښځو ته د هغوی ځيني مادي حقوق نه ورکوي، ستونزه دا ده، چې دوی په دې نه پوهېږي، چې د ښځو ځينو مادي حقوقو په ادا کولو سره دوی کولای شي، چې اوس او په راتلونکي کې د خپلې کورنۍ په اقتصاد کې رول ولوبوي، نو موږ په دې څېړنه کې نوموړې ستونزې څخه يادونه کړې او د حل لپاره مو لارې چارې وړاندې کړي او دا مو ثابته کړې ده، چې د ښځو مادي حقوقو په ادا کولو دوی د خپلې کورنۍ په اقتصادي پياوړتيا کې مثبت رول لوبولای شي.

## د موضوع اهميت

د يادې څېړنې اهميت په لاندې ډول دی:

۱. دا څېړنه ځکه مهمه ده، چې په دې سره به ښځينه قشر هم د کورنۍ اقتصاد په پياوړتيا کې د نارينه و سره شريکې شي.

۲. د يادې څېړنې اهميت د ټولنې وگړو ته په دې کې دی، چې د ښځو مادي حقوقو په ورکولو او له دې لارې د کورني اقتصاد په پياوړتيا کې يې د بارزې ونډې اخيستنې پوهاوی وشي.

۳. که ښځه د خپل مال او ملکيت خاونده شي کولای شي، چې په شرعي چوکاټ کې د کاروبار او عوايدو ترلاسه کولو څښتنه شي له دې لارې به وکولای شي د خپلې کورنۍ اقتصاد پياوړی کړي.

۴. له دې څېړنې څخه به د شرعياتو، حقوقو او همدارنگه د اقتصاد مسلک خاوندان مطالعې او نورو څېړنو لپاره د يو ماخذ په توگه کار واخلي.

۵. په کورنیو کې ځینې شخړې د اقتصادي ستونزو له امله رامنځته کېږي، که یادې ستونزې حل شي نو نوموړې شخړې به هم حل شي.

## د څېړنې موخې

د څېړنې موخې په لاندې ډول وړاندې کوو:

۱. د یادې څېړنې لومړۍ موخه دا ده، چې د ښځو مادي حقوق، لکه د مهر حق، میراث حق، نفقې حق او د کار حق وڅېړل شي.

۲. د څېړنې بله موخه د ښځو مادي حقوقو ادا کول او د کورنۍ په اقتصادي پیاوړتیا کې یې رول څېړل.

## د څېړنې پوښتنې

دغه څېړنه لاندې پوښتنو ته ځواب وایي:

۱. د ښځو مادي حقوق کوم دي؟

۲. ایا د ښځو مادي حقوقو ادا کول د کورني اقتصاد په پیاوړي کولو کې رول لري؟

۳. څرنګه کولای شو، چې ښځې د مشروع لارو څخه کورني اقتصاد پیاوړتیا ته وهڅوو.

## د څېړنې تګلاره

د څېړنې د طبیعت تقاضا دا ده، چې په تشریحي ډول سره وڅېړل شي، د یادې څېړنې مادي حقوقو په څېړلو کې د معتبرو مأخذونو (قران کریم، نبوي سنت، قوانین او کتابونو) څخه استفاده شوې او بله برخه یې، چې د مادي حقوقو په ادا کولو سره په کورني اقتصاد کې څرنګه او په کومه پیمانه رول لوبوي په دې برخه کې د څېړونکي نظرونه ترتیب شوي دي.

په نوموړې څېړنه کې مې د مأخذ لیکلو پر وخت د لیکوالانو معنوي حقوقو ته بشپړه توجه کړې مواد مې ترې په بشپړ امانتدارۍ اخیستي او ځای په ځای مې د نوموړو ماخذونو څخه یادونه کړې.

## د څېړنې حدود

د ښځو حقوق یوه ډېره پراخه موضوع ده موږ یې یوه برخه، چې (د ښځو مادي حقوق) دي یادونه کړې نوموړې موضوع هم ډېره پراخه ده، موږ په دې څېړنه کې یوازې د ښځو مادي حقوق معرفي کړي بیا مو ډېر تمرکز په دې کړی، چې که چېرې نوموړي حقوق یې ادا شي د کورنۍ په اقتصادي پیاوړتیا کې څومره رول لري.

## تیرو لیکنو ته منطقي کتنه

د ښځو د مادي حقوقو یادونه په مختلفو کتابونو کې شوې، خو دا چې زما د څېړنې سره کوم توپیر لري په لاندې ډول ترې یادونه کوم:

**لومړی:** دوکتور مصطفی السباعي، چې په خپل کتاب المراة بین الفقه والقانون کې د ښځو د حقوقو په تاریخچه باندې بحث ترسره کړی دی او د ښځو حقوقو په مختلفو قومونو او مختلفو وختونو کې تر بحث لاندې نیولي دي، ولې ما بیا په خپله لیکنه کې یوازې د ښځو په مادي حقوقوباندې تفصیلي بحث ترسره کړی دی.

**دویم:** نهج البلاغه په نوم کتاب، چې په نوموړي کتاب کې د ښځې د حقوقو د اصولو په اړه تفصیلي بحث ترسره شوی دی، ولې ما په خپله لیکنه کې بیا یوازې د ښځو په مادي حقوقو باندې بحث ترسره کړی دی.

**دریم:** د افغانستان (۱۳۵۵ل کال) مدني قانون کې د ښځو د مادي حقوقو یادونه شوي، خو زما توپیر ورسره دا دی، چې ما د ښځو د مادي حقوقو په ادایني سره دا څېړلې، چې په کورني اقتصاد کې رول لري.

**څلورم:** الحافظ مولوي شايق احمد هميم په (۱۳۸۶ل کال) کې (د ښځو د حقوقو څخه دفاع په قرآن او سنت کې) تر نامه لاندې کتاب ليکلی نوموړي د ښځو مادي او معنوي حقوق څېړلي، زما د څېړنې فرق ورسره دا دی، چې د ښځو مادي حقوقو په ورکړې سره په کورني اقتصاد کې رول لري.

**پنځم:** پوهاند دوکتور عبيدالرحمن الکوزي په (۱۳۹۹ل کال) کې د (ميراث حقوق د اسلامي فقهې او د افغانستان د مدني قانون له نظره) تر عنوان لاندې کتاب ليکلی نوموړي يوازې د ښځو يو مادي حق (د ميراث حق) څخه يادونه کړې، زما د څېړنې سره يې فرق دا دی، چې ما د ښځو د ټولو مادي حقوقو څخه يادونه کړې.

## د ښځو مادي حقوق او په کورني اقتصاد يې اغيزې

ښځې په اسلامي شريعت او د افغانستان مدني قانون له نظره د ځينو مادي او معنوي حقوقو څخه برخمنې دي، لکه د مهر، نفقې، د ميراث، د نسب د ثبوت او د مصاهرت حق، چې د يادو حقوقو څخه د افغانستان مدني قانون په لاندې ډول يادونه کړې ده:

(په صحيحي او نافذې نکاح د هغې ټول آثار، لکه د ښځې نفقه، د ميراث حقوق، د نسب ثبوت او د مصاهرت حرمت مرتبېږي) (۱۱: ۹۰).

د ښځو معنوي حقوق هغه حقوق دي، چې په ماديات‌و د محاسبې وړ نه دي، لکه ښځو ته د احترام او کرامت ساتنې حق، د هغوی د عفت ساتنې حق، هغوی سره د عدالت او انصاف حق، تعليم حق، هغوی سره د مشورې حق او داسې نور.

بله برخه د ښځو مادي حقوق دي، دا هغه حقوق دي، چې په ماديات‌و د محاسبې وړ وي، نوموړې موضوع زموږ د بحث اصلي موضوع ده، ترڅو دا وڅېړو، چې د ښځو مادي حقوق کوم دي او که چېرې موږ د ښځو نوموړي حقوق ادا کړو، نو دوی به

ځنګه د خپلې کورنۍ اقتصادي ملاتړو وکړي، د يادو حقوقو څخه په لاندې ډول يادونه کوو:

## لومړی مبحث: د ښځې د مهر حق

مهر په نارينه باندې يوه شرعي وجيبه ده، چې د نکاح د عقد په اساس وجوب مومي، چې په ابتدا کې هيڅوک حتی خپله همدا ښځه هم نه شي کولای، چې ياد حق نفي کړي او يا هم د نکاح د عقد پر وخت کې يې سقط کړي، د مهر د تاکلو وروسته يوازې ښځه په ياد حق کې تصرف کولای شي او حتی ښځه کولای شي، چې د مهر ترلاسه کولو پورې د خاوند څخه د مقاربت څخه ځان وساتي (۱۲: ۳۷).

### لومړی جز: د مهر لغوي پيژندنه

مهر په لغت کې د عوض په معنی دی (۷: ۱۳).

### دويم جز: د مهر اصطلاحي پيژندنه

اصطلاح کې مهر عبارت د هغه اندازه معلوم منقول او غير منقول مال څخه دی، چې د نکاح د عقد پر وخت کې د مېړه له طرفه ښځې ته په معجل (سمدستي) يا مؤجل (راتلونکي) کې ورکول کيږي (۱۵: ۵۵).

مهر د ښځو يو د مادي حقوقو څخه دی، چې د نکاح د عقد پر وخت کې ښځو ته ټاکل کيږي او يا هم کېدای شي، چې د نکاح د عقد څخه وروسته وټاکل شي، په هر صورت که د نکاح د عقد په وخت کې وټاکل شي او که له هغه څخه وروسته وټاکل شي په دواړو حالاتو کې د ښځې په اختيار کې دی، ښځه کولای شي، چې پرته له اکراه څخه په خپل کامل رضايت سره خپل مهر خاوند ته وبخښي (۱۳: ۳۵۵).

د مهر په اړوند قرانکريم کې الله تعالی فرمايلي دي: وَآتُوا النِّسَاءَ صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً فَإِن طِبْنَ لَكُمْ عَن شَيْءٍ مِّنْهُ نَفْسًا فَكُلُوهُ هَنِيئًا مَّرِيئًا) (النساء، ايت شمېره: ۴).

**ژباړه:** او ورکوئ تاسې ښځو (خپلو) لره مهرونه د دوی په ورکړه د خوشالۍ سره (چې فرض شوي دي له طرفه د الله پرتاسې)، نو که راضي شوې دا (ښځې) تاسې ته (په بخښنه) له کوم شي له دې (مهره په خوشالۍ) د نفس خپل، نو خورئ تاسې دغه شی په داسې حال کې، چې خوندوره حلاله بې ضرره وي.

(وَأُحِلَّ لَكُمْ مَا وَرَاءَ ذَلِكُمْ أَنْ تَبْتَغُوا بِأَمْوَالِكُمْ مُحْصِنِينَ غَيْرَ مُسَافِحِينَ فَمَا اسْتَمْتَعْتُمْ بِهِ مِنْهُنَّ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ فَرِيضَةً وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا تَرَاضَيْتُمْ بِهِ مِنْ بَعْدِ الْفَرِيضَةِ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا) (النساء، آيت شمېره: ۲۴).

**ژباړه:** او حلالې کړی شوي دي تاسې ته (ټولې ښځې) چې پرته له دوی څخه دي (په دې شرط) چې طلب وکړئ تاسې (د هغو) په مالونو خپلو (چې مهر دی)، په دې حال کې، چې ساتونکي شئ (د خپل دين په نکاح سره) نه زنا کوونکي. پس هر هغه ښځه، چې نفع واخيسته تاسې په هغې سره له دې (منکوحو ښځو) څخه، نو ورکړئ تاسې دوی ته مهرونه د دوی په دې حال کې، چې فرض کړی شوی دی او نشته گناه پر تاسې باندې (ای مېړنو او ښځو!) په هغه شي کې، چې راضي شوي يئ تاسې په هغې باندې پس له مقررولو (د مهر) بښکه، چې الله (ج) دی ښه عالم (په پټو او ښکار) ډېرحکمت والا (چې هرکار په تدبيراو مصلحت سره کوي (۹: ۲۴۶_۲۴۷).

په قرانکريم، احاديثو او همدارنگه د افغانستان په مدني قانون کې د ښځو د مهر اندازه نه ده ټاکل شوې، بلکې نومونړې اندازه يې د نکاح د عقد طرفينو (ښځې او خاوند) اختيار او رضايت ته پرېښې په هر هغه څه چې ښځې او خاوند توافق وکړ په دې شرط، چې حرام نه وي مهر صحيح گڼل کېږي، خو بايد کوښښ وشي، چې د مهر اندازه د خاوند اقتصادي حالت ته په کتو وټاکل شي، څو خاوند يې د ادا کولو توان ولري، که چېرې د مهر اندازه لوړېږي نو له يوې خوا کېدای شي ډېر ځوانان او پيغلې بې نکاح پاتې شي او له بلې خوا که چېرې خاوند د مهر د ادا کولو لپاره

پوروړی شي، نو په ادا کولو کې بيا هم د دوی ګډ ژوند د ستونزو سره مخ کېږي. د مهر د اندازې ټاکلو لپاره موږ لاندې نبوي حديثونه وړاندې کوو:

ابو سلمه رضی الله عنها څخه روايت دی: (سألت عائشة رضي الله عنها عن صداق رسول الله صلى عليه وسلم فقال ثنتا عشرة أُقية ونش) (۲: ۲۸۷).

د مهر اړوند د افغانستان مدني قانون په لاندې توګه صراحت لري: (په دخول، صحيح خلوت يا د زوجينو څخه د يوه په مرګ که څه هم دا مرګ د دخول يا صحيح خلوت تر مخه صورت موندلی وي، ټول مهر لازمېږي) (۱۱: ۹۸).

مهر د ښځې ملکيت دی، ښځه کولی شي پخپل مهر کې هر نوعه مالکانه تصرف وکړي (۱۱: ۱۰۰).

**تبصره:** د مهر اړوند موږ په پورته توګه د قرانکريم، سنتو او د افغانستان مدني قانون صراحت ذکر کړ، چې دا د ښځو يو د مادي حقوقو څخه ګڼل شوی، که موږ ښځو ته نوموړي حقوق ورکړو پس ښځې د مال مالکانې ګرځي، دوی کولای شي، چې د نوموړي مال څخه په کوچنيو کاروبارونو کې چې شرعي ممانعت نه وي استفاده وکړي او يو اندازه عوايد ترلاسه کړي او د خپلې کورنۍ په اقتصادي پرمختيا کې ونډه واخلي. موږ له نوموړو کارونو څخه په وروستي محبث کې يادونه کړې ده.

## دويم مبحث: د ښځو د ميراث حق

لکه څرنګه چې اسلامي شريعت او وضعي قوانينو نارينه وو ته د ميراث حق ورکړی، همدارنګه ښځو ته يې هم ياد حق ورکړی، د اسلام نه وړاندې ښځو ته د ميراث حق نه ورکول کېده، ځکه په هغه وخت کې دا مفکوره موجوده وه، چې ښځې د خپلې قبيلې څخه دفاع نه کوي او نه د دښمن سره جنګېږي، نو هر هغه څوک، چې په آس نه پورته کېږي او د دښمن په مقابل کې توره نه پورته کوي هغوی له ميراثه هم

محروم دي، لکه ښځې، ماشومان او زاړه خلک، مگر د اسلامي شریعت په راتگ سره هرې طبقې ته د میراث حق ورکړل شو (۵: ۲۲).

یاده موضوع په لاندې توگه څېړو:

**لومړی جز: د میراث پیژندنه**

د میراث د ښې پیژندنې لپاره لغوي او اصطلاحي پیژندنه وړاندې کوو:

**لومړی فقره: د میراث لغوي پېژندنه**

میراث په عربي ژبه کې د (ورثَ، یرثُ، ارثاً) مصدر دی، لکه چې ویل کېږي (ورثَ فلان قریبه) یعني فلاني سړي د خپلو نژدې خپلوانو څخه میراث واخیست، همدارنگه د یو شخص څخه بل شخص ته یا د یو قوم څخه بل قوم ته د یو شي انتقال ته میراث وایي او دا عام دی که مال، علم او عزت او شرف وي (۱: ۱۷).

همدارنگه د الله تعالی جل جلاله د نومونو څخه یو نوم هم دی، چې په معنی د بقا یا تل پاتې کېدونکي سره راځي (٦: ١٥).

**دوهمه فقره: د میراث اصطلاحي پېژندنه**

اصطلاح کې میراث هغه فقهي او ریاضیکي قواعدو څخه عبارت دی، چې د هغوی په وسیله د وارثانو برخه د ترکې څخه مشخص کېږي (۱: ۱۹).

**دویم جز: په میراث کې د ښځو برخې**

په عمومي توگه ښځې، چې د ترکې (هغه مال، چې په میراث پاتې دی) کې کومې برخې لري په (٦) ډوله دي، چې په لاندې ډول یې څېړو. (۱: ۲۵)

**لومړی فقره: لور یا بنت**

لور په میراث کې د اسلامي شریعت له مخې نیمه برخه اخلي، په دې شرط، چې یوه وي او ورور ورسره نه وي، که چېرې لونې له یوې څخه زیاتې وي او ورور ورسره نه

وي بيا دوه پر درې (ثلثان) اخلي، که چېرې ورور ورسره وي، نو بيا په ورور سره عصبه گرځي، يعني د ورور نيمه برخه به اخلي، په قرانکريم کې الله تعالی نوموړې برخې په لاندې ډول ذکر کړي دي:

(يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ فَإِنْ كُنَّ نِسَاءً فَوْقَ اثْنَتَيْنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ وَإِنْ كَانَتْ وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ) (النساء، آيت شمېره: ۸).

**ژباړه:** حکم کوي تاسې ته الله تعالی په (حق د ميراث) د اولاد ستاسې کې چې (تاسې مړه شئ) شته نارينه لره (له ميراثه) په مثل د برخو د دوو ښځو، نو که وو دا (اولاد خالصې) ښځې پورته له دوو څخه يا دوه، نو شته دوی لره دوه ثلثه (دوه دريمې برخې) د هغه مال، چې پريښی وي مړي او که وه دا (مولوده لور) يوه، نو هغې لره نصف (نيمايي د ترکې) دی (۹: ۲۴۸).

**دويمه فقره: مور (الام)**

مور په ميراث کې درې حالاته لري:

الف- شپږمه برخه (سدس) : مور په هغه وخت کې د شپږمې برخې مستحقه گڼل کېږي، کله چې د مړي اولاد وي.

ب ـ دريمه برخه (ثلث) : مور په هغه وخت کې د دريمې برخې مستحقه گڼل کېږي، کله چې د مړي اولاد نه وي.

ج ـ ثلث د مابقيه: مورته د زوجينو د حق وروسته، چې کوم مال پاتې شي د هغې دريمه برخه اخلي کله چې اولاد ونه لري.

پورته برخې په قرانکريم کې په دې ډول ذکر شوي: (وَلِأَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا السُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ إِنْ كَانَ لَهُ وَلَدٌ فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ وَلَدٌ وَوَرِثَهُ أَبَوَاهُ فَلِأُمِّهِ الثُّلُثُ فَإِنْ كَانَ لَهُ إِخْوَةٌ فَلِأُمِّهِ السُّدُسُ) (النساء، ايت شمېره: ۱۱).

**ژباړه:** او شته مور او پلار د ده (مړي) ته لپاره د هر يوه له دې دواړو سدس (شپږمه برخه) له هغه مال چې پرېښی وي مړي که وي مړي لره ولد، نو که نه وي ده لره ولد حال دا، چې ميراث اخلي له ده مړي څخه يوازې مور او پلار د ده، نو مور د ده لره ثلث (درېيمه برخه) او نوره ټوله برخه د پلار ده، نو که وي مړي لره وروڼه يا خويندې، نو شته مور د ده لره سدس (شپږمه برخه) (۹: ۲۵۰).

**درېيمه فقره: نيا (الجدة الصحيحة)**

د نيا برخه په ميراث کې شپږمه ده کله، چې د مړي مور نه وي او که چېرې مور د مړي وي بيا په ميراث کې برخه نه لري.

**څلورمه فقره: سکنۍ خور (اخت لاب وام)**

د سکنۍ خور لپاره په ميراث کې پنځه حالات دي:

**لومړی حالت نيمايي (نصف)** : هر کله چې سکنۍ خور يوه وي نصف ورکول کېږي.

**دويم حالت دوه پر درې (ثلثان)** : هر کله چې سکنۍ خويندې دوه يا له دوو څخه زياتې وي، نو ثلثان ورکول کېږي.

**درېيم حالت عصبه:** کله چې د سکنۍ خور سره ورور وي، نو بيا د ورور سره عصبه گرځي يعني دوه برخې ورور او يوه برخه به خور اخلي.

**څلورم حالت عصبه مع الغير:** کله چې د مړي لور ورسره وي، نو سکنۍ خور په دې حالت کې عصبه مع الغير گرځي يعني د مړي د لور څخه پاتې ميراث اخلي.

**پنځم حالت محجوبېدل د ميراث څخه:** کله چې د سکنۍ خور سره د مړي پلار وي، نو په دې حالت کې د ميراث څخه محجوبېږي.

چې پورته موضوع په قرانکریم کې په لاندې ډول ذکر شوې:
(يَسْتَفْتُونَكَ قُلِ اللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِي الْكَلالَةِ إِنِ امْرُؤٌ هَلَكَ لَيْسَ لَهُ وَلَدٌ وَ لَهُ أُخْتٌ فَلَها نِصْفُ ما تَرَكَ وَ هُوَ يَرِثُها إِنْ لَمْ يَكُنْ لَها وَلَدٌ فَإِنْ كانَتَا اثْنَتَيْنِ فَلَهُمَا الثُّلُثانِ مِمَّا تَرَكَ وَ إِنْ كانُوا إِخْوَةً رِجالاً وَ نِساءً فَلِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ أَنْ تَضِلُّوا وَ اللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ) (النساء، ایت شمیره: ۱۷۶).

**ژباړه:** طلب د فتوی کوي دوی له تانه (ای محمده !د کلالې) نو ووایه، چې الله (ج) فتوی درکوي تاسې ته په (میراث) د کلالې کې که یو سړی مړ شي، چې نه وي ده لره ځوی (او نه پلار) او وي ده لره یوه خور (عینه یا علاتیه) نو (مقرر) دی دې ته نصف (نیم) د هغه مال، چې پریښي وي (مړي) او د ورور میراث وړي له دې خور ځخه که نه وي دې لره ځوی (ځوځات)، نو که وي دا خویندې دوه (یازیاتې) نو مقرر دی دواړو ته دوه ثلثان له هغه ماله، چې پریښی دی (مړي) او که وو دا (وارثان) وروڼه او خویندې نارینه او ښځې؛ پس مقرر دی هر نارینه ته په اندازه د برخې د دوو ښځو بیانوي الله (ج) تاسې ته (احکام د میراث) چې گمراه (او ورخطا) نه شئ تاسې (۹: ۲۵۱).

د سکنی خویندو میراث اړوند د افغانستان مدني قانون لاندې صراحت لري:

۱. یوه سکنی خور نیمایې او دوه یا زیاتې سکنی خویندې د میراث د دوه ثلثو مستحقې دي.
۲. که څوک سکنی خویندې ونه لري، نو پلارني خویندې د پورتني فقرې درج شوي حصې او که ورسره یوه مورنی خور موجوده شوه د میراث د شپږمې حصې مستحقې کیږي. عام له دې چې پلارني خویندې یوه وي او که تر هغې زیاتې.

**پنځمه فقره: میرمن یا ښځه**

میرمن په میراث کې دوه حالتونه لري:

**لومړی حالت یو پرڅلور یا ربع:** کله چې د مړي اولاد نه وي په دې حالت کې میرمن یو پرڅلورمه برخه اخلي.

**دویم حالت اتمه برخه یا ثمن:** که چېرې اولاد د مړي وي، نو په دې حالت کې میرمن اتمه برخه اخلي.

د میرمن د میراث برخې په قرانکریم کې په لاندې ډول ذکر شوي دي:
(وَلَهُنَّ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْتُمْ إِنْ لَمْ يَكُنْ لَكُمْ وَلَدٌ فَإِنْ كَانَ لَكُمْ وَلَدٌ فَلَهُنَّ الثُّمُنُ مِمَّا تَرَكْتُمْ)
(النساء، ایت شمېره: ۱۲).

**ژباړه:** شته څلورمه برخه له هغه ماله، چې پریښی وي دې ښځو که چېرې نه وي تاسو لره ولده او که چېرې وي تاسو لره ولد، نو بیا د دې ښځو لپاره اتمه برخه ده د هغه مال نه، چې تاسو پریښی دی (۹: ۲۵۲).

**شپږمه فقره: هغه ښځه چې غلام یې آزاد کړی وي**

که چېرې یوې ښځې غلام آزاد کړی وي او د دې غلام نور ورثه نه وي، نو په دې حالت کې میراث یې د همدې ښځې کېږي، نوموړې موضوع په حدیث شریف کې په لاندې ډول ذکر شوې:
**حدیث:** (الولاء لمن أعتق) (۲: ۴۶۶).

**ژباړه:** میراث د غلام د هغه شخص دی، چې دی (غلام) یې آزاد کړی وي.
د پورته ښځو د یو ځای موجودیت په صورت کې یوازې پنځه تنه یې د میراث مستحق ګڼل کېږي لکه (لور، د زوی لور، مور، میرمن، عیني خور) او نور یې محجوب ګڼل کېږي، لکه (نیا د مور موجودیت په صورت کې، د مور له طرفه خور د لور او د زوی لور موجودیت په صورت کې، د پلار له طرفه خور د عیني خور موجودیت په صورت کې او هغه ښځه چې غلام یې آزاد کړی وي د عیني خور او پلارنۍ خور موجودیت په صورت کې محروم میراث ګڼل کېږي).

**تبصره:** په پورته توگه موږ د ښځو د ميراث حق ځخه يادونه وکړه، ليدل کيږي، چې ميراث د ملکيت د لاسته راړولو يو د اسبابو ځخه دی، که چېرې موږ ښځو ته په هغه اندازه د ميراث حق ورکړو، چې اسلامي شريعت ذکر کړی، نو ښځه به هم د خپل پلار له کوره او هم د خپل خاوند له کوره د ميراث مستحقه کيږي، نو دلته ليدل کيږي، چې ښځې له دوو ځايونو ميراث اخلي که د پلار کور يې شتمن وي او د خاوند کور يې غريب، نو دلته ښځه د خپل خاوند کور ته د شتمنۍ سره راځي او برعکس که چېرې د ښځې د پلار کور غريب وي او د خاوند کور يې شتمن، نو بيا هم ښځه د شتمنۍ مالکه کرځي چې له دې لارې ښځه کولای شي، چې نوموړې شتمنۍ ځخه په کوم کاروبار باندې پاگونه وکړي او له دې لارې د خپلې کورنۍ اقتصاد پياوړي کړي.

## درېيم مبحث: د نفقې حق

د ښځې نفقه د هغه مادي حق ځخه عبارت دی، چې د خاوند لخوا ميرمنې ته ورکول کيږي، چې له دې لارې ښځه خپل ضرورتونه پوره کوي، لکه لباس، مسکن، خواړه، تداوي او داسې نور مصارف چې د ژوند تېرونې لپاره اړين وي (۱۴: ۱۹۱).

په همدې توگه د افغانستان مدني قانون لاندې صراحت لري:

(د ښځې نفقه مشتمله ده په خوراک، لباس، د اوسېدو ځای او د ښځې دارو کولو، خو د مېړه د مالي قدرت په تناسب) (۱۱: ۱۱۸).

(که مېړه د نفقې د ورکولو ځخه ځان وژغوري يا يې په نفقه کې تقصير ثابت شي، صلاحيت لرونکي محکمه به مېړه د نفقې په ورکولو مکلفوي). (۱۱: ۱۱۹)

(په لاندنيو حالونو کې ښځه د نفقې حق نه لري:

۱. که ښځه بې د مېړه له اجازې يا د جايزو مقصدونو په غير د اوسېدلو د ځای ځخه ووځي.

۲. که ښځه د زوجيت په امورو کې اطاعت ونه لري.

۳. که د مېړه کور ته د ښځې د نقلولو مانع موجودې وي) (۱۱: ۱۲۲).

(أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنْتُمْ مِنْ وُجْدِكُمْ وَ لا تُضارُّوهُنَّ لِتُضَيِّقُوا عَلَيْهِنَّ وَ إِنْ كُنَّ أُولاتِ حَمْلٍ فَأَنْفِقُوا عَلَيْهِنَّ حَتَّي يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ فَإِنْ أَرْضَعْنَ لَكُمْ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ وَ أْتَمِرُوا بَيْنَكُمْ بِمَعْرُوفٍ وَ إِنْ تَعاسَرْتُمْ فَسَتُرْضِعُ لَهُ أُخْرى) (الطلاق، ايت شمېره: ٦).

ژباړه: واوسوئ دا (ښځې طلاقې کړی شوې) په هغه ځای کې، چې په کې اوسېږئ تاسې (سم) له طاقت د تاسې (چې توانېږئ!). او مه کوئ اراده د ضرر تاسې د دغو (مطلقاتو) لره چې تنگوئ به (ځايونه او نفقې) په دوی باندې او که چېرته وې دغه ښځې خاوندانې د بار گېډې (حاملانې پلاربې) نو نفقه کوئ تاسې پر دوی باندې تر هغه پورې، چې وزېږوي دوی بار (حمل د گېډو) خپلو (په زېږېدلو سره). نو که تی ورکاوه دوی (پس له طلاقه) اولاد د تاسو لره؛ پس ورکړئ تاسې هغوی لره مزدوري د هغوی او مصلحت مشوره کوئ (ای ښځو او مېړونو په حق د مولود خپل) په منځونو خپلو کې په معروف نېکۍ سره.

او که سختي وکړئ تاسې (ای والدينو په تی ورکولو او اجرت کې) ؛ نو لپاره د تي ورکولو دې طلب کړي هغه (مولود) لره بل ښځه (يعنې دايي دې ورته ونيسي او په مور باندې دې زور نه کوي) (۱۰: ۲۳۰).

همدارنگه په حديث کې هم د ښځو د نفقې اړوند صراحت راغلی: (ولهنَّ عليكم رِزقُهنَّ وكِسوتُهنَّ بالمعروفِ) (۴: ۲۹۰).

**ژباړه:** او شته په تاسو باندې د دې ښځو نفقه او جامه په ښه طريقې سره.

(مېړه به د خپل مالي قدرت سره سم د خپلې ښځې لپاره د اوسېدو مناسب ځای برابروي) (۱۱: ۱۱۵).

(که يو سړی د يوې ځخه زياتې ښځې ولري، نه شي کولی، چې د هغوی د رضا په غير د اوسېدو په يو ځای کې هغوی اوسېدو ته مجبور کړي) (۱۱: ۱۱٦).

۱ - د صحيحي او نافذې نکاح په عقد سره د ښځې نفقه په مېړه لازمېږي که څه هم ښځه د خپلوانو په کور کې ژوند کوي، که ښځه ناحقه د مېړه کور ته د تللو څخه ځان وژغوري، نو نفقه يې په مېړه نه لازمېږي.

۲ - ښځه هغه وخت حق لري چې د مېړه کور ته د تللو څخه ځان وژغوري، چې د دې قانون (۱۱۵-۱۱٦) مادو د حکمونو سره سم ورته د مېړه له خوا د اوسېدلو مناسب ځای نه وي برابر شوی او يا يې معجل مهر نه وي ورکول شوی (۱۱: ۱۱٦).

**تبصره:** په پورته توگه موږ د ښځو د نفقې د ورکړې څخه يادونه وکړه، چې دا د ښځې په خپل کور کې د پلار مکلفيت دی، چې نوموړې ته نفقه (کور، کالي، ډوډۍ، تداوي او نور مادي ضروريات) د خپل مالي توانايي په نظر کې نيولو سره ورکړي او بيا د خاوند په کور کې همدا مکلفيت خاوند ته انتقالېږي، اوس پوښتنه داده، چې د نفقې ورکړه، خو ظاهراً مالي زيان دی هم د پلار لپاره او هم د خاوند لپاره، نو نفقه څنگه د کورني اقتصاد په پياوړتيا کې رول لرلای شي؟

په ځواب کې بايد ووايم، چې که ښځې په خپلو کورنو کې پورته مصارف (کور، کالي، ډوډۍ، تداوي او نور مادي ضروريات) کنترول کړي د کورني په اقتصاد باندې مستقيماً اغېزه کوي.

### څلورم مبحث: د ښځو د کار حق

د کار حق يو د اساسي حقوقو څخه دی د کار نه پرته انسانان نه شي کولای، چې د خپل او د کورنۍ ضرورتونه پوره کړي، په اسلامي شريعت کې نارينه په کار کولو مکلف گڼل شوي، د سوال کول او ايله گشتۍ څخه منع شوي دي، ځکه د کورنۍ مادي ضرورياتو د رفعه کولو او خپلو ښځو او اولادونو په نفقې پيداکولو او ورکولو

مکلف شوي، نو دا چار د کار څخه پرته نه شي کېدای له استثنايي حالاتو پرته، لکه يو چاته د پلار څخه مارکيټونه او جايدادونه پاتي وي او د همدې جايدادونو عوايد ترلاسه کوي او يا هم د ځينو کورنيو لپاره عوايد د بهر څخه راځي په نورو ټولو حالاتو کې نارينه مکلف شوي، ترڅو کار وکړي، بيا کله چې بحث د ښځو کوو په اسلامي شريعت کې ښځې د کورنۍ د مادي ضرورروتو په رفع کولو او د نفقې په پيداکولو نه دي مکلفې شوې پس کار هم د دوی د مکلفيت څخه نه ګڼل کېږي؛ بلکې د يو حق په توګه يې ذکر کولای شو د دوی خپله خوښه ده، چې له دې حق څخه استفاده کوي او که نه، په اسلامي شريعت کې په مطلقه توګه د ښځو په کار باندې بنديز نشته، چې موږ دلته کولای شو د موسی عليه السلام او د شعيب عليه السلام د لوڼو د واقعې څخه، چې په سورت القصص کې ذکر شوې يادونه وکړو:

﴿وَلَمَّا وَرَدَ مَآءَ مَدۡيَنَ وَجَدَ عَلَيۡهِ أُمَّةٗ مِّنَ ٱلنَّاسِ يَسۡقُونَ وَوَجَدَ مِن دُونِهِمُ ٱمۡرَأَتَيۡنِ تَذُودَانِۖ قَالَ مَا خَطۡبُكُمَاۖ قَالَتَا لَا نَسۡقِي حَتَّىٰ يُصۡدِرَ ٱلرِّعَآءُۖ وَأَبُونَا شَيۡخٞ كَبِيرٞ﴾(القصص، ۲۳).

فَسَقَىٰ لَهُمَا ثُمَّ تَوَلَّىٰٓ إِلَى ٱلظِّلِّ فَقَالَ رَبِّ إِنِّي لِمَآ أَنزَلۡتَ إِلَيَّ مِنۡ خَيۡرٖ فَقِيرٞ﴾(القصص، ۲۴).

فَجَآءَتۡهُ إِحۡدَىٰهُمَا تَمۡشِي عَلَى ٱسۡتِحۡيَآءٖ قَالَتۡ إِنَّ أَبِي يَدۡعُوكَ لِيَجۡزِيَكَ أَجۡرَ مَا سَقَيۡتَ لَنَاۚ فَلَمَّا جَآءَهُۥ وَقَصَّ عَلَيۡهِ ٱلۡقَصَصَ قَالَ لَا تَخَفۡۖ نَجَوۡتَ مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ (القصص، ۲۵).

**ژباړه:** کله چې هغه (موسی عليه السلام) د مدين څاه ته ورسېد، نو ويې ليدل، چې ډېر خلک خپل څاروي اوبه کوي او له هغو نه بيلې يوې خواته دوه ښځې خپل څاروي ايساروي موسی عليه السلام له دغو ښځو نه پوښتنه وکړه، تاسو وايئ څنګه انديښمنې يئ؟ هغوی وويل موږ خپلو څارويو ته اوبه نشو ورکولی، ترڅو پورې، چې دغه شپانه خپل څاروي بونه ځي او زموږ پلار ډېر زيات سپين ږيری سړی دی، د دې خبرې په اورېدو سره موسی عليه السلام د هغو څاروي اوبه کړل، بيا يوه سيوري ځای ته لاړ او ويې ويل، پروردېګاره! هره ښېګڼه چې تا پر ما نازله کړې زه هغې ته اړيم، لږ وخت وروسته له هغو دوو ښځو څخه يوه يې په حياء سره ده ته

راغله او ويې ويل، زما پلار تا غواړي، ترڅو تا، چې زموږ لپاره څارويو ته اوبه ورکړې دي د هغه اجوره درکړي.

له پورته واقعې څخه په ډاګه ښکاري دا، چې شعيب عليه السلام بوډا شوی ؤ او نه يې شو کولی چې مالونه وڅروي، نو د ضرورت په اساس په پوره حجاب او پردې سره د مالونو د څرولو (شپانه) کار د ده لوڼو کاوه کله چې موږ د ښځو د کار څخه بحث کوو، نو زه يې د علماؤ ترمنځ په اختلافي موضوعاتو بحث نه کوم، خو دومره بايد ووايم، چې ښځې کولای شي د اسلامي شريعت په چوکاټ کې چېرته، چې حجاب مراعت شوی وي او د نارينه و سره د اختلاط موضوع مطرح نه وي کولای شي، چې کار وکړي او له دې لارې د خپلې کورنۍ په اقتصادي وده کې مهم رول ولوبوي، زه د ښځو د ځينو کارونو څخه يادونه کوم چې د ټولنې وګړي يا حکومت دوی ته زمينه مساعده کړي نو کولای شي، چې د خپلې کورنۍ په پرمختيا کې رغنده رول ولوبوي:

**لومړی جز: د ښځو طبابت**

د ښځو لپاره دا اړينه ده، چې بايد ښځينه طبيبي ته ولاړې شي له دې لارې له يوې خوا به د نارينه طبيب او ښځينه مريضې ترمنځ، چې کوم شرعي ممانعت وي رفع شوی وي، لکه ځينې ښځينه امراض، عملياتونه او نور هغه تکليفونو ليدنه، چې د ښځينه لپاره د محرم څخه پرته ښکاره کول يې شرعي جواز نه لري، همدارنګه ښځينه مريضه کولای شي، چې ښځينه طبيبې ته خپل ټول تکليفونه په ډاډه زړه ووايي، خو کېدای شي د شرم او عار له امله ځينې تکاليف ونشي کولای، چې نارينه طبيب ته يې ووايي، له بلې خوا به ښځينه هم وکولای شي، چې د کار څښتنه شي او له دې لارې د خاوند يا د کورنۍ د نورو نارينه و سره اوږه په اوږه نه يوازې د کورنۍ مادي ضرورتونه پوره کړي بلکې وبه کولای شي، چې د تجملي او راحت نه ډک ژوند خاوندان شي.

### دویم جز: ښځینه استادې په توګه

د بېلابېلو مهارتونو زده کړه د ښځو او نارینه و یو د اساسي حقوقو او اوسني عصر یو د مبرمو ضرورتونو څخه دي ښځینه کولای شي، چې د ښځینه مدارسو، مکاتبو، انستیتیتونو، پوهنتونونو او نورو مهارتونو لکه خیاطي، خامک دوزي، قالین بافي او داسې نورو د زده کړو په موخه د ښځینه زده کړیالانو د استادې په توګه دنده ترسره کړي له یوازې به ښځینه زدکړیالانې ښځینه استاده پیدا کړي له بلې خوا به ښځینه استادانې د معاش مستحقې شي، چې له دې لارې به وکولای شي د خپلې کورنۍ په اقتصادي پرمختیا کې رغنده رول ولوبوي.

### دریېم جز: ښځې د حرفوي او غیر حرفوي کارکوونکو په توګه

ښځینه کولای شي، چې ځیني حرفوي کارونه د خپل کور څخه وکړي او یا هم په هغې کارخونو کې کار وکړي، چې ښځینه کارکوونکي په کې کار کوي، لکه قالین بافي، خیاطي، خامک ګنډنه، باغواني، چرګانو ساتنه، کب ساتنه او داسې نور کارونه، چې ښځینه یې په ښه شکل ترسره کولای شي او له دې لارې ښه عواید ترلاسه کړي او د خپلې کورنۍ په اقتصادي پیاوړتیا کې رول ولوبوي.

### څلورم جز: ښځه د پانګه اچونکې په توګه

که چېرې ښځه پانګه ولري او یا هم دوی ته د میراث حق ورکړل شي، نو کولای شي، چې په ځینو منقول او یا هم غیر منقولو اموالو پانګه اچونه وکړي او چارې د خپل امین محرم نایب پواسطه په ډېر ښه ډول پرمخ یوسي لکه، د ځمکو اخیستل او په هغې کې کرنیز فعالیتونه، د مالدارۍ اړوند فعالیتونه، اجاره داري، د کور جوړول د کرایې لپاره، د مارکیټ جوړول او داسې نور عایداتي فعالیتونه ترسره کړي، همدارنګه ښځه کولای شي، چې په سوداګریزو برخو پانګونه وکړي لکه واردات او صادرات، فابریکې او داسې نور، په همدې توګه ښځه کولای شي، چې په خدماتي برخو پانګونه وکړي لکه، د روغتونونو جوړول، د تحصیلي او تعلیمي ادارو جوړل او داسې

نور، چې دا ټولې چارې د عوايدو د ترلاسه کولو ښه زمينه مساعدولای او له همدې عوايدو څخه کولای شي چې د خپلې کورنۍ په اقتصادي وده کې په ښه شکل استفاده وکړي.

**پايله**

د ښځو مادي حقوق او په کورني اقتصاد يې اغيزې موضوع د څېړنې وروسته لاندې پايلې ته ورسېدم:

۱. اسلامي شريعت او د افغانستان قوانينو دواړو د ښځو مادي حقوق بيان کړي او نوموړو ته يې د يادو حقوق د ورکړې حکم کړی.

۲. ښځو ته د هغوی د مادي حقوق څخه ځينې حقوق داسې دي، چې په ورکولو سره يې دوی د شتمنۍ مالکانې ګرځي، لکه مهر او ميراث د يادو دواړو حقوقو په ورکړې سره دوی د پانګې مالکانې ګرځې، چې د نوموړې پانګې په پانګونې سره دوی د خپل کاروبار مالکانې کېږي او له دې لارې کولای شي چې عوايد ترلاسه کړي کله، چې دوی عوايد ترلاسه کړل، نو کولای شي، چې د خپلې کورنۍ په اقتصاد کې رغنده رول ولوبوي.

۳. د ښځو درېيم مادي حق د نفقې حق دی، چې ښځه د خپل پلار په کور کې د پلار لخوا او د خپل خاوند په کور کې د خاوند لخوا نفقه ترلاسه کوي، نو ښځې د نفقې (کور، کالي، مسکن، دوا او نورو مادي ضروياتو) په وخت کې بايد د اصراف څخه کار وانه خلي او خپل ضرورتونه د خپل پلار يا خاوند د مالي توانايي په اندازه پوره کړي، نو کله چې مصارف راکنټرول شول دا پخپله په کورني اقتصاد باندې اغيزه لري.

۴. ښځې کولای شي، چې ځيني دندې يا کاروبارونه ترسره کړي چې هيڅ شرعي او ټولنيز ممانعت نه لري لکه، طبابت برخه کې، د استادې په توګه، د کور دننه او يا هم په داسې ځای کې چې حجاب مراعت شوی وي د حرفوي او غير حرفوي

کارونو ترسره کول، په منقولو او غير منقولو ملکيتونو پانګونه او چارې يې د يو امين شخص پواسطه پرمخ وړل او داسې نورې چارې ترسره کول، چې په دې ټولو چارو کې نوموړې کولای شي عوايد ترلاسه کړي او په دې سره د خپلې کورنۍ په اقتصادي وده کې فعاله ونډه ولري.

**مناقشه**

۱. د ښځو عمده مادي حقوق عبارت دي د مهر حق، ميراث حق او د نفقې حق څخه چې ياد حقوق هم اسلامي شريعت او هم د افغانستان نافذه قوانينو ورکړي دي، چې په دې کې هيڅ ډول اختلاف نشته.

۲. د ښځو بل مادي حق عبارت د کار څخه دی، چې اسلامي شريعت د ښځو د عفت، عزت او کرامت د ساتلو په موخه ښځې په کار کولو نه دي مکلفې کړي، بلکې نارينه په کار کولو مکلف شوي دي او دا يې د نارينه و وجيبه ګرځولې، ترڅو د ښځو او ماشومانو نفقه برابره کړي، مګر په غربي ټولنو کې د بشري حقوقو په نامه ښځې د نارينه و په شان په کار کولو او د نفقې پيداکولو مکلفې شوې دي، حتی ليدل کيږي، چې ښځې د حامله ګۍ په دوران کې هم د ماشين ترشا ولاړ وي او کار کوي، نو موږ ويلای شي، چې اسلامي شريعت ښځو ته د دوی اساسي حقوق ورکړي.

۳. ښځې کولای شي، چې په شرعي چوکاټ کې د کار کولو او پانګونې له لارې د خپلې کورنۍ په اقتصادي پياوړتيا کې رول ولوبوي، دوی له دې لارې په حقيقت کې د خپلې کورنۍ د نارينه و سره مرسته کوي، نو نارينه هم بايد دې ټکي ته پام وکړي.

**پايله اخيستنه**

د يادې څېړنې د تکميل وروسته پايله اخيستنه په لاندې ډول شوه:

۱. د ښځو مادي حقوق عبارت دي له مهر، ميراث، نفقې او د کار حق څخه.

۲. ښځې کولای شي، چې د کار کولو او پانګونې له لارې چې شرعي اصول پکې رعایت شوي وي ګټه ترلاسه کړي، چې له دې لارې دوی کولی شي د خپلې کورنۍ د نارینه و سره د کورنۍ په اقتصادي پیاوړتیا کې پراخه ونډه واخلي.

## وړاندیزونه

۱. د ښځو مادي حقوقو په ورکولو، اسلامي شریعت او د افغانستان وضعي قوانینو حکم کړی پس نوموړي حقوق باید په بشپړه توګه ښځو ته ورکړل شي.

۲. دا چې ښځې د خپلو مادي حقوقو په ځانګړي توګه د (مهر او میراث حق) په ترلاسه کولو سره د شتمنۍ مالکه ګرځي که چېرې نوموړي شتمني د خپل ځان سره وساتي، نو یاده شتمني په مصرفېدو سره به له منځه لاړه شي، نو پکار دا ده، چې ښځې دغه شتمني په مختلفو کوچنیو او یا هم لویو کاروبارونو کې چې شرعي ممانعت نه وي پانګونه وکړي، ترڅو یاده شتمني په حرکت راشي او له دې لارې نور عواید ترلاسه کړي.

۳. نارینه باید ښځې د هغه پانګونو او یا کاروبارونو څخه منع نه کړي، چې هلته کوم شرعي ممانعت نه وي موجود، ځکه له دې لارې کورنیو ته مزید عواید راځي، چې په دې سره د کورنیو اقتصاد ورسره پیاوړی کېږي.

## مأخذونه

القرآن الکریم

۱. الکوزی، دوکتور عبیدالرحمن. (۱۳۹۹هـ ش). د میراث حقوق، دویم چاپ، جلال آباد: مسلم خپرندویه ټولنه.

۲. أبوداود سلیمان بن الأشعث الازدي السجستاني. (۱۴۳۰هـ ق). سنن أبي داود، بیروت: لبنان، الرسالة العالیمة.

۳. أبوعبدالله محمد بن اسماعیل بن ابراهیم بن المغیرة ابن بردزبه البخاري الجعفي، (۱۴۲۲هـ ق) صحیح البخاري، ببولاق، مصر: السلطانیة.

۴. الخطیب، ولي الدین، محمد بن عبدالله، ابي عبدالله. (۱۳۵۰هـ ق). مشکوة المصابیح، ډهلي: اصح المطابع.

۵. بلخي، محمد ابراهیم. (۱۳۹۳هـ ش). میراث نظري و تطبیقي، کابل: انتشارات مستقبل.

۶. جهیر، عبدالعظیم. (۱۳۹۹هـ ش). زنان وحق میراث، کابل: وزارت حج و اوقاف ریاست تدقیق و مطالعات علوم اسلامي.

۷. جهیر، عبدالعظیم. (۱۳۹۹هـ ش). مهریه زنان از دیدگاه اسلام، ناشر: وزارت حج و اوقاف ریاست تدقیق و مطالعات علوم اسلامي، کابل.

۸. حمیدي، دوکتور عبدالباري. (۱۳۹۲هـ ش). حق میراث، دوهم چاپ، ناشر: مطبعه نعمانی، کابل.

۹. د افغانستان د حج اوقافو وزارت (۱۳۹۷هـ ش) د قرانکریم د معانیو پښتوترجمه او تفسیر، جلد (۱)

۱۰. د افغانستان د حج اوقافو وزارت (۱۳۹۷هـ ش) د قرانکریم د معانیو پښتوترجمه او تفسیر، جلد (۲)

۱۱. د عدلي وزارت رسمي جریده. (۱۳۵۵ل). د افغانستان مدني قانون، پرلپسې ګڼه: (۳۵۳).

۱۲. شیخ احمدي، عبدالبصیر. (۱۳۹۵هـ ش). مهر و نفقه، چاپ۵، ناشر: افغان مارک، کابل.

۱۳. عبدالعظیم بن بدوی، مترجم: عبدالله محمدي. (۱۳۹۰هـ ش). مختصر از قران و سنت، چاپ۳، ناشر: احسان، کابل.

۱۴. عدالتخواه، عبدالقادر. (۱۳۷۸هـ ش). حقوق فامیل، بنګاه انتشارات ومطبعه میوند، کابل.

۱۵. کاکړ، الحافظ مولوي شایق احمد همیم. (۱۳۸۶ هـ ش). د ښځود حقوقو څخه دفاع په قران او سنتو کې.

**محمد عمران دولتزی**

حقوقو څانګه، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، التقوی پوهنتون

# د اسلام له نظره شخصیت جوړونه او مرحلې یې

**لنډیز**

دا علمي مقاله د (د اسلام له نظره شخصیت جوړونه او مرحلې یې) تر عنوان لاندې لیکل شوې، چې موخه یې د اسلامي شریعت په رڼا کې د انسان د شخصیت د جوړښت بنسټونه، ارزښت، ډولونه، خنډونه، او د اصلاح لارو څرګندول دي. څېړنه د کتابتوني تګلارې پر بنسټ، د قرآن، سنت، نبوي سیرت او د اسلامي او روانشناسۍ علماوو له نظرونو څخه ګټه اخلي. د مقالې مهم ټکي دا دي، چې شخصیت جوړونه یو تدریجي، فطري او اصلاح پذیر بهیر دی، چې د ماشومتوب، ځوانۍ او زړښت هر پړاو یې ځانګړې اړتیاوې لري، همداراز اسلام د عقیدې، عبادت، اخلاقو، علم او ټولنیزو تعاملاتو له لارې د یو متوازن شخصیت روزنه تضمینوي، څېړنه دا هم څرګندوي، چې د شخصیت کمزوري یوه ټولنیزه او فکري ستونزه ده، نه فطري ناتواني او دا کمزوري د دیني ارزښتونو نشتوالي، فاسدو ملګرو، شهواني غوښتنو او بې‌هدفۍ له امله رامنځته کیږي، مقاله د دې خنډونو لپاره عملي حل لارې لکه صالحه تربیه، سالم چاپېریال، د نبوي سیرت پیروي او دیني روزنه وړاندیز کوي په پای کې، څېړنه دا څرګندوي، چې اسلامي شخصیت جوړونه نه یوازې د فردي اصلاح لاره ده، بلکې د ټولنې فکري، اخلاقي او معنوي ثبات ته هم زمینه برابروي.

**کلیدي کلمې:** پړاوونه، شخصیت، حدیث، خنډونه، قران.

**سریزه**

الحمد لله الذي خلق الإنسان وسوّاه، وكرّمه بالعقل والفطرة وهداه، وأشهد أن لا إله إلا الله، وحده لا شريك له، وأشهد أن محمدًا عبده ورسوله، صلى الله عليه وعلى آله وأصحابه، ومن سار على نهجه واقتفى أثره إلى يوم الدين.

أما بعد: (قَدْ أَفْلَحَ مَن زَكَّاهَا وَقَدْ خَابَ مَن دَسَّاهَا)( الشمس، ایت شمېره: ۹۱۰)

**ژباړه:** په رښتیا سره برې وموندهٔ هغه چا چې هغه دنفس تزکیه وکړه او ناکام شو هغه څوک، چې هغه یې لاندې پټ کړ.

قران هغه کتاب دی، چې د انسان ظاهري، باطني، دونیاوي او اخروي، فردي او ټولنیز جوړښت ته یې ځانګړې پاملرنه کړې.

د یو انسان شخصیت هغه جامع جوړښت او الهی ستر نعمت دی، چې د ده افکار، احساسات، چلند، اخلاق او ټولنیز تعاملات پهکې راټولیږي. په هره عصري او پرمختللې ټولنه کې د شخصیت د روزنې او جوړونې موضوع د فرد او ټولنې د پرمختګ یو بنسټیز اړخ ګڼل کیږي، چې له همدې امله دغه موضوع داسلامي شریعت په رڼا کې څېړل کیږي، د اسلام مبارک دین د انسان د ژوند د ټولو برخو لپاره بشپړ لارښود دی، دغه څېړنه کې به داسلام په رڼاکې د شخصیت جوړونې ارزښت، بنسټونه، مرحلې، د شخصیت جوړونې په اړه د اسلام لارښوونې، د شخصیت ډولونه، د شخصیت جوړونې پر وړاندې خنډونه او د حل لارې د اسلامي شریعت له نظره څېړل کیږي، ترڅو هغه نیمګړتیاوې، چې د شخصیت جوړونې له پلوه په افغاني ټولنه کې شتون لري له منځه لاړې شي، د شخصیت جوړونې بنسټونو او لارښوونو پېژندنه او عملي کول د هر مسلمان وګړي دنده ده پر همدې اساس هڅه کیږي، چې د شخصیت د جوړونې مفاهیم، اسلامي اساسات، قرآني لارښوونې، نبوي اخلاق او د تاریخ د سترو شخصیتونو مثالونه تحلیل او تشریح شي، څو دا

څرګنده شي، چې یو مسلمان شخصیت څنګه رامنځته کیږي او څنګه کولی شي د ټولنې لپاره یو ګټور، فکري او مثالي انسان وګرځي.

## د موضوع اهمیت

دغه لیکنه، چې د اسلام له نظره شخصیت جوړونه او مرحلې یې د بحث لاندې نیسي، د هر مسلمان وګړي لپاره او په ځانګړي ډول نوي نسل ته ډېره ګټوره ده، ځکه اسلام دی، چې الهی لارښونې په کې شتون لري او پېژندل یې د هر مسلمان دنده ده، چې په همدی بناء دا موضوع څېړل کیږي او په بشپړېدو سره به یې خلک د شخصیت جوړونی لارې، بنسټونه، مرحلې او ډولونه داسلام په رڼاکې وپېژني، د څېړنې په پای کې به یې د سالمو اشخاصو لرونکي ټولنه ولرو، چې پرمټ به یې سوکاله او نیکمرغه ټولنه رامنځته شي.

## د موضوع مساله

څرنګه چې اسلام یو جامع نظام دی او د انسان د ژوند د هرې برخې په هره مرحله کې درغونې رغنده لار ښوونې لري او د انسان د شخصیت جوړونې په اړه په پوره ډول لار ښوونې او هڅونې کړي، کامل او رغنده بنسټونه یې رامنځته کړي، د شخصیت جوړونې اسباب، ځانګړتیاوې او مرحلې یې روښانه کړي او د خنډونو لپاره یې حل لارې هم په ګوته کړي، چې پرته له شکه په هره زمانه د شخصیت جوړونه ضروري ده. دا چې زیات شمېر خلک زموږ د ټولنې د شخصیت له اړخه نیمګړي دي اصلي لامل یې دا دی، چې د اسلامي اصولو له مخې د شخصیت جوړونې له لارښوونو څخه ناخبره دي، نو ضروری ده، چې دا چاره د دې څېړنې له لارې حل شي.

## د موضوع موخې

د دې څېړنې اساسي موخي په لاندي ډول دي:

١. د اسلامي نصوصو په رڼا کې د شخصیت جوړونې ارزښت، بنسټونه، مرحلې، اغېزناکه شخص، ډولونه، دخنډونو حل لارې او اړونده موضوعاتو پېژندل.

۲. دا روښانه کول، چې اسلام يو جامع نظام دی، چې د يو متوازن، اخلاقي، با مسوليته انسان په روزنه يې ټينگار کړی.

۳. دڅېړنې له لارې به داسلامي شريعت لارښوونې، د شخصيت جوړونې په اړه پوهاوی او د پوهاوي له لارې د ډېرو نیمگړتياو مخنيوی او اصلاح كول، چې ډېر وگړو پرې پوهاوی نه لري، لكه ظلم، دوكه، بې حيايي، دپردیو تقليد... او داسې نور.

**تگلاره**

دا څېړنه، چې دافغاني ټولنې لپاره داسلامي شريعت په رڼا کې ترسره کېږي کتابتوني بڼه لري، چې د شخصيت جوړونې ارزښت، بنسټونو، مرحلو، ډولونو او د ستونزو د حل لار به د اسلامي شريعت د اصولو له مخې په کې بحث صورت نيسي، چې له همدې امله يې بنسټيزه سرچينې يې قرآن كريم او د نبي كريم صلى عليه وسلم احاديث ټاکل شوي او د اړتيا پر بنا د علماوو نظرونه د يادې څېړنې د ښه وضاحت لپاره وړاندې شوي، څو هره برخه روښانه او په ښه ډول مستنده شي، د ښه پوهاوي په موخه څېړنه په مبحثونو مشتمله ده، چې هر مبحث يې داړتيا له مخې ځانگړي مطالب او جزونه لري، دنصوصو ژباړه په ساده او اسانه ډول ترسره شوې، ترڅو د ټولنې مؤمن او متدين وگړي په ښه ډول ترې گټه واخلي.

**تیرو ليكنو ته كتنه**

دا چې د شخصيت جوړونه په ا سلام کې لوی اهميت لری له همدې امله علماو دې برخه ته كار كړی او د شخصيت جوړونې په مختلفو اړخونو يې څېړنې کړي لكه، (بنا الشخصة المسلم ومواجهة التحديات/ د حسن موسى الصفار ليكنه ده، چې د شخصيت جوړونې غوره ځانكړتياوې او پر وړاندې يې گواښونه څېړل شوي. همدا ډول (اثر السنه في بنا الشخصية) د يحيى ضاحی ليكنه ده، د څېړنې تمركز يې په دې دی، چې حديث د انسان په شخصيت جوړونه کې له بېلابېلو اړخونو مهمې اغېزې

لري. (شخصية المسلم كما يصوغها الإسلام في الكتاب والسنة) د دكتور محمد على الهاشمي ليكنه ده، چې موخه يې د مسلمان داسې شخصيت جوړونه ده، چې قران او حديث غوښتنه کوي د شخصيت جوړونې په تړاو يې ځانګړي موارد په تفصيلي توګه يادکړي دي. البته په دې څېړنه کې په توپيري ډول هڅه شوې، چې د شخصيت جوړونې ارزښتونه، بنسټونه، ځانګړتياوې، ډولونه او پړ و ړاندې د شته خنډونو حل لارې په لنډ او منظم ډول په مورنۍ ژبه روښانه شي، ترڅو هغه ستونزې، چې زموږ ټولنه ورسر مخ ده، په ښه ډول يې له پوهاوي وروسته ستونزې حل کړي، چې دا ډول ليکنې د هر مسلمان او په ځانګړې ډول زموږ ټولنې ته ضروري دي، چې له وړاندې په دې ډول ليکنې شتون نه درلود.

**لومړي مبحث: د شخصيت پېژندنه**

د "شخصيت" كلمه د عربي ژبې له "شخص" څخه اخيستل شوې ده، چې جمعه يې اشخاص، شخوص او شِخاص راځي، چې شخوص ضد د هبوط ده معنا او مفهوم يې دا دی، چې هر هغه جسم، چې ارتفاع او ښکاره والی ولري د لغت له مخې ورته شخص ويلی شي. (كل جسم له ارتفاع وظهور، والمراد اثبات الذات) هو الإنسان المُتميّز عن غيره (۳: ۱۹ جلد، ۸۵).

په اصطلاح کې شخصيت د انسان د هغو ټولو ذهني، رواني، اخلاقي، عاطفي او سلوکي ځانګړتياوو مجموعې ته ويل کېږي، چې له مخې يې يو انسان له بل څخه توپير پيدا کوي. دا ځانګړتياوې په انسان کې وجود لري او د هغه د چلند، پرېکړو او تعامل بنسټ جوړوي (انها مجموعه من الصفات الجسديه والنفسيه، (مكتسبه و غير مكتسبه) والعادات و التقاليد و القيم متفاعله من حيث يراها الاخرون من خلال التعامل فى الحياة الاجتماعيه) يعنی شخصيت هغه مجموعه ده چې د انسان د فکر، احساس، چلند او باورونو استازيتوب کوي او د انسان د اعمالو منعکسوونکی جوړښت دی.

ابن مسکویه وایي شخصیت د انسان د عقل، نفس او خویونو داسې جوړښت دی، چې له مخې یې د خیر او شر، حق او باطل تر منځ تمیز کولای شي. (۲: ۷).

امام غزالي د شخصیت بنسټ د نفس، عقل، زړه او اخلاقي صفاتو ترکیب بولي، چې د دین، علم او عمل پر بنسټ وده کوي (۱۳: ۳ جلد، ۵- ۳۰).

سیگمونډ فروید (sgimund freud) شخصیت د شعوري، نیمه شعوري او لاشعوري برخو مجموعه بولي، چې د انسان افکار، هیلي او کړنې تنظیموي (J. Riviere, Trans. London.:۱۸)

گوردن آلیپورت (Gordon Allport) وایي: شخصیت د هغو رواني او جسمي سیستمونو یوه پخه او ځانگړې مجموعه ده، چې انسان سره مرسته کوي، څو خپل چاپېریال ته ځانگړی غبرگون وښیي (Allport, 1937).

**د پورته تعریفاتو په پایله کې ویلای شو چې:**

شخصیت د انسان د داخلي ځانگړنو، ذهني تمایلاتو، د فکر د طریقې، اخلاقو، عقایدو او ټولنیزو تعاملاتو مجموعه ده، چې له مخې یې انسان پېژندل کیږي او له نورو سره توپیر لري.

## دویم مبحث: د شخصیت ارزښت په قرآن او نبوي سنتو کې

اسلام هغه مبارک دین دی، چې د انسان شخصیت ودې ته له هر اړخه (ظاهري، باطني، مادي، معنوي، دنیاوي او اخروي) یې پاملرنه کړې ده. د لندېز له مخې که د شخصیت جوړونه د اخلاقو له اړخه وڅېړو، نو ښکاري، چې اخلاق د شخصیت جوړونې تر ټولو مهمه برخه ده. اخلاق په عباداتو، معاملاتو او عادتونو کې عملي بڼه لري. د دې ارزښت د بېلگې په توگه د رسول ﷺ لوړ اخلاق او د هغه د صحابه کرامو بشپړ شخصیتونه یادولی شو.

رسول صلی الله علیه وسلم لوړ شخصیت درلود او د شخصیت جوړونې ستر لارښود و. د شخصیت او اخلاقو په اړه الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایي: ﴿وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ﴾ (القلم، ایت شمېره: ۴).
**ژباړه:** بېشکه ته (ای محمد ﷺ) د لوړ اخلاقو پر مرتبه ولاړ یې (۱۵: ۹۳۶).

د رسول صلی الله علیه وسلم د بعثت موخه د انسان د شخصیت جوړونه ښوول شوې ده، چې فرمایي: (إنما بُعثتُ لأتمم مکارم الأخلاق) (۹: ۱۰ جلد، ۱۹۱).
**ژباړه:** زه د دې لپاره رالېږل شوی یم، چې د اخلاقو غوره معیارونه بشپړ کړم.

دا یو څرګند حقیقت دی چې د اسلام د اصولو په تطبیق سره د انسان شخصیت پوره کېږي او د هر ډول نیمګړتیاوو مخه نیول کېږي. د انبیاء علیهم السلام شخصیتونه د ژوند د شخصیت جوړونې لپاره روښانه سمبولونه او ښکلې بېلګې دي:
۱. حضرت یوسف علیه السلام: صبر، عفت او عفو.
۲. حضرت موسی علیه السلام: استقامت او جرأت.
۳. رسول الله ﷺ: تواضع، رحمت، عدل او صداقت.

**درېیم مبحث: د شخصیت جوړونې بنسټونه (عناصر)**

اسلام د انسان د شخصیت د جوړونې لپاره ځانګړي بنسټونه ټاکلي دي، چې د همدې عناصرو پر مټ یو مسلمان د دنیا او آخرت دواړو بریالیتوب ته رسېږي، د شخصیت مهم بنسټونه په لاندې ډول دي:

۱. **توحید او ایمان:** ایمان د شخصیت د جوړونې تر ټولو اساسي بنسټ دی، د الله جل جلاله یاد او توحید د زړه سکون، ډاډ او ثبات رامنځته کوي. ﴿أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ﴾ (الرعد، ایت شمېره: ۲۸).

**ژباړه:** خبردار اوسئ! د الله (ج) په یاد زړونه ډاډ مومي.

**۲. عبادات او د نفس تزکیه:** عبادت د انسان او الله تعالی جل جلاله ترمنځ اړیکه ټینګوي او د تقوا روزنه کوي، چې انسان له ګناهونو وساتي. ﴿قَدْ أَفْلَحَ مَن زَكَّاهَا﴾ (الشمس، ایت شمېره: ۹).

**ژباړه:** بریالی شو هغه څوک چې خپل نفس یې پاک کړ.

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ﴾. (التوبة، ایت شمېره: ۱۱۹).

**ژباړه:** ای مؤمنانو! له الله (ج) څخه ووېرېږئ او د رښتینو خلکو ملګري اوسئ.

**۳. اخلاق او کردار:** اسلام د شخصیت جوړونې لپاره د غوره اخلاقو شتون اړین بولي: ص، داقت، امانت، حیا، عفو، او انصاف د اسلامي شخصیت ځانګړتیاوې دي. ﴿وَقُولُوا لِلنَّاسِ حُسْنًا﴾ (البقره، ایت شمېره: ۸۳)

**ژباړه:** خلکو ته ښې خبرې وکړئ.

**حدیث:** رسول الله ﷺ وفرمایل: (إِنَّمَا بُعِثْتُ لِأُتَمِّمَ مَكَارِمَ الأَخْلَاقِ)

**ژباړه:** زه د نیکو اخلاقو د بشپړتیا لپاره رالېږل شوی یم.

**۴. علم او پوهاوی:** علم د شخصیت د کمال او لوړتیا بنسټیز شرط دی، ﴿يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ﴾ (المجادلة، ایت شمېره: ۱۱).

**ژباړه:** الله (ج) به له تاسو څخه مؤمنان او هغه څوک، چې علم ورکړل شوی وي، څو درجې لوړ کړي.

**حدیث:** (طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيضَةٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ)

**ژباړه:** د علم زده کړه پر هر مسلمان فرض ده.

**۵. نیت اصلاح کول:** عملونه د نیتونو په اساس ارزښت لري، نو ښه نیت د شخصیت د جوړښت اصلي برخه ده.

**حدیث:** (إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ)

**ژباړه:** د اعمالو ارزښت د نیتونو پورې تړلی دی.

٦. **صبر او ثبات:** صبر د قوي شخصیت نښه ده، په ځانګړي ډول د ستونزو او ازموینو پر مهال. ﴿وَاصْبِرُوا إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ﴾ (الأنفال، ایت شمېره: ۴۶).

**ژباړه:** زغم وکړئ، الله تعالی جل جلاله، له صابرانو سره دی.

۷. **مشوره او د نصیحت قبلول:** مشوره د اسلامي شخصیت مهمه ځانګړتیا ده. یو باشخصیته انسان د نورو سلا قبلوي او پر نقد سینه تنګوي نه. ﴿وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ﴾ (آل عمران، ایت شمېره: ۱۵۹).

**ژباړه:** په چارو کې ورسره مشوره وکړه.

۸. **عدالت او انصاف:** عدالت د اسلامي شخصیت ستنه ده، که څه هم د خپل ځان یا خپلوانو پر زیان تمام شي. ﴿كُونُوا قَوَّامِينَ بِالْقِسْطِ شُهَدَاءَ لِلَّهِ وَلَوْ عَلَىٰ أَنفُسِكُمْ﴾ (النساء، ایت شمېره: ۱۳۵).

**ژباړه:** د عدالت ټینګ ساتونکي او د الله لپاره شاهدان اوسئ، که څه هم پر خپله ګټه تمام نه شي.

۹. **خدمت او ایثار:** یو بشپړ اسلامي شخصیت باید د ټولنې لپاره ګټور وي او د نورو په خدمت کې ژوند وکړي.

**حدیث:** (خَيْرُ النَّاسِ أَنْفَعُهُمْ لِلنَّاسِ)

**ژباړه:** غوره خلک هغه دي چې نورو ته ډېر ګټور وي.

### څلورم مبحث: د اغېزناک شخصیت ځانګړنې

اغېزناکه شخصیت هغه دی، چې د خپلو خبرو، عمل، اخلاقو او چلند له لارې د خلکو په افکارو او سلوک بدلون راولي. د اسلام مبارک دین هم د شخصیت جوړونې ته خاصه توجه کړې او د رسول الله ﷺ سیرت یې غوره بېلګه ده.

د اغېزناک شخصیت ځانګړنې عبارت دي له:

**۱. عقیدوي ځانګړتیا:** لکه ایمان په الله تعالی جل جلاله، ملایکو، کتابونو، رسولانو، بعث بعدالموت، قضا د خیر او شر.

**دلیل:** (آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْهِ مِن رَّبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ ۚ كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ...) (البقره، ایت شمېره: ۲۸۵).

**ژباړه:** پیغمبر (ص) پر هغه هدایت ایمان راوړی دی، چې د هغه د رب له خوا پر هغه نازل شوی دی او څوک، چې د دې پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) منونکي دي هغوی هم دا هدایت د زړه په مینه منلی دی. دوی ټولو الله تعالی جل جلاله، پرښتې، د هغه کتابونه او د هغه پیغمبران (ع) منلي دي (۱۵: ۱۰۰).

**۲. عبادتي ځانګړتیا:** لکه لمونځ، زکات، روژه، حج، د قرآن تلاوت، ذکر، په الله تعالی جل جلاله توکل او داسې نور عبادات تر سره کول.

**دلیل:** (وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ...) (البقره، ایت شمېره: ۴۳).

**ژباړه:** او لمونځ قائم کړئ، زکات ورکړئ (۱۱: ۱۵).

همدارنګه (وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ) (آل عمران، ایت شمېره: ۱۲۲).

**ژباړه:** او مؤمنان باید یوازې پر الله تعالی جل جلاله توکل ولرئ (۱۵: ۱۳۷).

**۳. عاطفي ځانګړتیا:** ترحم، صله‌رحمي، د ګناه رامنځته کېدو پر وخت خپل نفس ملامته کول، زغم، صبر، له خلکو سره محبت او ضرر نه رسول.

**دلیل:** (وَمَا أُبَرِّئُ نَفْسِي إِنَّ النَّفْسَ لَأَمَّارَةٌ بِالسُّوءِ إِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّي ۚ إِنَّ رَبِّي غَفُورٌ رَّحِيمٌ) (یوسف، ایت شمېره: ۵۳).

**ژباړه:** زه د خپل نفس ښه نه وایم، نفس خو پر بدی هڅوونکی دی، مګر هغه څوک چې زما د رب رحمت ورسره وي، بېشکه زما رب بښونکی او رحم کوونکی دی (۱۵: ۵۲۰).

(الرَّاحِمُونَ يَرْحَمُهُمُ الرَّحْمَنُ) (۸: ۴ جلد، ۳۲۳).

**ژباړه:** په رحم کوونکو خلکو باندې الله تعالی جل جلاله رحم کوي.

**۴. جسمي ځانګړتیا:** نظافت، غښتلتیا او صحت ته پاملرنه.

**دلیل:** (الطُّهُورُ شَطْرُ الْإِيمَانِ) (۵: ۲۰۳).

**ژباړه:** پاکوالی د ایمان یوه برخه ده.

(إِنَّ خَيْرَ مَنِ اسْتَأْجَرْتَ الْقَوِيُّ الْأَمِينُ) (القصص، ایت شمېره: ۲۶).

**ژباړه:** له هغو دوو ښځو يوې خپل پلار ته وويل: «پلاره! دغه سړی نوکر ونيسه، ځکه ډېر ښه سړی چې ته يې نوکر نيسې، هماغه کېدای شي، چې قوي او امانتدار وي (۱۵: ۵۱۵).

(إِنَّ لِجَسَدِكَ عَلَيْكَ حَقًّا). (٦: ۵ جلد، ۹۴)

**ژباړه:** ستا د جسد پر تا حق دی.

**۵. عقلي ځانګړتیا:** تفکر، د علم غوښتنه، له بدګمانۍ او ړوند تقليد څخه ځان ساتل.

**دلیل:** (قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ) (الزمر، ایت شمېره: ۹).

**ژباړه:** ایا پوهېدونکي او نه پوهېدونکي یو شان کېدای شي؟ نصيحت يوازې د پوهې خاوندان مني (۱۵: ٦٧٨).

(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيراً مِّنَ الظَّنِّ...) (الحجرات، ایت شمېره: ۱۲)

**ژباړه:** اې مؤمنانو! له ډېرو ګومانونو ډډه وکړئ، ځکه ځینې ګومانونه ګناه ده (۱۵: ۸۱۰).

**٦. ټولنيزه ځانګړتیا:** مرسته او همکاري کول، امر بالمعروف او نهی عن المنکر، عفو او داسې نور.

**دلیل:** (وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى) (المائده، ایت شمېره: ۲).

**ژباړه:** په هغو کارونو کې له ټولو سره مرسته وکړئ چې د نیکۍ او خدای پالنې وي (۱۵: ۲۱۸).

(وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ...) (آل عمران، ایت شمېره: ۱۰۴).

**ژباړه:** په تاسو کې باید داسې خلک وي، چې د نیکۍ لورې ته بلنه او په ښو امر کوي (۱۵: ۱۳۲).

**۷. اخلاقي ځانګړتیا:** ریښتیا، امانت، صبر، تواضع، حلم، شجاعت او داسې نور ځان کې راوستل.

**دلیل:** (إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ) (البقره، ایت شمېره: ۱۵۳).

**ژباړه:** الله تعالی جل جلاله د زغم لرونکو ملګری دی (۱۵: ۴۴).

(إِنَّمَا بُعِثْتُ لِأُتَمِّمَ مَكَارِمَ الْأَخْلَاقِ). (۱٦: ۲جلد، ۹۰۴)

**ژباړه:** زه د نیکو اخلاقو د بشپړتیا لپاره رالېږل شوی یم.

**۸. فامیلي ځانګړتیا:** خرچه کول، حسن معاشرت، له والدینو سره احسان او داسې نور کارونه.

**دلیل:** (وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا) (الإسراء، ایت شمېره: ۲۳).

**ژباړه:** له مور او پلار سره ښه چلند وکړئ (۱۵: ٦۱۷).

(كَفَى بِالْمَرْءِ إِثْمًا أَنْ يُضَيِّعَ مَنْ يَقُوتُ) (۴: ۱جلد، ۵۲۹).

**ژباړه:** کافي ده د یو انسان لپاره ګناه، چې هغه څوک ضایع کړي، چې د هغه د روزۍ پر غاړه وي.

**۹. کارکسب ځانګړتیا:** کارکسب پیداکول، په کار کې اخلاص او په ښه طریقې ترسره کول، د ژوند لارې چارې برابرول او له احتیاج څخه ځان خلاصول.

**دلیل:** (فَامْشُوا فِي مَنَاكِبِهَا وَكُلُوا مِن رِّزْقِهِ) (الملک، ایت شمېره: ۱۵).

**ژباړه:** هغه ذات، چې ستاسو لپاره یې ځمکه اسانه کړې، د هغې پر مخ وګرځئ او د خدای (ج) روزي وخورئ (۱۵: ۹۳۱).

(مَا أَكَلَ أَحَدٌ طَعَامًا قَطُّ خَيْرًا مِنْ أَنْ يَأْكُلَ مِنْ عَمَلِ يَدِهِ) (٦: ٥ جلد، ٢٤٢).

**ژباړه:** هېڅا داسې غوره خوراک نه‌دی خوړلی، لکه هغه، چې د خپل لاس له کسبه یې خوري.

**پنځم مبحث: د شخصیت جوړونې مرحلې**

د دې عنوان لاندې د شخصیت جوړونې مراحل د بحث لاندې نیسو.

**لومړی مطلب: (له تولد ـ تر بلوغیت پورې) مرحله**

د شخصیت جوړونې لومړنۍ مرحله (له تولد ـ بلوغیت پورې) مرحله ده، دا د شخصیت جوړونې اساسي مرحله ده ځکه په دې مرحله کې د شخصیت بنسټ ایښودل کیږي او په همدې مرحله کې انسان مینه، دسپلین، صداقت او امانتداري زده کوي، ماشوم تر ډېره د تقلید، ترغیب، عادت او احساساتي چلند له لارې تربیه کیږي.

رسول الله ﷺ فرمایي: (كُلُّ مَوْلُودٍ يُولَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ...) (٦: ٢جلد، ١٠٠).

**ژباړه:** هر ماشوم په فطرت زیږدلی وي.

د پورته حدیث شریف د مصداق مطابق هر ماشوم پاک فطرت لري خو وروسته یې والدین، چاپیریال او ټولنه یې شخصیت جوړوي.

په دې مرحله کې لازمه ده چې ماشوم ته د ښه سیرت ښودنه وشي، په نرمښت، مهربانۍ او مینه ناک شکل تربیه شي او د قرانکریم تعلیم او اسلامي ارزښتونو عادت ورکړل شي.

**دویم مطلب: (له بلوغیت ـ ځلوېښت کلنۍ پورې) مرحله**

د شخصیت جوړونې دویمه مرحله (له بلوغیت ـ ځلویښت کلنۍ) پورې ده، په دې مرحله کې د عقل، شهوت، ارادې او نفس تر منځ مبارزه زیاته وي؛ ځوان قوي بدني قوت لري خو تجربه او بصیرت یې لا پوره نه دي، دا مرحله د فعال شخصیت د تثبیت وخت دی چې په هغه کې ارمانونه، موخې او مشغولیتونه ټاکل کېږي.

الله تعالی جل جلاله فرمایي: ﴿إِنَّهُمْ فِتْيَةٌ آمَنُوا بِرَبِّهِمْ وَزِدْنَاهُمْ هُدًى﴾ (الکهف، ایت شمېره: ۱۳).

**ژباړه:** هغوی ځو تنه زلمیان وو، چې پر خپل رب یې ایمان راوړی و او موږ هغوی ته یې په هدایت کې زیاتوالی ورکړ (۱۵: ٦۴۰).

او د نبي صلی الله علیه وسلم حدیث دی: (سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللَّهُ. . . وَشَابٌّ نَشَأَ فِي عِبَادَةِ اللَّهِ...) (۵: ۲جلد، ۷۱۵).

**ژباړه:** اوه ډوله کسان دي چې یو یې هغه ځوان دی چې د الله په عبادت کې لوی شوی وي، دغه ډول خلک به د قیامت په ورځ د الله د عرش تر سیوري لاندې وي.

په دې مرحله کې لازمه ده چې یو انسان ته د نفس د کنټرول تمرین ورکړل شي؛ دیني، اخلاقي او مسلکي روزنه ورکړل شي؛ د موخې ټاکنه او رغنده بوختیاوې ور زده شي؛ ښو ملګرو ته وهڅول شي او له فاسدو ملګرو څخه وژغورل شي.

**درېیم مطلب: (له ځلویښت کلنۍ ـ د ژوند تر پای پورې) مرحله**

د شخصیت جوړونې درېیمه مرحله (له ځلویښت کلنۍ ـ د ژوند تر پای پورې) ده، دا د ثبات او حکمت مرحله ده، په دې مرحله کې د تېرو تجربو پایله څرګندېږي او ډېر خلک له دنیاوي تمایلاتو شاته کېږي او معنوي اړخ ته مخه کوي.

الله تعالی جل جلاله فرمایي: ﴿حَتَّىٰ إِذَا بَلَغَ أَشُدَّهُ وَبَلَغَ أَرْبَعِينَ سَنَةً قَالَ رَبِّ أَوْزِعْنِي أَنْ أَشْكُرَ نِعْمَتَكَ...﴾ (الاحقاف، ایت شمېره: ۱۵).

**ژباړه:** تر دې پورې چې کله هغه د خپل پوره قوت مرحلې ته ورسېد او څلوېښت کلن شو، نو ویې ویل: «ای زما ربه! ماته توفیق راکړه چې ستا د هغو نعمتونو شکر ادا کړم...» (۱۵: ۷۸۱).

په دې مرحله کې لازمه ده چې د نورو د اصلاح او مشورې ورکولو روحیه پیاوړې شي او معنوي پاملرنه، ذکر او د اخرت لپاره چمتوالی ونیسي او د نسل روزنه او د تجربو لېږد تر سره کړي.

**شپږم مبحث: د شخصیت ډولونه**

د دې عنوان لاندې د شخصیت په ډولونو او ځانګړتیاوو باندې بحث کوو.

**لومړی مطلب: قوی شخصیت**

هغه شخصیت دی، چې په خپل ځان باور لري او د شخصیت جوړونې ځانګړتیاوې ولري.

**د قوي شخصیت ځانګړتیاوې**

۱. په خپل ځان باور.

۲. له منفي افکارو او اعمالو څخه ځان ساتل.

۳. په ازاده او مستقل ډول د خپل نظر ښکاره کول.

۴. د خپلو معلوماتو او پوهې دایره پراخه ول.

۵. په خپلو نیمګړتیاوو اعتراف کول.

۶. خپل ځان مستقل شمېرل.

۷. د تېروتنې پر وخت د خجالت فکر نه کول.

## دویم مطلب: کمزوری شخصیت

د شخصیت د کمزورتیا عوامل ډېر دي، چې یو شخص د ژوند په بېلابېلو برخو کې له ستونزو سره مخ کولی شي. دا عوامل ممکن فکري، رواني، ټولنیز، تربیوي، مذهبي یا کلتوري ریښې ولري، دلته یې له مهمو عواملو یادونه کوو:

### د باور او اعتماد کمزورتیا

۱. ځان نه پېژندل یا د ځان ارزښت کم ګڼل.

۲. تل ځان له نورو کم ګڼل.

۳. له انتقاد څخه وېرېدل یا د نورو نظر ته زیات اهمیت ورکول.

### فکري او ذهني ګډوډي

۱. موخې نشتوالی.

۲. ذهني فشار، وسوسې، یا ناورینونه.

۳. د فکر کولو غلطې طریقې، لکه منفي اندیښنې، مبالغه، یا تعمیم ورکول.

### ناسم تربیوي چاپېریال

۱. په کوچنیوالي کې بې پامي، سپکاوی، یا تحقیر تجربه کول.

۲. د سختو، ناقصو یا بېمسؤلیته والدینو تر تاثیر لاندې روزل کېدل.

۳. له کوچنیوالي نه پرېښودل شوی مسؤلیت یا حتمي اطاعت ته اړ کېدل.

### ټولنیز فشار او د چاپیریال منفي اغېزې

۱. منفي ملګري یا ناوړه مجلس.

۲. له ټولنیزو فعالیتونو ځان ګوښه کول.

۳. د نورو لخوا مسخره کېدل یا ردېدل.

**د دیني او اخلاقي ارزښتونو نشتوالی**

۱. له دیني اصولو لرېوالی.

۲. د ژوند هدف نه درلودل.

۳. د آخرت او مسئولیت احساس نه لرل.

**تعلیمي او علمي کمزورتیا**

۱. کمزوری تعلیمي بنسټ یا د مطالعې نه علاقه.

۲. د مهارتونو نشتوالی لکه، خبرې کول، تصمیم نیول، مدیریت.

**فزیکي یا رواني روغتیایي ستونزې**

۱. ژور خپگان (Depression)، اضطراب، یا د شخصیت اختلالات.

۲. جسمي ضعف یا معیوبیت، چې پر رواني حالت اغېز کوي.

**اقتصادي فشارونه او فقر**

۱. مالي کمزورتیا چې د تصمیم نیولو، مشارکت یا مسؤلیتونو څخه انسان منع کوي.

۲. فقر چې انسان ته د احساس کموالی راولي (۱۴: ۲۱۸ -۲۲۴).

**اوم مبحث: د شخصیت جوړونې پر وړاندې خنډونه**

د دې عنوان لاندې د شخصیت جوړونې پر وړاندې خنډونه د بحث لاندې نیسو.

**لومړی جز: ناسم چاپېریال**

که ماشوم یا ځوان په داسې کور، ټولنه یا ملگرو کې وده وکړي چېرې، چې بې مسؤلیتي، غیبت، بې‌اخلاقي او فکري گډوډي عامه وي، نو شخصیت یې متزلزل او منفي جوړېږي.

مثال: یو ځوان، چې تل د تلوېزیون او انټرنیټ ناوړه محتوا ته لاسرسی لري، شخصیت یې منحرفېدلای شي.

**دویم جز: د دیني او اخلاقي تربیې نشتوالی**

د تقوا، صداقت، حیاء او اخلاص نشتون شخصیت ته زیان رسوي.

**دلیل:** رسول الله ﷺ فرمايي: (أدِّبوا أولادكم على ثلاث خصال: حب نبيكم وحب أهل بيته، وقراءة القرآن) (۱۱: ۱ جلد ۵۲).

**ژباړه:** خپل اولادونه پر درېو ځانګړنو وروزئ، د خپل پیغمبر (حضرت محمد ﷺ) مینه، د هغه د اهل بیتو مینه او د قرآن کریم تلاوت.

**درېیم جز: د موخې نشتوالی**

هغه څوک، چې هدف ونه لري، بې‌نظمه، بې‌مسؤلیته او مترد د شخصیت لري، نتیجه کې دا ډول کسان زر د فشارونو ښکار کېږي.

**څلورم جز: بد ملګري او فاسدې ټولنې اغېز**

بد ملګري د شخصیت بنسټ له منځه وړي، په ځانګړې توګه په ځوانۍ کې.

**حدیث:** (المرء على دين خليله...) (۴: ۴ جلد، ۴۰۷).

**ژباړه:** شخص د خپل دوست او ملګری پیرو وي.

**پنځم جز: نفساني غوښتنې (شهوت، غوسه، کینه)**

که چېرې انسان د خپلو نفساني خواهشاتو تابع شي شخصیت یې انحراف کوي.

**قرآني اصل:** (وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوَىٰ، فَإِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَأْوَىٰ) (النازعات، ایت شمېره: ۴۰-۴۱).

**ژباړه:** او چاچې د خپل رب په مخ کې له درېدونه وېره کړې وه او نفس یې له ناوړو غوښتنو څخه ساتلی و، نو جنت د هغه هستو ګنځی دی (۱۵: ۹۹۶).

**شپږم جز: د سالمو لارښوونکو نشتوالی**

کله چې انسان د ژوند لپاره سالم، متقي او هوښیار مقتدا ونه لري، نو په تقلید کې ګمراه کېږي. الله تعالی فرمايي: "فَبِهُدَاهُمُ اقْتَدِهْ" (الأنعام، ایت شمېره: ۹۰).

**ژباړه:** ای محمده (ص) ! هماغه کسان د الله له لورې هدایت پیداکوونکي و، د هماغو پر لاره ته هم لاړ شه. (۱۵: ۲۹۱)

## نهم مبحث: د شخصیت د جوړونې لارې چارې

د شخصیت جوړونې لارې لارې چارې عبارت دي له:

### ۱. د سالم چاپېریال برابرول

- کور، مدرسه، جومات او ټولنه باید داسې وي، چې ایمان، اخلاق، علم او ادب پکې وده کوي.
- سالمه فضا، پاکه محیط، مناسب دوستان او اخلاقي مشغولتیاوې ډېر ارزښت لري.

### ۲. د یني او اخلاقي روزنه

- له ماشومتوبه د تقوا، عبادت، صداقت او امانت پر صفاتو روزل.
- د نبوي اخلاقو پېژندنه او تقلید.

### ۳. هدف ټاکل او پلان جوړونه

- شخصیت باید هدف محوره وي، له الله تعالی جل جلاله سره اړیکه، علم، مهارت او خدمت باید هدفونه وي.
- مهالوېش، ځان ارزونه او دوامداره پرمختګ ته هڅونه.

### ۴. ښو دوستانو ته اهمیت ورکول

- ښه ملګری نیم ایمان دی، له فاسدو ملګرو او ناسالمو انلاین اړیکو نه ځان ساتل.
- د اسلامي ارشاداتو پر بنسټ دوستي کول.

### ۵. د نفس مجاهده

- د خواهشاتو مقابله، صبر، توبه او ذکر د نفس اصلاح ته اساس دی.
- عبادت، روژه، علم او مجاهده دا هغه سباب دی، چې نفس نرموي (۱۰: ۱ جلد، ۱۳۷).

### ٦. د سالمو قدرتونه پېژندل او تعقیبول

- لکه رسول الله ﷺ، صحابه، علماء او نیک خلک.
- سیرت مطالعه کول، تاریخ لوستل او د عبرت پېښو ته فکر کول.

**پایله**

۱. اسلام یو الهي، بشپړ او جامع دین دی، چې د انسان د ژوند ټولې برخې تر خپلې رهبرۍ لاندې راولي، له ولادت نه تر وفات او د فرد نه تر ټولنې پورې، چې تطبیق اختیاري موضوع نه، بلکې یو فریضه ده، ځکه چې دا د دنیا او آخرت د بریا بنسټیز شرط دی.

۲. اسلام د شخصیت جوړونې لپاره روښانه بنسټونه لري، لکه قوي عقیده، اخلاص، عبادت، علم، اخلاق او اخلاقي تعامل. دا بنسټونه د شخصیت ریښه او د ملا تیر تشکېلوي، د مسلمان د هویت پایښت ورباندې ولاړ دی او یو متوازن شخصیت د مثبت بدلون سره رامنځته کوي.

۳. د شخصیت جوړونه یوه، تدریجي پروسه ده، چې د ژوند په مختلفو، مرحلو کې یعني ماشومتوب، ځواني او زړښت کې صورت نیسي، هره مرحله ځانګړې اړتیاوې لري او ځانګړې روزنیزې لارې غواړي، چې اسلام يې د قرآني نصوصو، احادیثو، او د صحابه کرامو له سیرت څخه روښانه کوي.

۴. اسلام موږ ته د شخصیت جوړونې لپاره څرګندې لارښوونې وړاندې کوي، چې په هغې کې د تقوا، تواضع، صداقت، عفو، عدل، صبر، مشوره او نفع رسونې ارزښتونه شامل دي. دا لارښوونې نه یوازې فردي اصلاح ته لاره هواروي، بلکې ټولنیز ثبات او اخلاقي ارتقاء تضمینوي.

۵. اسلامي فکر د شخصیت ډولونه هم بیانوي، لکه قوي شخصیت (با اعتماده، هوډمن، متوکل) او ضعیف شخصیت (متزلزل، تقلیدي، بې هدفه)، چې دواړه د تربیې، چاپېریال او باور له مخې شکل نیسي.

۶. په څېړنه کې تحلیل شوي خنډونه، لکه فاسد ملګري، مادي غوښتنې، شهوتونه، د اسلامي ارزښتونو نشتوالی او د تربیې تشې دا ټول هغه عوامل دي، چې د شخصیت په وده منفي اغېزه لري، خو اسلام د دغو خنډونو لپاره واقعي، حل لارې وړاندې کوي، لکه علمي بیداري، تقوایي تربیه، صالح ملګرتیا، والدینو او ټولنې ګډ مسولیت او دوامداره اصلاح.

**مناقشه**

دا څېړنه څرګندوي، چې اسلامي شریعت د شخصیت جوړونې لپاره نه یوازې یو فکري چوکاټ لري، بلکې یو عملي نظام هم وړاندې کوي، چې د انسان ټول وجود فکر، احساس، عمل او هدف پوره رانغاړي. دا شخصیت جوړونه یوازې مذهبي موخه نه لري، بلکې انساني، ټولنیزې او اخلاقي موخې هم تعقیبوي، چې په نهایت کې سالم، متوازن او مثمر انسان تولیدوي.

د شخصیت بنسټونه لکه عقیده، عبادت او اخلاق په اسلامي فقه کې نه یوازې توصیه شوی اصول دی، بلکې د انسان د فطرت او فکري ودې لپاره عملي اړتیاوې دي. اسلام دا عناصر د تربیې او تزکیې وسیلې ګڼي، چې د انسان د نفس د اصلاح لپاره تدریجي او منظمه پروسه وړاندې کوي. د ژوند هر پړاو ته ځانګړې پاملرنه د اسلامي تربیې د جامعتوب څرګندونه کوي.

د شخصیت ډولونه، چې اسلامي نصوصو کې تعریف شوي دا وضاحت راکوي، چې نه هر انسان یو شان شخصیت لري او نه هم د شخصیت ضعف یو فطري حالت دی، بلکې دا د تربیې، عقیدې او ټولنیزو تعاملاتو پایله ده، له همدې امله اسلام د شخصیت اصلاح ممکنه بولي، تر څو یو ضعیف شخصیت هم بدل او پیاوړی شي.

**پايله اخيستنه**

۱. اسلام يو بشپړ، عملي او انساني نظام دی، چې د شخصيت جوړونې لپاره متوازن، فطري او الهي بنسټونه لري.

۲. د اسلامي شخصيت جوړونه د ژوند په ټولو پړاوونو کې تدريجي او هدفمند تربيت ته اړتيا لري، چې د قرآني اصولو او نبوي سيرت پر بنسټ ولاړه ده.

۳. اسلامي اخلاق، عبادتونه او ارزښتونه د شخصيت د ودې اساسي عناصر دي، چې هم فردي اصلاح تضمينوي او هم ټولنيز ثبات.

۴. د شخصيت کمزورتيا يوه تغيېردونکي پديده ده، چې له منفي خنډونو سره مبارزه او د اصلاح وسايل لکه تقوا، علم، صالحه ملګري، او روزنه کولی شي مثبت بدلون په کې راولي.

۵. د اسلام د شخصيت جوړونې نظام بايد د معاصرو ټولنيزو ستونزو د حل يو اساسي چوکاټ وګڼل شي او دا يوازې د فرد مسوليت نه دی، بلکې د کورنۍ، ښوونځي او ټولنې ګډ مسوليت دی.

**وړانديزونه**

۱. د کورنۍ، مدرسې او ټولنې درې‌ګونې ونډه دې فعاله شي، څکه چې شخصيت جوړونه يوازې فردي مسوليت نه دی.

۲. د اسلامي شخصيت جوړونې لپاره تخصصي څېړنيز مرکزونه دې رامنځته شي، څو د اسلامي شخصيت جوړونې موضوعات وپلټي او مناسبې لارې يې وړاندې کړي.

۳. د کمزوري شخصيت اصلاح لپاره فردي پلانونه ترتيب شي، څو کمزوری شخصيت يې پر پياوړي بدل شي.

۴. د شخصيت جوړونې له ولادت وړاندې مرحلې، چې په دې څېړنه کې ځای نه دی ورکړل شوی بايد په راتلونکو څېړنو کې ورته پاملرنه وشي.

## ماخذونه


قرانکریم

۱. ابن منظور، م. (کال نشته). لسان العرب. دار صادر، بیروت: الطبعة الأولی.

۲. ابن مسکویه. (کال نشته). تهذیب الأخلاق وتطهیر الأعراق، بیروت: دار المأمون.

۳. الغزالي، أ، ح. (کال نشته). إحیاء علوم الدین، بیروت: دار المعرفة.

۴. البیهقي، أ. ب. أ.، & ابن الترکماني، ع، ا. (۱۳۴۴ هـ). السنن الکبری وذیله الجوهر النقي، حیدر آباد: مجلس دائرة المعارف النظامیة الهند.

۵. کشاف، ق. ا. (کال نشته). د قرآن کریم پښتو ژباړه. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.

۶. ابن ماجه، م. ب. أ. (کال نشته). (سنن ابن ماجه (تحقیق، بیروت: دار الفکر.

۷. الطبراني، أ. ا. س. ب. أ. (۱۹۹۵) ). المعجم الأوسط (تحقیق، القاهرة: دار الحرمین.

۸. الترمذي، م. ب. ع. (کال نشته) سنن الترمذي تحقیق، بېروت: دار إحیاء التراث العربي.

۹. بن الحجاج، ابوالحسین مسلم. (کال نشته). صحیح مسلم، د محمد فؤاد عبدالباقي تحقیق، بیروت: دار احیاء التراث العربي.

۱۰. البخاري، أ. ع. م. ب. إ. (۱۴۲۲هـ). صحیح البخاري، بیروت: دار طوق النجاة.

۱۱. مالك بن أنس، أبو عبدالله الأصبحي. (کال نشته). موطأ الإمام مالك، بیروت: دار إحیاء التراث العربي.

۱۲. أبو داود، س. ب. أ. (کال نشته). سنن أبي داود، بیروت: دار الفکر.

۱۳. التل، ش. أ. (کال نشته). الشخصیة النفسیة من منظور إسلامي، دار الثقافة الإسلامیة.

۱۴. الفريح، ع. ب، و رضوان، أ. ش. (۲۰۱۴). التحرير العربي، مكتبة العبيكان.

۱۵. السيوطي، ج. د. ع. ر. (کال نشته). الجامع الصغير في أحاديث البشير النذير، بيروت: دار الفكر للطباعة والنشر والتوزيع.

۱۶. الزرعي، م. ب. أ. (۱۹۷۳. (مدارج السالكين بين منازل إياك نعبد وإياك نستعين، الطبعة الثانية، دار الكتاب العربي.

17. https: //www. aljoumhouria. com/ar/news/314372 .

18. Freud, S. (1923). The ego and the id (J. Riviere, Trans.). London: Hogarth Press. (Original work published 1923 (

19 .Allport, G. W. (1937). Personality: A psychological interpretation. New York: Holt

**جواد نیازی**
حقوقو څانګه، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، ننګرهار پوهنتون

# د جرایمو په ارتکاب کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي اغیزې

## (په لغمان ولایت کې تطبیقي بېلګې)

**لنډیز**

(د جرایمو په ارتکاب کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي اغېزې ـ په لغمان ولایت کې تطبیقي بېلګې) په موضوع کې په هغو عواملو څېړنه شوې، چې د ښځو پر وړاندې څه ډول تاوتریخوالی رواج یا دود شوی او د دغو ناوړو دودونو له امله ښځینه بیا کومو جرمي اعمالو ته لاس اچوي.

دا ډېره ارزښتمنه موضوع په دې اساس ده، چې ښځینه د ټولنې نیمایي برخه جوړوي او د ټولنې د راتلونکي نسل روزنه او پالنه کوي. که چېرې روزونکی ستونزې ولري، نو زده کونکی به خامخا له ستونزو سره مخ شي، چې په پایله کې ټولنه د خطر سره مخامخ کېږي. خو که چېرې د دغو ناوړو دودونو مخنیوی وشي، نو پر اساس به یې ټولنه هم اصلاح شي.

له دې څېړنیزې مقالې موخه دا ده، چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي بېلابېل ډولونه لکه فزیکي، رواني، جنسي او اقتصادي تاوتریخوالی تشریح کړي. همدارنګه، څېړنه د تاوتریخوالي د لاملونو په اړه هم بحث کوي او د هغو ټولنیزو، کلتوري، اقتصادي او رواني عواملو په اړه رڼا اچوي، چې د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی زیاتوي. دغه څېړنه د دې لپاره ترسره شوې، چې د ښځو د حقوقو د ساتنې لپاره عملي او مؤثرې لارې چارې وموندل شي. همدا راز، څېړنه د قانوني، ټولنیزو او حکومتي اقداماتو اهمیت ته اشاره کوي، چې څنګه د ښځو د حقوقو د ساتنې لپاره باید د تاوتریخوالي پر وړاندې جدي مبارزه وشي.

په دغه برخه کې د کتابونو ترڅنګ عملي برخه هم په پام کې نيول شوې ده، د دغو ناوړو دودونو په اړه نظرپوښتنه شوې او راټول شوي ارقام د SPSS سافټوير په وسيله تجزيه او په چارتونو کې ښودل شوي دي.

په پايله کې، د ښځو سره د تاوتريخوالي د رامنځته کېدو په نتيجه کې ښځينه د بېلابېلو جرايمو مرتکب کېږي لکه: ځان وژنه، د خپل ځان د دفاع لپاره فزيکي تاوتريخوالی، د مقابل کس وژل (چې تاوتريخوالی ترسره کوي)، د ښځو په فحشا کې ښکېل کېدل، د کور څخه تېښته او همداسې نورو بېلابېلو جرايمو ته لاس اچول، نو بناً، د ښځو پر وړاندې تاوتريخوالی د يوې جدي ټولنيزې ستونزې په توګه بايد په ښه توګه وڅېړل شي.

دغه څېړنه د ښځو د حقوقو د ساتنې لپاره د ټولنې، حکومت او نړيوالو سازمانونو په ګډو هڅو ټينګار کوي. د څېړنې پايلې ښيي، چې د ښځو پر وړاندې تاوتريخوالی يوازې د قانوني اقداماتو له لارې نه، بلکې د ټولنې په کلتور کې د بدلون راوستلو له لارې هم مخنيوی کېدای شي. د ښځو د حقوقو د ساتنې لپاره بايد ټولنيز ملاتړ، قانوني امنيت او د پرمختګ لپاره اړين تدابير وړاندې شي.

**کليدي کلمې:** تاوتريخوالی، تطبيقي بېلګې، د جرايمو ارتکاب، لغمان ولايت، ناوړه دود

**سريزه**

نَحْمَدُهُ وَنُصَلِّي عَلَى رَسُولِهِ الْكَرِيم، أَمَّا بَعْدُ، فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

د ښځو پر وړاندې تاوتريخوالی د پخوا زمانې څخه شتون درلود. د بېلګې په توګه د اسلام څخه مخکې د عربو لخوا ژوندۍ نجونې خښول کېدې. د اسلام مبارک دين

په راتګ سره د انساني کرامت په اړه ګڼ شمېر آیتونه نازل شول، الله تعالی جل جلاله په قرآن کریم کې فرمايي:

»يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَىٰ وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ« (الحجرات: ۱۳)

ژباړه: «ای خلکو! بېشکه موږ تاسو له یوه سړي (آدم) او یوې ښځې (حواء) څخه پیدا کړي یاست، او مو ستاسو څخه قومونه او قبیلې جوړ کړي، تر څو یو له بل سره وپېژنئ. بېشکه ستاسو له منځه تر ټولو معزز د الله تعالی جل جلاله په نزد ډېر متقي دی. الله ښه پوهېدونکی او باخبره دی» (کابلي تفسیر: ۱۲۱۵).

اسلام د ټولو معاصرو ټولنو په خلاف ښځې ته درناوی وکړ. ښځه یې د جبر، حماقت، جهالت او ناوړه دودونو له هغو ځنځیرونو خلاصه کړه، چې تصور یې نه کېده. د مېرمنې په توګه یې ښځه د مېړه لپاره د ډاډ او سکون سرچینه وګرځوله، د لور په توګه یې جنت ته د داخلېدو سبب وګرځوله، او د مور په توګه یې جنت د هغې تر پښو لاندې کړ. د مسجد دروازه یې د دوی پر مخ پرانیستله، د جمعې او اخترو په لمانځونو کې یې د رسول الله ﷺ خطبې واورېدې، د خپلو حقوقو د ترلاسه کولو لپاره یې غږ اوچت کړ او ټول اساسي حقوق ورکړل شول.

خو متأسفانه د وخت له تېرېدو سره سره لا هم په ډېرو ټولنو کې د ښځو سره د تاوتریخوالي دغه ناوړه دود دوام لري. که څه هم بشري حقونه، دیني ارزښتونه او اخلاقي اصول د هر فرد د درناوي او مساوي حقونو ټینګار کوي، خو دغه دودونه له نسلونو راهیسې پاتې دي او د ټولنیزو، فرهنګي او اقتصادي باورونو پر بنسټ جوړ شوي دي.

په ډېری ټولنو کې ښځې د جبري ودونو، ناموسي وژنو، د زده‌کړو د محدودیت، د کار د منع، او فزیکي او رواني تاوتریخوالي قرباني کېږي. د دې ستونزو تر شا هغه

ناسم دودونه پراته دي چې ښځه کمزورې ګڼي. دا ډول تاوتریخوالی نه یوازې د ښځو بشري حقونه تر پښو لاندې کوي، بلکې د ټولنې پر پرمختګ، اقتصاد او راتلونکو نسلونو هم ناوړه اغېز لري.

په دې څېړنه کې به وڅېړو چې د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی څه دی، د تاوتریخوالي ناوړه دودونه کوم دي، او کومې حل لارې شته چې دغه ناوړه دودونه پای ته ورسېږي او ښځو ته یو خوندي، عادلانه او عزتمند ژوند برابر شي.

## د څېړنې ستونزه

ولې په ټولنه کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي ناوړه دودونه شتون لري؟ دغه ناوړه دودونه د جرایمو په ارتکاب څه ډول اغېز لري؟ او ولې د ټولنیز ذهنیت یوه برخه ګرځېدلي دي؟ څنګه کولی شو چې دغه ناوړه دودونه له منځه یوسو؟

## د څېړنې اهداف

د دې څېړنې موخه دا ده چې د ناوړه دودونو او د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالي څېړنه وکړي، تر څو هغه عوامل په ګوته کړي چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي لامل کېږي.

## د څېړنې اهمیت

د دې څېړنې ارزښت په دې کې نغښتی دی، چې ښځې د ټولنې نیمایي برخه جوړوي، او د راتلونکي نسل د روزنې، پالنې او ارزښتونو د انتقال اساسي ونډه لري. که چېرې دا مهم قشر له ستونزو، ناوړه دودونو او تاوتریخوالي سره مخ شي، نو نه یواځې د هغوی فردي ژوند له ستونزو سره مخامخ کېږي او د هوساینې کچه ټیټېږي، بلکې پر راتلونکي نسل، د ټولنیز ثبات پر بنسټونو، او پر ټولنې د فکري، اخلاقي او اقتصادي پرمختګ په بهیر هم ژور منفي اغېز کوي.

ښځینه طبقه که له ذهني فشار، محرومیت او تاوتریخوالي سره ژوند وکړي، راتلونکی نسل به له کمزوري ذهنیت سره وروزي، چې پایله به یې د ټولنې د فکري، اخلاقي او اقتصادي انحطاط لامل شي. له همدې امله، که له یوې خوا ناوړه دودونه وپېژندل شي او مخنیوی ترې وشي، نو له بلې خوا به د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی راکم شي او ټولنه به د اصلاح، عدالت، پرمختګ او متوازن پرمختیا پر لور سوق شي.

**د څېړنې پوښتنې**

۱. د ښځو سره د تاوتریخوالي ناوړه دود څه شی دی؟

۲. د ښځو سره د تاوتریخوالي ناوړه دود ډولونه کوم دي؟

۳. دغه ناوړه دود له امله ښځې ولې او کوم جرایم ترسره کوي؟

**تېرو لیکنو ته کتنه**

په ننګرهار ولایت کې د ښځو د جرایمو څېړنه چې په (۱۳۹۱ هـ ل) کال کې د پوهاند احمد ګل واثق درانی لخوا ترسره شوې، د دې څېړنې په لیکلو کې ترې استفاده شوې ده.

"ناوړه دودونه او د شریعت په رڼا کې د هغوی حل لارې "کتاب چې په (۱۳۹۸ هـ ل) کال کې د شیخ فریدالله ازهري لخوا لیکل شوی او د ارشاد، حج او اوقافو وزارت د څېړنې او مطالعاتو ریاست لخوا چاپ شوی دی. په دغه کتاب کې د ښځو سره د تاوتریخوالي په اړه یوازې تر یو لنډ سرلیک لاندې بحث شوی، مګر پوره موضوع نه ده څېړل شوې.

"د معاشرې اصلاح او ادب "کتاب چې د شاهد عمران لخوا لیکل شوی او په (۱۳۸۹ هـ ل) کال کې د روغانیوال خپروندیه ټولنې لخوا چاپ شوی، په هغه کې هم د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي اړوند ځینې مواردو ته اشاره شوې، خو ټوله موضوع نه ده څېړل شوې.

WHO, LSHTM, SAMRC. *Global and regional estimates of violence against women: prevalence and health impacts of intimate partner violence and non-partner sexual violence.* WHO: Geneva, 2013.

په دې څېړنيزه مقاله کې د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي يو څو ډولونه څېړل شوي، خو ټول ډولونه نه دي په بشپړه توګه څېړل شوي.

Rose, J. (2021). *On violence and on violence against women.* Farrar, Straus and Giroux .

په دې کتاب کې هم په محدود ډول د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي څخه بحث شوی، مګر بشپړه موضوع نه ده څېړل شوې.

زما د څېړنې توپير او ځانګړتيا په دې کې ده، چې هڅه مې کړې د موضوع ټول اړخونه وڅېړم؛ هم د اسلامي شريعت په رڼا کې، چې د دغو ناوړو دودونو مخه يې نيولې ده او همدارنګه هغه عملي اړخونه مې څېړلي، چې د ښځو پر وړاندې تاوتريخوالی اوس هم په ټولنه کې شتون لري.

## د څېړنې د ليکلو ميتود

د څېړنې د ليکلو لپاره مې د دواړو (ميداني او کتابتوني) ميتودونو څخه استفاده کړې ده.

## لومړی مبحث: د ښځو سره تاوتريخوالی

د ښځو پر وړاندې تاوتريخوالی هغه عملونه او چلندونه دي، چې د ښځو پر وړاندې د ظلم، ځورونې، بې‌احترامۍ او فزيکي يا رواني زيانونو سبب کيږي. دا تاوتريخوالی په بېلابېلو بڼو ښکاره کيږي لکه، فزيکي، رواني، جنسي، اقتصادي او سياسي تاوتريخوالی. ښځې په ټوله نړۍ کې د دې ډول تاوتريخوالي سره مخ کيږي، چې له امله يې د دوی ټولنيز ځای، رواني وضعيت، د ژوند کيفيت او په ټولنه کې د ګډون فرصتونه زيانمنيږي.

## د ښځو سره د تاوتریخوالي ناوړه دود بیلګې

په افغاني ټولنه کې، په ډېرو کورنیو کې دا ډول کړنې لیدل کیږي لکه: وهل، ټکول او شکنجه کول. د دې لوی لامل د اسلامي شریعت د احکامو څخه ناخبري او انساني کرامت ته په درنه سترګه نه کتل دي. ځینې کسان ښځه یوازې د جنسي غوښتنو د پوره کولو لپاره کاروي.

په لاندې عنوانونو کې به په تفصیل سره په دې ناوړه دودونو بحث وشي:

## لومړی مطلب: د ښځو سره د تاوتریخوالي ناوړه دود پېژندنه

په افغاني ټولنه کې له هغو ناوړه دودونو څخه یو دا دی، چې د ښځو سره تاوتریخوالی کیږي، هغوی وهل ټکول کیږي، شکنجه کیږي، آن پوزه او غوږ پرېکول کیږي او دې ته ورته نورې کړنې ترسره کیږي. دا ټول د اسلامي شریعت او د زموږ د خوږ پیغمبر ﷺ د سیرت سره په ټکر کې دي او په کلکه منع ترې راغلې ده.

له عبدالله بن زمعه رضي الله عنه څخه روایت دی، چې نبي کریم ﷺ فرمایلي:

(عَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ زَمْعَةَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: لَا يَجْلِدْ أَحَدُكُمُ امْرَأَتَهُ جَلْدَ الْعَبْدِ ثُمَّ يُجَامِعُهَا فِي آخِرِ الْيَوْمِ) (صحیح البخاري: ۵۲۰۴).

**ژباړه:** د عبدالله بن زمعه رضي الله عنه څخه روایت دی، چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: (ستاسو څخه دې څوک خپله ښځه د غلام په څېر نه وهي، ځکه کېدای شي د ورځې په پای کې ورسره د نږدې کېدو اړتیا پیښه شي. نو له ناروا اړیکو د ژغورنې لپاره به بېرته اړ شي، او وروسته به پښېمانه وي. بناً، هېڅ څوک دې خپله ښځه د غلام په څېر نه وهي، که څه هم دا وهل یوازې د تادیب لپاره وي). (۱: ۱۴ـ ۱۵)

**دویم مطلب: د ښځینو سره د تاوتریخوالي ناوړه دود ډولونه**

د دې عنوان لاندې د ښځینو سره د تاوتریخوالي ناوړه دود ډولونو باندې بحث کوو.

**لومړی جز: فزیکي تاوتریخوالی**

فزیکي تاوتریخوالی هغه ډول تاوتریخوالی دی چې د ښځې بدن ته مستقیم زیان رسوي. دا یو فزیکي عمل دی چې د درد، ټپ، معیوبیت یا حتی مرگ سبب گرځي. د بېلگې په توگه: وهل ټکول، سوځول، په زور د زهرو ورکول، د بدن غړي پرې کول او په لوږه یا تنده ساتل.

**دویم جز: رواني یا ذهني تاوتریخوالی**

رواني یا ذهني تاوتریخوالی هغه ډول تاوتریخوالی دی چې د ښځې په ذهن او احساساتو باندې منفي اغېز کوي. دا ډول تاوتریخوالی فزیکي تاوتریخوالي په څېر ښکاره نه وي، خو د انسان په رواني حالت، ځان ارزونې، او احساساتو باندې ډېره ژوره اغېزه کوي. د دې ډول تاوتریخوالي موخه د ښځې شخصیت کمزوری کول، د هغې عزت‌نفس ته زیان رسول او د هغې پر احساساتو او ذهن باندې تسلط کول دي. د ذهني تاوتریخوالي بڼې عبارت دي له: تحقیر او سپکاوی، گواښ ورکول، بې‌باوري رامنځته کول، او د ښځې احساسات او فکرونه په شک کې اچول (WHO, LSHTM, & SAMRC, 2013).

**دریيم جز: جنسي تاوتریخوالی**

جنسي تاوتریخوالی هغه ډول تاوتریخوالی دی چې په کې یوه شخص (عموماً ښځه) پرته له هغې د رضایت یا اجازې، د بل شخص لخوا جنسي عمل ته اړ ایستل کېږي. دا د ښځې د جنسي ځان‌مختارۍ او د هغې د جسمي، ذهني او عاطفي

هوساينې خلاف عمل دی. د جنسي تاوتريخوالي ډولونه عبارت دي له: جنسي تېری (Rape) او جنسي تحقير (WHO, 2022).

## ځلورم جز: اقتصادي تاوتريخوالی

اقتصادي تاوتريخوالی هغه ډول تاوتريخوالی دی چې د ښځې مالي خپلواکي او اقتصادي منابع کنټرول يا محدودوي. دا ډول تاوتريخوالی د ښځې اقتصادي حقونه محدودوي او هغې ته د مالي چارو د خپلواک مديريت فرصت نه ورکوي. د دې هدف په ځانګړې توګه د ښځې د مالي او اقتصادي استقلاليت مخنيوی دی. د اقتصادي تاوتريخوالي ډولونه عبارت دي له: مالي منابعو ته محدود لاسرسی، د کار کولو پر وړاندې خنډونه، د خپل کار له ګټې اخيستلو محرومول، او د شتمنۍ او ميراث څخه بې‌برخې کول (۴: ۵۶).

## پنځم جز: کلتوري او دوديز تاوتريخوالی

کلتوري او دوديز تاوتريخوالی هغه ډول تاوتريخوالی دی چې د يوې ټولنې د دودونو او کلتور پر بنسټ ترسره کېږي. په دې حالت کې ښځه د ټولنيزو، کلتوري يا مذهبي معيارونو او قوانينو له مخې ځورول کېږي، او د هغې حقونه يا محدودېږي او يا هم له منځه ځي. دا ډول تاوتريخوالی په ځانګړې توګه د ټولنې د بې‌پامۍ او د ښځې د شخصيت د نه‌احترام له امله رامنځته کېږي. د کلتوري او دوديز تاوتريخوالي بېلګې: ناموسي وژنې، د ښځو د کار کولو مخنيوی، جبري ودونه، د ښځو د ميراث څخه محرومول (WHO, 2018).

## شپږم جز: سايبري يا انټرنيټي تاوتريخوالی

سايبري يا انټرنيټي تاوتريخوالی هغه عمل دی چې د انټرنيټ يا ټکنالوژۍ له لارې د يوې ښځې پر شخصيت، عزت او شخصي ژوند بريد کوي. په ځانګړې توګه د

جنسي ځورونې بڼه لري، کله چې یو څوک پرته له رضایت د ښځې جنسي څرګندونې، انځورونه یا پیغامونه غواړي او یا د هغې شخصیت ته زیان رسوي.

**بېلګې:** د سپکاوي او توهین امیزو پیغامونو استول، د شخصي معلوماتو خپرول، ګواښونه او ترهګري، د شخصیت او تصویر تحریفول (Garcia-Moreno et al., 2005; Merry, 2006).

**درېیم مطلب: د جرمونو په ارتکاب کې له ښځو سره د تاوتریخوالي ناوړه دود رول**

د ښځو سره تاوتریخوالی د جرمونو په رامنځته کېدو کې مهم رول لري. ډېری کورنی ناوړه حالتونه د ښځې او مېړه تر منځ د تاوتریخوالي له امله منځ ته راځي. که ماشومان هم په داسې چاپېریال کې وي، نو دا وضعیت د هغوی په روحي او اخلاقي جوړښت هم ژور اغېز کوي. د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي پایله دا ده چې ښځې ښایي د بېلابېلو جرمونو او ناوړه کړنو مرتکب شي، چې لاندې یې یو مهم اړخ بیانېږي (۳: ۹۶).

**لومړی جز: ځان وژنه یا د ځان وژنې هڅه (Suicide or Attempted Suicide)**

کله چې ښځې د رواني او فزیکي تاوتریخوالي سره مخ شي، ښایي د ناوړه فشارونو، خپګان او نا امیدی له امله ځان وژنه د حل لاره وبولي. ځینې وختونه ښځې د تاوتریخوالي د سخت فشار لاندې د ژوند د پای ته رسولو هڅه کوي. دا عمل نه یوازې د فردي زیان سبب ګرځي، بلکې د ټولنیزو ستونزو د رامنځته کېدو لامل هم کېږي (WHO, 2013).

**دویم جز: د خپل ځان دفاع لپاره فزیکي تاوتریخوالی (Physical Violence in Self-defense)**

کله چې ښځه د تاوتریخوالي سره مخ شي او ځان ته د ساتنې اړتیا ولري، نو ممکن د دفاع په موخه فزیکي تاوتریخوالی وکاروي. د بېلګې په توګه، که ښځه په کور کې د

مېړه یا بل کورني تاوتریخوالي سره مخ شي، هغه ممکن د ځان د ژغورنې لپاره فزیکي برخورد وکړي. دا عمل کېدای شي مقابل کس ته ضرر ورسوي. (۳: ۶۸)

**دریېیم جز: د کورنی یا د تاوتریخوالي کوونکي وژل (Killing the Abuser)**

په ځینو شرایطو کې، ښځې چې د اوږدمهاله او پراخ تاوتریخوالي سره مخ وي، ممکن د خپل ځان یا خپلو ماشومانو د ساتنې په موخه خپل مېړه یا د تاوتریخوالي کوونکی ووژني (Dobash & Dobash, 1992).

**ځلورم جز: د تاوتریخوالي د خلاصون لپاره جرمونو ترسره کول (Committing Crimes to Escape the Abuse)**

ځینې ښځې ممکن د تاوتریخوالي په شرایطو کې د مجبوریو له امله جرمونه ترسره کړي. دا کولی شي د غلا، درغلۍ، یا د مالي فشارونو د رفع کولو په شکل کې وي. ځینې وختونه ښځې د خپلو ماشومانو د ژوند د ښه کولو یا د تاوتریخوالي څخه د خلاصون په موخه جرمونو ته لاس وهي (Garcia-Moreno et al., 2005).

**پنځم جز: د ښځو په فحشا یا قاچاق کې ښکیل کېدل (Involvement in Trafficking or Prostitution)**

په ځینو مواردو کې، د تاوتریخوالي پر وړاندې د تسلیمۍ او د ځان د ژغورنې لپاره، ښځې د قاچاق یا فحشا په اړوند جرمونو کې ښکیل کیږي. دغه ښکېلتیا ممکن د بېوزلۍ، ټولنیزو فشارونو، یا اقتصادي ستونزو له امله وي، څو د تاوتریخوالي څخه ځان وژغوري (WHO, 2021).

**شپږم جز: د کور څخه تېښته (Escape from Home)**

کله چې ښځې د فزیکي، رواني، یا جنسي تاوتریخوالي سره مخ شي او نور هیڅ ډول ملاتړ یا مرستې ته لاسرسی ونه لري، ممکن د خپل ژوند د ژغورلو لپاره د کور څخه

تېښته وکړي. دا یوه اضطراري او د ځان د ساتنې هڅه ده. ځینې وختونه، تېښته د ښځو د شخصي خوندیتوب او د هغوی د ماشومانو د ژغورنې یوازینۍ لاره وي (۳: ۹۳).

## څلورم مطلب: په لغمان ولایت کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي تطبیقي بېلګې

په دې څېړنه کې د لغمان ولایت په څلورو ولسوالیو کې له ۳۰۰ کسانو سره مرکې ترسره شوې دي. د مرکو په ترځ کې د ګډونوالو د عمر، مدني حالت، د زده کړو کچه، او د تاوتریخوالي اړوند پوښتنې مطرح شوې دي. د راټولو شوو معلوماتو تحلیل د SPSSسافټویر په مرسته ترسره شوی دی. د هرې پوښتنې اړوند شمېرې په جدولونو کې وړاندې شوي او د ځواب ویونکو فیصدي د ګرافونو له لارې انځور شوې ده (Heise, 2011).

### لومړۍ پوښتنه: د ګډونوالو د عمر وېش

په دې برخه کې د څېړنې له ګډونوالو څخه د عمر په اړه پوښتنې شوې دي. د هغوی د عمر وېش په څلورو کټګوریو ویشل شوی دی:

۱. د ۱۸ کلونو څخه ښکته.

۲. له ۲۰ څخه تر ۳۵ کلونو پورې.

۳. له ۳۵ څخه تر ۵۰ کلونو پورې.

۴. د ۵۰ کلونو څخه پورته.

د دغو کټګوریو اړوند معلومات تحلیل او په جدولونو او ګرافونو کې د فیصدي په بڼه وړاندې شوي دي.

| د پوښتنې کوونکو د عمر څرنګوالي | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ولسوالي | | عمر | | | | Total |
| | | د اتلس کلونه څخه ښکته | 20-35 | 35-50 | د ۵۰ څخه پورته | |
| الینګار | Count | 18 (6.0%) | 17 (5.7%) | 17 (5.7%) | 18 (6.0%) | 70 (23.3%) |
| الیشنګ | Count | 19 (6.3%) | 18 (6.0%) | 19 (6.3%) | 19(6.3%) | 75 (25.0%) |
| دولت شاه | Count | 20 (6.7%) | 20 (6.7%) | 20 (6. 7%) | 22 (7.3%) | 82 (27.3%) |
| قرغه یي | Count | 19 (6.3%) | 17 (5.7%) | 18 (6. 0%) | 19 (6.3%) | 73 (24.3%) |
| مجموعه | Count | 76 (25.3%) | 72 (24 0%) | 74 (24.7%) | 78 (26.0%) | 300(100.0%) |

چې د دې پوښتنې په ځواب کې معلومات ترلاسه کېږي، چې ټول پوښتل شویو ۷۶ یې هغه اشخاص دي چې عمرونه یې د ۱۸ کلنو څخه ښکته دي، ۷۲ هغه کسان دي، چې عمرونه یې د ۲۰ او ۳۵ کلنو ترمنځ وي او ۷۴ هغه کسان دي، چې عمرونه یې د ۳۵ او ۵۰ کلنو تر منځه دي همدارنګه ۷۸ هغه کسان دي، چې عمرونه یې له ۵۰ کلنو څخه پورته دي.



## دويمه پوښتنه: د پوښتنې کوونکو مدني حالت

په دې برخه کې د څېړنې د پوښتل شويو پوښتنې کوونکو د مدني حالت څرنګوالی بيان شوی دی، چې په دې برخو متاهل، مجرد او ځينو يې دا پوښتنه نه ده ځواب کړې، چې معلومات يې په لاندې توګه تحليل شوي دي:

| | | | بې ځوابه | مجرد | متاهل | Total |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ولسوالي | الينګار | Count | 0(0.0%) | 5(2.1%) | 5(2.1%) | 10(4.2%) |
| | اليشنګ | Count | 1(0.4%) | 10(4.2%) | 63(26.2%) | 75(31.2%) |
| | دولت شاه | Count | 2(0.8%) | 30(12.5%) | 50(20.8%) | 82(34.2%) |
| | قرغه يي | Count | 2(0.8%) | 14(5.8%) | 57 (23.8%) | 73 (30.4%) |
| Total | | Count | 5(2.1%) | 59(24.6%) | 175(72.9%) | 240(100.0%) |

د دې پوښتنې په ځواب کې معلومات تر لاسه شوي، چې ټولو پوښتل شويو ۹ .۷۲ متاهل يا واده شوي ۶ .۲۴ سلنه مجرد او ۱ .۲ سلنه يې دې پوښتنې ته ځواب نه دي ويلی.



**درېيمه پوښتنه: د پوښتنې کوونکو د زده کړو کچه**

په دې برخه د څېړنې د پوښتل شويو کسانو څخه د هغوی د تعليم د کچې په اړه پوښتنه شوې، چې پوښتنه څلور برخې لري، چې لومړی بېسواد، دويم ابتدايه زده کړې يې کړي، درېيم دولسم پآس او اخر جز يې د لېسانس تر کچې، چې معلومات يې په لاندې توګه تحليل شوي دي:

| | | | د پوښتني کوونکو د سواد کچه | | | | | Total |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | بي سواده | ابتدايي زده کړي | دولسم پاس | لسانس | ماستر | |
| ولسوالۍ | الينګار | Count | 10 (3.3%) | 25 (8.3%) | 26 (8.7%) | 9 (3.0%) | 0 (0.0%) | 70 (23.3%) |
| | اليشنګ | Count | 13 (4.3%) | 37 (12.3%) | 21 (7.0%) | 4 (1.3%) | 0 (0.0%) | 75 (25.0%) |
| | دولت شاه | Count | 12 (4.0%) | 34 (11.3%) | 19 (6.3%) | 17 (5.7%) | 0 (0.0%) | 82 (27.3%) |
| | قرغه يي | Count | 7 (2.3%) | 21 (7.0%) | 17 (5.7%) | 27 (9.0%) | 1 (0. 3%) | 73 (24.3%) |
| Total | | Count | 42 (14.0%) | 117 (39.0%) | 83 (27.7%) | 57 (19. 0%) | 1 (0. 3%) | 300 (100.0%) |

چې د تحليل څخه وروسته ۱۴ سلنه هغه کسان دي، چې زده کړې يې نه دي کړي، ۳۹ سلنه هغه کسان دي، چې ابتدايي زده کړې يې کړي دي او ۲۷ سلنه هغه کسان دي، چې دولسم ټولګي څخه فارغ دي او ۱۹ سلنه هغه کسان دي، چې د لېسانس زده کړې يې کړي دي يو کس، چې تر ماستری يي زده کړې کړې وې.




## څلورمه پوښتنه: د ښځو سره تاو تریخوالی

په دي برخه د څېړنې د پو ښتل شويو کسانو څخه ښځو سره د تاو تريخوالي ناوړه دود د فيصدي له مخې د شتون پوښتنه شوې ده دا پوښتنه هم د تېر په څېر څلور برخې لري، چې لومړی يې شتون نه لري دويم يې ۲۵٪ دريېم يې ۵۰ ٪ څلورم يې ۷۵٪او وروستی جز يې ۱۰۰ سلنه، چې معلومات يې په لاندې توگه تحليل شوي:

| | | | د ښځو سره تاوتريخوالي ناوړه دود | | | | | Total |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | شتون نلري | ۲۵ فیصده | ۵۰ فیصده | ۷۵ فیصده | ۱۰۰ فیصده | |
| ولسوالۍ | الينگار | Count | 1 (0.3%) | 28 (9.3%) | 27 (9.0%) | 10 (3.3%) | 4 (1.3%) | 70 (23.3%) |
| | اليشنگ | Count | 1 (0.3%) | 27 (9.0%) | 30 (10.0%) | 12 (4.0%) | 5 (1.7%) | 75 (25.0%) |
| | دولت شاه | Count | 0 (0.0%) | 41 (13.7%) | 21 (7.0%) | 15 (5.0%) | 5 (1.7%) | 82 (27.3%) |
| | قرغه يي | Count | 0 (0.0%) | 30 (10.0%) | 28 (9.3%) | 8 (2.7%) | 7 (2.3%) | 73 (24.3%) |
| **Total** | | Count | 2 (0.7%) | 126(42.0%) | 106(35.3%) | 45 (15.0%) | 21 (7.0%) | 300 (100. 0%) |




چې د دې پوښتنې په ځواب کې ۲ کسانو ویلي، چې دغه ناوړه دود په لغمان ولایت کې شتون نه لري او همدارنګه ۱۲۶ کسانو دا ویلي، چې دغه ناوړه دود په لغمان ولایت کې ٪۲۵ شتون لري او همدارنګه ۱۰۶ کسانو دا ویلي، چې دغه ناوړه دود فیصدي په لغمان ولایت کې ۵۰ سلنه ته رسیږي او همدارنګه ۴۵ کسانو دا ویلي، چې د دې سلنه تر ۷۵ سلنې پورې ده او ۲۱ کسانو ویلي دي، چې دغه ناوړه دود ۱۰۰ سلنه شتون لري، چې د دغه جرم اړونده سلنه د ګراف په شکل لیداي شئ.

## پایله

د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی یوه جدي ټولنیزه، حقوقي او اخلاقي ستونزه ده، چې د نړۍ په بېلابېلو برخو کې شتون لري، خو په ځانګړي ډول په هغو ټولنو کې ډېر لیدل کېږي چې دودیز باورونه، ناسم تعبیر شوي فرهنګي ارزښتونه او جنسیتي نابرابري پکې حاکم وي. افغانستان هم له هغو هېوادونو څخه دی چې د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی پکې یوه عامه ستونزه ده، او د دې ستونزې عوامل سیاسي، ټولنیز، اقتصادي او فرهنګي اړخونه لري.

په افغانستان کې د ښځو د حقونو د محدودیتونو یو ستر لامل اوږدې جګړې، د قانون د حاکمیت کمزورتیا، سنتي دودونه، او د زده کړې او اقتصادي فرصتونو نشتون دی. ډېرې ښځې د کورني تاوتریخوالي، جبري ودونو، تعصب او د تعلیم له نه ترلاسه کولو سره مخ دي. سره له دې چې په تېرو څو لسیزو کې د ښځو د حقونو د خوندیتوب لپاره یو شمېر قوانین تصویب شوي، خو د دوی تطبیق لا هم یوه لویه ننګونه ده.

د دې ستونزې د حل لپاره اړینه ده چې د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی د ټولنې د ټولو قشرونو له لوري وغندل شي، قانوني اقدامات جدي ونیول شي، عامه پوهاوی زیات شي، او ښځو ته د زده کړې او اقتصادي پیاوړتیا فرصتونه برابر شي. نړیوالې تجربې ښيي چې کله ښځو ته زده کړې او کاري فرصتونه ورکړل شي، نه یوازې د دوی پر ژوند، بلکې د ټولنې پر اقتصاد او ثبات هم مثبت اغېز کوي.

په پای کې، د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي مخنیوی یوازې د دولت مسؤلیت نه دی، بلکې دا یوه ټولنیزه دنده ده چې کورنۍ، دیني عالمان، ټولنیز مشران او هر فرد پکې مسؤلیت لري. تر څو چې د ټولنې په فکري او فرهنګي جوړښت کې مثبت بدلون رانه شي، دا ستونزه نه شي حل کېدای. یوازې د قانون پلي کول، عامه پوهاوی او د ذهني تغییر له لارې موږ کولای شو افغانستان داسې هېواد کړو چې پکې ښځې له تاوتریخوالي پرته، په یوه عادلانه او خوندي چاپېریال کې ژوند وکړي، خپل استعدادونه وده ورکړي، او د هېواد په پرمختګ کې رغنده ونډه واخلي.

د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی یوه پېچلې موضوع ده چې د ټولنیزو، فرهنګي، حقوقي او اقتصادي عواملو سره تړاو لري. د دې ستونزې د حل لپاره باید یو معتدل او همه‌شموله چلند غوره شي، چې هم د ټولنې فرهنګي ارزښتونه وساتل شي، هم د ښځو حقوق تضمین شي، او هم ټولنیز ثبات وساتل شي. د حل لپاره یوازې د قانون

پلي کول بسنه نه کوي، بلکې د ټولنې فکري بدلون، اقتصادي پياوړتيا، د ديني احکامو څخه پوهاوی او د دوديزو او عصري ارزښتونو ترمنځ توازن ته اړتيا ده.

**مناقشه**

د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي ناوړه دود اړوند جرايم، چې د څېړنې د پايلو او تر لاسه شويو معلوماتو په اساس په عملي توګه ترسره کېږي، د اسلامي احکامو او قانون څخه ناخبري، د پوهې ټيټوالی، ناسالمه روزنه، په ټولنه کې شته ناسم دودونه، او د ټولنې د خلکو د نه مبارزې پايله ده. په ځانګړې توګه د مرتکبينو پر وړاندې د دې جرم د متضررينو خاموشي لامل شوې چې دا ناوړه دود په تکرار سره زموږ په ټولنه کې دوام ومومي او جرايم رامنځته کړي.

د څېړنې د موندنو له مخې، ګڼ عوامل د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د رامنځته کېدو سبب شوي دي. د دې ناوړه دود ډېرې قربانيان ښځې او په ځانګړي ډول د ځوان عمر لرونکې نجونې دي. تر ټولو عمده او لوی دليل يې په فاميلي موضوعاتو کې د اسلام د اصولو او قوانينو څخه ناخبري ده، چې د ناوړه دودونو د اړوندو جرايمو کچه يې لوړه کړې ده. له دې جملې څخه اجباري ودونه، د بدو په ډول د نجونو ورکول، او د زيات ولور په بدل کې د خور يا لور ورکول د پام وړ دي.

د څېړنې د پايلو له مخې، په فاميلي موضوعاتو کې د ناوړه دودونو کچه لوړه ده، چې يو مهم دليل يې د ښځو وېره او ډار دی. ښځې د خپل عزت د ساتنې په خاطر غږ نه پورته کوي، له همدې امله مرتکبين له هېڅ ډول قانوني برخورد سره نه مخ کېږي. همدارنګه د ټولنې عام وګړي هم د مرتکبينو پر وړاندې خپل مسووليت په سمه توګه نه ترسره کوي، څو د دوی پر ضد ټولنيزه مبارزه وکړي.

سره له دې چې د ناوړه دودونو اړوند د جرایمو مرتکبین په ډېرو مواردو کې معلوم وي، خو پر وړاندې یې عکس‌العمل کمزوری وي. یو عمده دلیل یې دا دی چې د ټولنې خلک په غیر شعوري توګه دا دودونه مني. په ځانګړې توګه په فامیلي موضوعاتو کې د ټولنې ډېری وګړي ښځه ملامت ګڼي، او په ډېرو مواردو کې د ملاتړ پر ځای هغوی ګواښي. له همدې امله، ښځې چې د پولیسو حوزو او مامورینو ته د ورتګ کورنۍ اجازه نه ورکوي، غوره بولي چې پېښه همداسې پرېږدي.

د څېړنې د پایلو له مخې، څرګنده شوې چې د ښځو پر وړاندې ناوړه دودونه د اسلامي اصولو او قوانینو څخه د ناخبرۍ او په ټولنه کې د پوهې د ټیټوالي له امله رامنځته کېږي. دا ستونزه یوازې فردي زیان نه، بلکې ټولنیز زیانونه هم لري. د دې ناوړه دودونو تکرار په ټولنه کې عادي شوی، تر څو چې عامه پوهاوی ترسره نه شي او د خلکو د پوهې کچه لوړه نه شي.

**وړاندیزونه**

د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي لپاره لاندې اقدامات اړین دي، چې هم په فردي کچه، هم د ټولنې په سطحه، او هم د حکومتي پالیسو له لارې پلي کېدای شي:

**۱. د ټولنیزو دودونو اصلاح**

- هغه ناسم دودونه او سنتي باورونه چې د تاوتریخوالي د توجیه لپاره کارول کېږي باید اصلاح شي.
- د دیني علماوو له لارې باید خلکو ته روښانه شي چې اسلام د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی نه مني، بلکې ښځو ته عزت او حقوق ورکوي.
- د جبري ودونو، بدل ورکولو او ناموسي وژنو مخنیوي ته باید جدي پاملرنه وشي.

### ۲. د قانون پلي کول او اصلاح

- د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي لپاره باید سخت قوانین تصویب او په جدي توګه پلی شي.
- د عدلي او قضایي ارګانونو ظرفیت باید لوړ شي، ترڅو قربانیانو ته چټک عدالت برابر کړي.
- د ښځو د حقونو د ساتنې لپاره باید ځانګړې محکمې او حقوقي مرستندویه بنسټونه تقویه شي.

### ۳. د عامه پوهاوي لوړول

- د ښځو د حقونو، د تاوتریخوالي د زیانونو، او د دې ستونزې د حل لپاره د عامه پوهاوي کمپاینونه باید زیات شي.
- د دیني علماوو، ښوونکو، او ټولنیزو مشرانو له لارې باید خلکو ته د ښځو د ارزښت او د تاوتریخوالي د ناوړه پایلو په اړه معلومات ورکړل شي.
- د رسنیو رول باید زیات شي، ترڅو د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی وغندل شي او د مثبت بدلون لپاره کار وشي.

### ۴. د ښځو د اقتصادي پیاوړتیا هڅونه

- د ښځو لپاره باید د کار، تجارت او اقتصادي فرصتونو زمینه برابره شي، ترڅو دوی مالي خپلواکي ولري.
- د ښځو لپاره باید پورونه، مالي مرستې، او د کوچني کاروبار فرصتونه برابر شي.

### ۵. د تعلیم او زده کړې پراخوالی

- د نجونو لپاره باید د زده کړې فرصتونه زیات شي، ترڅو دوی وکولای شي د خپلو حقونو دفاع وکړي.

- ښوونځیو، پوهنتونونو او دیني مدرسو ته باید دا موضوع معرفي شي، ترڅو له کوچني عمره د تاوتریخوالي ضد ذهنیت عام شي.
- د ښځو زده کړې ته د ټولنیزو محدودیتونو د کمولو لپاره باید له کورنیو سره کار وشي.

**ماخذونه**


قرآن کریم

۱. ازهري، فریدالله. (۱۳۹۸ هـ ل). ناوړه دودونه او د شریعت په رڼا کې د هغوی حل لارې. کابل: د ارشاد، حج او اوقافو وزارت، د څېړنې او مطالعاتو ریاست.

۲. پښتون، مفتي ابو عیسی. (۱۳۹۳ هـ ش). نکاح او کورنی ژوند. کابل: سعید خپرندویه ټولنه.

۳. رضا سعید، معصومه. (۱۳۸۱ هـ ل). ښځه د ژوند په ډګر کې. کابل: چاپ مجمع زنان افغان.

۴. شاهد، عمران. (۱۳۸۹ هـ ل). د معاشرې اصلاح او آداب. جلال آباد: روغانیوال.

5. Dobash, R. E., & Dobash, R. P. (1992). Women, violence and social change. Routledge .

6. Garcia-Moreno, C., Jansen, H. A. F. M., Ellsberg, M., Heise, L., & Watts, C. (2005). The WHO multi-country study on women’s health and domestic violence against women. World Health Organization .

7. Heise, L. (2011). What works to prevent partner violence: An evidence overview. STRIVE, London School of Hygiene & Tropical Medicine .

8. Merry, S. E. (2006). Human rights and gender violence: Translating international law into local justice. University of Chicago Press .

9 . Rose, J. (2021). On violence and on violence against women. Farrar, Straus and Giroux .

10 . World Health Organization (WHO) , London School of Hygiene & Tropical Medicine (LSHTM) , & South African Medical Research Council (SAMRC). (2013). Global and regional estimates of violence against women: Prevalence and health burden of intimate partner violence and non-partner sexual violence. Geneva: WHO .

11. World Health Organization. (2013). Responding to intimate partner violence and sexual violence against women: WHO clinical and policy guidelines. Geneva: WHO .

12. World Health Organization. (2018). Violence against women prevalence estimates. WHO .

13. World Health Organization. (2020). Violence against woman, intimate partner and sexual violence against woman. WHO .

14. World Health Organization. (2021). Violence against women prevalence estimates, 2018: Global, regional and national prevalence estimates for intimate partner violence against women and global and regional prevalence estimates for non-partner sexual violence against women. WHO. https: //www. who. int/publications/i/item/9789240022256

15. World Health Organization. (2021). Violence against women prevalence estimates, 2018: Global, regional and national prevalence estimates for intimate partner violence against women and global and regional prevalence estimates for non-partner sexual violence against women. Geneva: WHO.

# ABSTRACTS

**Ahmad Neshat Keliwaal & Abdul Saboor Mubarez**
Department of International Relations and Political Science,Faculty of Law and Political Science, Al-Taqwa University, Jalalabad, Afghanistan

# The Foreign Policy of great Powers Towards the Islamic Emirate

## Abstract

This research focuses on the foreign policies of the United States, China, and Russia regarding the Islamic Emirate, alongside their interests in Afghanistan. Afghanistan has historically remained a battleground for major powers, often suffering as a result. Therefore, it is crucial for the Islamic Emirate, under current circumstances, to understand the foreign policies of these major powers toward Afghanistan in order to prevent further geopolitical rivalries.

The significance of the study lies in clarifying the relations between the Islamic Emirate and the U.S., Russia, and China, as well as their respective foreign policies toward the Emirate. By understanding these dynamics, the Islamic Emirate can structure its own foreign policy in a way that ensures Afghanistan's national interests while maintaining a balanced relationship among the U.S., Russia, and China.

a descriptive-analytical research method is used in this article and relies on library sources. The findings of the study suggest that the United States is attempting to control its rival states—Russia, China, and Iran—through Afghanistan and uses human rights violations as a tool to pressure the Islamic Emirate. In contrast, Russia and China aim to maintain good relations with Afghanistan and bring political and security stability to the country. Their goals include investing in Afghanistan's natural resources and preventing the country from becoming a source of terrorism threatening their own nations.

The primary objective of this research is to clarify the foreign policies of the United States, Russia, and China regarding the Islamic Emirate.

**Keywords:** Great powers, policies of great powers, U.S. objectives in Afghanistan, Russian objectives, Chinese objectives.

**Izatullah Aziz[1] & Jamil ur-Rahman Rashid[2]**
1. Department of Law, Faculty of Law and Political Science, Al-Taqwa University, Jalalabad, Afghanistan
2. Department of Law, Faculty of Law and Political Science, Al-Taqwa University, Jalalabad, Afghanistan

# An Analytical Study of Financial Taʿzīr (Punishment by Wealth) in Hanafi Jurisprudence

## Abstract

Taʿzīr refers to a discretionary punishment under the authority of the judge, which may be increased, reduced, or pardoned by the ruler or judge of the time under the framework of justice. Taʿzīr appears in several forms, such as corporal punishment, financial punishment, and moral punishment. The subject of this research is financial taʿzīr, which is a penalty involving the taking of wealth or property from the offender. Depending on the nature of the offense, the judge may impose either corporal or financial punishment. In this paper, I discuss the Hanafi perspective on financial taʿzīr along with the views of other jurists, clarifying which scholars consider it permissible and which do not—especially with reference to the Hanafi school.

In brief, Imām Abū Ḥanīfa (Nuʿmān ibn Thābit, may Allah have mercy on him), renowned as the foremost of the four great Imams for his knowledge and insight, held that financial taʿzīr is impermissible. He argued that such punishment cannot be imposed by the ruler or judge, as there is no explicit evidence for it in the Qur’an or Sunnah. Furthermore, given that justice must always be observed, financial penalties risk leading to injustice; therefore, they should not be applied. Imām Mālik, Imām Aḥmad ibn Ḥanbal, and Imām al-Shāfiʿī shared this view. However, within the Hanafi school, Imām Abū Yūsuf (may Allah have mercy on him) allowed financial taʿzīr, basing his view on a prophetic tradition (to be discussed later) and reasoning that some minor offenses do not merit imprisonment but are sufficiently addressed through financial penalties.

For example, when a person violates traffic regulations by ignoring a traffic signal, subjecting the case to full judicial procedures would consume excessive time and burden the courts. Traffic fines thus provide an immediate and practical resolution, ensuring that the offender is not left unpunished while justice is upheld.

The fundamental aim of this paper is to define financial taʿzīr and to examine its permissibility or impermissibility within the Hanafi school. The research is based on the library method and draws on authoritative Islamic, juristic, and legal sources for clarity. The findings reveal differing opinions: according to the majority of Hanafi scholars, financial taʿzīr is not permissible, whereas Imām Abū Yūsuf and some other jurists allow it at the discretion of the judge. However, analysis suggests that if a judge imposes financial taʿzīr, the property should be returned to the offender after correction.

**Keywords:** Taʿzīr, financial punishment, discipline, fine, monetary penalty

**Abdul Jabar Wahdat**[1, 2]
[1] Director General of the National Budget, Ministry of Finance, Kabul, Afghanistan
[2] Former Vice-Chancellor of Academic Affairs and Lecturer, Zam Zam Institute of Higher Education, Paktia, Afghanistan

# The Role of a Resistance Economy in Strengthening the Domestic Economy

## Abstract

Reviving the domestic economy is a critical discourse and an urgent necessity. Achieving self-sufficiency in the productive sectors is the fundamental philosophy underlying the emergence of a resistance economy. The domestic economy, which encompasses both small enterprises and large-scale businesses, requires the active participation of both the public and private sectors. This means the government must adopt competitive and supportive policies in specific areas and impose high tariffs on substitute imported goods to provide full support for domestic production and the national economy. Meanwhile, the private sector should not merely function as an import-driven entity; rather, it must become a productive force by focusing more on domestic production. The development of the domestic economy is directly linked to national economic growth. If individual economies improve in Afghanistan, national economic prosperity will follow. Thus, economic stability must begin with strengthening the domestic economy to ensure long-term sustainable growth. The discourse on the resistance economy is relatively new, intriguing, and significant in the field of economics, particularly for countries with import-dependent economies, those facing severe economic sanctions, or those with underdeveloped domestic sectors. Many economists use the term "Resistive Economy" interchangeably with the resistance economy. It refers to a system that withstands foreign economic sanctions and minimizes or prevents associated damages. The resistance economy is a strategic approach that draws on internal (human, social, and material) resources through scientific and innovative methods, particularly in times of normalcy, sanctions, or crises. This approach is grounded in Islamic and ethical values and

aims to ensure public welfare, interact constructively with the global economy, and employ sound economic diplomacy. Its core focus lies in promoting national economic growth and stability. The significance and objective of this study are to inform the development of effective policies and strategies for a resistance economy at the governmental level in Afghanistan to foster individual and national economic growth. Such policies would help strengthen domestic and national economies, significantly improve per capita income and GDP, and provide protective and defensive economic alternatives. The primary research gap lies in the lack of data and clearly defined policies regarding the role of the resistance economy. This is a qualitative and largely library-based study; however, it incorporates the perspectives of policymakers and strategists and aligns them with Afghanistan's geographical and socio-economic realities, resulting in a coherent and locally applicable synthesis. Afghanistan imports billions of dollars' worth of goods annually. Implementing a resistance economy would drastically reduce this dependency. Both the government and the private sector must make serious efforts. The most crucial steps include establishing a sound legal framework, formulating appropriate strategies, raising public awareness, and fostering a sense of patriotism and self-reliance among citizens. The main aim of this study is to strengthen the domestic economy through the implementation of the resistance economy model. Encouraged by the positive experiences of many other countries, this research suggests that the resistance economy could be an effective and impactful model for Afghanistan's economic future.

**Keywords:** Domestic Economy, Economic Growth, National Economy, Risk Management, Resistance Economy, Strategy

**Ikramullah Hamkar**
Department of Political Science and International Relations, Faculty of Law and Political Science, Al-Taqwa University, Jalalabad, Afghanistan

# The Role of Cultural Diplomacy in the Promotion of Friendly Relations among States

## Abstract

Cultural diplomacy is a soft power process that strengthens relations among nations through language, art, education, cultural values, and historical heritage. This process influences the minds and hearts of people and creates an atmosphere of trust, understanding, and respect. Through this mechanism, nations exchange their values to reduce conflicts and enhance mutual understanding. Cultural diplomacy provides an alternative to political pressure by expanding human relations. In countries affected by war and conflict, cultural diplomacy plays a key role in promoting peace, stability, and social cohesion. Afghanistan, which has experienced prolonged conflicts, internal challenges, and global isolation, can utilize this tool to regain its international credibility. This process facilitates the expansion of regional cultural connections and the recognition of shared values. Furthermore, it increases mutual understanding among people. This study refers to historical, theoretical, and practical evidence to clarify the academic framework for the implementation of cultural diplomacy. It analyzes both the theoretical foundations and the practical aspects of cultural diplomacy, while assessing the opportunities and challenges of its application in Afghanistan. Cultural diplomacy strengthens an environment of trust and understanding among nations; however, it is only effective when supported by sustained governmental commitment and strategic planning. While international experiences demonstrate its success, its implementation in Afghanistan still faces serious challenges.

**Keywords**: Values, intergovernmental relations, political crisis, conflict resolution, cultural exchange, cultural diplomacy

**Tariqullah Malakzai & Shirajan Sidiqi**
Department of Law, Faculty of Law and Political Science, Al-Taqwa University, Jalalabad, Afghanistan

# A Comparative Study of Secondary Punishments in Light of Hanafi Jurisprudence and Positive Laws

## Abstract

Accessory punishments are those penalties which, in addition to the principal punishments, are automatically applied to offenders without the need for a judge's ruling. For example, in the case of qadhf (false accusation of adultery), the principal punishment is flogging, while the rejection of the offender's testimony in future cases is considered an accessory punishment, which applies automatically without judicial intervention.

The significance of this research lies in the fact that it addresses an important subject: accessory punishments. These punishments are fully discussed both in statutory laws and in Hanafi jurisprudence; however, in this study the matter is analyzed comparatively. The aim of the research is to identify and clarify the points of convergence and divergence between Hanafi jurisprudence and statutory laws regarding accessory punishments.

This study has been conducted in a documentary manner, relying largely on authoritative sources of Hanafi jurisprudence, while statutory laws have also been examined in detail. According to both Hanafi jurisprudence and statutory laws, accessory punishments share similarities in certain aspects, such as reforming offenders and implementing the principle of justice within society. However, they also differ in other respects, particularly in their sources: in Hanafi jurisprudence, accessory punishments derive from divine rulings, whereas in statutory laws the source is human reason.

**Keywords:** Accessory Punishments, Hanafi Jurisprudence, Statutory Laws, Comparative Study

**Habib Ur Rahman Sarbiland**
Department of Law, Faculty of Law and Political Science, Roshkan University

# The Financial Rights and Privileges of Women in the Marriage Contract under Islamic Jurisprudence and the Civil Code of Afghanistan (1355 )

## Abstract

This research is dedicated to exploring the financial rights and privileges of women in marriage contracts from the perspectives of Islamic jurisprudence and Afghanistan's Civil Law. According to both Islamic jurisprudence and Afghanistan's Civil Law, women possess specific and independent financial rights, including mahr (dower), nafaqah (maintenance), and appropriate housing.Mahr is the financial obligation that a husband is required to fulfill due to the marriage contract or consummation. Nafaqah includes provisions for a woman’s food, clothing, healthcare, and other necessities, while housing must be provided in accordance with her dignity and status.

The significance of this topic lies in the fact that, in many social contexts, women are deprived of their rightful entitlements. This study aims to clarify women's financial rights from the perspectives of Islamic jurisprudence and law, fostering a positive change for this disadvantaged group.

The objective of this research is to elucidate the jurisprudential and legal rulings concerning women’s financial rights and to assist in the formulation of legal and social policies for the betterment of society.

This study employs a literature-based methodology, drawing on reliable sources of Islamic jurisprudence and legal references.

As a result, it is evident that women’s financial rights are validated under both Islamic Sharia and the law, and adherence to these rights is essential for upholding women’s dignity and promoting social justice.

**Keywords:** Jurisprudence, Law, Housing, Financial Rights, Mahr, Nafaqah

**Waliullah Hanifee[1] and Maherullah Maher[2]**

[1] Department of Law, Faculty of Law and Political Science, Al-Taqwa University, Jalalabad, Afghanistan

[2] Department of Political Science, Faculty of Law and Political Science, Al-Taqwa University, Jalalabad, Afghanistan

# The Role of Women in the Management of Household Economy

## Abstract

A woman is the fundamental pillar of the family and plays a key role in all family affairs. Therefore, women's role in the household economy and its management is highly prominent and significant. This research evaluates the role of women in managing the household economy, examining what role a woman plays in the family, her contributions to household economic management, and her involvement in controlling family expenses. Additionally, the study highlights effective methods for managing household economy and the essential skills required for this task. The significance of this research lies in these factors. The main objectives of this study are to introduce the concept of household economy, explain the role of women within it, define their specific role in managing it, present effective ways of controlling family expenses, and describe the necessary skills for household economic management. This is subject-based research that utilizes credible articles and sources. It maintains a coherent structure, high-quality information, accurate referencing, and careful organization. Managing household economy is crucial for ensuring the financial stability and well-being of the family. Women have a central and critical role in this process. Strong relationships between husband and wife, financial planning, identifying priorities, determining needs and necessities, avoiding waste and extravagance, and saving are some of the key factors through which women play a foundational role in managing household economy. Similarly, by applying logical and rational approaches, the household economy can be managed effectively.

**Keywords:** Woman, Household Expenses, Household Economy, Management, Skills

**Qaisullah Qaderi**
Department of Law, Faculty of Law and Political Science, Bayazid Roshan University

# Characteristics and Effects of Organized Crime in National and International Documents

## Abstract

Organized crimes are among the complex crimes at the national, regional and international levels. These crimes are discussed in national and international documents and are crimes that are committed in an organizational manner with the coordination of three or more people in a systematic manner with the aim of committing one or more crimes or misdemeanors in order to obtain financial or other benefits. Therefore, organized crimes have unique characteristics, some of which are related to organized crimes and some of which are related to criminal organizations, such as: organizational structure, temporal continuity, central power, organizational hierarchy, mandatory rules, and division of labor and restriction of members. By committing organizational crimes, criminal organizations destabilize the economic, political and social foundations of society and cause irreparable effects in these sectors. Therefore, identifying organized crimes is of great importance for judges, police, law and Sharia professors, legal consultants and students of law and Sharia faculties. It is extraordinary; the purpose of choosing the subject is to clarify the characteristics of organized crime and criminal organizations and to determine their negative effects and consequences. This research is of a descriptive-analytical type and the method of collecting information is using library resources, so it can be said that organized crime is not defined in national and international documents, but criminal groups are defined and a series of their characteristics are discussed. In addition, in national documents, the goal of criminal groups is considered to be obtaining financial benefits and political power, while in international documents, the main goal of criminal groups is usually stated to be obtaining material benefits.

**Keywords:** National documents, international documents, works, organized crime, criminal groups

**Nasir Ahmad Yousufzai**
Department of Law, Faculty of Law and Political Science, Bayazid Roshan University

# A Comparative Study of Pashtun Customary Decisions and Islamic Shariah

## Abstract

Study Aims: The purpose of this study was aimed to know (traditional justice) and the approval of Islamic law in terms of the fact that traditional justice and the types of judges and their terms and evidence in the eradication of customary and judicial proceedings in the traditional councils, and exposure to the most important issues in the community of cases of murder, assault and presentation issues. Research Methodology: adopted a descriptive approach Conclusions: I found out that, since the Islamic nation ruled by sharia, the Islamic orbit thousand and four hundred years ago inherited people these provisions, and with a long term, absent evidence and ruling remained Mtwartha among the people, judged that the habits among the people, there are some remained unchanged and this should be returned to its index, and from what a character for position and became a violation of Islam, and this is something that must be replaced by sharee'ah. And the findings when reviewing the traditional justice that many of the martial law agree directory such as:

(1) evidence in the custom of the (Certificate - Adoption - and right - and indications) The consent of the evidence in Islamic law.

(2) The proceedings of the Game Network, and Atwa, and face, and to ensure that all approval of Islamic law. Recommendations:

(1) convene the sessions of the peace officers to identify legitimate martial law by specialists in the eradication of customary, to be marked by the approval of the provisions of the law of the offending.

(2) the exchange of advice between the men of reform in the custom among professionals sharee'ah. Signing of the student's supervisor sign Musharraf graduate.

**Keywords:** Islamic Sharia, rulings, Sharia judiciary, customary decisions, Logar Province

**Nangyalai Masoon & Zahidullah Saeedi**
Department of Law, Faculty of Law and Political Science, Al-Taqwa University, Jalalabad, Afghanistan

# Women's Material Rights and Their Impact on the Family Economy

## Abstract

Under the title "Women's Material Rights and Their Impact on the Household Economy", this study discusses women's material rights such as the right to dowry (mahr), the right to inheritance, the right to maintenance (nafaqah), and the right to work. It explores how the fulfillment of these rights enables women to play a constructive role in their family's economy.The importance of this research lies in the fact that, by ensuring women's material rights, they can effectively support their household's financial stability. The main objective is to help Afghan women obtain their material rights granted by Islamic Sharia and statutory laws, thereby allowing them to actively contribute to the household economy. This research has been conducted using a documentary method, relying on credible sources.The findings show that some of women's material rights directly make them owners of wealth—such as dowry and inheritance. Through investing these assets, women can establish businesses and generate income. A third key right is the right to maintenance, which requires women to avoid extravagance and meet their needs according to the financial capacity of their father or husband. Proper management of expenses in this way has a positive impact on the household economy.Women can also engage in certain professions or businesses, such as medicine, teaching, vocational work, or investment in movable and immovable property. Through these activities, women can earn income and play an active role in the economic development of their families.The main material rights of women include dowry, inheritance, and maintenance—rights guaranteed by both Islamic Sharia and Afghanistan's statutory laws, with no differences between the two. However, regarding the right to work, Islamic Sharia emphasizes the observance of lawful hijab, under which women are permitted to work.

**Keywords:** Women, Material Rights, Inheritance, Maintenance, Dowry, Household Economy

**Mohammad Imran Dawlatzai**
Department of Law, Faculty of Law and Political Science, Al-Taqwa University, Jalalabad, Afghanistan

# Personality Development and Its Stages from an Islamic Perspective

## Abstract

This academic paper titled "Personality Development and Its Stages in the Light of Islam" aims to explore the foundations, value, types, challenges, and corrective strategies of personality formation from an Islamic perspective. The study employs a documentary-analytical methodology based on the Qur'an, Prophetic traditions (Sunnah), the Seerah of the Prophet (PBUH), and views from classical and contemporary Islamic scholars as well as psychological theories. The paper emphasizes that personality development is a gradual, innate, and reformable process that evolves through the stages of childhood, youth, and old age, each with distinct needs. Islam offers a holistic personality framework centered on faith, worship, morals, knowledge, and social conduct. The research identifies character weakness not as a natural flaw but as a result of intellectual, spiritual, and social neglect—such as a lack of Islamic values, bad companionship, carnal desires, and absence of purpose. To counter these, the paper proposes practical Islamic solutions such as righteous upbringing, a healthy environment, role model emulation, and religious education. Ultimately, the study concludes that Islamic personality development not only nurtures individual integrity but also contributes to the intellectual, moral, and spiritual stability of society.

**Keywords:** Personality, Qur'an and Hadith, Elements, Stages, Obstacles.

**Jawad Niazai**
Department of Law, Faculty of Law and Political Science, Nangarhar University

# The Effects of Violence Against Women in the Commission of Crimes
## (Practical Examples from Laghman Province)


## Abstract

This research, titled "The Impact of Violence Against Women on the Commission of Crimes: A Case Study from Laghman Province", examines the root causes and consequences of violence against women in Afghan society, particularly focusing on how such violence leads women to commit various crimes. The study highlights that violence against women — whether physical, sexual, economic, psychological, social, or cultural — has become a widespread and harmful norm, contributing to criminal behavior among victims.The research underscores the critical role of women in society, emphasizing that they represent half of the population and are central to the education and nurturing of future generations. When women, as the primary caregivers, are subjected to continuous abuse, the negative effects extend beyond the individual to the entire community. As such, preventing violence against women is not only a matter of human rights but also essential to social reform and long-term community well-being.A mixed-method approach was employed in this study, combining both library research and fieldwork. Data was collected through a structured questionnaire administered to 300 participants in Laghman Province. The results were analyzed using SPSS software, and findings were presented in the form of statistical charts for clarity and impact.The study concludes that prolonged exposure to violence can lead women to commit crimes such as suicide, fleeing from home, retaliatory homicide, and involvement in exploitative or criminal activities. The research calls for urgent action from the government, civil society, and international organizations to address this serious social issue. It emphasizes the need for legal reforms, public awareness, social support systems, and community-based solutions to protect women's rights and reduce gender-based violence in Afghanistan.


**Keywords:** Violence, Case Studies, Commission of Crimes, Laghman Province, Malpractice